د
میرزا خان انصاري
دیوان

سمؤنه او څېړنه

ډاکټر پرویز مهجور خویشکی

پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي

ACKU

د

مېرزا خان انصاري

ديوان

PROPERTY OF ACKU
12526

سمؤنه او څېړنه

ډاکټر پرويز مهجور خوېشکے

سريزه

ډاکټر راج ولي شاه ختهک

پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012526 9

ټول حقوق د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ
په حق کښې محفوظ دي

د کتاب نوم	د مېرزا خان انصاري ديوان
سمؤنه او څېړنه	ډاکټر پرويز مهجور خويشکے
کتابت	محمد رسول
پروف	قاضي حنيف الله حنيف
چاپ ځائے	جدون پرنټنګ پرېس پېښور
د چاپ کال	۲۵ م نومبر کال ۲۰۰۴ء
شمېر	۵۰۰
خورونکے	ډائرېکټر پښتو اکېډيمي. پېښور يونيورسټي
بيعه	۱۵۰ روپۍ

د محمد جاوېد خليل په اهتمام په جدون پرنټنګ پرېس پېښور
کښې چاپ شو او د پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ له
خوا خور شو

ACKU

تشکر

پښتو اکېډېمي، پېښور يونيورسټي د دې ديوان د اشاعت
د پاره د پاکستان اکادمي ادبيات اسلام آباد
د مالي مرستې مننه کوي

ACKU

سریزه

میرزا خان انصاري د پښتو د شعر د رومان یو داسې رومانې او ارماني نوم دے۔ چې د تالیدلي شخصیت د وجود ذرې ئې په ټوله پښتونخوا کښې خورې ښکاري۔ داسې لکه چې د نمر پلوشې ئې د هر تخلیق کار تخلیقي شعور ته تکورونکے سرور بخښي د پښتو د ادبي انتشار په زمانه کښې هم میرزا خان انصاري خپل مقام په ځائے ساتلے دے۔ او کله چې ادبي ثقافت په وجود کښې راغلے دے نو هم میرزا خان انصاري ساتلے شوے دے۔ ستر خوشحال خان خټک چې د خپل دور نه وړاندې د بل چا د شعر د معیار ځینې مطمئن ښکاریدو هغه هم د میرزا په باره کښې ویلي وو۔ چې

ھ د چا نه په پښتو کښې ما میزان لید لے نهٔ دے

میرزا په دا ژبان کښې ویل کړي دي تللي

د ستر خوشحال خان د ستائنې دا شعر څهٔ ښکاره ولې څهٔ نورې معنې هم لري۔ کهٔ د وزن او بحر د میزان د توازن خبره کوي۔ نو په دویمه مصرعه د "تللي" ټکے هم غورطلب دے۔ د "تللي" محاوره په پښتو کښې ډېرې تللي معنې لري۔ د خوشحال خان خټک په شان د نابغه له خوا داسې ستائینه د میرزا خان انصاري د علمي او ادبي مقام په تاکنه کښې بې شانه زیات اهمیت لري۔ د ستر خوشحال خان خټک د کورنۍ نه پس د پښتو ژبې عالمګیر شخصیت رحمان بابا چې د تعلي په شعر کښې خپله موازنه کوي۔ نو هم وائي چې

ACKU

د میرزا د ارزاني دعوئ به پرې که
قدردان د شاعرانو رحمن را ـــ غې

ښکاري داسې چې میرزا خان انصاري نوم د پښتو د ادب تر دغه زرین دور پورې هم ښهٔ ښکاره او مقبول وُ - په وروستو وختونو کښې هم چې په تهذیب او ثقافت لړې ځورې شوې - نو سره د یو څو نورو نابغهٔ وُ شاعرانو د میرزاخان انصاري د نوم او د شعر انګازې هم اورېدلې شوې دي -

په شلمه صدۍ کښې د پښتو ادب د نشاط ثانیه په دور کښې چې د مقامونو د تاکلو شعور څهٔ لږ ډېر روڼ شوے دے نو هم میرزا خان انصاري د خپل شعر او د خپلې جذبې د صداقت تر مخه په روښاني شاعرانو کښې تر ټولو زیات پېژندے شوے او زیات ستایلے شوے شاعر دے - کله چې د ارزاني دیوان تر لاسه شوے نهٔ وُ - نو په شلمه صدۍ کښې هم تر ډېره وخته میرزا خان انصاري ادبي مؤرخینو د پښتو وړومبے صاحب دیوان شاعر ګڼلو - که ارزاني د شاعر او صاحب دیوان شاعر په حیث په روښاني شاعرانو کښې اولیت لري - دولت، مخلص، واصل او ځینې نور شاعران یې هم د ستر معیار شاعران دي - ولې د دغه واړه روښاني شاعرانو کښې د خپل اسلوب انداز او نادر فلسفیانه او صوفیانه فکر په سبب میرزا خان انصاري د خپل شعر زړهٔ راښکونې ډېر ځور کړے دے - د میرزا خان انصاري د شعر په فن فني ځو بیو - د هغه په اسلوب په تصوف او په تصوف کښې د مخصوص طرز فکر په باره کښې ډېر څهٔ لیکلے کېدے شي او شاید چې لیکل پکار هم دي په دې چې دا صوفي شاعر تر اوسه پیا هم هغه رنګ نهٔ دے پېژندلے شوے لکه څومره چې یې حق دے او یا د روښاني فلسفې هغه باریک نکات چې میرزا په شعر کښې بیان کړي دي - تر ډېره تشریح طلب پاتې شوي دي - تر دې چې د میرزا خان

ACKU

انصاري د نوم او د کلي په حقله هم غلط روايتونه عام کړے شوي وو۔ موقعه هم سمول ضروري وو۔

کله چې په پښتو اکېډيمۍ کښې دا فيصله وکړې شوه۔ چې د کلاسيکي ادب په باب له د تحقيق په لړ کښې تر ټولو وړاندې کار په روښاني مکتب تکميل ته رسول پکار دي۔ چې کله روښاني تحريک تر سره شي۔ نو ورپسې به د زماني په لحاظ په بل دور او بيا په زرين دور د تحقيق او تنقيد منصوبې جوړولې او تر سره کولې شي نو يو نحو شګوار اتفاق هم وُ۔ هغه داسې چې ډاکټر پروېز مهجور په پښتو اکېډيمۍ کښې د ريسرچ سکالر په حيث ټاکلے شوے وُ۔ اوس د پي۔ ايچ ډي د پاره هم هغه د ارزاني د ديوان په ترتيب کار شروع کړو۔ ورسره ئې د تحقيقي منصوبې په حيث د کلاسيکي ادب څانګه غوره کړه۔ ځکه چې ډاکټر مهجور د پښتو د شعر و ادب د تاريخ پراخه مطالعه هم لري۔ او يو پوخ تنقيدي شعور او تحقيقي صلاحيت هم لري۔ د خپل تحقيق په دوران کښې ډاکټر مهجور ته د روښاني فلسفې په حقله د څېنو داسې کوټونو ادراک او انکشاف هم وشو۔ په کومو چې يا نو بيخي پرده پرته وه۔ او يا ديو غلط تأثر د عام کولو له سببه ئې د تحقيق د طالب علم د پاره ديو غلط تصوّر تصوير جوړ شوے وُ۔ ډاکټر مهجور دا ديو تحريک په صورت کښې هم په منصبي فرائضو او هم د ذاتي دلچسپۍ او مينې يو هدف وګرځولو۔ چې په روښاني مکتب او تحريک دې د نوي سره سم داسې تحقيق او څېړنه وکړے شي چې غلط روايتونه سم تأثرات او ناسم او تصحيح طلب تحقيقات پرې سم کړے شي۔ په بايزيد انصاري۔ ملا ارزاني او مخلص باندې د تحقيق د کار سرته د رسولو نه پس ورته ما د ډائرېکټر په حيث دا هدايت او دا صلاح ورکړه۔ چې کۀ هر څو د ميرزا خان انصاري ديوان موندلے کېږي ولې داسې

ښکاري چې د هغه په ژوند لا تر اوسه پوره کار او تحقیق نهٔ دے شوے ـ او کهٔ شوے هم دے ـ نو پکښې ډېر غلط فهمۍ مخې ته راغلې دي ـ د هغیو سمول ضروري دي اوبله دا چې په اکېډېمۍ کښې د میرزا خان انصاري د دیوان قلمي نسخه هم موجوده ده ـ نو د چاپ شوي دیوانونو او د اکېډېمۍ نسخه سره مقایسه کړه چې سم صحیح دیوان ترې هم مرتب کړے شي ـ او د میرزا خان انصاري د ژوند تیارهٔ ګوټونه هم رڼا ته راوستے شي ـ د میرزا خان نه پس به په دولت، واصل، قادرداد، کریم داد او ځینې نورو نا پېژندلو روښاني شاعرانو د کار ابتدا وکړے شي ـ

زهٔ د خپل ګران ملګري ډاکټر پرویز مهجور ډېره منته کووم ـ چې هغه نهٔ یوازې زما دې تجویز ته په روڼ تندي هرکلے ووې ـ په "روښاني جذبه" او روښاني مینه" ئې د زړهٔ له تسلۍ په زړهٔ پورې تحقیق ترتیب او تدوین وکړو او د میرزا خان انصاري دا نایاب او نادر دیوان ئې د پښتانهٔ د ذوق او مطالعې د پاره د اشاعت تر مرحلې را ورسوهٔ ـ اُمید کولے شي چې پښتانهٔ به دې تحقیق ته هرکلے ووائي او دیوې ډېرې زړې مطالبې د پوره کېدو له مخه به د اکېډېمۍ دا کار و تریار وستائي ـ کهٔ څهٔ هم دلته دا رواج او دا تهذیبي روایت ډېر نهٔ ښکاري ـ خو د نوي کول د زلمو ادیبانو او شاعرانو ځینې طمع لرلے کېدے شي ـ چې د علمي فکر په فروغ کښې به خپلې ذمه وارۍ ترسره کوي ـ

پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه خټک

منــنه

د ټولو نه اول زهٔ د پښتو اکېډیمې د ډائرېکټر پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صاحب مننه کوم چې ما ته ئې د میرزا خان د دیوان د بیا مرتب کولو موقع په لاس راکړه. په روښانې ادب د څېړنې په لړکښې چې هغوي ما ته کوم ډېر حوصله عزت او احترام راکوي زهٔ په خصوصي توګه د هغې هم ډېر مشکور یم.

زهٔ د قدردان میا طارق شاه کاکاخېل او محترم آصف صمیم صاحب د احسانونو هم په سر سترګو ممنون یم چې د دې دیوان د مرتب کولو په لړکښې یې د علم او ادب په هینه په ما پسې زوکړل.

زهٔ د پښتو اکېډیمې د لائبرېرین سرفراز خان مروت صاحب او د کاتب محمد رسول صاحب د هاغه زیار او تکلیفونو د پاره هم دُعاګو یم کوم چې هغوي د خپل فرض په لړکښې په روڼ تندي وزغمل.

زهٔ د پښتو اکېډیمې د پروف ریډر قاضي حنیف الله حنیف هم ډېره ډېره مننه کوم.

په آخرکښې زهٔ د پښتو اکېډیمې د پبلیکېشن آفیسر محمد جاوید خلیل او د جدون پرېس پېښور د مالک هم ډېره ډېره مننه کوم چې د دې دیوان په چاپولو کښې یې خپل اخلاص په ښهٔ ډول څرګند کړو.

ډاکټر پروېز مهجور خویشکی

۱۷ م ستمبر کال ۲۰۰۳ ء

د دې مصرعې تعلق دے چې د" یادګار ځائے مې خېبر دے " نو دا ئې د خپل پښتون شناخت د پاره کړې ده بل د" خېبر علاقه په خصوصي توګه تیراه " د روښانیانو یو مذهبي او سیاسي مرکز ؤ په دې حواله دے د هند په زمکه د خېبر په شناخت فخر کوي د دې مصرعې نه مخکښې بند داسې دے ؛ ؎

یو چند گاه خاورې انسان است — که انسان دے دویران است
د صالح عقل میـزان اسـتـه — میـرزا مرغ لا مکان است
د یادګار ځائے مې خېبر دے

د لته د قاضي اثر صیب دا خبره هم درست نهٔ ښکاري چې په دې آخر عمر کښې تیراه کښې استوګن شوے ؤ او په ۹۸۹ھ کښې دوباره "مهمند ر" کلي ته راغلے ؤ حال دا دے چې ۹۸۹ھ د دهٔ پیدائښت کال دے ۔ بل دا یو تصدیق شوے امر دے چې میـرزا خان په ۱۰۴۰ھ کښې د دکن په جنګ کښې شهید شوے ؤ او هم هلته ښخ شوے ؤ نو بیا د هغه تیراه ته دوباره راتلل څنګه ممکن شول؟

زېږېدنه :

د میرزا خان د زېږېدنې د کال په حواله زمونږ په ادبي شرانو کښې سېوا د عبدالاکبر خان اکبر او همېش خلیل صاحب نه چا ځهٔ خاص کال یا کلونه نهٔ دي په ګوته کړي ۔ عبدالاکبر خان اکبر د دهٔ د زېږېدنې کال د ۹۷۰ھ او د ۹۷۵ھ ترمېنځه ښئي [1] همېش خلیل صاحب د یو اټکل په بنیاد د دهٔ د زېږېدنې کال ۹۸۸ھ ښئي [2] په زلمیو څېړنکارو کښې ډاکټر یار محمد مغموم

---

[1] عبدالاکبر خان اکبر - روښانیان د مغلو تاریکیانو مخ ۱۳۸

[2] همېش خلیل د میرزا خان دیوان مخ " ل "

دا دیوان

د میرزا خان انصاري دا دیوان که هر څو په کوزه پښتونخوا کښې نوموړي څېړنکار همېش خلیل صاحب په کال ۱۹۵۹ ء کښې د پېښور نه شائع کړے وُ او بره پښتونخوا کښې د دوست شینواري په زیار په ۱۳۵۴ هـ ش / ۱۹۷۵ ء کښې د کابل نه چاپ شوے وُ او بیا د دوي دوارو نه وړاندې په ۱۹۱۵ ء کښې د "دیوان میرزا [زاهد]" په نوم د لاهور نه هم چاپ شوے وُ - نو د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټر پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه صاحب په خواهش ما د دې د بیا مرتب کولو او د یو نسخه بدل متن د تیارولو اراده وکړه - د دې ذکر شویو چاپي نسخو نه پرته ما سره د میرزا [خان] دیوان یوه زړه او نادره قلمي نسخه هم وه کومه چې ما ته د کاکاخېلو د کورنۍ د علمي ذوق او پښتنګۍ پاسدار زلمي میا طارق شاه کاکاخېل د خپلې کتب خانې نه راوړې وه د غه نسخه زما د څېړنې او باور یوه غټه ذریعه وګرځېده -

ما د میرزا خان د دیوان دا "نسخه بدل متن" تیار کړو، مقدمه مې پرې ولیکله او ورسره مې حاشیې او یوه لغت نامه هم ولیکله - دا زما یو کوشش دے - څېړنه د یو زمانې تسلسل نوم دے او دا هم په دې حساب تکمیل ته رسي زما د کار غلطۍ درستول به اینده د څېړنکار ذمه واري وي -

د دوست شینواري په لاس مرتب شوي د میرزا خان په دیوان کښې درې داسې غزلې شته چې په هغو کښې دوه غزلې په باقي دوو مطبوعه نسخو کښې نشته او ما سره په قلمي نسخه کښې هم نشته - دریم غزل هم نه ما سره

په قلمي نسخه کښې شته او نه د "م ز" په مطبوعه نسخه کښې شته د "هـ خ" په قلمي نسخه کښې مرتب دغه غزل د "ر" د پښتو نه پس د ديوان په آخر کښې ليکلے دے او وجه يې دا ښودلې ده چې دا غزل په قلمي نسخه کښې د خپلې پښتو نه پس د نسخې په آخر کښې ليکلے شوے وُ نو د دغه مذکوره غزل په مذکوره قلمي نسخه کښې د غه ځائے او انتخاب هم د دغه غزل د شکي کېدو بله غټه وجه کېدے شي. په دې وجه دا غزلې ما په متن کښې شاملې نهٔ کړې او د الحاقي غزلو په نوم مې د ديوان په آخر کښې درج کړې.

زما په نزد په متن کښې د دې غزلو د نهٔ شاملېدو وړومبۍ وجه دا ده چې په دې کښې نحو دوه د وزن او بحر د قېد نه بالکل ازادې دي او د ميرزاخان غوندې په ميزان ياد شاعر ته دا منسوب کول ما ته ډېره تحقيقي بې احتياطي ښکاري. دې لړکښې د خالنامې دا جواز وړاندې کول چې د ميرزاخان ديوان د هغه ښځې بي بي نور خاتون ته زباني ياد وُ هم څهٔ جواز نهٔ لري ځکه چې د شعر او هنر د دومره لوړې ذوق منې ښځې نه د وزن او بحر په حقله دومره کوتاهي يقين نهٔ راځي. دويمه وجه يې دا ده چې په دې غزلو کښې هغه فکري، تخيلي اسلوب او هغه شاعرانه انداز او بيان نشته کوم چې د هغهٔ په شاعرۍ کښې په يو رنګ ليدے شي.

د قلمي او د مطبوعه نسخو په لړکښې چې ما کوم مخففات خوښ کړي دي د هغو ترتيب څهٔ په دا رنګ دے.

قلمي نسخه (ميا طارق شاه) = ط. ق - ګلشن ز ه ..... ګ ر
د کابل چاپ نسخه (دوست شنوارے) = د. ش
د پېښور چاپ نسخه (همېش خليل = هـ خ
د لاهور چاپ نسخه = (ديوان ميرزاهد) م ز

ډاکټر پرويز مهجور

مقدمه

میرزاخان انصاري

ژوند، فکر او فن

میجر راورټي د میرزاخان نوم فتح خان لیکي او په قام ئې یوسفزے ګڼي[۱] دغه رنګ دا خبره پوهاند حبیبي صاحب په "پښتانهٔ شعراء" (اول ټوک) کښې سردوباره کړې ده او ورسره یې دا اضافه هم کړې ده چې ددهٔ د کلي نوم "مهمندړ" وُ چې په خیبر دره کښې ئې د تیراه نحوا و شا چرته وجود درلود.[۲] قاضي عبدالحلیم اثر صاحب د میجر راورټي دغه روایت صحیح مني چې ؛ دے په آخر عمر کښې تیراه کښې استوګن شوے وُ او دلته ئې واده کړے وُ دوي د حبیبي صاحب ددې خبرې تصدیق هم کوي چې دے په "مهمندړ" نومې کلي کښې وسېده چې په هغه زمانه کښې د ارکزای قوم د زیلي شاخ میاخېل نومې قبیلې مرکز وُ قاضي صاحب "مهمندړ" کلي ته د میرزاخان دوباره راتګ په کال ۹۸۹ھ/۱۶۱۵ء کښې ښئي[۳]

ترکومه حده چې د میرزا خان د فتح خان د نوم خبره ده نو دا صحیح نهٔ ده او دا مغالطه شاید د میرزاخان د دیوان په یوه زړه نسخه کښې د نورو کمو شاعرانو

---

۱ میجر راورټي سیلکشنز فرام دی پویټري آف ده افغانز - مخ ۵۱

۲ عبدالحی حبیبي پښتانهٔ شعراء، (اول ټوک) مخ ۴۱، ۴۲

۳ قاضي عبدالحلیم اثر ؛ د پښتو ژبې ښکلے ادب او تاریخ (غیرمطبوعه) مخ ۱۶

د کلام د نمونو سره د فتح خان نومې د یو شاعر د کلام د موجودګۍ نه پیدا شوې وي[1] حالنامه چې د روښانیانو یوه کورنۍ تاریخي تذکره ده او د میرزا خان یو مرید او همعصر مرتب کړې ده د دهٔ نوم میرزا خان لیکي دلته د میجر راورټي دا خبره هم صحیح نهٔ ده چې میرزا خان د دهٔ تخلص وُ[2] د میجر راورټي دا خبره هم صحیح نهٔ ده چې دے په قام یوسفزے وُ ځکه چې دے د پیر روښان رح نمسے او د نورالدین زوے وُ دے په قام برکي اورمړ او په خاندان انصاري وُ.

د عبدالحی حبیبي صاحب او د قاضي عبدالحلیم اثر صاحب د دهٔ د کلي "مهمند" متعلقه رائې کافي هم صحیح نهٔ ښکاري دوي ته دا مغالطه شاید د میرزا خان د دې د دې شعر نه شوې وي: ؎

؎ له وحدته یې راکوچ کهٔ ... نن یې زړهٔ په مهمند دے

دغه رنګ د یو الحاقي غزل شعر دے.

؎ نهٔ مې غشي نهٔ لیندهٔ شته ... زرغونه طوطیان پرېباسه له مهمند

او بیا دې مغالطې ته مزید تقویت د میرزا خان د یو مخمس د دې مصرعې نه هم رسېدلے وي چې: ؎ " د یادګار ځائے مې خیبر دے"

د کوم "مهمند" ذکر چې په پورتني شعر کښې شوے دے دا په سویلي هندوستان کښې د غرونو د دوو لړیو نوم دے[3] میرزا خان د رشید خان سره دکن (سویلي هندوستان) ته د تللو نه وروستو باقي ټول عمر هلته تېر کړے دے او وفات هم هلته دے. بلکې دا نه په خیبر کښې شته او نهٔ په خیبر ایجنسۍ کښې. ترکومه چې

---

[1] د میرزا دیوان (قلمي) اندراج نمبر ۲ د پښتو اکېډیمۍ کتب خانه. [2] میجر راورټي سیلکشنز فرام ..... مخ ۵۱. [3] ډکشنري. هندوستاني اینډ انګلش (دویم ایډیشن) ب ا اُردو جامع انسائیکلو پیډیا (دویم جلد) مدیر اعلیٰ حامد علي خان.

صاحب کهٔ هر څو دغه بره ذکر شوي کلونه رد کړي دي خو ددې په ځواب کښې دوي دمېرزا خان د زيږېدنې څهٔ کال نهٔ دے په ګوته کړے دومره ئې ويلي دي چې : دومره وئيلے کېدے شي چې بايزيد کله ومړ دے لا نهٔ وُ زيږېدلے او کله چې موږ دا ومنو چې دے زيږېدلے وُ نو د بايزيد د مرګ په وخت به دے د څو کلو عمر وُ " [1]

د مېرزا خان د زيږېدنې په حواله نه د هغه د ديوان نه او نهٔ د روښانيانو تاريخ نه څهٔ څرګند شهادت په لاس راځي خو په حالنامه کښې د څنو نورو پېښو نه دومره اندازه لګېدلې شي چې د هغه د زيږېدنې کال يا خوا وُشا معلوم څهٔ وُ ؟

حالنامه ليکي چې : کله اکبر باچا خبر شو چې جلال الدين سره د غوريه خېلو اَفريديو او اورکزيو بنګښو ته لاړو نو په ۹۹۵ ھ کښې عبدالمطلب د شاه بداغ خان زوے سره د نورو امراؤ د دهٔ خلاف بنګښو ته ولېږلو په دغه جنګ کښې جلال الدين ماتې وخوړله او د پرکسان ترې ونيولے شول دے تيراه ته راغلو او په راجګل نومې کلي کښې استوګن شو دا د فيروزخېلو افريديو وطن دے.

د مغلو ځواکونو تيراه ته د بنګښو او پېښور له اړخه راتلو لارې ټولې بندې کړې او د عام استعمال ځينو نه يې پرې بندې کړل او دا فريديو نه ئې دا غوښتنه وکړه چې جلال الدين دې موږ له لاس تړلے راکړي يا دې د ملکه وباسي او د دوي د کورنۍ دوه درې کسان دې موږ له د يرغمال په توګه راکړي. په دې حقله د افريديو او اورکزيو خلق خېلو کښې کښېناستهٔ او دا مشوره يې وکړه [2]

---

[1] ډاکټر يار محمد مغموم - د روښانيانو ادبي پښتو لټرېچر مخ ۳۳۶

[2] علي محمد مخلص ، حالنامه ، مخونه ۳۳۱ ، ۳۳۳ (پښتو اکېډمي)

مردم افریدی و ورکزی باہم نشستہ مشورت نمودند قرار بران یافت کہ از اہل بیت جلال الدین جیو، احداد پسر شیخ عمر کہ برادرزادۂ جلال الدین جیو بود مع والدۂ اش وزلیخا والدۂ مرزا خان دستگیر کردہ بدہند۔ این معنی بر خاطر جلال الدین جیو بغایت گران آمد وزلیخا چون ازین حال آگاہی یافت۔ حالتی کہ جلال الدین جیو با مردم افریدی نشستہ خود اسیر کردہ، "بشد مغلانم مدہ کہ پسرم مرزا خان بسیار خورد دانست اورا ازمن جدا مسازید"۔ [1]

ترجمہ: افریدي او اورکزي په خپلو کښې د مشورې د پاره کېښناسته او په دې خبره یو شول چې جلال الدین جیو د اهل بیتو نه احداد چې د شیخ عمرزوے او د جلال الدین وراره ؤ او د هغه مور او زلیخا د میرزا خان مور دې ونیسي او مونږ له دې راکړي دا خبره د جلال الدین جیو په زړهٔ ډېره درنه ولګېده او زلیخا چې ددې حال نه خبر شوه نو په دا سې حال کښې چې جلال الدین جیو د افریدیوسره ناست ؤ لاړه او د جلال الدین په خوا کښې کېښناسته او په فریاد شوه چې له خپله لاسه مې د مغلو په بند کښې مهٔ ورکوه ځکه چې زما زوے میرزا خان ډېر ورو کے دے او هغه زمانه مهٔ جدا کوه"۔

د میرزا خان پلا ر نورالدین په غزای کلان کښې شهید شوے ؤ د غه غزا په ۹۸۹ھ کښې شوې وه۔ د حالنامې له مخه میرزا خان د نورالدین هم د غه یو اولاد ؤ دا سې ښکاري چې نورالدین د وادهٔ نه پس زر وفات

---

[1] علي محمد مخلص۔ حالنامه۔ مخ ۳۳۴ (پښتواکېډیمي)

شوے وُ په ۹۸۹هـ کښې د نورالدین شهادت او ۹۹۵هـ کښې د میرزا خان حقله د حالنامې د "بسیار خورد است" تکي دا حقیقت په ګوته کوي چې په ۹۹۵هـ کښې د میرزا خان عمر به شپږ نخواوُشا کاله وُ. د غه تاریخي پس منظر مونږ ته دَ میرزا خان د زیږیدنې نیټه نه د ۹۸۹هـ نه وړاندې او نهٔ د ۹۸۹هـ نه وروستو د تاکلو اجازه راکوي په ۹۹۵هـ کښې د هغه عمر شپږ کاله نخوا وشا ګڼلو نه پس مونږ هم ۸۹- ۹۸۸هـ د هغه د زیږیدنې کال ګڼلے شو.

ژوند او اخلاق:

د افریدیو او اورکزیو د فیصلې ترمخه کله چې احداد دا حداد مور اودَ میرزا خان مور بي بي زلیخا مغلو ته دیرغمال په توګه وسپارلے شول نو جلال الدین د عبدالله اوزبک د ملاقات د پاره بلخ ته روان شو او د جلال الدین مور بي بي شمسو، وروکے میرزا خان او د جلال الدین تیر د تیراه نه ورانه او نورست ته لاړل دا وره ډله د پناه په خیال کله باجوړ، کله قندهار، کله بنګښو ته لاړل را غلل او آخرکښې بیا تیراه ته راستون شول. جلال الدین چې کله په ۱۰۱۲هـ کښې په غزنۍ کښې شهید شو نو احداد د روښانیانو خلافت او حکومت تر لاسه کړو میرزا خان او الهداد (رشید خان) چې کله لوئے شول نو د احداد سره د مغلو خلاف په جنګونو کښې شریک شول حالنامه په دې حقله چې میرزا خان په وړومبي حل په جنګ کښې کله برخه واخیسته مونږ له څهٔ معلومات نهٔ راکوي. الهداد (رشید خان) چې کله د احداد نه بیل شو نو میرزا خان د الهداد سره ملګرے شوا په ۱۰۲۵هـ کښې هند ته لاړل او د مغلو ملازمت ئې قبول کړو. د غه وخت د میرزا خان عمر ۳۶ کاله وُ.

میرزا خان سره دد ې چې د حکومت منصب دار وُ د مال او عزت خښتن وُ خو په

عاجزي او خاکسارۍ خوښ وُ د درویش " په نامه به یادېدو د جاېداد او کاروبار واک ئې نورو ته سپارلے وُ او خپله به د حق تعالیٰ په ذکر او فکر کښې مشغول وُ. کتاب او سرود سره ئې ډېره مینه ساتله خپله هم د رباب او نغمې استاد وُ لکه چې خپله وائي :

ـه د فقیر خوښي له سازه له کتابه
امراء به ئې په توغ په نغاره کا

علمي بحث او مباحثه به ئې خوښوله اکثر به د عالمانو او فقیرانو په محفل کښې ناست وُ. کله کله به يې د هلکانو سره په لوبو کښې برخه هم اخسته ، د لوبو تماشه به يې هم کوله د تېر عمر تذکرې به يې کولې . په مخ به یې همیشه خنداده او روڼ تندے به ئې ساتلو د سپین د غاړې سپل ئې ډېر خوښ وُ - د نارو غو تپوس له به تللو په هغوي به ئې لاس اېښودلو او د حال او احوال پوښتنه به ئې ترې کوله [1]

علي محمد مخلص د میرزاخان په حقله ليکي : ـه
گر شود هر موی من بر تن زبان
از برای مدح ان صاحب زمان
گر بگویم وصف او لیل و نهار
گفته باشم اندکے از صد هزار [2]

ترجمه : د هغه "صاحب زمان " د پاره که د تن هر وېښته مې ژبه ژبه شي او شپه ورځ ئې صفتونه کوم نو له زرګونو وصفونو به مې ډېر کم ویلي وي -

---

[1] علي محمد مخلص - حالنامه - مخونه ۵۵ - ۴۵۴ [2] همدغه مخ ۴۵۶ (پښتو اکېډمي)

دولت لواڼی وايي : ؎

په دنيا يې محبت تکبر نهٔ کـه
په ظاهر ښيينه ځامه کښې قلندرو
يو صفت به يې لائق را وکړے نهٔ شي
کهٔ ثنا په تمام عمر د مېرزا کړم

اولاد : -

مېرزا خان د خپل کش ترهٔ جلال الدين د لور بي بي نورخاتون سره وادهٔ کړے وُ حالنامه د دې وادهٔ نېټه نهٔ ښئي د مېرزا خان دوه نورې ښځې هم وې خو حالنامه د دوې د نوم ونو ذکر نهٔ کوي - د مېرزا خان شپږ زامن او پنځه لونړه وې د زامنو نوم ونه يې دا دي خداداد (خدايداد) ، عبدالحکيم ، عبدالکريم ، عبدالرحمٰن ، عبدالسبحان او عبدالنبي - په دې کښې د خداداد ، عبدالحکيم او د عبدالنبي ميندې بيلې بيلې وې او عبدالکريم ، عبدالرحمٰن ، او عبدالسبحان د بي بي نور خاتون زامن وو - د لونړو نومونه يې دا دي ز بي بي فتح خاتون ، بي بي سليم خاتون ، بي بي فاطمه د بي بي نور خاتون لونړه وې او باقي دې د بيلو بيلو ميانډو نه زېږ دلې دي -

حالنامه د مېرزا خان د زامنو د اخلاق او سيرت په حقله ليکي :

چې دوي اکثر د علم او مېدان ځوانان وو ، د ښهٔ اخلاقو او کردار خاوندان وو - لکه د پلار خنده رويه او ښکلي انسانان وو - وقار او تواضع يې لرله د عالمانو ، فقيرانو او غريبانانو خدمت به يې کولو دوي کښې ډېر د موسيقۍ د علم ماهران وو - د هندسه او فارسي ژبې شاعران هم وو - [1]

---

[1] علي محمد مخلص ، حالنامه - مخ ۴۰ (پښتو اکېډيمي)

مرینه :

د جهانګیر او شاه جهان د دور یو مشهور پښتون امیر، خان جهان لودي د شاه جهان باچا نه خفه شو او د دکن نظام الملک سره یې په دولت آباد کښې پناه وړ. خپسته - خواجه ابوالحسن او نور امیران یې د خان جهان لودي د نیولو د پاره دکن ته ولېږل. باچا خپله هم د دې مهم په لړ کښې دکن ته روان شو. باچا چې کله د خاندیش سرحد ته ورسېد نو خپل فوځ ئې په درې برخو کښې ووېشلو. ارادت خان یې د فوځ سرلښکر وټاکلو - ارادت خان بیجاپور ته لاړو او دولت آباد ئې شائسته خان او اعظم خان ته وسپارلو د شائسته خان په ځائې یې بیا عبدالله خان بهادر مقرر کړو. حالنامه د عبدالله خان بهادر د دریا خان داؤد زي زوے بهادر خان یادوي. شېر خان داؤدزے چې د بهادر خان ورور ؤ (الهداد د رشید خان) مېرزا خان او د مېرزا خان زوے عبدالحکیم د بهادر خان او اعظم خان په مشرۍ کښې د دولت آباد په جنګ کښې وجنګېده. منتخب اللباب لیکي چې د دکن خلقو دا جنګ په ګوریلا رنګ کښې کولو حالنامه هم د دې تائید کوي. د منتخب اللباب او د حالنامې د وینا مطابق د غه وخت د سرکاري فوځ ډله په درې زره سپایانو مشتمله وه او د دغه منکوره دواړو کتابونو مطابق د دکن فوځ دولس زره کسان لرل.

د دښمن د زیات شمېر ته ګخه د مېرزا خان دا تجویز ؤ چې زمونږ شمېر ډېر کم دے مونږ له پکار دي چې د کمک ترراړسېدو د دې ځائے نه لاړ. وروستو شو نو په بهادر خان دا خبره ډېره بده ولګېده دې دوران کښې یو ې فوځې ډلې سمدستي یوه ګوریلا حمله وکړه - چې پکښې سرکاري فوځ ته ډېر زیات نقصان ورسېدو په دې زیان کښې مېرزا خان، میاداد او د مېرزا خان زوے

عبدالحکیم شهیدان شول په دې حمله کښې الهداد (رشید خان) او دولت لوانې سخت ژوبل شول دا حمله د منتخب اللباب او د حالنامې د سند مطابق په ۱۰۴۰ هـ کښې شوې وه [۱]- دې لړکښې دولت خان لوانې هم یکي؛

ده دکن په جنګ شهید شهٔ خوشنو د وسه
په تاریخ د دهٔ د زړخلوښت ګـنـدړ وُ

میرزا خان، میاداد او عبدالحکیم چې چرته شهیدان شول هم هلته یې خاورو ته وسپارل خو څهٔ موده وروستو رکم و زیات یو کال) د دوی مړي یې له هغه ځایه را وښکل او شمس اباد کښې یې ښخ کړل. حالنامه لیکي چې ز کله د دوی مړي یې را وښکل نو د میاداد او عبدالحکیم مړي خاورې شوي وو صرف هډوکي یې پاتې وو خو د میرزا خان مړے سره ددې چې لحد کښې یې اویهٔ هم ولاړې وې روغ سلامت وُ- د حالنامې د شهادت مطابق د هرې جمعې په شپه خلق د دهٔ زیارت له راځي او د خپل یقین په قدر د الله تعالیٰ نه خپل مقصود غواړي- [۲]

په روښانۍ مسلک کښې د میرزا خان مقام؛

میرزا خان د یوې روحانۍ کورنۍ غړے وُ او په یو داسې چاپیریال کښې لوے شوے وُ چې د هغهٔ نیکهٔ بایزید روښان [؟] د مسلک او تعلیماتو د نشر و اشاعت زور وُ د فقراؤ د درویشانو مجلسونه وو - دے چې کله ځلمے شو نو د دهٔ

---

[۱] (الف) خافي خان (نظام الملک) منتخب اللباب - مخونه ۳۷، ۳۸، ۳۹

(ب) علي محمد مخلص، حالنامه، مخونه ۵۸، ۵۷ [۲] هم دغه - مخ، ۵۹ م (پښتواکېډمي)

تره جلال الدین د خلافت په گدۍ ناست ؤ - د حالنامې نه دا خبره څرګندېږي چې د احداد روزنه د جلال الدین په لاس کښې شوې وه د د روښاني طریقت ټول مقامونه د خپل تره په ذریعه کشف شوي وو - په دې حقله حالنامه د میرزاخان په حقله څه نه وائي چې د هغه روحاني استاد څوک ؤ؟ میرزاخان په خپله هم دې لړ کښې څه نه وائي -

د میرزا خان د شاعرۍ د داخلي شهادت او د حالنامې او د دولت لواڼي د دیوان د خارجي شهادتونو په اساس دا حقیقت ښکاره دے چې میرزا خان د روښاني طریقت د ټولو منزلونو نه تېر شوے ؤ او د سکونت په سیر تمائل شوے ؤ او د خلیفه مقام ئې موندلے ؤ میرزا خان د ډېرو مریدانو روزنه کړې وه علي محمد مخلص، دده ورور خواجه محمد او دولت لواڼے په دې مریدانو کښې شامل دي -

د میرزا خان د "سکونت" د سیر په حقله د میرزا خان دا څو شعرونه د دلیل په توګه وړاندې کولے شي ؛ سه

د حیات پیاله یې دا کړه	یو ساقي مسکین نواز دے
اګه میرزا غونډې آزاد یې	د ساکن په خوی قرار شه
چې میرزا ګمان قاني که	حشرګاه یې له مسکینه

علي محمد مخلص په حالنامه کښې لیکي ؛

"و بر این فقیر کم بضاعت مهربانی و شفقت از حد زیاده داشت و معرفت ذات و علم توحید فقیر از ایشان مستفید گشته" [1]

ترجمه ؛ په دې فقیر ئې د حد نه زیاته مهرباني او شفقت کولو د ذات په

[1] علي محمد مخلص، حالنامه، مخ ۴۵۶

معرفت او د توحید په علم کښې فقیر دده نه کټه وچته کړې ده ؟
د میرزا خان د ظاهري او باطني علم په لړ کښې مرید دیکي : ـه

علم ظاهر را بقدر احتیاج | خوب می دانست آن نور سراج
بحر بود در علم باطن آن ولی | شاهد حالش کلامش شد جلی
معدن علم حقائق بود همین | پهلوان دین بود بی کبر کین
فخر او از فقر بود و نی زمال | نی زمنصب نی ز لشکر ای رجال
همت عالی آن صاحب نظر | بر گذشته از دو درای تا مور
گر به ظاهر بود و اندر جهان | بود در باطن به قرب ای جان جان [۱]

ترجمه : هغه د چراغ نور د ضرورت مطابق په ظاهري علم ډېر ښه پوهېدو
هغه ولي د باطني علم سمندر وُ د هغه کلام د هغه د حال ښکاره شاهد
دے ـ هغه د حقایقو د علم خزانه وه او بغیر د څه کبر او حسد دَ
دین پهلوان وُ هغه ته په فقر فخر حاصل وُ نه په مال نه په منصب
او نهٔ په لښکر هغه د نظر خاوند او د لوئے همت څښتن وُ د دواړو
جهانونو نه بې نیازه وُ ـ که په ظاهره هغه په دې جهان کښې وُ خو
په باطن کښې هغه د قرب په مقام کښې وُ "

دده یو مرید او پس بهادر دولت لواڼے وائي :

ـه

میرزا خان د نورالدین صفت په څو کړم
میا روښان د پوهې ښهر دے یې ور وُ

---

۱ علي محمد مخلص ـ حالنامه ، مخ ۵۵م (پښتو اکېډیمي)

ـه د هادي په زړه چې پټ وُ په ده ړ کاله
د میرزا خوله د هغه علم مظهر وُ

میرزا گنج راته خپل کور وښو غني شوم
بېهوده منت به ولې د نور چا کړم
محقق وحدتي کان د تصوّف وُ
په رموز یې په همه علم دانا کړم [1]

---

[1] د دولت لواڼي دیوان - مرتب، پروفیسر عبدالشکور رشاد،
پښتو ټولنه کابل جنوري ۱۹۷۵ ع

شاعري

مذهب، فلسفه او فن درې واړه د انسان د زړه او روح فهم او فکر، او د وجدان او تخیّل د روزنې د پاره کارکوي د انساني تهذیب د دې درې واړو عواملو مرام دادے چې انسان دې په اخلاقي توګه د انسانیت په اوچت مقام ونما ځل شي۔

مذهب د انسان او انساني تولنې یوه فطري مجبوري ده دهرډر (HERDER) په نزد - د مذهب ماخذ بغیر د څه واسطې او په غیر شعوري توګه د انسان په روح کښې د ننه پروت دے»[1] دے وړاندې وائي چې: مذهب د روحاني تهذیب درو مجه صورت دے د فلسفې نه مخکښې انسان ته د فطرت د ننه لید ونکیو قوتونو یو مذهبي شعور حاصل ؤ دا شعور انسان د ځناورونه بیلوي»[2]

دې وړاندې اقتباس نه دا اندازه ډېره په اسانه لګي چې فلسفه مذهب (تصّوف) ته څومره نزدې ده: خدائے په کائنات کښې د یو روح او حیات په توګه موجود دے په کائنات کښې چې څه ژوند، قوت، نور یا عقل دے هغه هم خدائے دے چې په کائنات کښې د ننه موجود دے او د کائنات وجود هم تر دغه حده

---

[1] ډاکټر هېرلډ هوفډنګ (HAROLD, HOFFDING) تاریخ فلسفهٔ جدید (دویم جلد) اُردو ترجمه، خلیفه عبدالحکیم - مخ ۱۳۰- [2] هم دغه مخ ۱۲۸

دے ترکومه حده چې دا (کائینات) د الله تعالیٰ د هستۍ نه مستفید دے۔ خدائے دَ هرې لا محدوده ناو پښلي او بې اندازې هستۍ نوم دے ،،[1] اګست کومټ AUGUSTE COMTE (۱۷۹۸ء - ۱۸۵۷) په لړکښې لیکي چې ز تأثر د علم او عمل دواړو نه اوچت دے ولې چې ددې دواړو قدر او قیمت د هغو په نتیجو دے او دا دواړه په خارجي اضافاتو اړه لري د دوي په مقابله کښې د تأثر نه اېغ په نېغه باطني تسکین ترلاسه کیږي ددې نه دا څرګندیږي چې لطیف فن ته په علم فوقیت حاصل دے۔ تأثر د لطیف فن د سپرلي سحر دے لطیف فن د نظري نړۍ ثمره (مجرد) تصورات ډېر په نفاست سره د حقیقت اړخ ته راستنوي او عملي خلقو په زړونو کښې د اوچتو خیالاتو د پاره د شرافت نه ډک جذبات پیدا کوي۔ لطیف فنون د سیرت داسې نمونې زمونږ په وړاندې بږدي چې په هغو د مسلسل غور روسوچ نه زمونږ جلتونه او خیالات کمالات ته رسي۔ د انسانیت د مذهب د لارښودانو فرض دي چې هغوي دې خپل ځان کښې فلسفه او شاعري یو کړي،،[2]

له نېکه مرغه دا درې واړه توکي یعنې مذهب، فلسفه او فن د میرزاخان په شاعرۍ کښې په یو وحدت کښې ګډ لي شوي دي۔ مذهب د میرزاخان د شاعرۍ بنیادي رغونه ده میرزاخان د پښتونخوا د یو منظم او متحرک اسلامي تصوفي تحریک غړے وُ د دوي مخې ته یوه داسې معاشره وه چرته چې رسمونو رواجونو د مذهب ځائے نیولے وُ عبادتونه تش عادتونه وو روایاتي مذهبي قوتونو

---

[1] الفرډ ویبر (ALFERED WEBER) تاریخ فلسفه۔ اُردو ترجمه ډاکټر خلیفه عبدالحکیم مخ ۱۷۸

[2] ډاکټر هېرلډ هوفډنګ۔ تاریخ فلسفه جدید (مذکوره) مخونه ۱۳ - ۱۲

ACKU

اسلام د خپلو خواهشاتو طابع کړے وُ - په سرکاري سطح د بډو رشوتونو زور وُ جنګونه او قتلونه وو د ملکونو د نیولو هوسونه وو پښتانهٔ په سیاسي توګه د انتشار ښکار وو -

دغې تاریخي عواملو یو تحریک پیدا کړو چې مشري یې د پښتونخوا د یوې لویې مذهبي او تصوفي کورنۍ د یو نابغه په لاس وه - د دغې تحریک منشور او فکري اساس "خیر البیان" وُ د دے خیرالبیان کهٔ یو نوا د مذهب دَ تجدید یوه احیایي جذبه پیدا کړه نو بل نوا یې یو داسې ادبي مکتب پیدا کړو چې د دې تحریک د تلیاتي ژوند د پاره یو غټ سوب وګرځید او د پښتو ادب د تعمیر د پاره ئې مضبوط بنیادونه هم پیدا کړل دې تحریک چې کوم "منورین" پیدا کړل د هغو د تخلیقاتو نه د دې تحریک د مذهبي او فکري تودوخې او رڼاګانو اندازه لږي -

میرزا خان د خیرالبیان د غه مذهبي پیغام او فکري انداز د فن د باریکیو په ګروڼ په یو داسې صورت کښې وړاندې کړو چرته چې فکر او جذبه دماغ او زړهٔ دواړه متحرک او په ټپو وي -

میرزا خان د خیر البیان د غه خالق او خپل روحاني او فکري استاد د شمعې په تمثال کښې داسې وړاندې کوي -

د عارف نښان څرګند دے لکه شمعه
راهنمائے او سربلند دے لکه شمعه
هر زمان ئې نوے نوے سر پرې کیږي
بیا په نوي سرا نند دے لکه شمعه

مُوتوا قَبْلَ اَن تَمُوتُو اېږي پو هېږي
چې يې څکلې د مرګ خوند دے لکه شمعه
عاشقان لکه پتنګ باندې پرې پوهيږي
تجلۍ مخ يې لګند دے لکه شمعه
دا فقير ميرزا ثنا د ميا روښان کا
په دانش علم بلند دے لکه شمعه

بيا د دغه شخصيت د باطني تعليم اثر د خپل ځان په حواله داسې ذکر کوي ار

زهٔ هرڅو چې د عادت په رسم تللم
د تحقيق تر فهم نه ورسېدلم
رهنماځ له يوه لورې را پيدا شهٔ
دې دلسوز په ناپوهه وپوهولم
د ګمان د علتونو يې فارغ کړم
د يقين په پرهېز ونو يې ساتلم
د معنیٰ قوت مې هسې مدد بيا مونډ
په يوهٔ نفس کښې تا قافه ترقافه زغلم
چې دا هسې زور او اختيار مې خپل شهٔ
هميشه پرپاکيزه مکونو ملم له

د ميرزا خان د شاعرۍ پيغام د خپل مسلک له مخه د مذهبي احکامو او اقدارو راڅوندې کول وو. په عقيده او ايمان کښې يو نوے جوش او حرارت

له د ميرزا خان ديوان - مرتب، دوست شنواري

دا پېداوول او مذهبي ذوق او وجدان ته يو تازه الهام ورکول وو. روح په پاکه او اخلاص سره نما ئخل وو او د ذات د عرفان او د توحيد د اسرارو نه خبرول وو.

ميرزاخان پخپله شاعرۍ کښې د خپل مسلک تعليمات او دهغو اهم نکات او اصطلاحات بيانوي د مثال په توګه اته مقامونه، خفي ذکر، خفي شرک، ګمان يقين، خوف او رجا، د نفس او شيطان نه ژغورنه، د دنيا محبت او غفلت نه ځان ساتل مرګ او اخرت يادول، د خدائے د ديدار، فقر، ساه او د اخلاص قدر په ښه ښودل.

د ميرزاخان د شاعرۍ عمومي رنګ وحدت الوجودي وجدان دے چې د توحيد اسرار او رموز بيانول دي د وحدت الوجود مطلب دادے چې وجود په حقيقت کښې يو دے چې د حق تعالیٰ وجود دے باقي موجودات د دغه يو حقيقي وجود اعتباري او مجازي مظاهر دي د غه اعتباري او مجازي مظاهر حقيقي وجود نه لري قايم بالغير دي يعني د خپل وجود له پاره د حق تعالیٰ د وجود محتاج دي حق تعالیٰ د وجود په اعتبار د ټولو موجوداتو عين دے دا ځکه چې موجود دي يا ظهور لري دا د حقيقي وجود يو اظهار دے پس د وجود له مخه هيڅ موجود نشته بلکې ديو حقيقي وجود (الله) ننداري دي.

د کائيناتو هر شے چې موږ ته د تعين او تقيد په حالت کښې ښکاري لکه د مثال په توګه ونه، غر، انسان او داسې نور په د غه حالت کښې دغو ته غير حق ويلي شي خو د وجود په اعتبار دا ټول حق دي د وحدت الوجود پلويانو دا نظر دے چې په ټولو موجوداتو کښې حق تعالیٰ ديو خاص ظهور له وجې يو سريان لري.

ACKU

دميرزا خان په شاعرۍ کښې د „وجود" په فلسفه د پوهېدو د پاره ضروري ده چې اول د „ذات صفات" او د „وحدت او کثرت" د تصوفي اصطلاحاتو وضاحت وشي ځکه چې د وجود په حلقه ددې اصطلاحاتو په ذريعه اظهار کيږي.

د ذات نه مراد د حق تعالیٰ ذات او هستي ده دلته د هغه ذات څهٔ صفات او تعينات نهٔ لري. د „صفت" نه مراد د ذات ظهور دے لکه حيات، علم، قدرت او داسې نور. صفتي اسمونه هم د حق ذات صفات دي لکه د مثال په توګه جليل، جميل، رحيم، قهار او داسې نور د „وجوديانو" دا نظر دے چې صفات په ذات کښې داخل دي يعنې صفات د ذات عين دي د دوي په مقابل کښې „شهوديان" دا نظر لري چې „صفات زايد بر ذات" دي دا د ذات نه عين دي او نهٔ غير. د وجوديانو په نظر د „اور" صفت رڼا او سوزول دي دا صفت د „اور" د ذات عين دے غير نهٔ دے. د دوي په نزد ټول موجودات د ذات د اسماؤ او صفاتو نه په وجود کښې راغلي دي په دې سوب دا ټول موجودات د حقيقي وجود اضافي او اعتباري ښکاره وني (مظاهر) دي او دا هرڅهٔ د وجود په حواله يو او حق دي.

دې لړکښې ميرزا خان وائي: ؎

د صفات استوګه چرې شي بې ذاته
يخ بې لېيه واوره نه پا يي بې تنده لا
د صفات استوګه چرې شي بې ذاته
يو الف دے په الوفو کښې مغلوف

ـه
دا کلام د حقیقت په ژبه وایم
لکه ذات په هر صفات کښې ښېرستایم
له هر چا سره په علم په هستۍ کښې
یو په یو ورسېد لی سر تر پایم
مدام یو له یو وجوده تماشه کړم
تل تر تله بې شریکه بې همتا یم

د مولا له نزدېکېه خبرنهٔ دي
بې اوبو د ژوندون طمعه کاله کبه
خلق واړه د خالق په هستۍ هست دي
د صفات جامه په ذات ده مرتبه

ذات بې مثله جلوه وکړه
له پرتوه یې صفات شهٔ
ښاخ به څو پا ئې بې بېخه
دا صفات دلیل د ذات شهٔ

د میرزا په دیوان کښې یو داسې شعر هم شته چې د ذات او صفات په حواله هغه د وجودي نظر بالعکس د شهودي نظر شعر دے ـ شعر دادے ـ ـه

ـه
کل صفات نه عین ذات نه غیر ذات دي
د انکار معنیٰ بلا شوه . بلا اېر

- دا شعر د میرزا خان د نظر سره هیڅ تعلق نهٔ لري دا یو الحاقي شعر دے -
د وحدت الوجود د نظر د څرګندولو له پاره وجودي شاعران د "وحدت" او "کثرت" اصطلاحات هم پکار وي -

د "وحدت" نه مراد د حق ذات "وجود" دے کله چې حق ذات وغوښتهٔ چې زهٔ دې څرګند شم نو د "احدیت" نه یې (دا د ذات هغه مرتبه ده چرته چې ذات د من او تو، د اسماؤ او صفاتو نه مستغني دے دې مرتبې ته د لا تعین مرتبه هم وائي) چې کوم وړومبے تنزل یا تعین وفرمائیلو نو دغه تنزل یا تعین ته "وحدت" وائي د لته حق ذات په اجمالي علم سره په اسماؤ صفاتو ونما تجلی شو یعني د لته اسماء او صفات په مجمل علم سره صرف حق ذات ته ښکاره دي دې ته "وجود" هم وائي - د وحدت نه وروستو چې د وجود کوم تنزلات یا تعینات دي په ترتیب سره د هغو نومونه دا دي "واحدیت" د ارواح عالم، د مثال عالم او د اجسام عالم، دا ټول د ذات د ظهور مرتبې دي دې ټولو ته "کثرت عالم" وائي -

د "وحدت" او "کثرت" په حقله میرزا خان وائي: ؎

۱- دیوهٔ له یکانګیه ذوق پیدا شهٔ
تر و کثرت شهٔ د وحدت سره معطوف

۲- د کثرت قافله هر څو د انبوه ده
د وحدت په دریاب واړه وینم غرقه

۳- اے میرزا ظاهر باطن کهٔ لوئے هلک دے
په هستی کښې برابر وینه بې فرقه

۴- په وحدت کښې یګانهٔ شهٔ
په کثرت کښې بې شمار دے

۵- کثرت نهٔ دے بې وحدته
پر و همیو ظلمات شهٔ

وحدت، د ذات مترادف دے او صفات، د کثرت - اوس دا څلور واړه اصطلاحات په دې یو شعر کښې ولولئ : -

د کثرت محبت جزو د وحدت دے
په تحقیق ئې اصل ذات صفات فرعه

ګمان او یقین (شک او باور) د روښانی تصوف دوه داسې اصطلاح ګانې دي چې دوی په ذریعه هم د "وحدت الوجود" په نظر رڼا پروځي د "ګمان" نهٔ مراد د دوی د شعور دے یعنې د نیا یا د نیاهر څیز په ځپل ځپل وجود سره منل - د "یقین" نه مراد دوی د شعور نه تیرېدل او د یو وجود یا وحدت مکاشفه حاصلول دي په دې حواله د میرزا خان یو څو شعرونه ولولئ :

- د ګمان له حجابونو به فارغ شې
و باور وته چې ووځې له تلبیسه
په ګمان مې څپس ځنګ ګاڼه او به وم
د یقین له تا وه و به په ذات شوم

د "وحدت الوجود" په نظر د دلالت دپاره په اسلامي تصوفي ادب کښې هم او په روښاني ادب کښې هم، د حق ذات د انسان سره د معیت اقربیت او احاطت اصطلاحات هم په کارولے شي یعنې دا چې د انسان سره د حق ذات معیت، اقربیت، او احاطت ذاتاً دے نه چې علماً د معیت، اقربیت او احاطت

پحقله د قرآن مجید د غه ایتونه دادي:

معیت: وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ (الحدید - ایت ۴)

(او هغه تاسو سره دے تاسو چې هر چرته یئ)

اقربیت: وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ - قٓ - ایت ۱۶

(او موږ ده (انسان) ته د شاه رګ نه زیات نزدې یو)

احاطت: وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًاo النساء - ایت ۱۲۶

(او الله تعالیٰ په هر شی محیط دے)

د میرزا خان په شاعرۍ کښې ددې مضمونونو پحقله کافي وېناشوې ده دلته زهٔ د هغهٔ یو څو شعرونه وړاندې کوم:

شاه تر تا و تا نزدې دے — بل رخ مهٔ درومه بعیده

نحن اقرب الیه — د کلام دے له مجیده

خپل و یجوډ کښې یې وغواړه — شاه نزدې حبل الورید

ح حاضر دے که یې ګورې — در نزدې دے په تا پورې

شاه له تا سره یکتا دے — اندېښنې مهٔ کړه خسوئې

"نفي" او "اثبات" هم د اسلامي تصوف دوه داسې اصطلاحګانې دي چې د "وحدت الوجود" په نظریه باندې نه رڼا غورځوي.

د "نفي" نه مراد "خپله هستي نیشت کول" او د غیریت تپول اعتبار ونه او حجابونه وچنول دي. د "اثبات" نه مراد د خلق پېټېدل او د حق ظاهرېدل دي.[1]

له دې خپلې رضا هسې رنګ فاني شوم — چې نفي معنیٰ مې راوړه تر اثباته

د اثبات قدم مې پاس په نفي کښېښود — او د ذات زوال مې نشته تل بقا یم

[1] سيّد محمد ذوقي، سر دلبران

فن دَحسن مجسم کولوته وائي یا مجسم حُسن فن بللےشي مصور د رنګونو په ذریعه او سنګتراش د سټک او چینې په ذریعه حسن مجسم کوي موسیقار د غږ حسن د ساز او اواز په ذریعه او شاعري د ټکو په ذریعه تخلیق کوي په ټکو کښې د غږ حسن د فصاحت او بلاغت د تکنیکي استعمال نه پیدا کیږي نو تشبیه، استعاره او علامت د یو فنکار د تخلیق تخیّل هغه قوتونه دي چې دد په ذریعه هغه د معنیٰ نوي جهانونه او عالمونه منکشف کوي۔

لکه څنګه چې ښکاره ده میرزا خان یو تصوفي شاعر دے فکر او فن ئې یو فلسفیانه مزاج هم لري ددهٔ په فکر او فن کښې وجداني او ما بعد الطبیعاتي رنګ او تخیّل شامل دے۔ دې تصوفي تخیّل او ما بعد الطبیعاتي نزاکتونو ددهٔ تغزّل ته یو خاص شناخت بخښلے دے۔ ددهٔ فن یو پراسراره عالم هم لري د ذوق په حقله علامه اقبال لیکي:

حواس و عقل کے علاوہ علم کا ایک اور ماخذ ہے جس کو ذوق سے تعبیر کرتے ہیں یعني یہ ایک باطنی ادراک ہے جو ہستی کے غیر زمانی و غیر مکانی عوالم کو منکشف کردیتا ہے"۔ [1]

ترجمه: ذوق د حواس او عقل نه پرته د علم یو بل ماخذ دے۔ دا یو باطني ادراک دے چې د هستۍ غیر زماني او غیر مکاني عالمونه منکشف کوي۔

ددې "ذوق" نتیجه د "اشتیاق عالم" وي دې ته "دوامي عشق" هم وائي د لته روح ته یو اطمینان حاصل وي میرزاخان وائي:

تل ترتله میرزا عید دې مبارک شه
چې د نور جامه دې واغوسته نفیسه

---

[1] علامه اقبال، فلسفهٔ عجم، مخ ۱۸۷

د غه نور د میرزا خان د فن جامه ده د دهٔ فن روح او تخیل ته یو مخصوص پاکي او تقدیس بخښي او عقل او بصیرت ته یو ماورایي شان ورکوي.

د میرزا خان اکثره شاعري د تشبیه گانو، استعارو او علامتونو د معنی دوه سطحې لري یو خوا د فصاحت او بلاغت تکنیکي استعمال لري او بل خوا د تصوفي اصطلاحاتو مفهوم واضحوي. د مثال په توگه دا څو شعرونه به وا خلو.

زهٔ چې دېر دېر محبت کړم له اَیاغه — د خو ښېښه بوی ئې را غے تر دماغه
دا زما دماغ ئې هسې معطر کړه — چې بلبل مې دیوانه شو له سراغه
عندلیب چې هسې ډېر ډېر فریاد کاندي — د اشنا خبر ئې بیا موندهٔ له باغه
په میرزا د خپلې مینې نو بهار شهٔ — په بهار کښې تماشه کاندي له راغه

په دې شعرونو کښې د علم بدیع د یو صنعت نه چې مراعات النظیر ورته وائي کار اخستے شوے دے مراعات النظیر نه مراد په کلام کښې د څو داسې څیزونو ذکر کول وي چې په خپلو کښې یو قسم مناسبت لري خو د مناسبت د تضاد نه وي لکه د مثال په توگه په برتو شعرونو کښې په دویم شعر کښې „معطر او بلبل" په دریم شعر کښې „عندلیب، فریاد او باغ" او په څلورم شعر کښې „بهار، تماشه، او راغ"

د مراعات النظیر په حواله په دې شعر کښې دومره معنوي پراخې نشته څومره چې د یو تصوفي استعاري او علامت په توگه معنوي پراخوالے لري. د مثال په توگه په وړومبي شعر کښې د „ایاغ" نه مراد هغه څیز چرته چې یو سالک ته د غیبي انوارو مشاهده او د معنې ادراک حاصل وي په دویم شعر کښې د „بلبل" نه مراد هغه „رباني عارف" دے چې د اماره نفس نه یې ځان خلاص کړے وي او مدام په ذکر او فکر کښې مشغول وي د „سراغ" نه دلته مراد د معرفت د رموزنه اگاه کېدل دي. دریم شعر کښې „عندلیب" د „بلبل" په معنی دے په دې شعر کښې د „باغ" نه مراد

ACKU

د اسرارو د کشف مقام" دے په څلورم شعر کښې د "بهار" یا "نوبهار" نه مراد د "سالک ذوق او شوق" او د "علم عالم" دے د "داغ" نه مراد "شینکے" او د "شینکي" نه مراد د "نوي ژوند ظهور" دے ۔

دا شعرونه د دومره ژور مفهوم نه پرته په ظاهري کچ هم ښکل روماني اثرات پرېباسي او د شعر د ښهٔ ذوق لرونکیو د تخیّل او تصور له پاره د فطرت ښائست او اسرار څرګندوي ۔

د میرزا خان شاعري د هاغه روماني ذهنونو او مزاجونو لپاره چې د اسرار او لټون ذوق لري یو ډېر لوئے کښنوس لري د تصوّفي رومانیّت یو غټه ښکړه دا ده چې دا د انساني تخیّل او فطرت ترمنځه د آشنایئ یوه غټه ذریعه ګرځي د کائنات سره ئې مینه او محبت پیدا کیږي ۔

اَلَّذِیْٓ اَحْسَنَ کُلَّ شَیْءٍ خَلَقَهٗ ۔ (السجده ۔ ایت ۷)

هغه (ذات) چې کوم څیز یې پیدا کړو ښکلے یې پیدا کړو)

د فلسفیانه ذهن او فکر په حواله د شاعرئ یو قسم ته "مابعد الطبیعاتي شاعري" هم وائي ۔ د مابعد الطبیعات نه مطلب د مادي عالم نه ماوراۍ عالم دے دا قسم شاعري ژوند او د ژوند حقیقت ته یو فلسفیانه او فکري رسائي لري ۔

د دا قسم شاعرئ د فني وظیفې په حقله ابوالاعجاز حفیظ صدیقي لیکي:

مابعد الطبیعاتی شاعر خیال کی نازک، لطیف، دقیق اور پیچیدہ اشکال سے دلچسپی لیتے ہیں غیر مشابہ پیکروں میں نادر تخیّلی مشابہتوں کی تلاش پر بہت محنت صرف کرتے ہیں ۔ گریز پا کیفیتوں، وجدانی حالتوں، فکر کی باریکیوں، خیال کی نزاکتوں اور احساس کی لطافتوں کے

ACKU

بھرپور اظہار کے لئے نادر تمثالوں، تشبیہوں، استعاروں اور قول محال سے زیادہ کام لیتے ہیں تمثالوں کو فقط تزئین کلام اور آرائش بیان کے لئے استعمال کرنے سے اجتناب کرتے ہیں۔ ؎۱

ترجمه: مابعدالطبیعاتي شاعر د خیال نازک لطیف، ژور مشکل او کړکیچي شکلونو کښې څوښي لري۔ په غیر مشابه صورتونو کښې د بالکل نوو تخیّلي مشابهتونو په لټون کښې د ډېر زیات کړاو نه کار اخلي. د ځان نه ورکوونکیو کیفیتونو، وجداني حالتونو، فکر باریکیو، د خیال د نزاکتونو او د احساس د لطافتونو نه د پوره څرګندونې له پاره نوو تمثالونو، تشبیهګانو استعارو علامتونو نه زیات کار اخلي۔ صرف د کلام او د بیان د آرائش له پاره د تمثالونو د استعمال نه ډډه کوي۔

د میرزا خان په تصوفي (ډیکي اکثره روښاني) شاعرۍ کښې مابعدالطبیعاتي رنګ یوه لازمي خبره ده ځکه چې تصوّف او مابعدالطبیعات لازم او ملزوم دي۔

نابینا مې د ښاښت له خاله څهٔ زده ؎
د آواز معنیٰ به څهٔ غواړي له کړه
اوس مې هر زمان د بل زمان قاتل شهٔ
د لطیف نفس تېرهٔ دے له شمشیره
د عارف نظر تر دواړو کونو تېر شهٔ
د هرچا معنیٰ یې ولیده تجنیسه

؎۱ ابوالاعجاز حفیظ صدیقي۔ کشاف تنقیدی اصطلاحات مخ ۱۶۰

که جهان د حقیقت په نظر وینې
سود او زیان دے د هر چا له خپلې مینې
که لاهوت له سادګیه ښائسته دے
د ناسوت جامې یې رونې کړې رنګینې

ده چې مثلې دواړو مثلو حیاتي
او چې ذاته د صفات استوګه نه وي
د کثرت د وحدت څه شکل تفاوت دے
لکه یخ چې رنګ او نوم ئې په ساړه وي

کومټے (COMTE) لیکي چې د علم او عمل نه کارګر قوت د فن نه اخیستے شوے دے - د فن یا د جمال مطالعه زمونږ باطني کیفیات ډېر زر متاثره کوي[1] د دغه رنګ کانټ (KANT) لیکي چې "د جمال مطالعه د هر قسم خود غرضۍ نه پاکه وي او له دې کبله جمالیاتي تاثر د اخلاقي تاثر په شان وي"[2]

د میرزا خان تصوفي شاعري فکر او فن د جمال سره سره د ژوند د شعور نه هم جمال زېږوي د دغه جمالیات د لوستونکي په اخلاق یو عجیبه اثر پرېباسي- میرزا خان لکه د هندي سبک د شائیه اسلوب په انداز د یوې مشاهدې او تجربې بیانولو له پاره اوله مصرعه کښې یوه مشاهده یا مقدمه وړاندې کوي او بیا په دویمه مصرعه کښې د حیات او کائنات نه یو داسې مثال د دلیل په توګه وړاندې کوي چې د دغه حقیقت ته یو آفاقي حیثیت ورکړي او ورسره ورسره د دغه تجربه

---

[1] ډاکټر هیرلډ هوفډنګ - تاریخ فلسفه جدید (دویم جلد) مخ ۲۱۲

[2] هم دغه - مخ ۱۱۸

په فني توګه د تاثیر په سمندر کښې ډوبه کړي - اخلاقیات په داسې فني او فکري توګه زینول د فن ډېر لوئے جادو دے -

د مثال په توګه د میرزا خان یو څو شعرونه ولولئ:

د بد بویو بد بویي به پټه نهٔ شي
کهٔ په ډېر لباس ئې نغاړې لکه پیاز
منقلب د ناز په سوړې فراغت دے
بې سایه بربنډ خپر دے له تموزه
دا اوچ لرګے تمام د سوو له پاره ښهٔ دے
په رضا شي تانده نرمه لښته کوزه
هره چار له خپله وخته سره زېب کا
د ځوانۍ هنر به نهٔ شي له عجوزه
اوښ وړے د خپل همت په قدر اخلي
د خوراک قوت ئې قیاس بویه له ځوزه

حاسدان چې له حسده لیدے نهٔ شي
د یوسف له قدره چا زده چې یعقوب به
بېګانه و خپله طمع ځني پرې کړه
د هنر پوښتنه څوک کړهٔ له معیوبه

کم دلیل د تش پندار په سوړې اوچ شهٔ
روس له حلم نرمي مهٔ غواړه قاقه

٥ لکه تانډ د نوله زوره تازه کیږي
هسې اوچ نتیجه مومي له چقماقه

اے مېرزا که یې د خوي بهتري نه وي
د سیّد تفاوت څهٔ دے له بامبنه
کهٔ هرڅو دې وبهار وته هوس دے
د خزان له حاله وپوښته بلبله

کتابیات

۱- اثر، عبدالحلیم قاضي - د پښتو ژبې پخوانے ادب او تاریخ (غیرمطبوعه) د پښتو اکېډمي کتب خانه -

۲- اقبال، علامه - فلسفهٔ عجم، اُردو ترجمه میرحسن، نفیس اکېډمي کراچي، سټریچن روډ کراچي ع۱

۳- اکبر- عبدالاکبرخان - روښانیان د مغلو تاریکیان -

۴ حبیبي، عبدالحي، پښتانهٔ شعراء (اول ټوک په نوي ډول) ادارهٔ اشاعت سرحد ۱۹۶۴ء -

۵ حفیظ صدیقي - ابوالاعجاز - کشاف تنقیدي اصطلاحات، مقتدره قومي زبان اسلام آباد جولائي ۱۹۸۵ء

۶- دوست شینواری، د مېرزا خان انصاري دیوان،

۷- خافي خان (نظام الملک) منتخب اللباب (دوهمه برخه) اُردو ترجمه- محمود احمد فاروقي. نفيس اکيډيمي بلاسس سټريټ کراچي ۱۹۶۳ء

۸- رابنسن - ډي اېس - ډاکټر - مقدمه فلسفهٔ حاضره - اُردو ترجمه ډاکټر مير ولي الدين نفيس اکيډيمي اُردو بازار کراچي اپريل ۱۹۸۷ء

۹- داورتي ميجر- سيلکشنز فرام دي پوسټري آف ده افغانز- دچاپ ځاي کوهاټ روډ پېښور ۱۹۸۱ء

۱۰- محمد زوقي دره سيد - سرد لبران محراب ادب فريد روډ کراچي د اشاعت تاريخ نه لري

۱۱- محمد عبدالصمد، حضرت خواجه شاه، اصطلاحاتِ صوفيه، مکه بُکس - ۵ بخشي سټريټ بيرون موري دروازه لاهور - د اشاعت تاريخ نه لري -

۱۲- مخلص، علي محمد - حالنامه، (ټايپ شده) اندراج نمبره د پښتو اکيډيمي کتب خانه

۱۳- مغموم، يار محمد، ډاکټر، روشنايي ټس اېنډ پښتو لټرېچر، ايريا سټډي سنټر پېښور يونيورسټي پېښور-

۱۴- همېش خيل، ديوان ميرزا خان انصاري، دار التصنيف بابوچېد روډ پېښور ښار اول ځل ۱۹۵۹

۱۵- ويبر الفرډ - تاريخ فلسفه - اُردو ترجمه ډاکټر خليفه عبدالحکيم، نفيس اکيډيمي اردو بازار کراچي اپريل ۱۹۸۷

۱۶- هوفډنګ - هيرلډ - ډاکټر - تاريخ فلسفه جديد، اردو ترجمه خليفه عبدالحکيم نفيس اکيډيمي اردو بازار کراچي نومبر ۱۹۸۷ء

ACKU

الف‌نامه

نن به وکړم څو صفته   د مولا له ارادته
هر یو فعل[1] چې یې وینې   خالي نهٔ دے له حکمته
پر احمد نزول قرآن شو   چې سل څوارلس یې سورته
چې شپږ[2] زره په شماره دي   شپږ سوه شپږ شپېته آیته
ټولې دېرش یې سیپارې دي[3]   څوارلس سجدې له تلاوته
(او) دېرش کل یې دي حرفونه[4]   بیا یې څوارلس روایته
په پښتو ژبه یې وایم[5]   د هر حرف یازده لغته
دهیرې یې د توحید کا[6]   په څو لونه عبارته
کل صفت دے بیان شوے   د توحید له معرفته
(دا) کل علم د توحید دے[7]   نورې واړه اشارته

د مېرزا کلام شیرین شهٔ
د کامل له برکته[8]

الف اول څرګه وحدت دے   نن دا غلے پر کثرت دے
د ناسوت په کېل یې زړهٔ وُ   څرګند کړے یې قدرت دے
پر سرې باندې یې اېښے   دا خپل علم امانت دے[9]
دا هستي یې بې پایانه   په هر څهٔ کښې یې صفت دے[10]
دا مجازې غلاف کړے[11]   پکښې ایښے یې حقیقت دے
په یوهٔ کښې دویم[12] نشته   بې هوده ګمان غفلت دے[13]
هر ه چار کا تدې پخپله   بهانه کړے یې صورت دے
کهٔ عارف یې پو فنا کړي[14]   له مطلوبه یې غیرت دے
له وباله نهٔ وېرېږي   له څوایه[15] فراغت دے

ACKU

په هر کور کښې تجلي کا ‌‌ ‌ ‌ عجب نور د معرفت دے
نن میرزا په پښتو کړے
د یوهٔ مولا صفت دے[16]

ب باور په د کلام کړه[17] ‌ ‌ ‌ تهٔ دویم فکر حرام کړه
چې کلیات پکښې وینې ‌ ‌ ‌ نن طلب د هغه جام کړه
شاه کعبه دې[18] جلیلي ده ‌ ‌ ‌ په اخلاص پسې احرام کړه
مقصود نهٔ دے له تا لرې ‌ ‌ ‌ پسې سیل پخپل ګام کړه
نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ[19] ‌ ‌ ‌ تهٔ یې فهم پر پیغام کړه
د ګمان کړه له زړهٔ لرې ‌ ‌ ‌ ننداره یې صبح و شام کړه
قارګه و باسه له باغه ‌ ‌ ‌ شاه توتي پکښې انعام کړه
پر شاه وسوځه فاني شه ‌ ‌ ‌ آواره دې ننګ و نام کړه
پس باقي به جاودان شې ‌ ‌ ‌ تهٔ یقین په د الهام کړه
کهٔ مقصود دې شي له لاسه
پر میرزا باندې سلام کړه

ت تلوار کړه په د مرسته ‌ ‌ ‌ نن طلب وکړه د قسته
د حاصلو وقت دې وار دے ‌ ‌ ‌ څو اختیار دې دے له دسته
له وحدته شها داغله ‌ ‌ ‌ په دا خپلو میو مسته
دا پرواه له هیچا نهٔ کا ‌ ‌ ‌ څو د نمایه څود پرسته
پر کلیات ده جار و تلې ‌ ‌ ‌ له هر چا سره پیوسته
کرشمه کالونه لونه ‌ ‌ ‌ له دې[20] کثرتې برسته
حد پایان یې موندہ نشي ‌ ‌ ‌ دا بلنده ده هم پسته

حد پایان یې موندہ نشي — دا بلنده ده هم پسته
ده په کون او په مکان کښې — شاه له دواړو کونو رسته
له بورا سره په نیاز ده — د زړه دادې وقفنسته[21]
یو عجب میل یې پیدا شه — د خپل معرفت دکسته[22]

پیر میرزا بیاندې نزوله
خپله بخره له السته

ث ثناء کړه له توحیده — ن خبر شه له دې خریده[23]
شاه تر تا نژدې وتا ده[24] — بل رخ مه دروه بعیده
نَحنُ اَقرَبُ اِلَیهِ — دا کلام دے له مجیده
خپل وجود کښې یې وغواړه — شها من حَبلِ الوَرید
دکثرت په بازار راغله — په دا چار عنصر محیده[25]
د انسان قمیص یې واغوست[26] — په دوه کونه یې بازي ده
که تر خپلې هستۍ تیر شې — اے پیر شاه باندې شهید
یځ که هر څو محکمې کا — څه مجال یې له خورشیده
چې د نور شغله پیدا شو — څه ذره څه یې هستي ده
هر چې فقر یې تمام شه — په معنی یې بادشاهي ده

دے میرزا پیر پښتو کوښلے
کل صفت یې له مجیده

ج جمال یې صبحگاه دے — ددې یو زلف په پناه دے[27]
په هر لوري تجلي کا — د غافل دلیل کوتاه دے
د ماهي هستي له آبه — د سرې ژوندون په شاه دے[28]

ACKU

و هر ځا دے رسیدلے — لکه نو په هر ګیاه دے
کم دلیل یې لیدے نهٔ شي — په ګمان ځنې ګمراه دے
مقصود به یې روزي نهٔ کا — هر چې بند د نوس په چاه دے [۲۹]
د عشق نمر [۳۰] دے را ختلے — نن د حقیقت صباه [۳۱] دے
له غافله په حجاب کښې — یو عارف ځنې اګاه دے
چې یې معرفت روزي شي — او س د کل جهان بادشاه دے
چې فَاَیْنَمَا تُوَلُّوْا — ترو فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ دے

نن میرزا د لیل ویلے
هر کلام د حال ګواه دے

ح حاضر دے که یې ګورې — درنن دې دے په تاپورې
یو عجیب یې سپین جمال دے — دوه یې زلفې دي را تورې
مختلف قمیص یې واغوست — کړ شمې یې ځنې نورې
که حجاب له مخه [۳۲] واخلي — چې اختیاره به وشورې
چې د عشق شعله پیداشي — نور به ورپښې ترسورې [۳۳]
ته اختیار کره داودپښې — یخ به څو له نمره [۳۴] زغورې
شاه له تاسره یکتا ده — انن پښنې مهٔ کړه سم لورې [۳۵]
د کامل را نجهٔ درواخله — کهٔ د زړهٔ ستر ګې دې نورې
کهٔ پر شاه باندې نثار شي — د باران په څیر به ووری
د غه سینه کښه دویشو — او چپې یې آدم خورې

د میرزا خاطر دې لوټ کهٔ
محبوبه د زړو نو چورې

خ ځودي دي خپل ګمان دے ‏ ‏ ‏ په ګمان کښې دي خپل زيان دے [۳۶]
په صورت غلطي مهٔ کړه ‏ ‏ ‏ په بهار پسې خزان دے
په مقصود پسې منزل [۳۷] کړه ‏ ‏ ‏ څو په حکم دي عنان دے
مولا نهٔ دے له تا لرې ‏ ‏ ‏ در نزدې دي تر خپل ځان دے [۳۸]
په (دا) مزکه په آسمان کښې ‏ ‏ ‏ هم محيط تر دغه [۳۹] ميان دے
په وحدت کښې يګانه شهٔ ‏ ‏ ‏ په کثرت باندې پرېشان دے
له لاهوته يې راکوځ کهٔ ‏ ‏ ‏ نن يې سپل پر (تهول) جهان دے
حد پايان يې مونده نهٔ شي ‏ ‏ ‏ په سرې کښې يې مکان دے
ځود په ځود کا ندې بازيه ‏ ‏ ‏ بهانه کړے يې انسان دے
هر ولي چې آغاز وکا [۴۰] ‏ ‏ ‏ څرګند شوے يې برهان دے

د مېرزا ګمان فاني شهٔ
هر چې وائي ميا روښان دے

د دليل دې خپل رفيق کړه ‏ ‏ ‏ نن طلب د دې شفيق کړه
چې رسول پرې باندې تللے ‏ ‏ ‏ نن منزل په دا طريق کړه
عقل نور دے په خاطر کښې ‏ ‏ ‏ حق باطل ترې بل تفريق کړه
شک شيطان دے مهٔ يې نغوزه ‏ ‏ ‏ آواره ګمان عميق کړه
نا اُميد مهٔ شه له ربه ‏ ‏ ‏ اعتبار يې په توفيق [۴۱] کړه
حقيقي توره در واخله ‏ ‏ ‏ تهٔ پرې غوځ ګمان دقيق کړه
بد ګمان دې ذرهٔ نيولے ‏ ‏ ‏ په باور کښې يې غرق کړه
مولا نه دے له تا لرې ‏ ‏ ‏ خپل وجود کښې يې تحقيق کړه
د دنيا مينه زنهار دے ‏ ‏ ‏ تهٔ پرې بل آتش حريق کړه

دا وېنا کړه په ذرهٔ پسنده　　چې قارون وته تشفیق کړه[٤٢]

هر چې وائي په دښتیا دي
د مېرزا کلام تصدیق کړه[٤٣]

ذ ذکر د ذرهٔ راز دے　　دا د حقیقت آغاز دے
چې ذاکر شي له مذکوره[٤٤]　　په دوه کونه سرفراز دے
دا د راز ډیوه شوه بله　　د اور پښتي پرې گداز دے
د گمان قفس ئې مات کړو　　اوس پر شاه پسې پرواز دے
چې د عشق په آتش وسه　　له دې سوزه سره ساز دے
تهٔ سجده په ترک وجود کړه　　د عارف د غه نماز دے
(دا) محمود چې بادشاهي کا　　دے عاشق پر خپل ایاز دے
حقیقت ئې پکښې ابښے　　غلاف کړے یې مجاز دے
د حیات پیاله ئې راکړه　　یو ساقي مسکین نواز دے
ساجد یو دے له مسجوده　　بېهوده گمان غماز دے

د مېرزا گمان فاني شه
له دریابه دا آواز دے

ر رویت د شها پاک دے　　له هر چا سره امساک دے[٤٥]
یو پرتو ئې د مخ وشه　　بېنا کړے یې املاک دے
چې ئې زلفې کړې پرېشانې　　شرا شور ئې په افلاک دے
د آدم صورت ئې رونغ کړه　　عنایت ئې پر دا خاک دے
د رسول درجه گوره　　په حدیث کښې یې لولاک دے[٤٦]
حق نږدې تر شه رگ[٤٧] وته　　هم په ده د هر چا څواک دے

د دیدن خو نبي یې دېره ــ چې یې نهٔ ویني غمناک دے
هر چې خپل مولا نه ویني[٤٨] ــ څهٔ حجاب یې پر ادراک دے
بنهٔ دیدن له هسې مخه ــ درنځور زړګي تریاک دے[٤٩]
هر چې دا دیدن یې وکهٔ ــ کهٔ شهید شي څهٔ یې باک دے

د وحدت شعله پرې وشوه
د مېرزا ګمان هلاک دے

ز زنده په هوا آب یې ــ په طلب د دې دریاب یې
بد ګمان دې زړهٔ نیوے ــ چې له حقه په حجاب یې
د حیات اوبهٔ درځنه[٥٠] ــ تهٔ غولېدلے په سراب یې
نن طلب د مولا وکړه ــ څو شیوخ نهٔ یې شباب یې
دے تر تا و تا نیزدې دے ــ تهٔ پخپله خپل حجاب[٥١] یې
د غفلت پیاله دې نوش کړه ــ لا تر اوسه پرې خراب یې
د نیا دم دربا ندې وکهٔ ــ پس خوښ په دغه خواب یې[٥٢]
لهٔ جهانه به دې تلهٔ وي ــ پېدا شوې په شتاب یې
چې دیدن دې روزي نشي ــ تل تر تله په عذاب یې
بل عذاب دې جدائي ده ــ چې بېل شوې له احباب یې

د مېرزا وېنا نهٔ اورې[٥٣]
بېهوده له دې اصحاب یې

س سالک پر دغه لار شه ــ په اخلاص یې طلبګار شه
د غفلت له خوبه پا څه ــ نن پېوست له خپله یار شه[٥٤]
(۱) مقصود دې نا پېدا دے ــ په طلب یې څړه سوار شه

ACKU

د غه یافت په مشقت دے   ته په سربازي اختیار شه
چې د عشق ډیوه شي بله   نن پتنګ غونډې ترې ځار شه
د حیات پیاله یې ددکړه   په ساقي باندې نثار شه
ته پرده په عیب مه غواړه   آئینه د خپل کردار شه
خپل مقصود دے هم تا څخه   پر اخلاص یې ترکنار شه
ته دا غلي یک تنها یې ۵۵   نن ګویا په دا اسرار شه
خدائے احد دے لاشریکه   ته له غیره روژه دار شه

که میرزا غونډې آزاد یې ۵۶
د ساکن په خوی قرار شه

ش شها وتا قرینه   بې پروا ده نازنینه
وهر چا ده رسیدلې   ته یې نه وینې دو بینه
خزانه دې په خپل کورکښې   دروېزه کړې خوشه چینه
نه دارو د زړګي غواړې   نه پروا لرې له دینه
د سلیمان قوت دې نشته   څه حاصل دې له نګینه
چې دې مدحه په دروغ کا   قتلوې دې بې سکینه ۵۷
خدائے وېزار له خرقه پوشه   د زړه بوڅن یې له آستینه
برګزیده ته پیدا شوے   اے پر خپل ګمان کمینه
د ګمان بشکر به مات که   که خبر شې له یقینه
اسرافیل چې برغو پو که   بیا یې حد تر اربعینه

چې میرزا ګمان فاني که
حشرګاه یې له مسکینه

ACKU

ص صراط المستقیم دے　　او منزل ئې په ډېر بیم دے
د شیطان مکر و نه ډېر دي　　لا بتر دي نوس غلیم دے
د هوا پس روي[58] مهٔ کړه　　بد ئې حال بد ئې تعلیم دے
د اولاد لومه ئې کښېښوه　　مال[59] ئې رنګ په رنګ نعیم دے
یو حصار ئې نام و ننګ شهٔ　　بل ښائست ئې زروسیم دے
ګوښي[60] خوب ئې په وروک کا　　حص چې نقش پر کلیم دے
په دنیا به معمور نهٔ شي　　چې په نغوته درجیم دے
کهٔ اقلیم ئې شي په حکم　　زړهٔ ئې بند په بل اقلیم دے
چې د نوس ورمونه[61] نغوړي　　ولهم عذاب الیم دے
چې تر دا ازمېښته تېر شهٔ　　دے کامل قلوب سلیم دے
په مېرزا ئې عنایت شهٔ [62]
هو التواب الرحیم دے

ض ضلال[63] د ظلمات دے　　او ظلمات[63] آب حیات دے
یو ذاتي مزے ئې روغ که　　پرې پېسیلے ئې صفات دے
رنګ په رنګ بازیبه کاندي　　غورولے یې بسات دے
چې د سنتني ئې محکم که　　چې قدرت ئې پر ثبات دے
چې الا یبعدون شه　　معرفت د دهٔ برات دے
د توحید شغله ئې پرېښوه　　لکه یخ[64] پر اوبه مات دے
په وحدت کښې یکانه شهٔ　　له اندوهه ئې نجات دے
د ګمان جامه ئې وکښه　　اوس له ذاته سره ذات دے
چې له مرګه په خوا ومري　　نور به نهٔ مري تل حیات دے

ACKU

چې تحریر ئې حقیقت کۀ — هره نخښه[٦٥] ئې آیات دے

د مېرزا گمان فاني شه

لا نفي مولا اثبات دے

ط طلب وکړه سائله — په طلب کړه شها خپله

چې دیدن دې روزي نشي — کل بندگي ده بې حاصله

دا تر تا نیزدې و تا یم — پر گمان پسې مۀ زغله

هر خلوت ئې منور که — روښنايي يې له محفله

نن پر عرش باندې ختلي — عارفانو ولید له

عرش الله د مومن زړۀ دے — کۀ دیل وکړې عاقله

عجب مخ په درشم گند شي — تۀ حجاب واخله له وله

په بیوزا[٦٦] چې درته ووې — رو معنی یې ده مشکله

د هر چا په خوله کلام کا — هم په هر چا ده داخله

تۀ فاني خپله هستي کا — رسے له شاه سره واصله

د مېرزا گمان فاني شه

خدائے باقي دے تل ترتله

ظ ظالم نفس دې دخیل دے — دے له تا سره بخیل دے

خلاص به نۀشي له عذابه — چې د دۀ په لاس قتیل دے

چې جلب ئې وده ود کۀ — غلط شوے له سبیل دے

په بد مکر ئې افسون کۀ — تل رخته په قال و قیل دے

د پر عالم ئې غلط کړے — بد پر بڼ د عزازیل دے

د دیا لومه ئې کښېښوه — چې ازرق لباس ئې نیل دے

ACKU

د شیطان سزا دوزخ دے [67] | چې يې نغوته کړه ذلیل دے
دد نیا طلب کار ډېر دي | او د زړهٔ په سپر قلیل دے [68]
یو په یو طلب د خدائے کړه | چې عمل يې په تنزیل دے
مقصود به يې روزي نشي | چې رهبر يې خپل دلیل دے

حاجي سېل د جهان وکړهٔ
میرزا کړے د جلیل دے

ع (د) عیب د بد گمان دے [69] | په گمان عالم حیران دے
هغه زړهٔ یه جمع نهٔ شي | چې په هېڅ پسې پرېشان دے
د وحدت بهره يې نشته | په کثرت کښې ځان په ځان دے
د پند اړها هو يې ډېره [70] | لکه ابر چې باران دے
تر کماله به ورنهٔ شي | چې نظر يې په نقصان دے
ناپوه ظلم په ځان کاندي | چې د امانت ضمان دے
خود پرست په خودي نښلي | ظاهر آدم باطن حیوان دے [71]
روح یوسف شه په صورت کښې | د صورت خوي يې زندان دے
چې له دې زندانه خلاص شهٔ | د امین مقام امان دے
مست د عشق په براق سور شهٔ | خوښ وتلے په یو آن دے [72]

میرزا د شه ننداره کړه
د غه کوځے د غه میدان دے

غ (د) غیر يې خوي تغیر کړه | روح بادشاه عقل وزیر کړه
نوس ناداني دے مهٔ يې نغوږه | تهٔ د دانش فهم دې څېر کړه
د شیطان مکر ونه ډېر دي | هر افسون د دهٔ زنځیر کړه

ستا په کور کښې پنځه غله دي — واړه ځانه په ځانه اسیر کړه
بد، طمعه ځني واخله — توکل په زړه جائے گیر کړه
په بیوزړه[3] مې درته ووې — درست عمل په دا تدبیر کړه
که په دا صفت موصوف شوې — تر وصحبت د خپل امیر کړه
له ختناسه خاطر ژغوره — د خدائے یاد باندې تحریر کړه
مجاز خوې دې په دنیا کښې — تن د حقیقت تعبیر کړه
و اخلاص وته نژدې شه — آواره لباس تزویر کړه

د میرزا کلام نکتې[4] دي
ته یې فهم پر تفسیر کړه

ف فاني د تن صفت دے — چې وفا رسم عادت دے
نن يې غواړه په وجود کښې — د خدائے څلونه عزت دے
حياتي يې چې نقصانه — په کلام کښې يې نعمت دے
يو يې علم لدني دے — هم توانا په خپل قدرت دے
دے شنوا په کل[5] غوږونو — په ديدن کښې يې لذت دے[6]
مستغني شه له مخلوقه — هم ددۀ کل ارادت دے[7]
ډېر کوشش دې پسې بويه — د غه يافت په مشقت دے
چې له حقه خبر نۀ وې — هم[8] ژوندون يې معصيت دے
پر سرې باندې يې ايښے — او وۀ لونه امانت دے
که صورت په کښې فاني کړې — مستقيم د معرفت دے

د اخپل ځان پخپله ستايۀ
په ميرزا يې عنايت دے

ACKU

ق قادر په خپله چار دے　　په هر څهٔ کښې یې اختیار دے
په وحدت کښې یګانهٔ شهٔ　　په کثرت کښې بې شمار دے
دیوهٔ دریاب له نوه　　څرته کل شي څرته خار دے
یک نما[79] شهٔ په خلوت کښې　　هم په ښهر په بازار دے[80]
په کعبه له مسلمانه　　په کنشت کښې له کفار دے
کرشمه یې لونه لونه　　څرته مست څرته هوښیار دے[81]
ملکوت یې ښائسته کهٔ　　دا قدرت یې برقرار دے
په هر چا کښې یې بازي ده　　آئینه د خپل کردار دے[82]
یو ذاتي پرتو یې ګوره　　په هر چا باندې نثار دے
مخلوقات یې کړه مرېیه　　ترې وکښلے یې دا تار دے
د میرزا په خوله کلام کا
د پر عالم یې بزه کار دے
ک کریم په خپل اخلاق دے　　دا دستور یې له میثاق دے
چې ساقي دوره ګردان[83] کا　　د رندانو اتفاق دے
ملامت[84] یې بې قیاسه　　ښهٔ لذت یې پر مذاق دے
چې له شاه سره آشنا شهٔ　　شهره[85] شوے په آفاق دے
له غافله مستغني شهٔ　　عنایت یې پر مشتاق دے
د محبوب د زلفو بحث　　په مجلس کښې د عشاق دے
چې الا لیعبدون شهٔ　　ښهٔ دیدن یې استحقاق دے[86]
چې دیدن یې روزي نهٔ شهٔ[87]　　ګرفتار دے په فراق[88] دے
چې مشقت یې په ریا کړ　　په طلب کښې ئې نفاق دے

په ګمان ځني غلط يي — ستا په زړه کښي يي اطاق دے [89]

هر کلام له حقيقته
ميرزا کښلي پر اوراق دے

ل له اهله به خبر شي — که پس رو د پيغمبر شي
چي اختيار ئې کميني کړي — په معنیٰ به منور شي [90]
(دا) قارون به دې ګدا شي — که پاسبان د خيل ګوهر شي [91]
حقيقي سفر دې بويه — چي په خپس ديده ور شي
(او) مقصود به روزي نه کړي — که پر زمکه قلندر شي
که ګمان له زړه کړي لري [92] — په دوه کونه به سرور شي
که رښتيا پيروي وکړي — د رښتينو به رهبر شي
له فردوسه به توبه کړي — بې پروا به له سقر شي
په رضا به دې چار کيږي — که محيط په بحر و بر شي

د ميرزا غوندي ازاد ئې
که فارغ له شورو شر شي [93]

م مهدي روح الامين دے — خود را ئجلي مرسلين دے
د صورت سپوږے ئې نشته — دے خورشيد غوندي مبين دے
په وحدت کښي يګانه شه — بې پروا له کفر و دين دے
د کثرت په بازار را غے — په هر چا کښي دے مکين دے [94]
که طلب کړي به يې مومي — دے ترتا و تا قرين دے
حد چي دا ديدن ئې وشه [95] — نن شهيد اولين دے
(سرافيل چي برغو پو کا) — بيا ئې حد په اربعين دے

ACKU

چې له مرګه مخوا ومري
دا ژوندون يې اخرين دے

دګمان له چاه کهٔ ووت[96]
پای تخت يې عليين[97] دے

دا بهشت[98] يې په رضا شي
اوس يې حکم پرسجين دے

دا د روح[99] اصل له خدايه
د مسېرزا صورت کمين دے

ن نفي مخپل ګمان يې
ته په خپل ګمان حيران يې

برګزيده[100] يې مولا کړې
ن د دوو کونو سلطان يې

له وحدته يې دا غلے
په کثرت باندې[101] سامان يې

بد حجاب وشوې له ميانه
مبتلا يې په هجران يې

له لاهوته مستغني شوې
کښېوتلے په زندان يې

د غفلت پياله دې نوش کړه
په خمار کښې سرګردان يې

اند يښنې شوې پرتا چېرې
بېهوده[102] پسې پرېشان يې

ن اول نامه وغواړه
کهٔ په دې صورت انسان[103] يې

د خپل ځان طلب ن وکړه
تهٔ مرغه د لا مکان يې

کهٔ ګمان له ميانه واخلې
لوے تر زمکې تر آسمان يې

د مسېرزا خبرې دُرّ دي
کهٔ د پښتنے[104] بازرګان يې

و وحدت بې مثله ذات دے
کل اشياء ددهٔ صفات دے

ارواح ګوره لونه لونه
کهٔ باور دې په آيات دے

د جارې وعده ترنحوا به
له بېداره[105] يې اوقات دے

د مقيم[106] زمنه ژوندون شهٔ
آخر تللے له اموات دے

اَمين روح يُ اضافي[107] شهٔ　　مرګ يُ نشته تل حيات دے

د اَمين لويي وګوره　　درسره په هرحالات دے

ادوا حان ګوره څلور دي　　خپل هنر يُ کرامات دے

ګويند ه شهٔ په سري کښي　　اوګونګ روح دحيوانات دے

دا جسمي ګنه د اونتو[108]　　او ر سمي يُ جما دات دے

لکه غوړ په شودهٔ پَيه　　درست بدن يُ مقامات دے

په مېرزا کښي خپل منفت کا

نن قاضي دکل حاجات دے[109]

هادي دجهان سِر دے　　جام دجم[110] ددهٔ ضمير دے

تر اعلیٰ اسفله پوري　　دے په کل جهان بصير دے

ورڅرګند وارهٔ اشياء[111] دي　　کهٔ صغير دے کهٔ کبير دے

او مشکل يُ واړه حل شهٔ　　هر کلام يُ په تقرير دے[112]

يو کيميا هنر يُ واخست　　کل حکمت يُ بې نظير دے

قناعت يُ خزانه کهٔ　　نن يُ رحم په فقير دے

ارادت يُ له درويشه　　کهٔ بادشاه يا کهٔ وزير دے

تر متاع د دواړو کوني　　عنايت ددهٔ کثير دے

(دا) لولاک دده وګوره　　په کتاب[113] باندې تحرير دے

تجله يې په هر لوري　　د آفتاب په دود منير دے

عاقلان يُ پرې نيولے

د مېرزا کلام زنځير دے

لا واټي نفي صورت يُ　　چې له حقه په غفلت يُ

د ناسوت په بازار راغلي — کښېنو تلې په محنت ئې
حقيقي اصل نهٔ وينې — په مجاز کښې فراغت ئې
نن الا ليعبدون شه — کهٔ مشتاق د معرفت ئې
د کامل طلب دې بويه — له طريقه يې غلت[114] ئې
له ديدنه بېنوا شوې — تهٔ هم ګوره کم همت ئې
هيڅ اثر دې په زړهٔ نهٔ شي — لا تر اوسه سلامت ئې
د هوا[115] نغوته دې وکړه — اوس وتلې له جنت ئې
(دا) ظالم جاهل دې نوم شهٔ — تهٔ پرده[116] د امانت ئې
د ګمان ورے دې واخېست — پس پروت[117] په ضلالت ئې

د مېرزا قدر دې نهٔ زده
له دنيا و په نفرت[118] ئې

الف اول هم آخر دے — هم باطن او هم ظاهر دے
واړه کړهٔ يې په رضا شي — هم په هر څه چار قادر دے
دے شنوا په کل غوږونو — هم په هر څه خوله ذاکر دے
او ژوندون د کل هستيو — هم بينا په هر نظر دے
له وحدته يې راکوچ کهٔ — نن ئې زړهٔ په مهند ردے
امانت ورے ئې روغ کهٔ — و انسان ته ئې خاطر دے
چې له اصله خبر نهٔ وي — د هغه نوي د قچر دے
امانت د څښتن ورکړه — لوئے تاوان د زور آور دے

د مېرزا اختيار ئې خپل کهٔ
خدائے په هر څه چار قادر دے

ی (دا) یو شاهِ شجاع دے[119] — په هر لور ځرږه شعاع دے

د کثرت لباس ئې واغوست — را ځرګند په څو انواع دے

یو نخاس ئې سر انجام کړه — هم د دلال شهٔ هم متاع دے

یو عجب سرود ئې واخیست — نن آهنګ ئې په سماع دے[120]

کهٔ بعید پرې نهٔ پوهیږي — چې قریب په استماع دے[121]

محتسب ئې پسې شاکا — څهٔ پروا یې له مناع دے

اوس له عشقه هم پیاله شهٔ — د توبې رفیق وداع دے

حقیقي جرعه ور څخه[122] — په خمار کښې یې نفاع دے

د ساقي د پیالې نوش کړه — پر دنیا د بې څهٔ نزاع دے[123]

له هیڅا یې خپلوي نشته — د جهان د غه اوضاع دے

د مېرزا وینا نهٔ آوري

نور حجت ئې انقطاع دے

ACKU

دیوان

ACKU

ACKU

ل

ابتدا شوه په پښتو د حق ثنا ښه ثنا په عنایت د ربنا
که توفیق د کښنده ئې رفیق نه وي د باقي تعریف پسلو وائي فنا
تول حباب چې له دریابه سره خور شه عجب بدغ شه رَبَّنَا افْتَحْ بَیْنَنَا[٢]
لام الف دواړه خلق هستي یو ده بیا دا یو یکانه نون شه د لنا
دا فاني چې د فنا د ملکه وښس[٣] ترو باقي شو د فاني معنی انا
د ده امر په هر ځا کښې جاري شوے[٤] په محیط دریاب کښې ذوق کا بې ثنا
دا د فقر حال[٥] ئې ورغے تر فخر په تمام عالم ئې برق دے د ثنا[٦]
ښه باران ئې د رحمت پر اهل وورې رسیده عقل بر بیننا د عشق تنا
کل اشیاء د ده له ذوقه شو رقاصه په هر لوري یو آواز د تن تنا[٧]

کم دلیل د ذرې په سترکو نابینا دے
درست په شرک کښې (دے) پسو یهد و ننا
اے میرزا گمان که لرې کړې له میانه
بې کمانه زه هم ستا یم ته لنا

ACKU

څو صفت کړم د دلدارو له وفا
دا دلدار په وفادارو کښې دوفا
د باور په بازار[8] سم راغه ریښتینې
په تحقیق دے امتي د مصطفی
په ظاهر باطن له نهی چار وتلی
یوه شها[9] امر جلي کا هم خفا
په بندګۍ به نه نازیږي چې اخلاصه
په قدرت به ئې نظر وي پر عفا
چې دید نه فراغت ورباندې نشته
په طلب کړ ویره نه کا له جفا
امانت به امانت ترځایه وړي[10]
کدورت به ئې بدل شي په صفا
سخاوت به ئې د بخل پرځائے کښېني
چې غضب ئې شي په حلم انطفا
د عارف زړه کے په مثل آئینه شه
دد چې[11] بدګمان له زنګه مصفا
د نفاق د اهل برخه ریا بيې ده
د اخلاص[12] اهل ښېګړه کا اخفا
د حص چا تر فهمه خپل هنر هنر دے
په هرچا دي خپلي چارې اکتفا

په میرزا د کاملانو نظر وشهٔ
چې ایمان ئې په دلیل موې شفا

PROPERTY OF ACKU 12526

دا گویا څه څه چې راغې له سبا [13]
و مشتاقو وته یې ووې له هبا [14]
دهٔ عجب د حال په ژبه څواب ورکهٔ
راشه راشه بلې بلې مرحبا
کل جهان له محبته پیدا شوے
دا رښتینے عشق د کل جهان آبا
د احد یگانگۍ کښې دویي نشته
دگمان په حجاب بیل شو غربا
له اشراکه [15] د شرکت شوې پیدا شوه
څکه یاد په عقارب دي اقربا
(دې) یعقوب [3] وير د یوسف [4] پر پیرهن کهٔ
چې حاسد ورونه یې نهٔ کاندي قبا
د توحید په آمنیت ئې باور نهٔ کهٔ
د مشرک په ایمان کښېښو ته وبا
هر چې مغز د اخلاص ورسره نهٔ وي
د تش رسم چارې واړه دي تبا

د غافلو ناپوهي توره تیاره شوه
د عارفو فهم سپین لکه صبا[١٦]
یو بې مثله مخ د زرهٔ په ستر کو کوري
د معنٰی دنیا آشنا وي عجبا[١٧]
اے میرزا په مرد وزن امر دغه دے
چې هر قصد د نهي نشي تقربا

چې موجود تر ثریا دے تا ثرا
د تبتن له حکمه نهٔ دے ماورا
له وحدته د کثرت په ننداره شهٔ
محبت ئې تر میان داوړه ماجرا
د لاهوت په تنهایيه قراري[١٨] ده
د ناسوت په بازار غبن د چون چرا
عجب تن په تن ئې خپله تماشه ده
په هر لوري دده بیع هم شرا
"إِنَّنِی[١٩] مَعَكُمَا" ئې اشارت دے
تهٔ نظر په "أَسْمَع" وکړه د "أَرٰی"
د خالق په خلائق تفاوت نشته[٢٠]
دا چې "فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰی"[٢١]

په رضا یې واړه چارې پوره کیږي
هر صورت ئې نوے نوے اختر
دغه اسم الاعظم جامع الاسماء دے
کۀ دانا ئې په دا نوے مصدر درا
کۀ دې مینه د قرار په قرار ده شي
له هر څۀ لوړي وده وته برا
د هزار حساب ئې داوړۀ تر اَلفه
یو الف دے په الوف حساب غرا
اے میرزا خبره پته په رموز کړه
د رموز معنیٰ اظهر کنده من یسّرا

یو عجب عزت به بیا مومي علا [22]
چې طلب کړي د باطن له فضلا
یو په یو به وفا یې ځني بیا مومي
هر چې وسي مِمّا کانوا عَمَلا [23]
د کامل د تلقین هسې رنګ تاثیر دے
چې نابود و غیر ئې محوه شي په لا [24]
د خناس له وسوسې به یې زړۀ خلاص شي
چې دایم په ذکر فکر شي مَلا
په نفي به له کل غیرو پاکیزه شي
چې اثبات په الا الله کا تولا [25]

ACKU

عرش الله و هسې زړونوته ویل شي
چې مدام د معرفت په نور جلا
دصورت د اهل فهم نه رسیږي
چې څرګند له غیبه واڼي اطلا ۲٦
هر زمان به ئې پر لوح محفوظ وینې
قام په قام قالوا بلی او هم بلا
ځني شوق او ذوق په بنه دیدن کا
څوک د حرص په عقارب دي مبتلا ۲۷
ظاهر بین عالم به څه رنګه باور کا
چې پروور به او به درومي بدلا
د میرزا خبرې واره لاس په لاس دي
چې (دا) هورې دور ئې غواړي جهلا

پر د صاف صوفي جائزه ده سما
چې ئې خاصه بې دیاکا بې طما
اهل دل به دصورت نوموته سوکا
چې مذکور شي په هر اسم مسما
دا د دین د دنیا مینه یې فاني کړه ۲۸
څکه دواړه لاس له تاڅنړي له ما

چې تر عرشه تر کرسۍ یې نظر تېر[۲۹] شي
ترو حائل به یې نهٔ ارض وي نهٔ سما
عاقبت به د آفتاب په مخ اوبه شي
یخ هر څو دي د سرو په زور جما
په باور کښې د گمان فکرونه نهٔ شي
منافق وي جَو فروش گندم نما
[۳۰] رنځوران چې له طبیبه عیب نه غواړي
[۳۱] په علاج ئې کوشیش نهٔ کا حکماء
ظاهري علم یو جزو د هنر دے
ترو په کوم دانش کامل شي علماء
دا سرې په اصل واړه برابر دي
د لدون په پوهه زیات دي قدما
مُخلصان په دواړه کونه پادشاهي کا
[۳۲] خاص له شرکه له گمانه سلما
اے مېرزا ښه کړه پته کړه له بدو
بیا پس ځائے چې ښهٔ یاران وي ندما

په هر تن کښې چې امیره شوه هوا
د هوا اسیر له عقله چې شو ا

ACKU

چې په زړهٔ باندې چراغ دعقل نهٔ وي
د ناداانو ناپوهي د ځان غوا

سړي زيات له امرونهي خبرشوي
داانسته چارې پسوکا ناروا ۳۳

دغه زړهٔ دسړي ځائ دے دکرنې
پرې کړي ځنې سموم ځنې دوا

دا رانده خناس دهر اناس په قصدکې
چې آدم ئې غلط کړے هم حوا

دبينا په حضور چارې څهٔ پټ نشي
لاس اوږ بښې ئې دي څلور عدل گوا ۳۴

هر عالم چې په خپل علم عمل نهٔ کا
په تحقيق له جاهلانو دے سپوا

په روحانو کښې ناطق بللے شوے
چې سامع به ئې پوهيږي په نوا ۳۵

حياتي دصورتونو په ارواح ده
د لطيف ارواح په څهٔ کيږي قوا

دا غوټے رنگ ئې هوا په پورته واخست
چې هوا ورځخه ولاړشي تشه خوا ۳۶

اے مېرزا په جمع زړهٔ ترځان تېرېږه
په لغت دتېر بدو معنی روا

ACKU

دے قادر دے چې قدرت کا … هره چاره په خپل قوت کا[37]
د رسول نور چې پیدا کهٔ … بیا له ځانه محبت کا
له وحدته دے راغلے … نندارہ په دا کثرت کا
له شریکه مستغني دے … واړه چارې بې آلت کا
اول نور ئې شه بې مثله … په جهان کښې سیاست کا
له هوا په ووره راغے … گوره یون په څهٔ سنت کا
له دریابه څاڅکے راغے … په گیاه کښې ځان لذت کا
په ووره کښې اوبهٔ گوره … چې پرگل باندې غربت کا
واړه کړهٔ ئې حقیقي دي … په انسان کښې ئې شهوت کا
دا یوه قطره اوبهٔ دي … ځنې روغ تمام صورت کا
ځنې غوښه ځنې هډ شي[38] … جوړ په جوړ ئې په حکمت کا
د مور نس کښې ئې ساتینه … په فرمان ئې تربیت کا
او چې نهه میاشتې وشي[39] … تر و له موره ولادت کا
کهٔ شیر خوروي طعام خور شي … آخر زده رسم عادت کا
مرا هغو چې رسیده شي[40] … دے څرگند خپل خاصیت کا
برگزیده ئې معلی کړ[41] … که دے فهم پر آیت کا
له لاهوته مستغني[42] شه … ځان گرفتار په څهٔ محنت کا
له ازواجه سره جفت شي … تر و روزگار په عاریت[43] کا
دا د ځان زړه ئې پربښوه … غم د کلي د محلت کا
دنیا غواړي لونه لونه … څو یې عقل کفایت کا
ځنې ځنې پوونده[44] شي … څوک حاصل له تجارت[45] کا

او بندګي د پادشاها نو — ٤٦ یا عمل د زراعت کا

٤٧ یا راموخت شي په حرامو — له حلالو ځان غلت کا

٤٨ ځني طمع کا څه غواړي — ځني پېل د سرقت کا

د شیطان امرونه نغوږي — زړهٔ یې غمه له قیامت کا

هر څو وقت چې پرې تېرېږي — شیرین عمر یې کمامت کا

او ناګاه چې تقدیر ور شي — له جهانه به رحلت کا

مال اولاد یې په شا نشي — هر څه وهېر یې په سکرت کا

نور عالم یې ننداره چې دے — زیات اندوه یې قرابت کا

په کفن به یې ونغاړي — چې یې غسل طهارت کا

٤٩ له حیاته به یې واخلي — و اموات یې نزدیکت کا

په ګورکښې به یې کېږدي — پرې به پاس خاورې جرت کا

د ژوندو زړهٔ به سړهٔ شي — چې یې قبر پرزینت کا

ترو هر څوک به ځني ولاړ شي — یک تنها به یې رخصت کا

٥٠ نه عزیز ور څخه وسي — نه محب له ده مدت کا

دا څلور لو تېمار به ور شي — یو یو څېز به یې غارت کا

٥١ دا اول ملک الموت دے — چې ارواح به یې منهبت کا

او دویم یې وارثان دي — مال او ملک به یې قسمت کا

او دریم چېمچې د ګور دي — چې به یې غوښه اکلت کا

څلورم د دهٔ خصمان دي — پر عمل یې خصومت کا

٥٢ فرښتې چې و ده ور شي — له توحید به مسألت کا

٥٣ له توحید چې خبر نهٔ وي — په ځواب به ورهیبت کا

په عرصات به شرمنده شي[٥٤] او پرده به ملامت کا
هېڅ حاصل به ئې ترونه وي[٥٥] که دے حصې څو ندامت کا
عذاب[٥٦] به ئې شي په بخره روحې په روح به ئې زيارت کا
خدائے رسول دے نزول کړے بيچې کوتاه به ئې حجت کا
ترو سرې لره بايده دي چې طلب د هدايت کا
چې ئې دا منزل دو پاندې زړه ئې څشکل فراغت کا
د کامل لار دې وغوارې[٥٧] په اخلاص دې مشقت کا
د نبي خليفه دا دے چې زنده دده سنت کا
له نا قصه حذر بويه پير کامل دې ارادت کا
ارادت د طالب دا دے چې فاني رسم عادت کا
او طالب لره بايده دي چې ربنتيا د پير خدمت[٥٨] کا
دا خدمت د پير دغه دے چې توبه له معصيت کا
د ربښتيني لار دغه ده[٥٩] چې عمل پر شريعت کا
شريعت ربښتيا گفتار دے صادقان دې اطاعت کا
د اسلام پينځه بنا دي مؤمنان دې تابعت کا
نا روا دروغ دې پرېږدي او پرهېز دې له غيبت کا
چې په شريعت ثابت شي ترو دے يون په طريقت کا
دا دې لار چې خطر و پړ دے مگر تک په دېر همت کا
طريقت د فرښتو خوي[٦٠] دے چې بندگي په هر ساعت کا
دغه زړه په مثال تخت[٦١] دے پري دوه څيزه عداوت کا
دا يو گروه دے د نېک بختو بل فرمان د شقاوت کا

هر ګروه چې زور ور شي	پرې څرګند به علامت کا
که په نخوته د شیطان شي	دے به څوار په ضلالت[62] کا
هر عمل به ئې سیزینه[63]	لکه بل ورد د غیرت کا
چې په نخوته د فرښتو شي	په پاکه به عبادت کا
(دغه) ځائے د راضیه دے[64]	هر چې وزن ثقلت کا
مستقیم به پر دا لار شي	هر چې خدائے پرې عنایت کا
چې ثابت پر طریقت[65] شي	ور طلب د حقیقت کا
هر چې تن ئې پاکیزه شي	ترو خاطر دې تصفیت[66] کا
د ګمان مورچه دې واخلي	د خدائے یاد دې مصقلت[67] کا
هم دایم دې په یاد وسي	او پرهیز دې له غفلت کا
په خشکه او په تره کښې	که پر ځائے وي یا سیرت کا
بېهوده عمل دې پرېږدي	ترو دې مینه په خلوت کا
له کل خلقه دې ګوښه شي	خاموشي دې په عزلت کا
د کامل دارو دغه دي	چې د څور خاطر صحت کا
چې ګمان کاله ذره لرې	او ارواح ئې تجلیت کا
د ارواح تجلي داده	چې دیدن د معرفت کا
دے چې مثله پاک دریاب دے	که ذره په دید نظرت[68] کا
نه ئې رنګ نه ئې مکان شته	چې بې مثله اشارت[69] کا
ترو چې روح د ده روښان شي	ور څرګند به معرفت[70] کا
عارفان دي پېنځه لونه	چې مېسر دا ئې عبادت کا
او واجد سامع واصل دے	موحد چې مسکنت کا

د واجد فکر د غه دے ‌ ‌ ‌ ‌ چې په هر لوري رويت[1] کا
ابتدا يې دے نهٔ غواړي ‌ ‌ ‌ ‌ نهٔ انتها د نهايت[2] کا
چې يقين ئې په درياب شي ‌ ‌ ‌ ‌ او طلب ئې د قربت کا
چې د خدائے هستي ووينې ‌ ‌ ‌ ‌ پر مخلوق دې شفقت کا
معشوقه چې حجاب واخلي ‌ ‌ ‌ ‌ ترو عاشق دې نزديکت کا
اواز واړه له يوهٔ دے ‌ ‌ ‌ ‌ کهې قهرګاه رحمت کا
چې پر زمکه پر اسمان دي ‌ ‌ ‌ ‌ د يوهٔ مولی صفت کا
کهٔ بعيد پرې نهٔ پوهيږي ‌ ‌ ‌ ‌ ثنا واړه په لغت کا
په هر صوت قريب پوهيږي ‌ ‌ ‌ ‌ او سرود ئې زيات لذت[3] کا
عارفان به پرې خوښيږي ‌ ‌ ‌ ‌ کم دليل ځني وحشت[4] کا
په اواز چې و پوهيږي ‌ ‌ ‌ ‌ ترو منزل دې د وصلت کا
د ګمان نقاب دې واخلي ‌ ‌ ‌ ‌ خپل وجود دې آخرت[5] کا
او حساب به په ګناه شي ‌ ‌ ‌ ‌ هغه شهٔ چې په فصلت کا
چې تر خپلې هستۍ تېر شي ‌ ‌ ‌ ‌ پر يوهٔ دې شهادت[6] کا
چې پر شاه باندې شهيد شي ‌ ‌ ‌ ‌ ګردن خلاص له امانت[7] کا
هر واصل چې يګانه شي ‌ ‌ ‌ ‌ [8] نندارې به د وحدت کا
موحد خلاص دے له بندګيه ‌ ‌ ‌ ‌ [9] او نهٔ جرم جنايت کا
په يوهٔ کښې دويم نشته ‌ ‌ ‌ ‌ نهٔ زيات نه کمامت کا
د موحد ګناه دغه ده ‌ ‌ ‌ ‌ چې عمل دے په دوه نيت کا
ترو له شرکه دې هتيا[ت] شي ‌ ‌ ‌ ‌ هر کلام دې سلامت کا
يګانه له يوه يو دے ‌ ‌ ‌ ‌ په خدايې خوې اقامت کا

ACKU

د بندګۍ حد يې پوره شه　　چې يقين يې تمامت کا
له غا[۸۰]فلو دې ځان ژغوري　　که ساتنه د خپل پت کا
او باقي به جاودان شي　　چې نزول پر سکونت[۸۱] کا
د مسکين امر دغه دے　　چې له خواسته قرارت کا
د صورت صفت عذاب دے　　او د روح په خوي عادت کا
دے رونق د بادشاهيه　　روش به حکم په رعيت کا
دا عامل به هم کامل شي　　هم چې خوي دبوبيث[۸۲] کا
ښه نعمت د عاملانو　　چې عمل په تلاوت[۸۳] کا
دا مقام هم ګوره ګران دے　　چې په خوي استقامت[۸۴] کا

مستېرزا ښه خوي له پاکانو
که طالب يې آخذت کا [۸۵]

په رښتيا مينه پر ګل باندې بلبل کا
چې په خو جفا و خار ته تحمل کا
که عاشق يې په رښتيا ترسره تېر شه
مسته شاه[۸۶] سودا د سرو په بازل کا
چې قدم په تېره خار بدي ځي ويارته
دا شهاب به يې له ځان سره واصل کا

او هاله به يې د مراد تخم زرغون شي
چې د نيئو[87] په اوبه وجود[88] کهګل[89] کا

له اوله يې سبق وهر چا ورکړه
بيا په خپل اختيار هرڅوک د ځان حاصل کا

چې يې اوس کړه آساني په ځان قبوله
په آخر به دا انسان[90] سفر مشکل کا

چې د خلقو امېد اوږد شهٔ دنيا کښې
دا قضا به يې فاني عمل باطل کا

نو هر چا د وړاندې کړے يو هنر دے
ترو نازک خاطر وچا وته مايل کا

نېک و بد واړه راغلي دي له خدايه
اوس د کړو ملامت ولې پر يو بل کا

برخې تېولې په قسمت ازلي شوې
په هر چا باندې به خپل قسمت نازل کا

د دنيا توانګرو پرېښودې ماڼيه
چې[91] مسېرزا عمارتونه په ويل کا

چې سجود ئې وښاته د خلیل کا — د اخلاص سجده دې عیني پر جلیل کا[92]

اول عقل دې چراغ درسره واخله — ترو رهبر دې د دې لارې خپل دلیل کا

له پرهیزه دې توښه کا ښندې موجوده — بیا کاروان دې په مقصود رسي رحیل کا

د دې هسې لارې تنګ څهٔ آسانهٔ دے — پر احتیاط احتیاط[93] دې یون پر دا سبیل کا

دا خانه دې د خاوند د پاره غواړي — عبادت دې دے د معرفت کفیل کا

له مجازه دې قدم په حقیقت بږدي — مدام یاد دې و دیدن وته وکیل کا

کهٔ په حُسن ئې و معنیٰ وته وګوري — له یوهٔ الفه څو علمه تحصیل کا

دا خفي ذکر دارو دي د رنځور و — د ذاکر له زړهٔ به لرې کل علیل کا

دا دیدن د معرفت به ئې روزي شي — دریا قمیص کهٔ غرق په رودِ نیل کا

چې نهٔ رنګ نهٔ ئې پایان شته او نهٔ لورے[94] — په باطن به نندارې د دې جمیل کا

یو په یو به د هر چا په زړه پوهه شي — چې آشیاء د حق ثنا پر بم د زیل کا[95]

له رنده و کنهو به څهٔ وایمه عالمه — چې دا هسې نیامت شته څه سر ذلیل کا

په هر چا کښې خپله مینه زرغونیږي[96] — چې شنوا په آواز خوش کړنه بخیل کا

دا قریب چې تر وصلته پورې راغے — له واصله به پوښتنه د سجیل کا

دا واصل چې له ګمان له څو یه مرینه — په دا مرګ کښې حرکت لکه قتیل کا

دا وصلت څهٔ د استوګې مقام نهٔ دے — بیا قاتل د دم په ویاسته به تعجیل کا

دې میرزا په عبادت کښې مقصود بیاموند
چې ظاهر صورت بند د روح په اصیل کا

دے کریم دے چې کرم کا　　　واړه صنع بې قلم کا
پو لوئے حکمت ئې دا دے　　　چې کونین ئې له عدم کا
نعمتونه شي له زمکې　　　له آسمانه بهانه نم کا
له لذته محبت شي　　　په شهوت ئې متهم کا
په پیدا کښې ناقرار شي　　　پسو خوښ د مور د رحم کا
ځنې غوښې ځنې هډه شي　　　په قدرت ئې ځبله[97] سم کا
لکه امر د خدائے وشي　　　دے ناګاه ژوندے په دم کا
شیر له غیبه ورکوینه　　　پخپل ځائے کښې ئې خرم کا
بل مکان پرې ناپدید دے　　　چې دوزګار په دا تور تم کا
چې وعده ئې ورسیږي　　　ترو منزل به دا عالم کا
که شین خوروي اتام خود شي　　　آخر نزده لا و نعم کا
چې د خدائے رحم پرې وشي　　　حکم دار ئې د حشم کا
دے پیشوا شي په امت کښې　　　پر میراث ئې د آدم کا
د بادشاه عبادت عدل　　　او مردود ظلم و تُهَم[98] کا
او طاعت ئې ناروا دے　　　چې ناحق په چا ستم کا
او ښهٔ خوي د مومنانو　　　په بدخوي شپوه لرم کا
چې اوصاف ئې ذمیمه شي　　　پر ایمان دې اوس ماتم[99] کا
استعداد ئې دورخه[100] دے　　　بېهوده رنج و الم کا
عاقلان کسان دغه دي　　　په دنیا کښې د دین غم کا
حاکمي د مولا خوي دے　　　کهٔ پر ځان ئې مسلم[101] کا
حق بادشاه د کل جهان دے　　　کړے قول به خپل محکم[102] کا

لکه وخت د حشر ګاه شي — ورڅرګند به خپل رقم[103] کا
بې عمله نعمت نشته — نه به څوک په ده کرم[104] کا
نه ذره پر عمل کښېنې دي — نه مثقال له بده کم کا
بنه باد شاه دے بنه ئې عدل — د هر چا تفحص سم[105] کا
اے میرزا ثنا ئې ستل کړه
چې رفیق په دا قدم کا[106]

دا ښتن چې پر بنده باندې کرم کا — له انکاره ئې باور وته محکم کا
دا د کفر توره شپه به څنې پاڅي — چې په ذړه ئې له اسلامه صبحدم کا
ذمیمه به ئې بدل په حمیده شي — ترو سفر به د مقصود په لورې سم کا
له مجازه به قدم پس حقیقت بزدي — او وقتي به له دایمه سره ضم کا
هر یو ذړه د مولیٰ عرش دے بې کماله — که له غیرو پاکیزه د غه حرم کا
درست جهان به ئې له ځانه سره هېر شي — یو په یو به یو الف باندې رقم کا
تجلي به د ارواح پرې باندې و شي — ورڅرګند به یو بې مثله جام د جم کا
چې نه حد نه ئې پایان شته نه ئې مثل — بې جهت به نندارې د د غه یم کا
په جهان کښې مخلوقات چې څرګند بزې — د غه واړه زرندګي په هستي نم کا
حقیقي علم دانش او معرفت دے — نه چې بحث همېشه پر لا و لم کا
هېڅ آواز له ځینه نه شي بې جنبشه — چې څه کوزئې[107] دا دریاب ئې راست و خم کا
دا فلک لکه سرود آشیاء تارونه — څه عجب بې مثل آواز په زیر و بم کا

زور ور له شش جهته منزه دے — دا نیستي به دې واصل په زره ملهم کا
لکه نمر د وخته لوئے په نظر کښېښوزي — چې شعله ئې په کمال شي صورت کم کا
هر[108] ذاکر ئې په بیل بیله نامه بولي — چې دا کل نوموته یو نوم ئې اعظم کا
دا هر یو له یوه خواست کا گوښې گوښې — بیا دا یو و هر یوه وته نعم کا
که بنده له خپلې چارې درمانده وي — روحاني[109] بادشاه ئې زیرمه د حشم کا
نور عالم وَ پردي غم ته پښې وهینه — او مسکین تل غمخوري د پردي غم[110] کا
چې پر تخت د سلیمان باندې دیو کښېناست — او په حکم ئې عمل مار و لړم کا
چې په غوږ ئې د معنیٰ آب حیات شي — همیشه د خاطر غسل په زمزم کا

اے میرزا رضا د یار په رضا کښېښه ده
چې قدیم دے تل تر تله ئې مقدم کا

هر قاصد چې د مقصود په لوري یون کا — رسمي[112] مل به د نیم کړې لارې ستون کا
او توبه دې د پرهیز ورسره واخلي — تر و هادي دې د دې لارې رهنمون کا
او د کفر د تیرو دې راروان شي — د زړه رخت دې و اسلام وته بېرون کا
ثابتي به ئې وژبې وته ورشي — چې کلام به له معنیٰ سره موزون کا
طریقت لره به ورېشي پخپله — چې پنځه غلکي پنځه ځایه زبون[113] کا
له گناه دې صورت په طاعت وینځي — چې خیرن نه جامه سپینه په صابون کا
هره روح دې عد الست کاندي د بنهر — او په شپه دې په غلکیو شبانخون کا

ACKU

تزکیه چې یې حاصله د صورت شي   ترو دې غیرې اند ېښنې له زړه لړون کا
دا مجاز به یې بدل په حقیقت شي   چې دایم پوازې پو باندې زرغون کا
مرکب دې د نفي اثبات کا ذکر[114]   د مادام دې نوشانوش د غه معجون کا
په نفي، نفي نفي اثبات اثبات شي[115]   مسیحا په مرده هسې ژنګ افسون کا
له هغو جاهلو څخه وایم عالمه   [116] چې د نن چاره به کانده په پرون کا
تصفیه به یې د زړه شیشه حاصله   چې چراغ پرې باندې بل د خپل ژوندون کا
د عارف نظر له قافه دې تر قافه   په محیط دریاب به ګډ د غه جیحون کا
عجب زیب د معرفت د زړه په سترګو   چې بې مثله ننداره د دې بېچون[117] کا
زور ور له شش جهته منزه دې   د بېچون تعریف به څه رنګه چګون کا
د لیلی د سا دګه نهایت نشته   د ښائست صفت به یې څه رنګه مجنون کا
سامعان یې د رموز په معنی پوه شي   چې اشیاء[118] د حق ثنا په خپل قانون کا
کم دلیل عالم یې نه اروي[119] له لرې   د خپل راز خبرې واړه په مقرون کا
تر دغې ښادۍ به زیاته ښادي څه وي   چې قریب یې اراده د پیوستون کا
د صورت خودي دې لرې کا یکباره   په معنی ته له معنی سره ګډون کا
تجلی به د وحدت ورباندې وشي   چې له هسې بند د خلاص د غه مرهون کا
دا یقین به یې د دېوال[120] د عمارت شي   په اخلاص به یې بلند لکه ستون کا
د جهان راحت به واړه پرې تمام شي   چې قرار په قرار د باندې سکون کا
که نور نور عالم هوس کا لونه لونه   مسکینان به په دا خپل صفت ممنون[121] کا
ښه صورت د عبادت د پاره دوغ دې   او دا روح دې تل رضا کن فیکون[122] کا

دا مېرزا په خپل مقدار خبرې وائي
په کالي کښې چې څه وي ځنې ډېرون کا

ACKU

چې امید په دروغژنه[123] مکاره کا — په دا هیڅ هنر به هرڅوک انکاره[124] کا
د نادانو نادانۍ ترفهم و عقل — چې په سخت اهار د واورو مناره کا
ودانۍ ئې مشقت پرې زهیرېږي — وېرانۍ ئې نوے غم پرې دوباره کا
هرسړے چې له دنیا و فانۍ غواړي — بې عقلي[125] به ئې د پرغمونه اجاره کا
سعد و نحس په کرده پورې تړلي — کم دلیل د چار قیاس په ستاره کا
زهٔ عجب یم د غه هسې رنګ عالم ته — چې امید ئې د حباب په نواره کا[126]
یوه روځ به دریاب موج وهي پرېله — په تعجیل به د حباب جامه پاره کا
سالکان چې دا دوانې روبهٔ کوږي — په دا تلهٔ کښې د خپل عمر ننداره کا
مسافر به له خوابهٔ خوبه بېدار شي — چې سحر جرس د تلو په وخت ناره کا
دا نایان د خپل مطلب په طلب کوږدي[127] — حیوانان زېر مه د تماستې د چاره کا
ذاکران چې د غفلت له خوبه وېښ شو — (روې) د نفس و چلېدهٔ ته نظاره کا
د فقیر خوښي له سازه له کتابه[128] — امراء به ئې په توغ په نغاره کا
هغه ملک به له خلله نهٔ خلاصیږي — چې لښکر ئې لوامه او اماره کا
کهٔ آشنا د ناآشنا خبرې نغوږدي — آشنایان به خپلې چارې آواره کا

چې فرمان د زور ور ور باندې وشي
د میرزا قوت له کومه څهٔ چاره کا

نن مې ولیده ولاړه محبوبه پسو سباریکا
په اخلاص یې خپس جوړ که اوس د جنګ ته تیاري کا
یو عجب یې سپین جمال دے پرې یې دام د زلفو ښے
خال یې لونه لونه زیب کا پسو د پره مکاري کا
دوه وروځې تکې تورې پرې د پاسه وسمه کړے
وې نرۍ لکه اوبږ مېښه کرشمې یې دلبري کا
دواړه سترګې یې ډیوې کړې د غه کسې یې نه وو
او[129] بانړه یې ناوکې کړه پرې ګوزار په بهودي کا
بیا یې نته کړه په پوزه ترې پرېوتې زنځیرونه
لکه شسته د ماهیانو اوس د زړو ګرفتاري کا
دواړه لب یې کتوري کړ غاښ یې دُرّ دي ګوټي ګوټي
یو[130] یې چاه د زنخدان دے بیا په زبه دهبري کا
چې[131] د شاه په زندان کښېوت هیڅ علاج یې پاتونه شه
که مجنون دے چاڅه کړے هره چار په هوښیاري کا
څه عجب یې سپینې ګوتې پرې د پاسه سره نوکونه
او پلو په مخ نیولے په کاته کښې طراري کا
محبوبه د زړونو ښکار کا نن را ووته له کوره
پر[132] وحشي چې ګوزار وشي تر وبه څه شکل قراري کا
هر غل غلا په توره شپه کړي چې دا پهره دار اوده وي
له هیڅا یې ویره نشي شهالوت په بیداري کا
د میرزا زړه یې تالا که له ازاره نه ویرېږي   لا بتره یې سزا ده چې له شاه سره یاري کا

ب

د غه کک و سیل حبابه[1] — د اوبو پر مخ کس یا به
که مدام پکښېنې چاروځې — ځوک دې نه وړي له گردابه
د هیڅ غرض در نشته — واړه چار دې بې صوابه
چې را تله دې په تعجیل دي — هسې درومې له شتابه
هیڅ افزون تر قاعده نشي — څه صفت کړې له دریابه
غو تېره وویل اے ککه — ته د اوبو یې له حجابه[2]
له مقصوده خبر نه شوې — کل گفتار دې بې حسابه
په غفلت دې عمر تېر کړه — لا بېدار نه یې له خوابه
که ته ځان وته نظر کړې — پرورش دې دے له آبه
ته د نوح پسر په زړه کړه[4] — پس به بیل شو له اصحابه
د دریاب قدر دې نه زده — سوز دې برخه شه کذابه
چې د اور طلب کار درشې — زر دې یوسي بې ځوابه
آتش درست په تا بلیږي — په تا غوښې شي کبابه[5]
که دا نا یې ځواب را کړه — ستا نصیب دے څو عذابه

د میرزا کلام[6] رموز دے
چې معنی یې په څو بابه

نسبي چې مدد غواړي له نسبه　　　　د نسب مدد و نخوته له سببه [7]
په حيات چې د نيکانو نخوته نهٔ کا　　　　په آخر به نااُميد شي له حسبه [8]
کم دليل ترنا بيناوُ لا بتر دے　　　　چې د روڼې قدر نهٔ وينې له شبه
ځکه ډېر سړي ياد شوي په هيچ دي　　　　چې غافل پر ځان ولاړ دے بې طلبه [9]
خودپرست له خپله ذاته خبر نهٔ شو　　　　د غنم مستي شوه زياته له عنبه
نصيحت د مړده کانو لايق نهٔ دے　　　　و اوده ته وېلے نشي له ادبه [10]
په ظاهر صورت آدم په شماره ډېر دي　　　　د معنیٰ ميراث يُې نشته بې لقبه
د مولا د نزد يکيه خبر نهٔ دي　　　　بې اوبو د ژوند ون طمع کا له کبه
خلق وارهٔ د خالق په هستي هست دي　　　　د صفات جامه په ذات ده مرتبه

و مېرزا ته د گويا په ژبه وائي
دا پښتو و ښا را غلي له عربه

غافل مهٔ شه دد ې دور له آشوبه　　　　دا شريف عقل دې پاڅوه له خوبه [11]
کهٔ په نفس اماره دې برے بيامونده　　　　ستا نزدې فتحه دغه ده لويه سوبه [12]
په زاريدو په عاجزيدو يُې غلط مهٔ شه　　　　هر څو سر پورته کوي باندې يې کوبه
ته فرصت د پاڅيد و ودهٔ ورمهٔ کړه　　　　په وېناکهٔ ډېر ډېر وائي توبه توبه
له اوله په خلقت و تا نزدې دے　　　　لکه گل او خار چې وي له يوه څوبه
کهٔ اختيار دې د دين په تزکيه شي　　　　د کو شيشں په اور يُې او چم کړه له نلوبه

د صورت په ډنګرېدو د زړه صافي ده
په څړېښت به يې زيانه نه کړي بې څروبه [13]

د مردانو کار له نفسه سره جنګ دے
د هلک په دود يې مه غواړه په لوبه [14]

په نيمګړي طلب څه لره نازېږې
چې له ثمره ورتلے نشي تر سروبه

د و حدت په درياب وار جهان ډوب دے
د کثرت قافله نه شوه پرې خړوبه

اے مستېرزا د جا هلانو په دود مه شه
چې په هسې طلب ننګ کاله خاک روبه

چې کامل محبت ورشي تر قلوبه
په محب کښې خپله مينه شي محبوبه

پرې ورومبي اختيار ورڅخه يوسي
چې د عشق په زور يې بوته شي مغلوبه

تر و پخپله مدعا يې ګرځوينه
هر راکب چې قوت را نيو له مرکوبه [15]

د عذاب او د راحت تر پوهې تېر شي
تر و طاعت ګناه ساقط شي له مجذوبه

هيڅ له ځانه خبر نه دي او غيب واټي [16]
له هر صوت سره سماع کا چې اسلوبه

بېګانه و خپله طمع ځني پرې کړه [17]
د هنرپو بښتنه څوک کاله معيوبه

ديو انه عيب پرېشان که هنرجمع
خلقه دلي بينا هورې محجوبه

حاسدان چې له حسده ليدے نشي
ديو سنې له قدره چا زده چې يعقوبه

اصل اصل خوي په خوي سره کړېږي
د هر قام مناسبت شي له منسوبه

صفات هيڅ کله له ذاته نه بېلېږي
ځاے پر ځاے حکم درب دے له مربوبه

په هر څه کښې آيا تونه د مولا دي
و مستېرزا وته جلوه کا چې مکتوبه

ACKU

چې په شپه په کوڅه ګرځي بې تقريبه — ته د کوډله غله هتیات اوسه نقیبه

دد نیا په جنجال څه خوبن نما بېڅي[18] — بنه د دین خبره د ده کړه له خطیبه

یو زمان د یاد له یاده غافل مه شه — تل په فکر خاطر د غوره له د قیبه

او په پته په زاړي يې ثنا وایه — په حرمت يې حاضر اوسه له ادیبه

و حضور[3] وته په کوم عقل ناره کړې — چې تر میان دې نه بسوه شته نه جریبه

دَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ درته وائي — د ے تر ځان و ځان اقرب ګڼه قریبه

په حیات صورت شمېرلې په مرده يې — ته نادان له دانایی يې بې نصیبه[19]

دم په دم له خپله ذاته لرې وځې — په وطن کښې آشنا نه مومې غریبه

ته اول د محبت په نغوته راغلې — اوس دې محبت حجاب شو له حبیبه

محبوبه له یاره راز په تنهایی کا — دوه رخه مینه دې عیب شو له لبیبه

که هر څو ناړې وهې پر بله کس څې — ددې رنځ علاج دې نشته بې طبیبه

په حیات[20] د طبیبا نو طلب وکړه — چې خبر دي د دارو و له ترکیبه[21]

یو په یو يې له مزاجه خبردار شو — د خوراک فایده يې نشته بې ترتیبه

هر قدم د کاملانو په قدم بږده

د ربښتني وېنا مه ګڼه تکذیبه

که ربښتیا د ګل په مینه یګانه يې

د مېرزا په آواز[22] وینش شه عندلیبه

پ

هر طالب چې نقد يو ړو تر صراپه
ناسره مهر ئې وپېش الله له صاپه

ترظاهر ئې و باطن ته نظر پرېوت
خلقه ئې په څېره ديدن کړه ماپه

څنې څنې د غفلت په خوب اوده دي
(او) ډېر ډېر ئې د گمان په مرگ خراپه (۱)

مرده کا نو څخه عقل علم نشته
پر اودو باندې يې غږ وکه ناڅاپه

چې دا هسې شان آوازئې په غوږ کښېوت
د سامع زړگے يې درست خلاص که له پاپه

دا نا نصيحت هسې رنگ دارو دي
چې ضعيف مزاج ئې وجار وېست له تاپه

معرفت د ولي غيب (۲) وكرامت دے
دا ښېسوه نه پر رياشي نه پر لاپه

وارد ملک د ملکوت ور څخه کنډېږي
چې خبر شي د توحيد له لويه چاپه

د بېتا اسم به هله پر کمال شي
چې د ښو په کرتوت وړېشي ترپاپه

که رښتينے اختيار يو انديښنې ډېرې
آس يکرنگ نيلے توښېږي له نخاپه (۳)

اے مبتر زا قدم د پېس په قدم کښېږده
پر غلطه لاد سود نه وي بچې له تپاپه

ت

شاه تر تانزدې و تاته[1] — بل رنځ مه درومه بې راته
و هر لور وته چې ګورم — دا حضوره ده مخ راته
نهٔ څرګنده ده نهٔ پټه[2] — نهٔ بې مینه شي پرې ماته
کل عالم ئې په نظر کښې — دا هم بې روحه حیاته
کهٔ په دا دیدن دې ذره ده — حقاني مینه کړه زیاته
باقي مینه حقیقي ده — صحبت مهٔ کړه له امواته
د حرص څانګو نه مات کړه — مخالف شه وهوا هته
په قضا دخدائ صابر شه — راضي وسه وقضا ته
چې په کړهٔ ئې راضي نهٔ شي — تر و امید لرې و چاته
کهٔ په دا دې باور نشي — حدیث راوړه له آیاته

د هېرزا عمل دغه دے
چې له ما واخلي وماته

له دې خپله حاله څه وايم وچاته | چې د ذره مينه له چاده پرچا زياته
دا زما محبت وارٍه پخپل يار شه | اوس د يار محبت وچا روت وماته
له دې خپلې رضا هسې رنګ فاني[1] شوم | چې نفي معنىٰ[2] مې داوره تر اثباته
ګل ذرې مې ونظر ته آهينې شوې | په هر څه کښې يو آشناوينم مخ راته
مهتر خضر وما هسې اوبه[3] داکړې | د سکندر ملکونه وينم بې مرآته
چې ګمان د کوهِ طور په ملبه وشه | د "ارنې" ناره ئې اروم وموسىٰ ته[4]
په هستۍ کښې د نيستيه معنې وينم | يو باقي مخ ئې څرګند که وفنا ته
دا بې مثله نړه مې جام لکه د جم شه | پکښې وينم اووه زمکې سما واته
دګمان دوييې مې لرې کړه له ميانه | له فاني منزله دا غلم وبقا ته
ګل صفات مې د صفات په څوې کښې پرېښو | او د ذات اصل مې ورغې تر ذاته

پر مسکين د مستحق حکم نه وينې[5]
دا فقير مېر زا ئې خلاص که له زکاته

زه به څه وايم وتاته | اے زما په دم حياته
زه مدام له تاسره يم | لور په لور ګورې وچاته
په غفلت ئې له ما لرې | اند يښنې څکوې پراته[6]
د صورت معنىٰ نه وينې | ته ئې بُت له سومناته
په بې خوې تر حيوان کم ئې | په بزرګۍ تر فرښتو زياته
تر سبه مرګ وتا نزدې يم | ته په ذره نه ګورې راته

ACKU

د ګمان په ساړهٔ یخ ئې ‌   نوي دې بیل شهٔ له مرآته[7]
زهٔ دې هرڅو پورته بولم ‌   تهٔ بتش دروځې په کبناته
ګمان جال دربا ندې پرېوت ‌   تهٔ پرې بیل له خپله جاته
غېر وجود له میانه واخله ‌   ایمان خلاص کړه له زکاته
تهٔ فاني خپله هستي کړه ‌   صفات ورک کړه بې ذاته
یو وحدت دے تجلّي کا ‌   کهٔ را ووځې له قناته
وجود شرک دے تهٔ پرې سوځې ‌   یو ځل ووځه و فناته
تهٔ زما په روح ژوندے یې ‌   اے پخپل ګمان امواته
د میرزا ګمان فاني شهٔ
اوس په ما ګوري و ماته

خبر زده کړه نن د وخته
د ایمان له باقي رخته[9]
د حاصلو وقت دې داد ے
کهٔ یادي دې شي له بخته
د دنیا و فاني نشته
په طالب[10] هر ګوره سخته
د قارون ګنجونه څهٔ[11] شو
سلیمان پاشید له تخته

پـه صراط به څهٔ رنګ دروځي
اوس حېران شوي وَبرزخته
د آهار غرمه پسې ده[12]
تکیه څو نسي وَیخته
هر څو لوړه شوه غوټېږه
پر هوا بانـدې ده څخته
ته د چا پـه هستۍ هست يې
فهم وکړه وَ نَفَخته[13]

مېرزا واوره آوازونه
واړه دَرَ وړي يکـا لخته[14]

پتنګ پټ په رموز وویل وشام ته — چې زهٔ ستا کرشمو دروستم ودام ته
لکه تا د عشق لمبه[15] په تندي کښېښوه — د خاصانو لار دې وښوده و عام ته
خلوتیان دې و بازار وته خواره کړهٔ — د حجرې روښنائي وخته وبام ته
و مشتاق ته دې د لرې جلوه وکړه — د پوخوالي نخوند دې وستایهٔ وخام ته
و بل اور وته يې هسې رنګ رجوع شوه — لکه څنګه چې زړهٔ تسلیم کهٔ و اَصنام ته
په اختیار د محبت پر لمبه[16] پسرېوت — دا نیمګړې ذات يې ور ورو تمام ته
د آزاد نامه پردهٔ باندې صحیح شوه — د صورت له کفره ووت واسلام ته

یم گمان د معرفت په نمر شو ویلې — له وقتي راحته راغې و دوام ته
تل هوس ئې په هوس باندې زیاتیږي — د تشویش له ملکه تېر شهٔ وآرام ته
بېچاره عاشق پرې سوځي عشق نارې — تا پرې څهٔ خپس نیولې و ناکام ته

پاکیزه د عارفانو په زړهٔ بهشت
د مېرزا په نظر ځیږ[17] کوره و جام ته

شمعې وې عجب ولاړ له ما و څهٔ ته[18] — دا شیرین آشنا زما چې د پر جهته
د غه یار زما معنیٰ زهٔ ئې صورت وم — اوس چې یار دکه تش بکس د پهته[19]
دا زما ودانې تل د دهٔ په ذات وه — زهٔ ئې نښه نښانسته وم د ده چې مهته[20]
د خپل یار صفت په کومه ژبه وایم — چې تروا ړو نوبزو خوبز دے نوم ئې شهته
زهٔ مدام دیار په وصل[21] قیمتي وم — د آشنا په پېوستون زما خهته[22]
د هجران له درده اور را باندې بل شهٔ — په فراق کښې مجال نهٔ لرم د کهته[23]
سوزنده دیوه زما په سر بلیږي — چې پر تاؤ ئې ویلې کیږم بېهت بهته
له هستیه د فنا په قدم درومي — دا وجود توره تیاره د ځان کهته
نهٔ فریاد کړم په دستور د مظلومانو — نهٔ بښوه د خپل هنر کړم په داسهته
د اورېښتې په دود نهٔ ځغلم د نیا ته — نهٔ د تاؤ په هیبت تېښتمه له دهته[24]

اے مېرزا په حقیقت پوښتنه وکړه
چې له کومه ملکه تلهٔ شې چرته رهته

ت

محبوب نهٔ دے له تا پسته — اے د ځان د وړاندې خسته
ته پخپله خپل حجاب شوې — د کمان په لار کښې هسته
تهٔ څرګند شوې دا غائبه — ستا په څېر ده کښته مُته[1]
پاکیزه له شش جهته — څېره مخ شوه چې له څته
کهٔ دا ووینې نیک بخت یې — څو وځان ته ګورې رته
دا نهٔ چرې زر غوټیږي — په خشکۍ کښې سخته غته
پټې پر زمکه تومنه پرېوزي — یو ګل ورکه شي ساپسته
بورا سپک په ګلو ګرځي — تر یار لاندې شوې ګونګته
ملبه زر تر وا پښهٔ پرېوزي — په زار سوځي پښې په ستهٔ[2]
زړهٔ ژوندے په محبت دے — بې بې سوځي چې لو هسته[3]

میرزا شرط د عشق بازیه
پتنګ درست که له ډیوته

اے ددین په ښائسته چارو کښې لتهه | د معنیٰ په فهم کم په صورت غښته

په ظاهر جامه فقیر په خوی بخیل ئې | لکه نغښتې په زیړو تازه سکروټه

څو دلې دریاضت په تاؤ پوخ نهٔ شي | د جحیم پر بټ به سترے شي له نښته[4]

بندګي چې تهٔ په رسم په ریا کړې | خپل عادت څهٔ عبادت ګڼې چغښته[5]

ښهٔ سرے د سړي هوښ د پاره ښهٔ دے | نهٔ ناپوهه چې خپس لوټے ګڼې په نخښته[6]

په څړه لاره څړه تیرېدل ګران دي | په دا هسې لار به څهٔ وړي درنه څټه

پسو غوښ په حیوانی کښې فراغت ئې | خدائے دې واخله د پنجاب نادانه جټه

دا پښتنځم اصل دي هم پسې وغواړه[7] | دا صورت یوه جامه په څلور پټه

روحاني محبوب کهٔ غواړې لړې مهٔ څه | په طلب دري څلور عنصر له کټه[8]

همیشه تر دا څلور څادر دلاندې | یګانه محبوب له یار سره[9] لټ پټه

د عارف چې د باطن ستر ګې بیناشوې | په هر څه کښې تل محبوب وینې پر کټه[10]

د کثرت بازار ئې رونق کهٔ لوټه لوټه | کل سودائې د عارف د زړهٔ له هټه

د میرزا[11] کلام ثابت پر مقامات دے
لکه سم غشے د ښهٔ استاد چې وټه

ث

د عشق درد دے بې پایانه الغیاث
بې علاجه بې درمانه الغیاث

د غه گل هرگز بې خاره چرته نهٔ وي
آشنا یې ده له هجرانه الغیاث

(یوه) شاه (تنها) له خپله ځانه خوښه
بې پروا ده دلستانه الغیاث

د عشق درد به هغه نهٔ وینې هیڅ کله
چې خبر نهٔ وي له ځانه الغیاث

د مېرزا (فریاد رهیش) وي دغه (واوره)
چې مقصود ئې بې نشانه الغیاث

په هستۍ کښې مې گمان وُ
بیا مې جود موندهٔ اے غوثه

وا په بود زما نابود وُ
اوس مې بود موندهٔ اے غوثه

دا و پښا به څوک باور کا
چې د ذرهٔ په پښو سفر کا

چې په دا لاره روان شهٔ
د مقصود موندهٔ اے غوثه

مقصود یو دے کهٔ یې وینې
دا یو ذرهٔ او ډېرې مینې

چې یې مینه حقیقي شوه
حق ئې سود مونده اے غوثه

سود د غه دے کهٔ باور کړې
چې خپل خواست وکامل ودکړې

هم له دې فاني طلبه — د خلود موندهٔ اے غوثه
تل باقي به هغه کس شي — چې په ښهٔ نه پوهه بس شي
پسنده هسې دغه دے — چې محمود موندهٔ اے غوثه
محمود ذوق کړله ایازه — د ایاز[۱] د زړهٔ له رازه
د شاهد اخلاص پوره شهٔ — د مشهور موندهٔ اے غوثه
د عارف[۲] زړګے شهید دے — سپورے نه لري تجرید دے
روش منصور په کل عالم شهٔ — د جنود موندهٔ اے غوثه
منصور یو له یوه واخئ — ځان د حال په ژبه ستائي
د رموز اسرار[۳] وګوره — چنګ و عود موندهٔ اے غوثه
کل صفت کا ندي له حاله — ددې هسې حال د لاله
چې له مرګه پخوا ومري — ځان ئې زود موندهٔ اے غوثه
چې فاني خپله صفات کا — دوباره یې ځان حیات کا
د بد نفس علاج دغه دے — چې د اود موندهٔ اے غوثه

مقصود نهٔ دے له چا څکو ښې
مشرک ځان د وړاندې ینسې
د میرزا ګمان فاني شهٔ
وجود موجود موندهٔ اے غوثه

ACKU

ج

څنګه عجب[1] وُ د عاقل د خاطر ا وجم   چې ختو وته[2] ئې لار نهٔ وه د عروج[3]
دا منزل ئې د صراط تر غاښي سخت وُ   تر و پسو پرې باندې وخوت د عشق فوج
د وحدت تو ره ئې وا خیسته له میانه   پر کثرت ئې نامه کښېښو ده د زوج
محبت ئې یو بې حده لوئے دریاب دے   په لومړي اثر ئې لاندې کا تس موج

اے میرزا محیط تر هر چا رسید لے
او کنګا پر شمس آباد چې پر قنوج

دا نسته له طوفه څه ملک الحاجه   وسکه خلاص شوي په دنیا د دین له باجه
په همت دې دا سفر په ځان اختیار کړه   اے د عام توحید دا هل په سر تاجه
نوره طمعه د دنیا له هیڅا مهٔ کړه   چې په دین خلقه تا وته محتاجه
تهٔ دا د پر حاصل په لږه بها پلوري[4]   چې تازه سپرلے دې نشي بې دواجه
د څرېه کو چې دیدن دربانډې فرض[5] کړے   د څښتن آشنائي لهٔ ده له احتیاجه
چې حاذق طبیب حضور دے دا رو نه کړې   در پو هېږم دغه[6] به تېر کړې له علاجه
لوئے طبیب د هر بیمار په حال پوهېږي   که ته ښهٔ وا قفه نه یې له مزاجه

دمرشد نغوته روښانه ده له دوځې — دخپل خوي تاريکي زياته ده له داجه
که درسم جامه سپينه کړې په څه شي — دخوي رنګ دې ځرګند به يي له زجاجه
که خبر ئې دا و ښنا راته ووايه — چې حضرت په قدر را وړه له معراجه

وا ړه عيب وهنر خپل پخپله ګوري
د مېـــــرزا چراغ روښان شهٔ له سراجه

ACKU

چ

په ژوندون که دې رضا ده بې لا لچه — د غه صافه سینه خلاصه کړه له غچه
په غفلت دې خاطر څه رنګه څکل شه — شیطاني وسوسې کښې سپېره رچه
ګران زړګے دې یو اندیښنې ډېرې — د ژوندون وعده دې لږه ډېره تچه
روحاني مېلمه عزیز دے ښه ئې ګوره — د ملوک لایقت نه لري خمچه
بده طمعه د سترګ خوبي په دود ښوده — ته په ښه توکل خلاص کړه دوي له لچه[1]
دا شیر کبر بد ل په کهترۍ کړه — د غرور توره دې کښېباسه په پچه
په شال د نرمې ښتې خمیده شه — له پخیله رضا سخته ګرګه وچه
د بېنځو ګوتو عجب سره دعوی وه — چې په کهترۍ اقراره شو له کچه[2]
د صورت په کمینۍ کښې درجه ده — د نګین لایقت ورنجي د خچه

په ظاهر کښې د باطن وننداره کړه
د یقین په اصل لوے په ګمان کچه
اے میرزا د یکانګۍ لویي وګوره
چې شیرین عسل پیدا شینه له مچه

ACKU

ح

که خبر شې له صباحه ‌ ‌ ‌ ‌ له دې[١] حقیقي مفتاحه
صورتونه یې کښتۍ کړه ‌ ‌ ‌ ‌ محبوبا پکښې ملاحه
نوے جنګ یې تنسته کې ‌ ‌ ‌ ‌ څه غرض یې له اصلاحه[٢]
لور په لور تاوکي[٣] وولي ‌ ‌ ‌ ‌ د دیو سترګو له سماحه
له وبال نه ویرېږي ‌ ‌ ‌ ‌ څو نریزي یې کړه مباحه
چې په مرګ معنوي ومړ ‌ ‌ ‌ ‌ روس ژوندے شه بې ارواحه

د میرزا رموز به وینې
چې خبر دې له دې راحه

چې په زړه نصیحت کښېني له نصوحه ‌ ‌ ‌ ‌ دم په دم به بهره مومې له فتوحه
د باطن غیبه دیوه به یې شي مبله ‌ ‌ ‌ ‌ د رموز معنی[١] به بیا مومې مشروحه
د عارف نظر تر دوارو کونو تېر دے ‌ ‌ ‌ ‌ د توحید روښنائي[٤] زیاته ده له یوحه
رسیده کامل د دوارو کونو ثمر دے ‌ ‌ ‌ ‌ چې د دین د دنیا چار ده پرې وضوحه
چې باور دې د دانا په پوهه وشو ‌ ‌ ‌ ‌ د ایمان تر لے لار دې کړه مفتوحه

ACKU

یو زمان به له نحوښیه خالي نشي | چې مدام يې سر يکار شي له صبوحه
فرعه هیڅ کله بې اَصله نهٔ یادیږي | د مداح جدائي نشته له ممدوحه
منکران يې د طوفان په اوبو ډوب کړه | چې د درد نوحه څرګنده شوه له نوحه
کار دیده به د رنځور په حال پوهیږي | نازپرورو روغو څه ده له مجروحه

په تلوار چې لاس وړښي پر بل وهينه
د هستي قوت به درومي لـه مذبوحـه
د مېـرزا ژوندون په وصل د اشنا دے
د صورت استوګه څو کیږي بې روحـه

خ

هر ناپوه چې د دانا په کار[1] کار رخه
لور د لوړي اندېښنې پرې غلبه شوې
د زخمت له څخه تور پر بله واوښت
د پر آرزو ئې لوړ په لور و بله[2] څکوینه
اوس د نفس اماره په کومې کښېوت
شیس ین عمر په هر ساه[3] در څخه دروي مي
نابینا مرید به لاس پر بله مړېږي
ناتمام که د صورت په لویه لوی دے

پخپل نحوي دے پېښوا له هره سخه
عجیب نرم زړه ئې پرېوست پر بند خه
د فساد تماشې ئې زیات وینم تر زخه
درست تمام ئې رګ وپے که نکه نخه
ناز پرور کوکړي به څوک کا ځني نخه
نکه دوړچې نسخه اخلي له سپند خه
دریغه دریغه مدد نه کړي مشایخه
په معنی کښې اشیائي مرغه په نخه

هیڅم محبوب له معرفته خبر نهٔ دے
خام شوده د شریعت پر مقام تخه
سلطنت نه عبدالله سره زیب کا
نهٔ[4] نادان چې په سرواړوي کو تخه
اے میرزا په معرفت ذره ذره شه
په ذره کښې عارف نهٔ وینې بې څخه

اے په نخوي دمؤمنانو سره ستوخه
په پند ارکښې خميره په مثال پوخه

لکه پيازخره پو ستونه سره نغښتي[٥]
لا بتر په تش رسمونوکښې تربوخه

د انسان له اصله نسله خبر نۀ شوي
اوس د سرله لوړې اوړم شوې لکه لوخه

پسو عمر بېهوده درځني دروي
دمقصود طلب دې نه وکه شيوخه

له عادته عبادت لره نۀ دروي
په پاخه اتمام کښې اوم لکه شموخه

ددنيا په مينه څۀ رنګ فراغت يې
له باوره وګمان ته مستوسخه[٦]

کامل نمر د معرفت په جهان وخوت
بېهوده دخپل ګمان په ساړه څوخه[٧]

حق محيط له تاسره تر تاچو پېښ دے
په درياب کښې په ګمان اوچه کلوخه

تۀ يو ځل کۀ د باطن سترګې کړې روښې
يو جمال دے لوړ په لورو تاته موخه

دګمان بلغم دې کلک په زړګي ونښت
تۀ يو ځله د باور پر زور وتوخه

کۀ د وهم خيرے وکاږې له غوږه[٨]
هر آواز درته ګواهي لي زخم له رنخه

کۀ دا نايې اشارت در لره بس دے
تو دا زيات وتاته څۀ وايم ملوځه[٩]

اے مبرزا له يوه يو يګانه واڅې
په وحدت کښې د دوېم وېنا منسوخه

د

خبر زده کړه دانشمنده د دانش له سرا ینده [1]

عارفان د نور د یوې دي زړهٔ پرې بل کړه مستمنده

کهٔ دې دا چراغ روښان شهٔ پټ به نهٔ وي بې څرګنده

عمر [2] ختلي پر افلاک دے دا دیوه تر حد بلنده

چې ئې دا دیوه شوه بله روح ئې خلاص شهٔ له هر بنده

اصل [3] بند ئې ناپوهي ده سر وکښېنه له کمنده

کل حساب له یوهٔ یو دے یوې وپېژاند له چنده

ښکرې هر څو رنګارنګ دي زیب ئې څهٔ دے بې مرونده

په هیڅ دود به جدا نشي کهٔ واصل شوې بې پیونده [4]

عجب مرګ له مرګه غواړي اور وروړه تر سپنده

د دې مرګ عجیب تلخي ده خوند ئې را نیوهٔ له قنده

ققنس هر څو مرې ایرې شهٔ ورک به نهٔ وسې ترانده

ور د پلار په منزل را شه اے د پاک صفي فرزنده [5]

چې زنده شي پس له مرګه غم پرې نشته بې اننده

د وحدت پیاله دې نوش کړه

اے میرزا په حال خورسنده

نن طلب کړه زما جنده ښه طلب په ډېره تنده
ته ګدای د ولایت یې شاه د دوو کونو مېړمنده
دواړه کونه د هغه دي چې یې دا شها[6] بیا مونده
د دوو کونو ګنبد ده د قدرت په لاس یې ستنده
نباتات لري پر زمکه ځای پر ځای واله، کنده
شمس قمر دده دیوې دي آسمان کې ځنده مېچنده
ګهې رڼا کښې تیاره شي شپه یې تېره روځ یې ننده
لوی ارهټ پر بله اوړي د وحدت[7] د لویه سنده
څوک حیات له مرګه غواړي څوک څوک مرګ غواړي له ژونده
شاه له زهده زاهدي کا خود ساقي له رندو رنده
چرې غم چرې ښادي شو[5] چرې بن ور شوه چرې بنده
څوک پیوند شو پرې وکي پرې وکي څوک څوک ووته له ګنده[8]

مېرزا ذوق په فقیرۍ کړه
فقر[9] ښه لویه ملسنده

چې دا هسې ناامید شوې له مقصوده ددې حال حاصل دې تېر نه وُ بیهوده[10]
د قدیم چارې چې دې هسې به تل وې د اول قسمت مې دروېمي تر خلوده
د ولاک له معنی ولې خبر نه شوې دا فلاک ودانې څه ګڼې مردوده

ACKU

له جهانه وخپل ځان وته نظر کړه — د وجود حیات به ووینې موجوده[12]

ځان جهان مې دیوه په هستۍ هست دی — بې یوه مې دواړه کونه دي نابوده

په دا هستۍ کور څوک څه لره نازیږي — چې له ځګه له ایرودي یا له دوده

چې ابلیس د اور په اصل ښېوه وکړه — تکبر یې مغزې مات کړ له سجوده

د درست عمر مشقت یې هبته شه — یو د کبر زیان یې زیات له واړه سوده

تل خوارې یې په خوارید باندې زیاتیږي — هر بنده چې روې ګرداڼ شي له معبوده

نادانانو باقي سود له لاسه ووېست — د فاني خوښې یو څو روځې معدوده

د دانا د وړاندې لهو لعب څه دې — د هلک تر فهمه سره لمبه کوکو ده[13]

ناتمام اهل تر اوسه پکښې سوزي — د غم اور چې افروخته شوله نمروده

د اخلاص په عالم ولې دخل نه کا
د معنې په زور یې لاس دی له جنوده
مدام نغوته د ښېګړې و سرمایه[14] ده
د نیک خواه نصیحت تل نغوته[15] مسعوده

د میرزا چې د اخلاص حلقه په غوږ شوه
د ایاز په دود یې ذوق دی له محموده

ACKU

ړ

شیرین یار په خوب اوده مه شه تر ځنډه
چې نفس مې یې پر یاد پورې دې ګنډه

بیا به دیدن یې حیاتي دې پرې پایمه
په حجاب مې دړوندون سهم شي لنډه

د آشنا بېلتون مې مرګ معنوي دی
لکه نپوډ د تازه کښت واله کړه خنډه

د هستۍ نوم به څو باندې باقي وي
د دریاب او به چې وګرځي له ډنډه

د صفات اَستوګه کله شي بې ذاته
یخ بلبیه واوره نه پاتې بې ټنډه

په هر وقت چې د تلاؤ او به شي کمې
پر ماهي باندې دا خپل صورت شي پنډه

چې دا هستي باقي ځان درڅخه پاڅي
د فنا په څوړ به دروې لکه ګنډه

چې چراغ د معرفت پکښې بل نه وي
دا صورت توره تیاره خالي ګوډنډه

په ظاهر صورت که هر څو ښايسته وي
کم دلیل لکه بې باره ونه شنډه
په دا حال به د نفس آشنا پوهېږي
چې په زور باندې اګر سیزي یا جنډه

ای میرزا که غیر وجود له میانه واخلې
د وحدت وته څرګنده لار ده منډه

ذ

حیاتي زما د ځان ئې اې تر ځان پر ما لنډینه
ته هستي د کل جهان ئې تر جهان پر ما لنډینه

وهرچا ئې د سپېڅلې هرچا نه ئې سپېڅلې
د ایمان ځائې دې نیولې تر ایمان پر ما لنډینه
د جنت دېدن به څه وي چې د استا دېدن ئې نه وي
ستا آرزو مې زړګې وړې تر جنان پر ما لنډینه
د جنان صفت به څو کړم چې ته نه ئې نور به سو کړم
تا بلبل په رنګ و بو کړم تر بوستان پر ما لنډینه
بوستان زړه د عابدانو بنه جنت د زاهدانو
او دیدن د بې نشانو تر نشان پر ما لنډینه
ته بې مثله بې پایان ئې تحقیق شوې بې پایان ئې
په هستۍ تر هرچا کان ئې تر هرکان پر ما لنډینه
بیا ژوندون د کل عالم ئې د همه ژوندون یو دم ئې
معرفت د دې آدم ئې تر عرفان پر ما لنډینه

ACKU

د جمله هستیېه کان ئې رسېدلے ځان په ځان ئې
چرې پټ چرې عیان ئې تر عیان پر مالندینه

یو آواز دے په څو شانه دے محیط دے بې نشانه
بې نشان له هره شانه تر هر شان پر مالندینه

بې نشان ئې په هر شان کښې پسو پټ ئې په عیان کښې
ته معنا ئې په بیان کښې تر بیان پر مالندینه

زه به څه وایم له چانه یو صفت دے له وحدانه
میرزا نه پائي بې جانه اے ترجان پر مالندینه

ACKU

ر

ښهٔ وقوف يې د دانش په تنسته دړ
چې په د هر هنر يې يو دليل سره دړ
د ذرهٔ حال يې د مثقال له اهله ګوښې
محبت يې له محبوبه پيوسته دړ
د محبوب صفت تمام و ښلے نهٔ شم
ملاحت يې وار د حسن په مزه دړ
د جمال جلوه يې زياته ده له روځې
بيا د تورو زلفو زيب تر توره شپه دړ
د ابرو يې په مثال کړه کشا کړه
او شينکو تے خال يې لا نوره فتنه دړ
عجب قد يې ښائسته تر سهي سروې
په دا ښهٔ صورت يې يو ن په کرشمه دړ
د آفتاب ويل، ليدل اروپدل چرې
يا قمر په نفس کوم مرده زنده دړ
د وصال په هوا الو تلے نهٔ شي
ګمان کله د يقين په اندازه دړ

و جاهل وته د جهل حصار نه شي
رو عالم ئې د خپل علم په پرده در
آشنايي د يکتايي تر ځايه ورو
چې په لوئ باور ئې محوه دا همه در

کله مېرزا کا د مسکين په صفت[3] فخر
جمعيت ئې د کثرت په تفرقه در

---

[4] په بار بار مې په خپل يار شي مينه ډېره
د آشنا مينه تر کل جهان راتېره
د يار ياد بله ډېوه په زړه بلېږي
د صورت کړده په ده باندې چوپېره
د ظاهر د باطن څونه تفاوت دے
د ريا ښېوه ښائسته لري برسېره
تورۀ شپه په رڼا روڼه پورې جاروځي
له مېوې سره اغزي لري دا بېره
حق باطل وبله نژدې څېله جدا دي
د بېرې پېش ندکلي بويه له بېره[5]

ACKU

پر یوهٔ خاطر د دوو مینو ځائے نشته
چې یوه پرې باندې پریملي بله وهېره
د هجران اندېښنې هېڅ را ښځه نهٔ وي
د خپل یار په وصلت هسې وم دلېره
اوس مې هر زمان د بل زمان قاتل شهٔ
دا لطیف نفس تېره دے له شمشېره
ترو به څهٔ لره د تېر ساعت ارمان کړم
چې اول مې فکر نهٔ وکړ سوېره
له یوهٔ لورې مې یار سینې بل خلق
زهٔ لا نهٔ یم د خپل یار په مینه سېره

اے مېرزا روښان جلوه کا په هر لورې
د تبریز آفتاب را وخوت له نمېره

د ذاکر چې محبت شهٔ له مذکوره
په دا ذکر ئې پرده شوه له زړهٔ دوره
د گمان حجاب ئې لرې شهٔ د وړاندې
حقیقي محبوب ئې ولیدهٔ حضوره

دا بې حده بې حسابه بښائسته ده
تل له ذوقه له هوسه له سروره
دا د مخ[8] جلوه يې زياته ده تر روحې
او دا زلفې يې رواج ورېې له دېجوره[9]
هر نظر يې د معنئ ناوکي وولې
سپين مرونه يې د باور وكښلي توره[10]
له يک رنګ سره يې ذوق و تماشه ده
دا دو تاپه لوے سپهر كاله سروره[11]
كه يو ځل په سادګه خپس څرګند كا
په بښائست يې نه پېښ ىرشته نه يې حوره
چې له هسې محبوبا يې آشنائي شوه
د خپل شكر حق يې بيا مونه له شكوره
كل لذت يې دخندا په اجر بيا مونه
يو عجب قصر يې خپل شه بې قصوره[12]
د ګمان جامه يې واړه په اور كښېښوه
د آمان علاج يې وكړ له نشوره
كل هوس يې د آشنايه غم بدل كړ
د يار غم يې رهبري وكړه تر سوره[13]
چې يې تن له فانې خويه ځان فانې كه
[14] واصلان به يې اوس و بولي ذي نوره

ACKU

په وحدت کښې د دویم خبرې نښته
د میرزا اصل د پاک روښان له نوره [15]

اې په ځان له خپله ځانه بې خبره / ته معنی له معنې وغواړه بشره
د ایمان له روښنایي خبر زده کړه / دا د کفر تیاره پوسه تر سحره
له ګناه و طاعت وته روان شه / د غه لار ده بې اند وهه بې خطره
د اخفی ذکر چراغ د حقیقت دی / د کامل له لاسه بله ډیوه دره
که چراغ د معرفت دې په زړه بل شي / د ړوندون لذت به مومې سر د سره
عارفان د دواړو کونو ننداره کا / شوپرک په تیاره ګرځي بې نظره
نابینا د ننداښته له حاله څه زده / د آواز معنی به څه غواړې له کره
یو په یو به د هر قام په ژبه پوه شې / که د زړه غوږ دې شنوا کړې مبصره
د صفات په عدد ونو غلط مه شه / او د ذات اصل تر ذاته پورې وره
فاصلان له خپل وجوده په عذاب دي / د فانی ویره به څه شي له ضرره [16]
هر واصل چې له فانی خویه فانی شي / د بقا معنی یې راوړه مقرره
د کثرت په انبوه کښې یې سفر که / د وحدت په دیدن راغې تر حضره
دا میوه چې په خپل بناخ پورې پخه شوه / د کمال دعوی یې وکړه مختصره
که هر څو دې په لویه نهایت نښته / په خپل ځان کښې دې تمام وینم شجره
له اوله دې بنیاد له ما زرغون شه / د مقصود چاره په ماشوه موخره
د شجر له لوري هسې ځواب وشه / چې تا رنګ او خوند له چا موند ثمره

له يوې روڼې يوه مېوه پيدا شي — او مېوه ئې کال په کال شي مکرره [17]
تر و دلې وته ځواب د اوڼې بهه دے — کهٔ و ېنا ددې مېوې ده معتبره
(دا) له مغزه هيڅ غله نهٔ زرغونېږي — څو د تخم غله نهٔ کړې مقشره [18]

د نفر په خپل صاحب پورې عزت دے
د صاحب صاحبي نهٔ شي بې نفره
د مېرزا خيره و غواړه په زړهٔ کښې
کهٔ د زړهٔ تخته دې نهٔ ده مکدره

دا زما خبره ونغوږه اے وروره — تهٔ يو ځلې د کالبوت اوړنه وکوره
بند په بند کړه وږه ده سرتا پايه — هيڅ پرې هيڅ کره کره ده لور د لوره
نهٔ يې ولې نهٔ يې پا نهې نهٔ ګلونه — د غه هسې ونهٔ مېوه لرې نهٔ سوره
برهمن چې وصورت وته نظر کهٔ — لايقت يې بل څهٔ نهٔ لرې بې اوره
کم دليل له حقيقته خبر نهٔ دے — د مجاز پرې باندې شپه شوه تکه توره
لکه روح د جبروت په مقام راغے — په کامل کښې ئې نظاره وکړه په زوره
چې يو ځل له خوبه پا څه ننداره کړه — د غفلت له پاره نه زووې له موره
د دې روح له روښنائيه خبر نهٔ شوې — اے د زړهٔ په غوږ وګوره په سترګو کوره
تهٔ زما په هستۍ هست په ما کلام کړې — بېهوده دې د ګمان اتن پېښنه نوره
دعارف چې د صورت له خوبه ومر — په معنیٰ کښې خپسر خلاص ونې له پوره

اے مېرزا په زړهٔ هوس کا تل ترتله
چې په خپله محبوبا دې شوه غمخوره

---

[19] چې وماته نصیحت واېي په زوره
ترڅو زیاته چاربه نهٔ وي بله نوره
د آشنا په مینه ځان جهان شیندمه
نه چې ځان ساتم له ننګه له پېغوره
د ستمګر نامه په ما بانديې صحیح شوه
خلقه راته توليږي لور د لوره
دا شيرين آشنا زما د سر دا ونې وٌ
چې پر ما باندې ډېوه وه ددهٔ سیوره [20]
اوس به څهٔ د بېګانو سَنَتي [21] کړم
د خپل یار په مینه مست ومه هرکوره
زهٔ مدام د یار په مینه بناګسته وم
اوس نیم کړے کبنېده یم بې انځوره
نوراني چتر زما له سره پرېوت
په ویران ښهر کښي پاتې شوم سرتوره
تر آشنا پورې مې کل عیب وهنر وٌ
اوس به څوک رځم د خپلې مینې چوړه [22]

ACKU

له خپل یاره سره ماله سوختن نهٔ دے
نهٔ په تاؤ چې د هجران سوزم بې اوره
کهٔ ته زړهٔ په ما سېزې له ما ګوښه شه
کهٔ تېره اختیار دې خو بس وې راته ګوره
د هجران تر ژوندون مرګ ماله ښهٔ دے
ښهٔ علاج د خلاصېدو کړم له دې پوره
په ازل مې د قیمت برخه د غم وه
اخرین میراث مې دا مونده له موره
اے میرزا د جارو تو فکر مې مه کړه
په تمام اختیار وتلے یم له کوره

۲۳

اے مدام و ما حضوره — ته ناظر زړهٔ دې منظوره
کهٔ و ما و ته وګورې — سر به وویني له نوره
زړهٔ تر و تا نژدې یم — بیاله تا په تا مستوره
د یقین په تخت جلوه کړم — د ګمان له زړهٔ مهجوره
په غافل باندې تیاره شوه — په دا نور خلقه پوره
څو دا شک دې باور نشي — خلاص به نهٔ شې له ضروره
په کثرت کښې تاربه تار شوې — له ما څخه له ما دوره
له دې حاله خبر نهٔ وې — نا اُمېد شوې له غروره

ښهٔ اتر د یګانګیه | چې عسل شي له زنبوره
د پولاد له یک جهتیه | میان آرسي شي مخ يې توره[24]
تهٔ بادشاه د ولایت يې | د هلک کُلي مزدوره
د نسب په ښتنه نشته | چې آواز وشي له صوره
کامل کاشف الارواح دے | هم خبر دے له قبوره
د درویش خبرې دُرّ دي | نن يې موج کا له صدوره

میرزا مدح د ذاکر[25] کا
ذاکر نهٔ دے چې مذکوره

ځوک په ځهٔ واڼي اے وروره | د چې نیاز بادشاه له زوره[26]
د کثرت په بازار راغے | عجب کېل کاندي سر توره
لږ پرتو يې د مخ وشهٔ | خلقه سېزي چې اوره
په تعجیل طالبان بولي | لار يې بنده کړه لور د لوره
مخ يې پټ کهٔ له غافله | بیا فرمان کا چې ماګوره
دے پخپله خپل حجاب شهٔ | غافل ځهٔ زده له بېوره[27]
د ګمان په لومه کښېښوت | د رمېد غله سمسوره
پرون تېر شو نن[28] اوده دے | د فردا وعده تر ګوره
د عارف نوم يې سعید که | هم پخپله شو غم خوره
چې د زړهٔ سترګې يې ورکړې | غم[29] يې وغورځه پرسوره

تل دیدن کا بې جهته — دے بنده دے چارې نوره
چې له شاه سره آشنا شۀ — خلاص به نشي له پېغوره

میرزا وخت د نوبهار دے
تل د رحم اوور پرې ووره

کۀ یې وویني په خیره[٣٠] — دا د دوارو کونو میره
په وحدت کښې یګانه ده — بې شریکه بې نظیره
کثرتې ښکرې جوړ کړۀ — ګه بادشاه ګهې وزیره
دا ژغرویه د هر ګښت ده — هم د هر حیوان اَهیره
چې نظر ئې په محبوب شۀ — زړۀ مې ووت له تدبیره
نور عالم پخپله لار ځي — زۀ یې بیل کړم له بهیره
د استاد کلام رښتیا[٣١] دے — صحبت نۀ دے بې تاثیره
(چې) د عشق په لومه کښېښوت — بند ئې سخت دے له زنځیره
په دا بند کښې ازادي کا — د خودبین خودي تغیره[٣٢]
محبت د دۀ زندان شۀ — زړۀ یې لوے کۀ له سریره
څوځوانان ئې رسیده کړه — کل ځوانان دي له دې پیره
خلق طمعه له بادشاه کا — بادشاه خواست کا له فقیره

میرزا اَ من هغو بیا موند
چې هوا یې کړه اَسیره

ل

دا مستي دې له انګور ده يا له تاره
څو عادت په عبادت مبدل نه کړې
که په دا وينا دې قطعي باور نشي
په طلب ئې ترديد نه پوره ورشه
اے حاجي له پته بخته سيالي مه کړه
که په رسم د رسمو پسر وي کړې
که ريا دې دا خلاص په ميته پر عملي
د جليل کعبه په تا کښې ده سا زلي
عجب کان د بينايي د شرم[۳] اوهو بس دے
چې په حال له حقيقته خبر نه شوې

چې وتے نشې د خپل عادت له باره[۱]
حقيقي محبوب به نه مومې و لاړه[۲]
په جهان کښې تجربه کړه ويې غواړه
په خالي نيت به دې خلاصه نشي غاړه
څو د کور مېړمن و نه وينې مه ويا ړه
د رپوهېږم خپله چار به کړې بکاره
تر و ښادي د رڅخه ولښه پسې زاره
د غفلت په خوب دې خوښه کړه اوجاړه
ستا د زړه دانائي څه شوه چرته ولاړه
د مجاز پوزے[۴] تهه کړه ويې نغاره

يخ که هر څو مناره پر بله پاس کړې
په ډېر ډېر ترتيب که ورشي تراهاره
دا جامه د عاريت دې تل به نه وي
د خاصې لمن به څوڅکوې له جاړه
اے مېرزا له مرګه وړاندې مرګ دغه دے
که دا خپله رضا ولښې پس واړه[۵] ه

نن مې ولیده ولاړه — ښائسته تر جهان واړه[6]

لږ پلو پر مخ نیولی — خوله برمنده کښې ښوان باړه

د ناسوت په کېل ئې زړهٔ وُ — چې یې وکړهٔ کونه دواړه

په وصال پسې هجران دے — چې آشنا شي د پرمه ویاړه

چې تهٔ سمه له شها کړې — زړهٔ وکاږې څنې لواړه[7]

کهٔ د ښتیا یې طلب کار یې — اول دوه کونه ونغاړه

کهٔ سهي پر شاه عاشق ئې — جریده شه ویې غواړه

کهٔ دیدن دې روزي نشي — پر افسوس ورپسې ژاړه

چې آشنا راسره نهٔ وي — نهٔ به څمه له پساړه

آشنائي څره بوهار شو — د خزان امثل په غاړه

په مېنه زرا باندې قسمت دے
لاس پر تېغ ورته ولاړه

اوس له حقه التماس کړه — تهٔ نسیهٔ[9] سودا په لاس کړه

د غفلت له خوا به پاڅه — د حق یاد په هر انفاس کړه

شک ثاني کړه له زړهٔ لرې — د یقین باندې اساس کړه

د ثواب عمل دې داد سے — تهٔ نفي فاني لباس کړه[10]

د گمان حجاب محکم شهٔ — نن ئې غوڅ په دا الماس کړه

کهٔ د روح ازادي غواړې — ووس بندي نوس[11] خناس کړه
ځې اختیار دې دے له دسته — نن ربښتیا له کذبه پاس کړه
لکه تشَله دې په لاس شوه — نیک وبد وبله قیاس کړه
مقصود دُرّ دے په دریاب کښې — غواصي ځې بې وسواس کړه[12]

ځو په عامه بندګي ویاړې[13]
چار د خضر والیاس کړه
د میرزا کلام صحیح دے
پس روي د حق شناس کړه

ACKU

ز

که خبر شې د محبوب له پټه رازه   یو زمان به خالي نه شې له نمازه [1]
شاه په ذات کښې یګانه دے بې شریکه   په صفات کښې یې ثنا په څو الفاظه [2]
حقیقت یې د کامل په نظر کښېښو   کثرتي عالم دفتر دے له مجازه
معرفت د ذات بې حده لوے دریاب دے   چې نشان یې لیدے نشي بې آوازه
دانشمند و یې پایان موندلے نه دے   عالمان یې خبر نه دي له آغازه
چې هر موج یې بې حسابه خون ریزي کا   او څپه یې ګوښې ګوښې جان ګدازه
که ته دا لافه درندې کړې په رښتیا   په دا هسې دریاب کښېښوزه بې جهازه
کمین شرط د عاشقۍ یې خودغه دے [3]   چې اول قدم له ځانه شي بې نیازه
چې څو قطعي پخپل ځان بازي ونکړې [4]   په سودا به دیدن نه مومې بسنازه
په رفتن کښې له نشیبه ناچاري ده   که سالک یې ویره مه کړه له فرازه
په دا خام هوس به وصل روزي نه کړې   چې بورا غوندې هر ځاے ګرځې غمازه
دا همائ له خپله خویه قیمتي دے   د آزاد تعلیم به څه اخلي له بازه
دے محمود په صورت ډېره کمیني کړه   چې حاصل یې معرفت کړه له ایازه
کم دلیل چې د جلیل طواف ونه که   بې دیدنه بیا رته داغے له حجازه
که مقصود یې د خپل مخ ننداره نه وے   د انسان جامه یې څه لوه کړه سازه
درست کلیات [5] به د باطن په سترګو وینې   چې خبر شي له دې حقیقي پس وازه

دا فقیر میرزا قانع پنځیل قسمت دے
د عاشق برخه مدام له سوز و سازه

کامراني کا په جهان گردن فرازه — همت ناکه، دلاور، بلند پروازه
خودپسنده خودپرسته خودنمایه — شهسواره، هوسناکه، بې اندازه
بختوره دولت منده، روزیس که — گردن کشه، کبرجنه، بې نیازه
تل بې باکه، بې تکلیفه، بې وفا ده — هنرمنده، اختیارداره، جان گدازه
شیوه گره، خنده رویه، طربناکه — طلبگاره، ناقراره، ځره آزه ٦
د مجاز د کارو نونو پرې گذر دے — لکه وي ارته بېړیه یا جهازه
د دخول او د خروج حساب ئې نشته — لکه سرائې دلوېې لارې بې دروازه
تل بې ننگه، بې ناموسه، بې حجابه — قابو چینه، آزموده، زبان درازه
زیاتي گویه، دروغ جنه و عیب جنه — د همجنسو تر نظر ده نېک آوازه
پرکم او صلو ځر ببنت هیڅکله سازنهٔ دے — له مستېیه سبب عتي کا ندي آغازه
ناریته و میراث راونیوهٔ له تنځو — له ناکامه ددې هم ورسره سازه ٧
پښتني په بې عقلو ورځر گندېږي — چې په هسې رنگ بدعت نهٔ دي پروازه
له زیاتي طربه عیشه بې بهره دي — هغه چاره په ضرور کا چې جوازه
که په حال ئې شک گمان د بدو وشي ٨ — په ناموس ئې مېندې خوېندې شي غمازه
له ناکامه ساده چارې په ادب کا — نهٔ دلال نهٔ مشتري وي نهٔ بزازه
او دنیا په جهان ځکه ځرگندېږي ٩ — تفاوت د پاکو کوم دے له بې لمازه

د بد بويه بد بويي به پټه نهٔ شي — کهٔ په ډېر لباس ئې نغاړې لکه پيازه
کهٔ آزاده په بازار کښې آموخته وې — کهٔ پر تخت باندې يې کښېنوې نارازه
دا ميرزا ئې له نظره ډېر ويرېږي
چې پوښلې ستر ګې ګرځي لکه بازه

سامعان چې سماع کاندي له قبوزه — د ساقي پياله خبر کړل له رموزه
منقلب د ناز[11] په سپوري فراغت دے — بې سايې بربنډ[12] خبر دے له تموزه
چې د عشق په مثل اور ورباندې بل شه — تر نامده زړګي يې تل خېژي د دوزه[13]
او چې لګے تمام د سوو د پاره بنهٔ دے — په رضا شي تانده نرمه لښته کوزه
کمان ګر چې هنر درست په لينده تول کا — په بلوت[14] ئې اول واز مونئ بې نوزه
مرغولے تربناک[15] باز په لومه کښېنوزي — په قيمت ئې سيالي چرې شي له چوزه
کهٔ سفر د طريقت دې لا بدي وې[16] — په تعجيل د طبيعت له سرايه ووزه
کهٔ عادت پر عامو عينې عبادت دے — دا شيوه ده پر خاصانو لا يجوزه
هره چار له ځېله وخته سره زيب کا — د ځوانئ هنر به نهٔ شي له عجوزه
نهٔ مزرے په ډېر قوت ترسرې ښه دے
نهٔ سرې په کبر زيات شينه له يوزه
اے ميرزا تکيه د خدائے په معرفت کړه
د مولا معرفت کنز دے له کنوزه !

زهٔ دې تل وېنم د ماساقي دلسوزه — چې دشیشې رڼا دې زیاته کړه له روزه
د صورت عالم که څهٔ ښائسته دے — د معنیٰ زیبائي زیاته ده هنوزه
د دنیا توانګر واړه ګدایان دي — اے غني د معرفت ګوهر اندوزه [١٧]
عارفان دې پخپل علم ښائسته کړه — او د دم نشته د هرزنده په پوزه
ته به بار د امانت زغملے نهٔ شې — د صلاح په لار څوک څه نو آموزه
بې محنته به راحت له لاسه نهٔ کړې — د څس بهشت واژده [١٨] دې ویلې کړه له غوزه
او بس ورسے د خپل همت په قدر اخلي — د خوراک توت [١٩] ئې قیاس بویه له ځوزه [٢٠]
لوئے کامل د دواړو کونو پهلوان دے — په مدد ئې قافله تر ځایه بوزه

که صراط پر کم دلیلو توره شپه دے
د مرشد دلیل دیوه ګنه افروزه
عنایت د لوئے بادشاه راباندې وشهٔ
د عارف [٢١] په خاطر نوے شوې نوروزه [٢٢]
چې دا هستي برابره نیشانه ځي
د مېرزا غشي د پیر کامل له لوزه

زهٔ عجب یم له عابده سحر [٢٣] خېزه — چې د دین لقمه یې نهٔ وي بې پرهېزه
مېخانه ئې لکه عینې بتخانه ده — حریفان ئې لیدے نهٔ شي له ستېزه
وساقي وته یې قهر په څهٔ شان کئے — چې ګرمي یې ده د اور تر لمبې تېزه
د مطرب آواز پرده باندې نوحه ده — [٢٤] صراحي په عداوت لکه خونریزه

د سماع پر اهل څشکله ضرور ده — چې له دې علاج ئې نهٔ وُ بې کړ پېژه
له بازاره وګلزار وته ستانه شوه — خپلې چارې په خلوت کښې کړه انګېزه
له قضا عايس و باغ وته روان شهٔ — د بوستان هوا ئې ياده شوه ګل بېزه [25]
عجائب حزين [26] آوازې په غوږ کښېښوت — چې د عشق ناره ئې وکړه درد آمېزه
په وړومبې اثر له عقله بېګانه شهٔ — د واړهٔ [27] د نړوکې څڅهٔ دې له کارېزه
له نفاقه و اخلاص وته روان شهٔ — د ريا جامه ئې ور وړه تو رنګ رېزه

کهٔ بهنه ئې د باغبان تربيت سنهٔ وے
د غه هومره فيض [28] به چا موند له پالېزه
رسېده درويش هغه يللے بوبه
[29] چې په در حيات خبر له رستاخېزه
اے مېرزا هستې حجاب دے د خود بينو
وکامل وته نيستې کړه دست آوېزه

س

کهٔ ستا وېره شي په ځان کښې له مواسه — تل و زړهٔ ته پهره دار شه له وسواسه
ملا د نوس په مېرڅه وتړه استواره [1] — په نرمئ به سود يو نسې له خناسه
ترغمناکه ژوندون مرګ درسره بهه دے — چې په کور کښې پښنو [2] نه شوې له هراسه
په زارئ په عاجزئ ئې غلط مهٔ شه — يو زمان ئې زړهٔ غافل مهٔ کړه له پاسه

ACKU

په دا جنګ کښې و بېدیا وته حصار کړه
د پرېشان خاطر له ملکه ئې وباسه
په اختیار د پاچهٔ و فرصت ورمهٔ کړه[٣]
په نفي اثبات ئې وله له انفاسه
ناتمامو عین د غین[٤] په دود وکښېنه
د ګمان نقطه ئې واچوه بې قیاسه
د مجاز محبت پل د حقیقت دے
د دیدن په یقین ووځه له لباسه[٥]
د باور په لیندهٔ هسې کمزورمه شه
چې نظر دې وتې نشي له پلاسه
په تمام فهم و ځان وته وګوره
چې په تا کښې نور څهٔ هم شته بې حواسه
د عارف خبرې واړه نصیحت دے
کهٔ د زړهٔ په غوږ ئې واروې حق شناسه
اروېدهٔ و عبارت وته بېدار کړه
کل رموز ئې په معنیٰ پسې جار باسه[٦]

اے مېرزا آب حیات دے په ظلمت کښې
مهتر خضر خبردار دے له الیاسه

ACKU

د فقیر خبره و نغوږه اے کسه — ته په دا حیات خبر شه له نفسه
که له دې شرینه دمه خبردار شې — د ژوند ون لذت به مومې یو په لسه
که مدام دې له دایمه سریکار شي — هم دغه فایده دې تل ترتله بسه
که په دا حیات له ذاته خبر نهٔ شوې — په معنی کښې ته یې کم له کمه خسه
هر نعمت به دې بښکله په زړهٔ در شي[8] — که یې ژغورې له مېن یوله مگسه
قناعت به دې هاله په زړهٔ قرار شي — که یک لخته حرص را لسې له نسه
خپل زړهٔ کے دې عجب باغ په مېوو پوره دے — ته یې خلاص کړه له دغه نزدې کرگسه
حق ترتا وتا نیږدې دے که باور کړې — ته دا خپله معنیٰ وگوره بې کسه[9]
د صورت په صفت ولې غلطېږې — له اوله مراد آواز دے له جرسه
د هوا ځانگونه مات کړه له پروازه — هم وزرهٔ ته په بهره دار شه له وسوسه
ته گمان د محبت پر طلبه کښېږده — په دا خوې به یگانه شې له قفسه[10]
دا رضا که د رضا و مقام ورسې — ستا اندوه به هاله ور شي ترهوسه
کل جهان به ستا له مخه مرغزار شي — ته بهار د ولایت یې د هند و سه
چې عارف له نن د ښکېږي مقصود بیامو — په یقین به لرې له ځې له جوسه
هر کله اے چې همنشین شه له مسکینه — په شرېد ې کړه و پېرو دله اطلسه[11]

دے میرزا خپله هیڅ نهٔ دې و یلے
د وحدت توتي آواز کا له قفسه

ACKU

زهٔ دې تل وینم زما د زړهٔ انیسه
کل حیات مې ستا د ذکر له تقدیسه

پر مشتاق باندې دې هسې زېرے وکړ
چې هدهد پر سلیمان کړهٔ له بلقیسه

کهٔ د دو سینې اختیار د فعل نشته
په کشش[12] یې څهٔ مجال له مقنا طیسه

د قلبې[13] نوې به (دا) درست ورځه پا څي
د کیمیا نظر چې ورېشي تر سیسه[14]

د ګمان له حجابونو به فارغ شي
و باور وته چې وو ځي له تلبیسه[15]

د عارف نظر تر دوا ړو کونو تېر شه
د هرچا معنیٰ یې ولیده تجنیسه

نن د روح و روښنا یېد وته پرواز کړه
د صورت په بند به څو وسې خسیسه

عاقلان به د ښو طمع څنې پرې کړه
شهزاده چې همنشین شي له سیٔسه

ملایک به په خدمت درلره در شي
کهٔ د پلار په مقام و درے دیٔسه

ښهٔ خیاط چې جامه جوړه په قد سکښې
دا میراث دُ رسید لے له ادریسه

تل تر تله مېر زا عید دې مبارک شه[16]
چې د نور جامه دې واغوسته نفیسه

ش

کهٔ اَشنا شي له ساده ساقي مهوشه
د توحید پیاله به درکا ندي بې غشه

په مستي کښې به له غیبه آواز اروې
د ګمان ورے دې واچوه بار کشه

دا کلي عالم د خدا ئے په هستي هست دے
دا کثرت یوه جامه ده منقشه

دګمان دسرو زور دربانديٍ وشهٔ ــ لکه يخ ددېو لطيفو اوبو رشه

ديوازې زرهٔ مې يو محبت بس دے ــ د دانا اندېښنه نهٔ وي مشوشه

اتفاق په يکانګي ردے کهٔ باور کړې ــ په يوهٔ وجود کښې زيد و عمرهٔ شه

بنهٔ را حت دقرار پيه يه دې خپل شي ــ کهٔ پرېشان خاطر دې راشه له [2] شه

کهٔ دشرک له بده چرکه خلاصے غواړې ــ په يقين درياضت په اور کښې يشه [3]

له صورته ومعنیٰ وته نظر کړه ــ د سيد [4] مرتبه راغله تر حبشه

کاملان کا د فقيس په نامه فخر ــ اوس ممنون په دغه هسې مرتبه شه

چې تل بحث دلدن پکښې جاروځي ــ د ديو هسې مدرسيو مدرسه شه [5]

تهٔ باور د خپل باور په نظر ګوره ــ په ايمان د ايمان دارو درجه شه [6]

په ساده جامه بېشکه قلندر يې ــ د ريا خرقه دې واچوه څرهٔ شه [7]

دعمل نامه به هرچالره ورشي ــ دقريش تفاوت څهٔ دے له حبشه [8]

اے مېرزا دولايت نښان [9] دغه دے
چې کثيف صورت روښان کا بې آتشه
کهٔ مدام دې له باقي راحته بويه
اے مېرزا دمسکينانو په تيه شه [10]

چې زما کله نظر په دا درياب شهٔ ــ د اوبو په څخ مې فهم پرحباب شهٔ

په رموز مې ئې له ذاته کړه پوښتنه ــ په خواب کښې ترم ترم [11] په شتاب شهٔ

ناپديد تو من په څهٔ رنګ پسې غواړم ــ لکه يخ چې پرتاو وېلے د آفتاب شهٔ

دا شبنم په گیا هوتو تار په تار وُ — چې هوا ویله و حَبېبنه سحاب شهٔ

چې سرو غرمو مدد ورسره وکه[12] — یو چند کاهه د آسمان په مخ نقاب شهٔ

له هوسه ئې آواز پر بله وکه — چې هر یو د هر یوهٔ د ځان[13] مضراب شهٔ

یو عجب د محبت یاران وريسې ي — چې د نسل[14] ونخیل اصل ته مآب شهٔ

دغه څاڅکے دوندهٔ[15] له پاسه را غے — په دا زمکه کښې گړ لے له تراب شهٔ

د گیا وددنې ولې زرغونه شوي — بیا دا اوم و پوخ په زیرمه د دواب شهٔ

لکه نم په گیا هونو کښې غزين ي — په دا دوه سرے هلکۇ پسې شاب شهٔ

چې اول په جیواند له قهنه[16] خلاص و — په کمال د عقل[17] فرض په ده کتاب شهٔ

مجذوبان[18] له سود او زیاته خبر نهٔ دي — د هرچا دانش راحت دے هم عذاب شهٔ

دا صد برگ د زړهٔ په وینو کښې پشین ي — د فراق او ښې ئې چې نوم ئې گلاب شهٔ

چې پتنگ د محبت پر لمبه وسهٔ — دا زمانه کے پر دهٔ باندې کباب شهٔ

چې هرڅوک به دا کوله غله لو کا — دا دلې وصل[19] کړده ئې ذیات حساب شهٔ

د عارف چې د باطن سترگې بینا شوې — د معنی له مخه لرې کل حجاب شهٔ

د وحدت په ځان له ځانه سربازي ده — د کثرت نوم ئې ارهټ که یا گرداب شهٔ

د ایمان صحت دلیل دے د بنسا د پیه — دا تاثیر ئې د مومن په زړهٔ خطاب شهٔ

لوے نښان د سعادت متابعت دے — هسې رحم د مولا کریم وهاب شهٔ

د پر خدمت د کاملانو کړے بویه
چې هر خواست ئې له خاوند مستجاب شهٔ
دے مبشرا بخیل مقدار کلام ویلے
د آشنا په نظر څرنگ انتخاب شهٔ

چې زما لکه نظر په خپل حبيب شهٔ
دا خاطر مې په آشنا پسې غريب شهٔ

دغه فکر چې د عشق په منبر وخوت
په آوازې تحسّر[20] گوره خطيب شهٔ

دا بلبل د لړې ولې ملامت کا
په فريادې له قريبه خپل قريب شهٔ

دغه گل چې حجاب وښوهٔ د وړاندې[21]
په فغان ئې له فراقه عندليب شهٔ

د صد برگ له رنگ و بويه کمې نشته
بياله څنگه يې تېرهٔ اغزې رقيب شهٔ

د هوس غمونه واړه لوړ په لوړ دې
له اوله د جهان دغه ترتيب شهٔ

د دې دور ښائسته لاف و وفا کا
د خزان په وقت ئې بيا گفتار تکذيب شهٔ

دا هر درد چې له قسمته رسېدلے
په علاج ئې درمانده دا تا طبيب شهٔ

دا مېرزا په خپل اختيار ملامت نهٔ دے
هېڅ د عقل مجاز نشته چې نصيب شهٔ

عجب وقت د برسات شهٔ
لهر لهر قطرات شهٔ

ذات بې مثله جلوه وکړه
له پرتوه يې صفات شهٔ

ښاخ په څهٔ پاڼې بې. بېخه
دا صفات دليل د ذات شهٔ

يو عجب حکمت ليدهٔ شي
چې دا مخ د غه مرآت شهٔ

کثرت نهٔ دے بې وحدته
پر و هميو طلسمات شهٔ[22]

(او) د دين بهره به مومي
چې فاني يې دا قنات شهٔ

چې له مرگه بېخوا ومړ
نور به نهٔ مري تل حيات شهٔ

د جلیل طواف ئې وکړه　　　ښه یقین ئې عرفات شه
نېک و بد په ځان کښې وینې　　　معرفت ئې عرصات شه
د دوو کونو ننداره کا　　　چې له زړه یې ملاقات شه
اے میرزا وجود فاني کړه
د ایمان دغه زکات شه

په هر زړه چې د آشنا د یاد گذر شه
په یقین له غیره پیوسته مقش شه
د غفلت په ناپوهۍ توره تیاره وه
د توحید ډیوه چې بله شوه سحر شه
کل ذرې ئې و دیدن ته آئینه شوې
په هر څه کښې یې د یار په مخ نظر شه [۲۳]
د دانا د زړه عجبه روښنائي ده
د آسمان د زمکې مخ پرې منور شه
په ظاهر مې چې څرگند واړه پوهېږي
او باطن مې له جمله غیبه خبر شه
په تحقیق به تر کماله ورسیږي
چې په دا لار ئې د زړه په پښو سفر شه [۲۴]

په رښتیا مې د رښتینو پسروي کړه
اوس مې ځکه په رښتیا یو کس رهبر شهٔ [۲۵]

د دې هسې بې بها حاصل د پاره
د کامل د ښو تلې د طالب سر شهٔ

چې مرده یې له نفسه حیات مومي
د درویش د صحبت هسې رنګ اثر شهٔ

د معنئ اهل په دا ژوندون پوهېږي
د صورت د عالم فهم پر بصر شهٔ [۲۶]

تل تر تله به حیات وي مرګ ئې نشته
چې له هسې رنګ ژوندونه بهرور شهٔ

هر سړے له خپله بخته [۲۷] بهره مومي
د ازل قسمت د هر چا مقدر شهٔ

اے مبرزا له پاکو پاکه وینا وایه
د مخلص کلام خالص دے معتبر شهٔ

ځکه عشق زما رهبر شهٔ | ستا په لوري مې سفر شهٔ
چې مې یار په نظر کښېنوت | فراموش مې بحر و بر شهٔ
فراغت پرې یاندې نشته | چې وتا ته یې نظر شهٔ
چې د ستر ګو پسروي کا | د زړهٔ خون ئې ما حضر شهٔ [۲۸]

تل به زړه زبېښلې ګرځي — چې دا درد پرې برابر شهٔ
رخصتي ده پرې حرامه — محبت یې لوی خطر شهٔ
هوسناک په آشنایۍ وُ — ځکه غم پرې مکرر شهٔ
د ښادۍ اصل یې غم دی — خپل قسمت یې مقدر شهٔ
مدام ژاړي د زړهٔ وینې — او س فراق پرې زورور شهٔ
بې دید نه به دوغ نشي — چې په شاه پسې روتر شهٔ
کل مقصود یې ځان بازي ده — پر دهٔ دروند دا خپل بشر شهٔ
د آشنا له ډېرې مینې — هوی مرګ په دهٔ اختر شهٔ
په آتش به هغه سوزي — چې له دې حاله خبر شهٔ
خوشبویي یې لور په لوري — په مثال لکه عنبر شهٔ
کل تماشې یې په دنیا کښې — درست مجلس پرې معطر شهٔ
چې د شاه د خولې صفت کا — هر کلام یې نیشکر شهٔ

میرزا وایي لوڼه لوڼه
چې یادګار یې دا هنر شهٔ

د خپل یار مهر دې ولې په زړهٔ سوړ شهٔ
وسکه زړهٔ دې د سوخته په مینه موړ شهٔ
په بلبل چې نوبهار وُ غوړېده
د خزان د ملبو ځخ پرې باندې جوړ شهٔ

ACKU

د وصال په خوښۍ څهٔ رنګ تسلي وه
په هجران کښې له جمله هوسه بوړ شهٔ
کهٔ د لو علاج یې نکړې وبه دړيې
د ژوندون زراعت ورسېدهٔ پر وړ شهٔ
ښهٔ دمونه په هرچا کښې په شماره دي
بې بها عمر نفس په نفس خوړ شهٔ
لکه یخ د سړو زور سره ستړ سلے
چې کړې مې پرې باندې زیاته شوه نچوړ شهٔ
د وحدت په یګانګۍ کښې شماره چرې
د کثرت په حساب تېر تر لک وکړ وړ شهٔ
د عارف نظر تر دواړو کونو وخوت
د دوبین نظر کوتاه وُ ځکه دوړ شهٔ
د تحقیق له فهمه لرې دے هر کوره
چې ګمان یې په یقین باندې مروړ شهٔ
چې ببرنګ یې د ببرنګ په سترګو وکوت[۲۹]
د مخلص له دله محوه کل اروړ شهٔ
پاک روښان[۳۰] لکه چې دے هسې به تل وي
او میرزا په ارواح ځوان په صورت زوړ شهٔ

ACKU

لکه عشق مې رهنمون شه — په آشنا پسې مې یون شه
چې مې یار په نظر کښېنوت — له جهانه مې زړه ستون شه
محبت یو زوره ور دے — چې هوښیار عاشق مجنون شه
چې د سترګو پېښ وي کا — کل خوراک ئې د زړه خون شه
د دیدن لذت بې حد ه — واړه غم د یار بېلتون شه
لور په لور غمونه را غله — دغه زړه مې مېښتون شه
څو یې زېرمه د علاج کړم — لابتر یې باندې افزون شه
د ښادیه پېک[۳] په غم دے — هسې رور دګرګون شه
دغه زړه به څه خوښي کا — چې اختیار ځنې بېرون شه
د فراق او ښې رازور شوې — دا سپین مخ مې پرې ګلګون شه

د هجران په تجربه کښې
د میرزا کلام موزون شه

ښ

چې لېدے شي د ناسوت خلقه پېښه — له مولیٰ په غفلت کړ څه[۱] کم اته پېښه
د دنیا په چارې پوه ترانده تېر ئې — او د دین په چارو نه پوهېږې هېښه
کم همت د مزدورانو مزدوري کا — عبث خپله چارې ناتمامه پرېښه[۲]
کل همت ئې په مجاز پورې تړلے — د لباس زېبایې زیاته شوه له خوښه

په ریا ئې د طاعت تخم تیار[3] کړهٔ
په پندار ئې دا شوره زمکه کړه کښېښه

تن پرست په د پرحرص په خټه ګړ شهٔ
پسونخو ئې پکښې چار وچې لکه مېښه

لکه څه نخېله مینه پکښې پس پوت
په نفاق به وتې څرې شي له سرپښه

د بېوهٔ د غافل هومره تفاوت دے
کله یو په بله غېږ کا بل په تېښه[4]

کم دلیل به خوب په څو په ئې غمځو کا
چې دا هسې پرېشانې پرې باندې پېښه

د رنځور زړګي علاج ئې قناعت دے
دهٔ دا طمعه پلیته پرې باندې کښېښه

د غه غېږې اند پښنې زهر قاتل دي[5]
اے مېرزا د زړهٔ پهروشه وېې زبېښه[6]

ص

څوک ئې چا وچاته څهٔ ګوري مخلص[1]
چې په ما وماته نهٔ ګوري مخلص

پر ئې مثله آئینه به ئې نظر شي
کهٔ د زړهٔ اصل په زړهٔ ګوري مخلص

دا د دوو کونو غلاف به څنې واخلي
ترو به مخ په مخ کښې وهٔ ګوري مخلص

تل ښادي به په ښادي باندې تازه شي[2]
مدام ښهٔ دیدن که ښهٔ ګوري مخلص

د یقین په نور به هسې دیده ور شي
چې ظاهر عالم به نهٔ ګوري مخلص[3]

پر بنده د څښتن هسې عنایت دے
چې دده دیدن په دهٔ ګوري مخلص

بېرنګي د بېرنګو په ننداره کا
و اوبو ته په اوبهٔ ګوري مخلص

د ښمېره بارانِ رحمت څڅي وريږي
چې په درست عقل او ده ګوري مخلص[٤]

شيرين عمر دم په دم د رنځه درومي
څو دروند داوبوتله ګوري مخلص

له اوله دې راتلئ له کومه ځايه
ځان دکوم مکان مارغه ګوري مخلص

له مېرزا سره به قطعي وفائي کړي
دا چې ځان دکړو ني کړه ګوري مخلص[٥]

چې سينه کا د غيرت له زنګه خلاصه
په کيميا هنر به زر شي له رصاصه[٦]

دګمان غبار به درست له ميانه پاڅي
تر ولطيف پر حجاب نه وي له نواصه[٧]

هميشه به عجب مخ په مخ کښې وينې
په باور کښې پرده نشي له خواصه

په نطق به د معنى قدر انداز شي
چې صفت به يې کم نه وي له وقاصه

لو د په لور به د بېد ارو زړونه ولي
په هېڅ دور به ويره نه کاله قصاصه

مخلصان به د نفاق له خويه ووځي
دا څرګندون به يې باقي وي له اخلاصه[٨]

په ښادي به يې د غم په غولي پرېمېلي[٩]
کل اشياء به وي دده په ذوق رقاصه

تر و به شي تخلقوا باخلاق الله
چې کرده يې په دا خوي شي اختصاصه

د دنيا د اخرت اهل به پر يېږي دي
په قطار به وردي له خاص الخاصه

تر و قرار به له قراره لره ورشي[١٠]
ص چې ور پېښي تر هسې رنګ مناصه

په ظاهر به د باطن په چار پوهېږي
د مېرزا وېنا پښتو معنى يې خاصه

ACKU

ض

هر طالب چې خپل فیض غواړي له فیاضه
له نور چا دې خپس پرې کا بې مقراضه[1]

پیر کامل به وده هسې تلقین ورکا
چې به خلاص شي د غفلتو له امراضه[2]

د اندوه په ځای به یې صبر مقیمي شي[3]
هر مومن[4] که امن غواړي له اعراضه

هسې زړه به پاکیزه تر ملکوت وي
په نباکست به نباکسته وي له ریاضه

هر کلام به د کلام په معنی وایي
د میرزا په دود له صاف زړه له بیاضه

که نوبني د ریاضت مومي رایضه
زړه به خلاص کړي د خناس له عوارضه

تل مدام به دې چراغ پر خاطر بل شي
که په فکر کښې دایم وسي خایضه

ذاکران چې نن په لا اله نفي شو
هم د الا الله په کوټ یې که فایضه

نور یې غیر یې اندیښنې ځنې فاني شو یې
چې د ذکر فیض یې بیا موند له فایضه

د ناقص عالم په رسم غلط مه شه
که امید کړې د کامل له فوایضه

عاقلان چې بې مرشده قدم نه ږدي
په بار بار یې احتیاط شي له ناقضه

مشرکان تر ناآشنا پورې بنیوه کا
د دریا اهل خجل دي له خایضه

د نادان زړګوټي حکم د رباط دی
چې یوه اندیښنه ځې بله قایضه

د شهسوار نامه پرتا باندې صحیح شو
چې د عشق براق دې وتېږنه رایضه

اے میرزا دخپل آشنا په نظر راوړه
که دے شته د حقیقت له فرائضه

ط

تل به نهٔ وي د دنیا فاني رباط — سراسر د غه امید وینم افراط
کم دلیل له خپله عمره خبر نهٔ دي — د نایان په حرص نفس کا احتیاط
ابراهیم غوندې ولي تر جهان تېر شهٔ — لا بهتر پیغمبران لکه اسباط
کهٔ په دا ژوندون خلاصے له غمه غواړې — له نا اهله سره مهٔ کړه اختلاط
درون ورے د امانت در باندې بښے — اوس چې وقت ته تلوار مهٔ کړه په اسقاط
عبادت چې له عادت سره نهٔ شي — دنګوري دید نخوړي نو دے انخلاط
سر په سر ئې جامه هله وبله ورشي — چې زیاتے کمے یې و سکښې خیاط
و هر حرف ته ئې هیچ ورکهٔ لونه لونه — او الف ئې په قد سم وکښس خطاط
چې نه هیچ لري نهٔ جزم نهٔ بنا نو نه — بیا خالص یوازې یو دے بې نقاط
یو بې نیاز له تعلقه منزّه دے — کل اشیاء نخښې د دهٔ دي پر بساط

اے میرزا د آخرت زیرمه د لې کړه
دا وثیل کړده دي ستلهٔ دې پر صراط

الف یو یوازې سم دے بې نقط — دګمان څو یو نه کل ځنې سقط
چې اول وُ هسې دے هسې به تل وي — دده خوی یې بدلېده نۀ لري فقط
له هر ځا سره محیط دے په هر څۀ کښې — عجب بې مثله بې رنګه بې حد شط
کۀ لاهوت مې ښائسته په ساد ګرد دے — بیا ناسوت پرې باندې رنګ شو مخطط
مشرکان چې خبر لۀ شوله مقصوده — دکثرت په حساب کښې دي غلط
دقلم نامه هاله په جهان وشوه — چې یې سرشۀ د استاد د لاسه قط
دا شهید چې به پرې کړے سر جا روځي — پر جهان نخښنه دده د ویښو خط
وخت په وخت ئې نوے نوے سر پرې کېږي — بیا بیا نوے نوے سر دي پر مقط
مُوتُوا قَبْلَ اَنْ تَمُوْتُوْا پرې پوهېږي — دا چې پس له مرګه څۀ وائي بربط
هر دانا چې په دا هسې حال ګویا شۀ — ترو ناپوه عالم ئې بولي (و) مخبط

اے میرزا په حقیقت د حق ثنا کړه
ښه پښتو وېنا عجب په دا نمط

ظ

هر طالب به له کامله مومي حظ — په توبه به له باطله مومي حظ
دغفلت له انده پښنو کۀ فراغت شي — دم په دم به تل ترتله مومي حظ
ددې ژبې یاد به ورولي تر نفسه — چې په پټ ذکر له دله مومي حظ
پاک خلوت د ذاکرانو به وطن کا — په عزلت به له غافله مومي حظ

چې دا هسې شغل بیا مومي له یاده
ترو په سویه اوس له بله مومي حظ

د هر ذرې مثال پېښې محبت تخم
دا نایاب به د کرله مومي حظ

چې د ذکر محبت يې په ذره پر ملي
آشنایان به یو په سله مومي حظ

په حیات چې له حیاته خبر نه وي
کم دلیل عالم به کله مومي حظ

هر یو رنګ چې د بې رنګ په نظر ګوري
په ګلزار به له بلبله مومي حظ

چې د تن[٢] له فاني نحویه ځان فاني کا
واصلان به له واصله مومي حظ

او دا روح به د مېرزا[٣] په هر صورت وي
ځان په ځان کښې به پخپله مومي حظ

دا خطیب چې کرشمه کاندي په وعظ
دے په کوم هنر بښوه کاندي په وعظ

چې په خوله خبره وايي عمل نه کا
چرې ځان به مسخره کاندي په وعظ

چې يې لار لیدلې نه وي رهبري کا
دنیا روح به توره شپه کاندي په وعظ

نصیحت به يې هاله په نور و خوب شي
که په خپل صورت کره کاندي په وعظ

چې وئیل عمل يې دواړه برابر وي
ترو به توره شپه ډیوه کاندي په وعظ[٤]

عالمان به په دغه دنیا روزګار کا
[٥] جاهلان به سره لمبه کاندي په وعظ

کاملان دوه و ستحد و چې زیرمه کاندي
نېک و بد به برهنه[٦] کاندي په وعظ

پر هادي د خاوند هسې عنایت دے
چې دلي[٧] څرګند هغه کاندي په وعظ

عارفان به د باطن په سترګو ګوري
دین دنیا چې ښایسته کاندي په وعظ

د ګمان له حجابونو به يې خلاص کا
پر لطیف ذره چې جلوه کاندي په وعظ

ای میرزا که ځان د پیر په امر نیست کړې
دغه نیست به ځان همه کاندې په وعظ

ع

د هر زړهٔ مثال ښتے وینم د زرعه
ځنو ځنو عرش الله که ځنو مرعه

عارفان په معرفت باندې قرار شو
ملوکان کا د لذت په طلب سرعه

د یقین په دیدن غیرې فکر نهٔ شي
د هوس په نغوته چرې وسي ورعه

د کثرت محبت جزو د وحدت د سے[1]
په تحقیق یې اصل ذات دے صفات فرعه[2]

ای میرزا زړهٔ به دې څهٔ رنګ آشنا پیرې
له ښیځو عیبو چې یو لرې په شرعه

---

[3]د دنیا په طلب څو کړې طامعه
له مقصوده دې دا طمعه شوه مانعه

د حرص لمبه یې لا تر اور بدتره
څو خوراک یې زیات وې هومره جایعه[4]

هر زمان یې نوے نوے غم زیاتیږي
د خوښې ذوق یې لا وینو له طامعه[5]

و هر چا ته ګوښې ګوښې کرشمه کا
کل عالم یې مشتري دے دا بایعه

نهٔ شداد یې خپل پندار په جنت کړ سهٔ
نهٔ قارون ځنې موندلے منافعه

عبادت یې د نفاق له اهله پټ کـړه
د عادت نامه یې کښېښوده شارعه

پر دا عامه لا دې لویه لومه کښېښوده
هیڅ دا تا څنې خلاص نهٔ شوې قانعه

ایماندار په قناعت باندې قرار شهٔ
چې پرېشان خاطر یې ور وړ تر جامعه

درویشان به سر تا پایه منوّر شي
چې د ذرهٔ په همت ورشي تر رافعه

هر چې خپل جزو یې فاني کړ کل به مومي
دغه پند دے له قدیمه منازعه

منفعت به یې و ډېرو وته ورشي
په حاجت چې فائده مند شي له نافعه

هر نفس د دوا پر کومو نند اره کا
په معنی کښې کړند ے څې له لامعه

په باطن په قدم تل پرې باندې کړ څې
که هر څو د ے عرش بلند کرسي واسعه

یخ کمان یې د توحید په نمر شي ویلے
هیڅ وسیل کړده یې نهٔ دي چې صانعه

دا تا خوبني په هسې رنګ بیان شي
چې معنی یې و معنی وته راجعه

کهٔ سجده د خدائے ولوري وته فرض ده
د کامل په لوري ګرځه د کعبه

د میرزا واسطه څو وینې په میان کښې
د ګویا په آواز فهم کـړه سامعه

د عارف نښان ښکاره دے لکه شمعه
راهنمائے او سربلند دے لکه شمعه

په هر دم چې مشته او باندې بلیږي
په خپل ځانے باندې پابند دے لکه شمعه

پر ساده څهره یې کړي اوښې درومي
بیا په سوز ګداز خرسند دے لکه شمعه

هر زمان یې نوے نوے سر پرې کیږي
بیا په نوي سر ژوندے دے لکه شمعه[٧]

د عرفان وعده یې و ورسته تر سره
د ښنا ابد و فا اند دے لکه شمعه[٨]

ACKU

له فاني سرايه لېرې دې پرباقي ملي / په نقصان تر کمال بند دے لکه شمعه ۹
دا د فقر جامه سکښتې په فقير دہ / په تن تيغ وته د جند دے لکه شمعه ۱۰
مُوتُوا قَبْلَ اَنْ تَمُوْتُوا پرې پوهيږي / چې څکلے د مرګ خوند دے لکه شمعه ۱۱
عاشقان لکه پتنګ باندې پرېږو ځي / تجلی مخ ئې کمند دے لکه شمعه ۱۲
په کوم کوم علاج به ژړهٔ څنې ساته شي / پچې ديدن د نظر کند دے لکه شمعه ۱۳

دا فقير ميرزا اشنا د ميا روښان کا
په دانش علم بلند دے لکه شمعه ۱۴

کهٔ د شفاعت اميد کړې له شفيعه / د مرشد په نغوته چار بويه مطيعه
وښېکړو وته اَمر په تعجيل دے / په دا هسې طلب بيړه کړه سريعه
عبادت پر نابينا و مشقت دے / اشنايان ئې خپله چار کاږي تصديعه
مخلصان ئې له تکليفه فراغت شو / کل وبنائې په کرده باندې تقطيعه
دهر چا رجوع و اَصل وته کيږي / کل ميوه له خپله تخمه شي بديعه
کم دليل عالم به څهٔ طمعه د بنو کا / چې اکثر فعل ئې بد و بنا شنيعه
تل عذاب ئې په عذاب باندې زياتيږي / چې نفاق کا له دانا او له سميعه
د زړګي په کښت حرص د توقع دے / سېراب کيږي له خريفه له ربيعه
قناعت د فقيرانو مسکنت دے / چې پرېشان دليل ئې ورشي ترجيعه

پر ميرزا د کاملانو عنايت شهٔ
چې ګفتار ئې مختصر معنا رفيعه

غ

زهٔ چې د یو د یو محبت کړم له ایاغه[۱] — د خوشبويه بوی يې را غی تر دماغه
دا زما دماغ يې هسې معطر کړهٔ — چې بلبل مې دېوانه شهٔ له سراغه
عندلیب چې هسې د یو د یو فریاد کاندي — د اشنا خبر يې بیا موندهٔ له باغه
سکه باغ چې په ګلونو ښائسته وي — د بلبل په زړهٔ يې کښېښوهٔ هومره داغه[۲]
عارفان د زړهٔ په حال ځېله خبر شو — له یوې د یوې يې بل کړهٔ څو چراغه
چې د یوه د معرفت شوه باندې بله — د همای اصل يې ګوښې کړ له زاغه
عجب خوب د محبت يې ورپیدا شهٔ — په دا درد کښې يې خبر کهٔ له فراغه
د محبوب عنایت ګوره نوی نوی — و عاشق ته څخ په څخ شو بې قناعه[۳]
چې عاشق له معشوقې سره ملیا شي — پرده نور څهٔ باري نشته بې بلاغه[۴]
محبت يې پر دا عقل غلبه شي — د دا نشه ویره يې نشي له ایاغه

په مېرزا د ځیلې مینې نوبهار شهٔ
په بهار کښې تماشه کاندي له راغه

ف

رسیده عارف تمام لري وقوف — ځکه چار کاندي په امر د معروف
حقیقت د کل اشیاء ورته څرګند شهٔ — د هر چا خوي يې وطن موندهٔ مالوف

د عالم قسمت وېشلې په ازل[1] دی — اوس هر څوک په خپله برخه دي معروف

د هر چا تر فهم خپل وطن کشمیر دی — ځان په ځان په خپله برخه دی مشعوف[2]

دیوه له یکانګیه ذوق پیدا شه — ترو کثرت شه د وحدت سره معطوف[3]

له لاهوته یې ناسوت په نظر کښېښووت — له یوه حرفه پیدا شو ډېر حروف

محبت پر معرفت باندې شیدا شه — له یوه الفه وینم څو الوف

د صفات استوګه چرې شي بې ذاته — یو الف دی په الوفو کښې مغلوف

منافق به له نفاقه وتې نشي — د ناقص ایمان په دوه لورې موقوف

د ناپوه د عمر هېڅ حلاوت نشته — د باور افتاب یې کښېوت په کسوف

له دې هسې رڼا ورځې بې نصیب شه — بیا د شپې سپوږمۍ یې لاندې کړه خسوف

که صورت یې د سړي نوی د حیوان دی — چې د علم عمل نه دی پرې مکشوف[4]

مسلمان په اصل یو په قدر ګوښې — ځنې ځنې بخیلان شو څوک عطوف

مومنان له مومنانو یکانه دي — عارفان په خلق الله باندې رؤف

که میرزا د مسکینانو ثنا ګوی شه
مسکینان دي په خدایي صفت موصوف[5]

د کامل وي مکمل حمید اوصافه — په تلقین یې زنګ زده سینه کړه صافه

هر ګمان باندې ده هسې آره کښېښووه[6] — چې صورت یې لیده نه شي بې شګافه

عجب صورې د معنی په عالم یو که — د یو ښې مجال به څه وي له ندافه

هر عارف باندې مې هسې رڼا روح[8] شو — لکه نمرچې و خېژي له کوه قافه

پرهر لور چې د معنیٰ په نظر ګوري / عام و خاص ور ته ګنديږي څو اصنافه
هر يو اصل به خپل اصل ته راستون کا / په دا روځ خطائي نشته له صرافه
و هر چا و ته به خپل عمل رسيږي / تر و هورې به نور څه نهٔ وي بې انصافه
نهٔ به هيڅ ذره حساب تر حساب کم وي / بارې نه به هيڅ نښان وي له اسرافه
هر چې مغز د اخلاص ورسره نهٔ وي / د مغرور په ځان بلا شوه خپله لافه[10]
په اول چې دې اختياره کمينې کړه / د تاوان ورے دې سپک دے بوريا بافه
په دنيا کهٔ هر څو لوئے شې لويي مهٔ کړه / که دې بويه د بزرګانو له الطافه
د استاد په خدمت سم لکه الف شه / د پېندار کجې دې لرې کړه[11] له کافه
په اخلاص د مخلصانو يګانه شه / او دوييې کړه و دوبين و ته معافه

اے مبرزا د زړهٔ يقين تر ځايه وره
تل دوتا اند يښنه مه کړه اختلافه

کهٔ دې زده شي د خپل اصل له شرفه / واړه چار به تر شريفو کړې اشرفه
کهٔ خاصه درونه بيا موڼې له کانه / د طلب لاس به کوتاه کړې له خزفه
بې کامله به مقصود له لاسه نهٔ کړې / لکه دُرّ چې مونده نشي بې صدفه
قيمتي عقل دې پاڅوه سړے شه / د غفلت په خوب حيوان يې نا خلفه
په ارمان به دواړه لاسه پر بل مږې / کهٔ دا ښهٔ ځواني دې هسې کړه تلفه
دغه نن ساعت در څخه غنيمت دے / د پرون اندېښنه واړه ده سلفه
په هيڅ دور به يې له لاسه کړلې نشې / لکه تير چې له اختيار ووځي له کفه[12]

د ظلمت له عذابونو به دې خلاص کا
که ته ورشې د دروېشو تر کنفه

د کامل د نظر هسې رنګ تاثیر دے
چې لوے لوے غرونه یې ویلې شي له تفه

د احمد[13] د بې حدې لویې وګوره
د دیدن حجاب یې واخیست له طرفه

کل عالم دې یګانه په هستي هست دے
غېبل خوې به هر یو شي له خپله صفه[14]

د وحدت توتې په کومه ژبه وائي
چې هر ځاے ددهٔ ثنا[15] له چنګ ودفه

وهېرزا یې د باور ناوکې ورکړهٔ
هېڅ ګوزار یې خطا نهٔ ځي له هدفه

و عرفان ته رسیده عقله شریفه
عاشقان دې بنائسته کړهٔ له تشریفه

عجب رنګ دې دبېرنګ په نظر کښېوت
د وصال په هوا والوتې ضعیفه

بنهٔ پتنګ چې وبل اور ته پروانه کا
پر سوزانه طبه پرېوت بې دقیقه[16]

دا نسته په محبت پسې روان شهٔ
د صورت حجاب یې واخیست له کثیفه[17]

په اختیار یې د دیدن تر اختیار تېر شهٔ
د دیدن حصار یې نشته له لطیفه

چې دا فهم و محبت وبله ورشي
توره شپه یې رڼا روڼ شي له تالیفه

د رو بیان ثنا په کومه ژبه وایم
هر آواز یې دلالت دے له تعریفه

ذ میمه یې په نظر حمیده کېږي
د صحت اثر یې تېر[18] دے له توصیفه

پر خاربه زړګي د رحم اشر نشته[19]
لوئے همت یې مددګار دے له حنیفه[20]

د دو بین دا خپل قوت د ځان بلا شوه
[21] د ګمان بار یې سپک وا خیست له ضعیفه

په معنی به د معنی اهل پوهېږي
د رسمیو سرو کار[22] دے له تصحیفه

ACKU

نادانې پس نادانو باندې بار شوه
دنایانو څېله زېرمه کړه خفیفه

د نفاق خرقه یې درسته په اوکښېښوه
د اخلاص جامه یې وا غوسته ظریفه

تل هوس یې په هوس باندې زیاتیږي
د اخلاص عالم یې وپوست له تکلیفه

مخلصان یې تر ایسر حلقه بگوش دي
ښه وېښا یې تل تر تله ده منیفه

المدام یې له مدامه سره ذوق دے
یو عجب حریف یې بیا موند له حریفه

واشناته د اشناپه رتبه وایي
ښه معنی یې له معنی سره لطیفه

په امید په بې طاعته نه نازیږي
بې گناه به ویره نه کا له تخویفه

رسیده فکر اوره د ښه بهار شوه
بې بها گوهر یې ووري له تصنیفه

عام وخاص کا د مسکین په نامه فخر
چې وېښا کرده یې ووایه دي حنیفه

د کیمیا نفس یې هسې رنگ تاثیر دے
چې میرزا یې فقیري کا له تصریفه

ق

د ازل قسمت ویشلے له میثاقه
مستحق له وړ دروي استحقاقه

فاني سرا یې د باقي سرا یې مزرعه ده
ده هر چا نصیب پیدا شي له اخلاقه

نور په نور میني دام یې غوړولے
بې حسابه زړونه نیسي اشتیاقه

محبوبه له غافلانو بې نیازي کا
پر مشتاقو تر مشتاقو ده مشتاقه

عجب بې مثله بې رنگه تنسته ده
آرزومند یې څېله راڅکول شواقه

کل گرانې په همت ناکو آسانې دي
سهل چار پر کم همتو باندې شاقه

شب پرک د نمر دیدن سهل نشي
تل په توره شپه هوس کاله محاقه

ظالمان له سمې لارې جار وتلي
د فرمان[2] عمل به نهٔ کیږي له عاقه

کبرجن له خپله کبره خوارې مومي
لکه پیسے چې لیونے شي له خناقه[3]

کم دلیل د تش پندار په سپورې اوچ شهٔ[4]
اوس د حلم نرمي مهٔ غواړه له قاقه[5]

لکه تاند د نو له زوره تازه کیږي
هسې اوچ نتیجه مومي له چقماقه

دیوهٔ کافر بچه په مرضا سو[6] خپځي
د صنعان د طاعت دېره طمطراقه

دین دنیا چې په مثال دې سره خوېندې
چې یوه په عقد کېنې شي بله طلاقه

ددې دوو وکړئیو صلح به ونهٔ شي
چې رضا چې گوېنې گوېنې مینه طاقه

څهٔ عجب په یوه کور کېنې هم خانه دي
له یوهٔ سره وصال له بل فراقه

مخلصان له دواړه کونه فراغت دي
چې دیدن چې روزي شوے له رزاقه

د دیا خرقه چې درسته په اورکېنېبنوه
په اخلاص کېنې ذره نهٔ وي له نفاقه

په وحدت کېنې د دویم حاکمې نهٔ وي
پیدا کړش د واړو خلقو له خلاقه

د یوه تر یوه زیاته شماره نشته
د فقیر میرزا حساب چې کړهٔ بې باقه

د عارف قوت چې ور بښي تر خرقه
په اخلاص به پاکیزه ووځي له زرقه

د دنیا د آخرت حجاب چې وا خـلي
د دوو کونو باربه واچوي له فرقه

چې څرګند او غیب ئې هیڅ ورڅخه نه وي
د څېره ویره پرڅه کېږي له سرقه[9]

د ماهي له او بو هیڅ اندېښنه نه شي
سمندر ئې پروا نه لري له حرقه

و عارفو ته تمام جهان میدان شه
چې نظر ئې ګړندے دروي له برقه

پر جنوب او پر شمال ئې قدم کېښود
په یوه نفس له غربه ځي تر شرقه

د کثرت قافله هر څو اٰبنوهه ده
د وحدت په دریاب وار په موینم غرقه

یګانه قرار[10] و هر چا رسیدلے
له هر چا سره تر مغز دے تر عرقه

اے میرزا ظاهر باطن که لوئے هلک[11] دے
په هستی کښې برابر دینه بې فرقه[12]

نابینا که هر څو ډېر ځي بې رفیقه
پخپل قیاس به خبر نشي له طریقه

هر څو لاس او پښې وهي پر بله کړځي
دګمان سالک به څو ځي تر تحقیقه

کم دلیل چې دباور آب بازي نه زده
بیا د شک ګرداب هر ګوره دے عمیقه

چې عالم ورته حیران حصار ولاړ دے
ترحد زیاته خلقه پکښې غریقه ۱۳

دظلوم جهول سزا ده خلاص به نشي
چې پر سر د جهل بار وړي بې شفیقه

زمهریر ځې له سردیه پیدا شوے
او ګرمي ئې تر جحیم ده لا حریقه

ترو په ګور او په قیامت به ئې حال څه وي
چې خوښي شوه په حیات دده تضیقه

د سفر به چې مرشد ه کړے نه شي
بیا له پسه فایده نشته بې تصدیقه

پر خلیل د عنایت معجزه ګوره
چې په اور سلامت لاړ له منجنیقه

د خلاص د اهل ځائے پر علیین دے
د بنده سیالي به څو شي له عتیقه

د کامل د صحبت هسې رنګ اثر دے
چې بنده یې ازادي کا له ترقیقه ۱۴

تهٔ هارون په دغه خپله پوهه مهٔ شه
د شفیق په لار به ورشې تر شفیقه [15]
هر پرانده د دنیا دوځې قدر څهٔ زده
د صدیق له قدر چا زده بې صدیقه
کل عالم دی وهٔ خدائے په هستی هست دے
مسلمان له اصله یو دے څو فریقه
اے مبرزا له اهله اهل فایده موي
دا پښتو وینا ساده معنیٰ دقیقه

ک

د مسکین دله هلاکه [1] — په دا درک له غمه وپاکه
هرچې غم ې ئې فاني کهٔ — د فاني نوم ئې بقاکه
باقي یو دے په هرڅهٔ کښې — لونه لونه تماشا که
تماشا کاندي پخپله — دا عنصر پر مخ ردا که
کهٔ ردا له مخه واخلي — ملک به لاندي تر تناکه [2]
تنا ختمه شوه دپیهٔ [3] — پڅې یې ووئیل لولاکه
د لولاک معنیٰ وګوره — کل حساب ووت له ژواکهٔ [4]
ژواک د هرچا په یو هٔ دے — د یکتا چار ده بې باکه

ACKU

يو بڃ ياكه زور ور دے   چارې نهٔ دي بڃ ادراكه
او ادراک يُې پاس پرتول شهٔ[٥]   بنده نهٔ دے چې خطا كه
روح بادشاه د هر صورت دے
ځكه حكم په مېرزا كه

دغفلت له رنځه ولې نهٔ كړې كړكه   اے عجب په صورت لوے په زړهٔ هلكه
لوړ په لوړي دهوس په نغوته ځغلي   دا خالي گمان دې درونه په يقين سپكه
ددې ځان له سود و زيان فراغت نهٔ يُې[٦]   كل مقصود دې په بيديا شهٔ پسې وركه
د ليدلو اوريدلو واړه نصيحت دے   چې د زړهٔ فهم دې نهٔ وي ځوک دې ځځكه
ته يو ځل په امر نهى فهم وكړه   عارفان چې وپوهيږي هسې كړهٔ كه
سامعان چې د آواز په رموز پوه شول   هميشه د زړهٔ په غوږو اورېدهٔ كه[٧]
هر عاشق چې تر محبوبه ورسيږي   په يقين به نور بېلتون ځني وهٔ نهٔ كه
كهٔ يو ځلي معنوي قيامت پرې راشي   دگمان غرونه به لوے هلک واړهٔ كه
يو بې حد به، دبې حد په ستركو گوري   هم ودهٔ وته كاتهٔ به هم په دهٔ كه[٨]
ترو جهان به قاف تر قافه يو ميدان شي   لوړ ژور به برابر كاندي په زمكه
كل عالم به ورته ودريږي اشناتا[٩]   ترو هر ځوک به وخپل اصل ته كاږهٔ كه
بنهٔ اختيارې تن په تن باندې وېشلے   بېل بېل به د ارواح د صورت كړهٔ كه[١٠]
مسكينان له واړو بدو قرار شوي
د مېرزا قوت له كومه دے چې بنهٔ كا[١١]

ACKU

باور لري دے له شکه — د محیط دریاب سمکه
تهٔ په کوم قوت جاروځې — د لطیف مزي دام چکه[12]
احمد یو دے له احده — که د میم رشحه کړې حکه
د دوو سترګو نظر یو دے — ستا آرسي ده مشترکه
نمر ختلے په جهان دے — پسو پټ له شوپر که
سجده څوک کړي بې حضوره — د ناسوت ملا چړګکه
یو له هر چا سره یو دے — حساب تېر تر کوو ړو لکه
حباب زړ په اوبو مات شي — د غفلت په شراب ډکه[13]
یو باقي ژوندون به مومي — د فنا د خوند په څکه
که دې دا لذت تر خوله شي — ځائے دې پاس دے له ملکه
خلیفه د کل عالم یې — چې معراج دے نهم فلکه
دا جهان په تالیدهٔ شي — د دوو عینو مردمکه[14]

د پښتو ساده خبرې
خوندې زیات دے له نمکه
د مېړه په مخ قدم ږده
اے د حقیقت عینکه[15]

یګانه محبوبه ولې دې سر تور کړ — د آرام خلق دې وډاره شرا شور کړ
لکه تا چې غنچه زلفې کړې پرېشانې — د عاشق خاطر دې هسې پسې نور کړ
د ښا ښت لښکر دې څول دو سره ویوست — اول تاخت دې د عاشق د زړهٔ په کور کړ

ACKU

[16] په اختیار د ملاحت دې جهان ونیو — دا تمام حسن دې خپل دے که دې پور که
په هغو باندې به څه رنګ قرارې وي — چې پرې پورې دې د خپلې مینې اور که
چې د ناز پلو دې ونیوو د وړاندې — په عاشق دې دوباره محبت زور که
و عالم دې بښائست ورکه لونه لونه — بیا دې خپل بښائست د ګل بښائست انځور که
[17] یو عجب حکمت د لې وته لیده شي — چې هر رنګ له یوه رنګه نوم دې نور که
دا بیناسترګې دې وینې بې جهته — د اسلام قوت دې ګل پر یوه لور که

د ګمان حجاب دې لرې که له مخه
[18] چې تنها دې له تنها سره بیوند که
ملامت پر سلامتو باندې نه وي
محبت یې و میرزا وته پیغور که

له اوله چې یې پر له میو جام که — او ساقي یې د دیو مستو سترګو دام که
[19] ګویا قصد یې د عاشق پر خاطر وشه — د خوبانو له فتنو زلفو یې دام که
چې هر چرې په عالم درد و بلا وه — [20] با د کلیه یې و بله ور و عشق یې نام که
چې د عشق اثر پرې وشه (له ازله) — [21] خوب خندا یې (تر ابده) پرې حرام که
له اوله یې سوزانه د یوه داوړه — د غه وور یې پر عاشق باندې سلام که
[22] و وان ځائے یې د استوګې پاتو نه و — [23] چې دا هسې رنګ ویران زړه یې مقام که
د چمن ګلونه د پردې لونه لونه — [24] د زړه دا غ یې پر لاله باندې انعام که
[25] چې دا هسې رنګ د عشق په ملبو وسو — په دا تاو ګښې یې له ګل غمه آرام که

چې تر دا از مېښته تېر شو بې گمانه [٢٦]
کل نعمت یې پر هغه باندې تمام کړه
هغه هر څوک چې روژه یې شوه له غېږو
ښائسته دیدن یې آجر د صیام کړه
(چې) پخپل اختیار یې دازپه ژبه داوړو
دا فقیر مېرزا یې څه لره بدنام کړه

ک

ظاهر بین چې و فاني غواړي له ځکه
قافله یې عجب ښه ښائسته دا غله
د حباب په [٢] توارړه باندې په کښېښني
د هوا په زور به وارړه تار په تار شي
ښه ژوندون یې په نفس پورې تړلے
که نه څو پخپل اختیار باندې قادر وي
په دا هسې لار به مشکله تنها ځي
یو شېطان ورته له څنګه بغلي دے
د غفلت په خوب اوده پاڅېدے نشي

د دوران ولحد هرگوره دي لګ لګه
په منزل باندې مقام نه کا بې تکه
چې د بار قوت یې طمع وي له څکه
د نفس تنسته سسته ده شلګه [٣]
په اومه سینه سې اتکل کوي له رګه
وقدرت ورته بې لاسه دے بې پګه [٤]
چې په هیڅ قدم یې لار نه ده بې تګه
لا یې ترس دے له یین دے بخیله سګه
وتیرې ورته هوس لري له مګه [٥]

ACKU

حقیقت ته په هیڅ رنګ رسېدے نشي
کم دلیل په عقل کم دے له لګ ټکه[6]
اے مېرزا محیط له هېچا لړي نۀ دے
وهم چا وته نیز دې دے له ښهرګه

چې حسد کاندي له بېنوا بې برګه — همېشه به ئې زړۀ ډک د غم له ګرګه[7]
په دنیا په آخرت کښې به بدرنګ وي — لکه اوبښ چې خاربښتي ووځي له ورګه
چاودان به له ښادیه بې نصیب شي — غم اندوه به ئې رخنه کړۀ د زړۀ ترګه
هغه کس به تر ابده ولاړ نشي — هرچې پر بوځي د فقیر د زړۀ له ارګه
د وصال راحت به هیڅ ورځخه نۀوي — د هجران په اور به سوزي لکه ګرګه[8]
ددۀ ځان به دخپل ځات په ځان بلاشي — عجب لټ په لټ به واوړي بغرګه[9]
د راحت ژوندون به هیڅ ورځخه نۀوي — تل عذاب به ئې باقي وي پس له مرګه
بېهوده دې وقتال وته سر کښېښو
چې هرګز ئې غشي نۀ لګي بې تخرګه
اے مېرزا آخر به ګل له ښاخه بېل کا
تېرۀ خار چې همنشین شي له صد برګه

ل

د آشنا په خوږ خرابه دله دله　　　　څوک دې کوم علاج په چا کا کله کله[1]

ته ښخیله د خپل ځان په ویرانۍ وې　　　　چې پر سر دې د غم تېغ وزله زله[2]

محبت ودان مېن ویرانوینه　　　　ته وځان ته اشارت کا کله کله

ښه بنادي دې چې نیازه وته پرېښوه　　　　اوس د غم پر غولي راغله سله مله

د قتالو صف پر تا باندې چوپېر دے　　　　لور په لور هسې ناري چې وله وله[3]

خلقي ځائ (دا) پاتو نهٔ شهٔ پر وجودٔ[4]　　　　چې لیده شي سپین خرنګ تر تله تله

چې په قصد[5] و هسې جنګ وته هوس کړي　　　　اول خپله خونریزي کا پله پله

چې له هسې خوانهٔ عمر ناراضي شوي　　　　تر و مرګ وته تلوار کړه ځغله ځغله

له پرېشانو اند ښنو پر یوهٔ لور شه　　　　تل دو تا اند ښنه مهٔ کړه بله بله

سل سل کم همته هېڅ دي کهٔ باور کړي
یو تنها باورۍ زیات له سله سله
اے مېړ زا ښخپل اختیار تر ځانه تېر شه[6]
چې آخر سهه دې نشي د له دله

کهٔ دې زده شي د دې مېنې له منزله　　　　آشنائې به له چا نهٔ کړې تل تر تله

کهٔ هر څو دې و بهار وته هوس دے　　　　د خزان له جاله ورو بسته بلبله

ACKU

چې منزل دې د سیلاب په مخکښې کښېوت ‌‌‌‌‌ هر قدم په فهم بږده په لوړه مله
چې خاطر دې د هوا و نغوتې ورکړ ‌‌‌‌ د هلک په دود د بام له سره ځغله
په جهان تر آشنائي څه خوارهٔ نشته ‌‌‌‌ د هجران تلخي یې زیاته یو په سله[۸]
سنګریزه په میوه داره اونه وورې ‌‌‌‌ د دې غم له باره خلاصه ده دا ونه
رنګ و بوې د آشنائي چې ورسره وُ ‌‌‌‌ د شمشاد د چنډني لار یُ وو هله
نور تاوان د هیچا هیڅ ورپاتو نهٔ وُ ‌‌‌‌ خپل هنرئي د پښو بند شو په تر له[۹]
دا خود راځي فلک د چا په رضا نهٔ دے ‌‌‌‌ لږ په مراد د ځنو ورشي کله
آفرین د درو پښانو په دلیل شه ‌‌‌‌ چې دنیائي درو غنچه وبلله

حقیقت به ودانا وته څرګند شي
چې په ذرهٔ ئي د حق مینه وکړله
هغه کس چې له کامل چیراغ روښان کهٔ
د روښان روښنائي ورغله تر د له
اے میرزا پخپل مقدار خبرې وایه
ښه و ښا د شپې دیوه د روځي تله

م

زهٔ هرڅو چې د عادت په رسم تللم ‌‌‌‌ د تحقیق تر فهم نه ورسېدلم
یو مې سخت پر نالید لے لار سفر کهٔ ‌‌‌‌ امانت مې سر بارے او په ځان ظلم

ACKU

رهنما ئے له یوه لوري راپیدا شه — دے دلسوز په ناپوهئ وپوهولم
دغه دروند ورے یې درست راشخته وا خست — زه یې هم وزیرمه کارته وسپارلم
د گمان د علتونو یې فارغ کړم — د یقین په پرهېزونو یې ساتلم
د معنی قوت مې هسې مد د بیاموند — په یوه نفس کښې قاف تر قافه ځغلم
(او) نامه یې دسفي را باندې کښېښوه — لکه تخت په بختوري ووېشلم
چې دا هسې زور ور اختیار مې چل شه — همېشه پر پاکیزه ملکونو ملم

دا وینا د حقیقت په ژبه وایم
اوس نو یې زه پر خلقو بندم هم ئې اخلم
نو شه ځائے مې د ه پېلو پاتو نه شه
تو دا زیات گواهي کومه چې ئې نه لرم
و مېرزا وته مې درست له حاله ووې
چې په کوم پتې زرغون شوم چاکړلم

ډکه یو ځلي اخلاص و تا ته درم[2] — دا اخلاص به تو یاوره پورې وړم[3]
دغه وهم چې دشک په ساړه کلک دے — په آخر به د توحید په تاوشي کړم
چې مې نمس[4] د معرفت په جهان و نخوت — دغه یخ[5] مې د اوبو په دود شه نرم
له مجازه مې قدم په حقیقت کښه — د دریاب په غېږ کښې ولاړم ترم ترم
دغه هسې رنگ هستي زما نیستي ده — گنه بل هنر مې نشته نه ئې لرم
دا حباب چې د دریاب په غېږ کښې مات شه — اوس اوبه له اوبو ښکله وامرم

له يوهٔ اصله راتلهٔ هورې ورتلهٔ دي[6] — دا جهان دغه ئې کار دغه ئې دهرم[7]
که کله بهار خزان، خزان بهار شي — دا يو کښت کله ريبم کله ئې کرم
دا سړے په علم و عقل ښائسته دے — د حيوان هډ و ماغزهٔ شته گوشت و چرم

چې په روح د دواړو کونو ازادي کړم
د صورت په کمينځه مې موندهٔ برم
د بدن کميني هسې رنگ لوټې ده
چې مسکين کا د مېږا په نامه شرم

هر بنده چې د رحمت په نامه ياد کړم — په دا رحم ئې بهتر تر کل عباد کړم
او هر دم به ئې دولت په افزونه وي — چې سعيد ئې له اوله مادر زاد کړم
په ازل چې مې کرم پرې باندې وکړ — تر ابده وفائې خپل ميعاد کړم
زما ياد به ئې چراغ د معرفت شي — او يقين به ئې اساس لکه عماد کړم
غافلان له هسې حاله خبر نهٔ دي — چې په زړهٔ د ذاکرانو اعتقاد کړم
د اندوه نخښې به ځائے پرې باندې نهٔ کا — هغه زړهٔ چې په دا خپله خوښه ښاد کړم
چې هر يو به په کرده سزا بيا مومي[8] — له نېکانو سره ښهٔ پر خلقو داد کړم
چې اختيار مې تن په تن باندې وېشلے[9] — د هر چا خپله سينه استعداد کړم
عرش الله د مؤمن زړهٔ په دا معنیٰ دے — چې خپل مهر و محبت پاندې بنياد کړم
هر مسکين چې د صورت تر خوښئ تېر شي — دا زما رضا به واړه دده مراد کړم
جدائي پېوند زما په نظر نشته — ترو له چا سره آشتي له چا جهاد کړم

ACKU

چې طالب تر سکونته پورې را ځي
د شاګرد په څوله خبره د استاد کړم
که د رسم حجاب لرې کړې له میانه
د میرزا په دود به څو بنده ازاد کړم

چې د یار د مینې څوږ په خراب زړه ورم — بېهوده به د نور چا منت په څه ورم [10]
خپل آشنا دیادو داغ را باندې کښېښو — ددې داغ ښخنه یې عینې په لېمه ورم
دواړه کسې مې له دغې سیاهۍ روغ دي — اوس یې ځکه په سیاهۍ پسې لېده ورم
هر دیدن د زړه په مینه ښائسته دے — بیا د زړه صورت هورې ځي چې کاته ورم
دې یوه کتوله هر لورې پسېل داوړو — ددې جنګ ناوکې پټ په ګرمانه ورم
د فراق له حاله هېڅ وئېلے نه شم — مدام اوښکې او بزاندې په بانه ورم
ناز پرور له هسې حاله خبر نه دے — د هجران دغه درانه بارونه زړه ورم
رنځ صورت مې دم تر دمه ویلې کېږي — په علاج یې کهې اور کهې اوبه [11] ورم
محبت مې په شال زنبورخانه شوه — چې څوارۀ یې پرېکوم په ځان لاشه ورم
غم ښادي د عاشقانو همخانه دي — چې هوس یې قبلوم اندوه یې بنه ورم
لکه روح مې د خپل یار په هوا والوت — دا خسته صورت به هم پسې هاله ورم
د آشنا له لاسه اور را باندې بل شۀ — دغه سپین هډونه تورکه سکاره ورم [12]

په میرزا د محبت لمبې چو پېر شوې
په دغه آتش به ډېر اومۀ پاخه ورم

ستا له دېرې مينې زړه به څه تدبير کړم
د ترټو به په دا هسې غم شبګير کړم [13]

نن مې زړه له نصيحته مستغني شه
مګر بند يې ستا د زلفو په زنځير کړم

د ستا زلفو مې دا جمع زړه پرېشان کړ [14]
څه مجال دے چې يې يو په يو تقرير کړم

جدائي چې دا پر ما باندې تېرېږي [15]
په يوه نامه محال چې يې تحرير کړم [16]

هر زمان چې مې پخپل ديدن دمنا شي
په نظر به ستا خوبا جمال تصوير کړم

که مې زده وے چې په دا به وصال مومم
دين دنيا به باندې وبازم توفير کړم [17]

چې دا زړه يې له مشاقه عاشق راغلم
اوس به څه لره زه مکر او تزوير کړم

ددې عشق غمونه واړه پر ما تېر شو
تر و به اوس د سوز له سازه څه ګزير کړم

له اوله ملامت د ميرزا بخت ده
د ازل قسمت به څه رنګه تغير کړم

ACKU

له اوله به کلام کړم ‌ ‌ ‌ زهٔ به یاد د مولا نام کړم[18]
او فرقان مې دے منلے ‌ ‌ ‌ زهٔ به خپل پېښوا امام کړم
اُمتي د پېغمبر یم ‌ ‌ ‌ او خدمت د پېر تمام کړم
پردیسي یم په جهان کښې ‌ ‌ ‌ نن به سېل په دا ګدام[18] کړم
نوشېروان تر جهان تېر شهٔ ‌ ‌ ‌ څو خبرې د بهرام کړم
د جمشېد حکمت فاني شهٔ ‌ ‌ ‌ ډېر تعریف به یې د جام کړم
د سکندر آئینه څهٔ شوه ‌ ‌ ‌ چې ډېر پټ پکښې اغلام کړم
د دارا له حاله وایم ‌ ‌ ‌ کهٔ یادکرد د سیتا رام کړم
چې سلېمان له تخته پرېوت ‌ ‌ ‌ څهٔ اُمېد به په اَیّام کړم
د اَمواتو حال مې راوړ ‌ ‌ ‌ پر حیاتو به پېغام کړم
دنیا تښکه ده طراره ‌ ‌ ‌ محبت به ئې حرام کړم
دا زړه ده خیال ئې مهٔ کړه ‌ ‌ ‌ هتیاتې به ئې له دام کړم
عجب ګنج مې قناعت دے ‌ ‌ ‌ پرې پرېشان خاطر آرام کړم
له تیراه یمه دا غلے ‌ ‌ ‌ نن صفت پر کریوام[18] کړم

خپل اختیار مې دے بخپله
میرزا څهٔ لره بدنام کړم

چې د یار په نامه مینه دم په دم کړم   دغه یاد به یې د خوږ خاطر ملهم کړم [18]

د جهان و هوسونو ته مې شا کړه   مشغولا په هر زمان د یار په غم کړم

په سپین مخ به سپینې اوښکې څلغومه   پردا مخ به [19] د حباب [20] صورت رقم کړم

ننه پتنګ چې په دا بله لمبه پرېوت   اوس د سوي زیاتي څه دي چې یې کم کړم

دا حباب چې د دریاب په مخ کښې مات شه   رنګ او نوم یې له دریابه سره سم کړم [21]

عام و خاص په هستۍ حال را خبر نه دي   چې په کومه لخته کښل په کوم قلم کړم [22]

په نیستۍ کښې له هستیه تعجب دے   چې دا څاڅکے له محیطه سره ضم کړم

د کثرت په عدد ونو قطرات دي   چې فاني خوي یې فاني شي نوم یې یم کړم

د ګمان له بېګانګیه به فارغ شي   هر مخلص چې په دا هستۍ حال محرم کړم

په یکتا نظر به واړه عالم وینې   کل اشیا به ورته جام لکه د جم کړم

په وروستي دوځې د تمام پوښتنه نشته
آخرین به تر قدیمه مقدم کړم
په یقین د یوه قطب لویي ګوره
چې په ذات یې زندګي د کل حشم کړم
مدام یو و هر یوه ته رسید لے
دا فقیر میرزا ماهي مینه پریم کړم [23]

که یو ځل د ذرې د حاله وو یېښ م   په ربتیا به په عالم کښې نه ځایېږم!

که مې وے د حقیقت ژوند ونیلے [24]   یو زمان به بې دیدنه نه پایېږم

د زړهٔ حال چې و آشنا وته څرګند دے او په خلقو ملامت یم نه قبلیږم
زهٔ که هر څو ډیره ډیره هتیاتي کړم د خود بین د ملامته نهٔ خلاصیږم
ملامت د خلائق په خدائے قبول دے په دا خپله بخره خوښ یم هوسیږم
د عارف راحت دیدن دے که یې وینې د غافل صحبت تیارهٔ پرې دربلیږم [25]
آشنائي عجب بهار په مخه راغے جدائي لکه خزان ځني ترهیږم
لکه ګل زما او وهٔ دوچې مېلمه دے زهٔ بلبل باندې نعرې کړم ترې ځاریږم
د لاله د مینې داغ په زړګي داوړه [26] زهٔ ورځم د نوبهار یم پرې وریږم

کم دلیل د خپل ګمان په ساړهٔ یخ دے
زهٔ هر دم له خپل وجوده روانیږم [27]
په وحدت له هر وجوده یګانه یم
په کثرت کښې د مېرزا په څوله وینږم

پر بنده باندې چې رحم د آمین کړم په دا رحم ئې لائق د خپل یقین کړم
د بدن په تاریکۍ کښې نابینا دے د ارواح دیوه ئې بله پر بالین کړم
د ګمان واوره ئې وسوځي یکباره پر آشنا باندې چې هستې [28] آسمان شین کړم
لکه نمر د معرفت پرې باندې وخوت ترو په رنګ د بې رنګۍ به ئې رنګین کړم
ګل مجاز به ئې بدل په حقیقت شي ده چې زړهٔ ئې د غفلت له زنګه سپین کړم
دا تمام وجود ئې کښي د مباور شي بې جهت به خپل جمال ورته مبین [29] کړم
دا سړي ئې بهتر کړي تر عالم دي د کم دید و خپل ګمان به تهترین کړم

دوبیان[۳۰] تخت الثراته تیاري کا
دیکناؤ پاسۀ تخت به علیین کړم

چې بې ما په دواړه کونه غرض نهٔ کا
هغه کس به په قطار د مساکین کړم

که یار زما په میسه ملامت شهٔ
د اغیار کفر به واړه ددهٔ دین کړم

دا نزدې لرې مې څوک پرې اېښې نهٔ دي
دا فقیر میرزا به نقش پر جبین کړم

زهٔ چې د پره د پره مینه په چمن کړم
په دا باغ کښې ننداره د یا سمن کړم

چې زما د خاطر سود و ځنې طمع
دوباره یې د محبوب په مخ مین کړم

(دا) رنګیا چیسر ئې بې رنګ بې نشان کهٔ
زهٔ یې څکه په کلیات کښې بې وطن کړم

مسته شاه ده یک تنها په دې عالم کښې
زهٔ یې ولې په خلوت کښې انجمن کړم

له نزدې ئې جدائي سهلے نهٔ شم
تروبه لرې ځنې څشکله مسکن کړم

کم دلیل چې له قربته زهیر بړي
په دا وصل به ئې بیا زړګے[۳۲] غمجن کړم

دا زما چې د یقین قوت په لاس شهٔ
تار په تار به بنکرونه په مجن کړم

دغه دیو کهٔ د نوسک په هوا پاتې
ورخیر به له باوره تهمتن کړم

او خناس چې د یقین دلاسه و مرې[۳۳]
د مشرک دا بد ګمان به ئې کفن کړم

چې مې هسې رنګ نزدې فتحه روزي شوه
شادیانې به په یسار او په یمن کړم

او میرزا چې په دا حال راسره یو شهٔ
بې ګمانه دے مې ځان به ئې تن کړم

ACKU

دا کلام د حقیقت په ژبه وایم — لکه ذات په هر صفات کښې څرګند یم
زهٔ کښېنتي د نیابات واړه ساتمه — هم ژغروې[34] د ژندهٔ سرو واړه پیدا یم
یک تنها لکه الف یمه چې ستړکي — په یوه وجود محیط په کل اَشیا یم
له هرچا سره په علم په هستی کښې — یو په یو ور رسېدلے سر تر پښا یم
مدام یو له یو وجوده تماشه کړم — تل تر تله بې شریکه بې همتا یم
کهٔ زما ویکانګی وته نظر کړې — په وحدت کښې دویې نشته یک تنها یم
په دښتنې دین به نن ووځي فوځونه — په د غه معنی اِقرار په اِذا حبا یم[35]
د کثرت په عدد و تو مې ځان پټ کړ — او س کښې کښې د غه شم کښې دا یم
په یقین نزدې نزدې په ګمان لرې — په دیدن له دواړو کونو ما ورا یم
له نېکانو سره بنهٔ له بدو بد یم — و هر چا وته د خپل عمل وفا یم
په دا بزرګ نامه چې څوک بللے نشي — زهٔ مدام له هره اسمه مسمی[36] یم
حیاتي مې تل تر تله برقرار دهٔ — په توحید کښې فنا شوے له فنا یم
دا ثبات قدم مې پاس په نفي کښېښود — او د ذات زوال مې نشته تل بقا یم
و عارف ته څرګند یم په هر لوري — د دوبین په مخ ګمان زهٔ یې ترشا یم

لکه کب دے له اوبو او به له کبه
د غه هسې رسېدلے و هر چا یم
ناتمام مشرک له ځانه په عذاب دے
د انسان کامل د زړهٔ په مدعا یم
زما ذات په دواړه کونه نهٔ ځائېږي
په قفس کښې و نیسد لے د همېزا یم

زهٔ څرګند د محبت په بنهٔ بنیاد یم
له نیستیه هم په دا هستهٔ اباد یم

په ازل مې د اقرار په ژبه ووې
ترا بده وفادار پخپل میعاد یم[۳۷]

امانت چې اسمان زمکې ورے نهٔ شهٔ
اوس یې زهٔ په دا عاجز صورت عماد یم

په اختیار مې هسې ظلم په ځان وکهٔ
له دې قصده د جهول په نامه یاد یم

کهٔ د جهل بار مې لرې شي له سره
بې ګمانه د صفي آدم اولاد یم

امانت کهٔ په امان و تیښتن ورکړم
ترو آمین له نیک نیتیه نیک نهاد یم

تل توبه مې د ګمان په مخ نیولے
اوس په صلح چار و تلے له فساد یم

په اختیار مې له کل نهي لاس وکښلے
په اختیار د دوارو امرو انقیاد یم

ګه طالب ګهې سالک ګهې ذاکر شم
ګه عارف په معرفت باندې اشهاد یم

ګهې قطب قرارې کړم په ځائے وسم
ګهې غوث ګهې ابدال ګهې اوتاد یم

په ګمان کښې د ګمان اهل بندي شه
په باور کښې د جمله چارو کشاد یم[۳۸]

پخپل قصد به د دې قیده وتے نشي
کهٔ پر ما دې نظر وشي ان یکاد یم[۳۹]

د شیرین اشنا مې کسې په لمه کښې
دے په کسې کښې لیدهٔ زهٔ یې مداد یم

په ظاهر صورت دیار له یاره ګوښے
په باطن له یاره یو په اعتقاد یم

کل عالم یې په نظر کښې واړه وینم[۴۰]
او هر چرې د اشنا په دین بناد یم

چې تیښتن مې د خدمت خلقه په غوږ کړه
په بنادی کښې له جمله غمه ازاد یم

په بندګی کښې عنایت را باندې وشهٔ
له دې مهره د مبټرزا په نامه یاد یم

ACKU

زهٔ به څهٔ وایم چي څهٔ یم — نیست وهست واړه په دهٔ یم
هرچي هست شي له هستیه — د نیستی معنیٰ یې زهٔ یم
که ذره د نمر په مخکښې — کاهي غوټه په اوبهٔ یم
د وصال په هوا ګرځم [٤١] — ددې لامکان مرغه یم
ځان د یخ په شان مه بولم — جمع شوی په ساړهٔ یم
یو څلور عنصر یې واغوست — د آسمان په څخ اورهٔ یم
له وحدته په کثرت شوم — هغه نشته چي زهٔ نهٔ یم
حیاتي مي له خدایه توی — او ګویا په هره خولهٔ یم
زهٔ شنوا په ګل غوږونو — بینائي د هر لیمهٔ یم [٤٢]
توانائي مي په هرچا کښې — دانائي د هر یوهٔ یم [٤٣]
ارادت مي دی له واړو — بیا راضي په دا خپل کړهٔ یم
له بدانو مي بدي ده — له نېکانو سره ښهٔ یم

د نېک بخت په بخره شهد
د کم بخت په ځان لاشهٔ یم
له هرچا یم په هرڅهٔ کښې
خبر نهٔ لرم ناڅرهٔ یم [٤٤]
د مېرزا په خوله ویښېږم
یو بې رنګ بې مثله زهٔ یم [٤٥]

پـه سو ډېرشوې دونیـا پرېشـانه غـمـه
پـه هر ذرهٔ دې سـیاهۍ پر بسُـته محکمه[۴۶]
شیرین عمر په سرېږو باندې ترېخ شهٔ
دصحت[۴۷] غوټې دې و نیـو هٔ اَلـــمـه
دخـزان دلمبو تاوٌ تـر عالـم و خـوت
دریغـه دریغـه دبـهار سره شبنمه
نور پـه لوړي اَند ښنې پـه ذرهٔ څرخیږي
څوک خبر نهٔ دي د فـلک لـه مرهمه
دالـذت شـهوت په خلقوباندې خوبن شهٔ
پسـو وهـې شوې دحیات شرینه دمه
یو بې مثـله له هر چا سـره محیط دے
ناآشـناماهي خبر نهٔ دے لـه یـمه
پـه وصال دې ډېر قاموںه په فرمان دي
کهٔ چا زده وے حقیقي لو ئیي خاتـمه[۴۸]
د جهان ننـداړې وارہ .ېي په ځان کښې
پـه بادشـاه پورې سـا تلے و حشـمه[۴۹]
دا صـورت پـه مثال ښـهں ذرهٔ ئې تخت دے
معـرفت لـکه عیسیٰ، عقـل مریـمه
د سـکندر د آئینې ننـداره چا کـړه
دا جهان په جام کښې چالیـدهٔ بې جـمه

ACKU

اے مېرزا په عمل علم تفاوت دے
دا بې حد هستي له هر څا سره سمه

نن به وکړم څو کلامه — د محبوب له بزرګه نامه
چې ئې نوم په کار یاد نشي — هغه چار شي ناتمامه
په وحدت ئې خبر واخېست — د کثرت له سرانجامه
په لاهوت کښې یې جلوه کړه — ناسوت ډک شه له اوهامه
د الست پیاله ئې راوړه — د ازل له مسته جامه
دا جرعه د حقیقت دَه — په غافل باندې حرامه
غافل خو بس شهٔ په غفلت کښې — بې بهره دے له مدامه
چې یې دا پیاله ونه څښه — جاوېدان شي بې آرامه
کم دلیل حقیقت نهٔ زده — کل کو شیشې ئې بې مقامه
له دا نشه بې نصیب شهٔ — عقل غواړي له انعامه
که انسان ئې مخ په نوش کړي — وصلت نشته بې دوامه
دا سفر به هغه وکا — چې په زړهٔ دروغي بې کامه
هر چې دا دفتر ئې " مؤند — دا نا ورنګ نن قامه
کهٔ د شاه په کېل دې زړهٔ وي — لرې نهٔ دے ستا له ګرامه
له عاشق به کناره شي — نن دا کوزه شوه له بامه
دا موندهٔ په نور څهٔ نشي — مګر ورشه نن امامه

(و) زړشل کاله يې وشه　　د اُکُن وعده تمامه[۵۱]

دا تناب يې پرې کړے نشي　　پېوسته شه تر قيامه

نن مېرزا په پښتو کړې

کل صفت له اَلف لامه

زړهٔ پسو وفائي غواړې　　له دې بې وفا صنمه

څو د غه هنر درځنه　　ځان به نهٔ مومې بې غمه

چې هوس له دنيا غواړې　　په خندا کښې به وژاړې

دده اصل له سايه د ے　　ګهې زيات شي ګهې کمه

هغه زړهٔ چې اختيار ورکا　　روح په روح به حال ترکا

چې قارون يې پر ځاے پرېښو　　هسې به تر شهٔ له جمه

ددنيا مثال سراب د ے　　او طالب يې په عذاب د ے

چې په دا غله يې هوس کهٔ　　په غم ولاړ له دې عالمه

مخ يې وينه څره څټ د ے　　څرګند عيب يې پسو پټ د ے

له اندوهه به خلاص نهٔ شي　　چې ګرفتار يې د ے په طمه

دنيا سراې د ديوانه د ے　　او بازار يې ويرانه د ے

قرار يې پرې بانديې نشته　　ځنې تله دې دم تر دمه

تل فريب او مکاري کا　　هر عمل په طراري کا

لکه لوني د غنمو　　رهزني کا له آدمه[۵۲]

ACKU

کل اشیاء ددې زینت د ے   پکښې دام د ملامت دے

چې له دې غمه ازاد شي   تل ښادي پرې مسلمه

کهٔ په دا نظر يې وينې   سود وزيان له خپلې مينې

د مرشد خبره پند کړه   روح روښانه لاره سمه

کهٔ د زړهٔ سترګې بینا کړې   دګمان وروه فنا کړې

د معنیٰ مثال ليدهٔ دي   کسي توديې له قلمه

قلم ګوڅې سرپرې کړے   څهٔ صفت کا د غه مړے

د استاد له لاسه روغ شهٔ   ډېر ډېر فيض يې له رقمه

مېرزا خپل خوبونه سوي
د کامل په امر ژوي
چې له مرګه مخوا ومري
جسم اسم له اعظمه

دا شيرين اشنا چې ډېر ډېر يادوومه   په دا بزرګ نامه يې سود د زړګي کړمه

له دې هسې يار به څهٔ رنګ صبوري کړم   چې په زړهٔ د صبر نخښې نهٔ وينمه

همېشه يې په دا فکر درمانده يم   چې ددې علاج به څهٔ کړم څوک پوښتمه

چې ددين په هوس درست له پردو ووت   دا چې شله[53] زړهٔ په کوم زنځير ترمه

مګر زلفې د خوبانو په مخ دام کړم   او خالونه يې دانې[54] پکښې پاشمه

د عالم هنر به وارهٔ پرې تمام کړم   کهٔ سر[55] کښې خاطر په څهٔ کښې و نيسمه

سرتاپایه په هوا باندې پرېشان شهٔ
چې اشرئې په هېڅ لوري نهٔ مومه
په اَشنا پسې له شش جهته ووت
زهٔ له شش جهته څخشکله ووځمه
هېڅ خبر ئې په هېڅ لورې مونده نشي
له طلبه نهٔ کښېنم نه پسې ځمه
د صورت حیات ئې زړهٔ د زړګي روح دے
تروبې زړهٔ بې روحه څخشکله پایمه
یو رمق[٥٦] چې له ژوندونه پاتونهٔ شهٔ
بې خبر له ځانه لاس و پښې وهمه
د غه مرګ چې تر ژوندون را سره ښهٔ دے
چې د خپل اشنا په مینه ځان شیندمه

نن میرزا په ترک وجود هسې ګواهي لي
چې له دې هستیه تېر[٥٧] شم هست به شمه

بې وفا محنت به څو څکوې ترکومه — په اُمېد د سحرګرې دنیا زومه
دا خالي طمعه د رونیو ده فریاد کا — د حرص خوله یې ترهنده ده تر رومه
د زینت لذت ئې ځائے په ګائے دا نه که — او دزمکې مخ ئې و نیوهٔ په لومه

ACKU

هر سړے چې د هوس په حلقه کښېښوت — دم په دم ئې پرې کوه له مرز بومه
وا ړه بود ئې د نا بود په اَجر ورکړه — د هستېيه هنر غواړي له معدومه
هېڅ زمان[58] د فراغت ورپاتې نهٔ شهٔ — زړهٔ ئې ډک دے د غمونو له هجومه
په دنیا د خلقو عمري رنګوینه — د درو غو بوي ئې تل[59] د روې له خومه
د خاربښت ئې په ناداني ماندئې نوركهٔ — د انایان خپس ساتي له هسې پومه
[60] د رفات له وحدت فهمه لوه راغ لهٔ — دو همیو سریکار دے له موهومه
ظالمان له خپله ظلمه په عذاب دي — همېشه د رحیم رحم له مرحومه

د هرچا عمل په نیت پورې تړلے
هر سړے له خپله نیته بخره مومه
ښکر له خپله اصله خواږهٔ مومي
د تلخه اثر ئې منهٔ ځي له زقومه
د رښتیا خبرې قدر په چا کم دے
د مېښ زا صورت څرګند معنٰی مکتومه

د جهان له حاله څهٔ وا یم تر کومه — د هستۍ صفت ئې څوک ړم له معدومه[61]
د د نیا ناوې بې حده ښائسته ده — کهٔ ئې خوا ښې وفائې غواړي[62] له زومه
یو افسون ئې په جمله عالم کښې یو کهٔ — چې باطن واړه مجهول ظاهر معلومه
همېشه د دې دنیا وفائې نشته[63] — کم دلیل د عمل قیاس کاله نجومه
د غافلو چېل غفلت په ځان بلا شوه — د خزان وته پناه وړي له سمومه[64]

ACKU

چې هر څوک ئې دده نش په نظر ګوري — د نادان تر فهم بنهٔ له بنو محرومه
د اخلاص اثر ئې هيڅ په زړګي نشته — په تحقيق عبادت غواړي له رسومه
د مشرکو د باور ستر ګي ړندې دي — چې د فهم ديدن بيل کاله موهومه

بد ګمان ئې هميشه دزړهٔ کاهش شهٔ
په حيات صورت به خلاص نشي له پومه
په تاريکه شپه ارمان کاندي د روڅې
او روښانه روځ بد له کا په شومه
د ميرزا خبره بزه معنیٰ چېره
بينائي لکه په کسي کښې مکتوبه ٤٥

ن

د بلبل چې اشنائي شوه له سمنه — ددې ګل په مينه داغ تر چمنه[١]
دا تمام صورت د زړهٔ په رضا دومي — او د زړهٔ سفر دستهٔ ګو له روزنه[٢]
کهٔ هر څو په حجاب نو کښې دے نغښتے — د ديدن په مينه ووت له بدنه
په هوس ئې د ملکو نو پادشاهي کړه — د نظر په نغوته ولاړ شهٔ له وطنه
(دا) اختيار ئې ډېتنګ تر فهمه بنهٔ شهٔ — چې پر بله ملبه پرېوت له چلنه
د آشنا محبت زور پرې باندې وکړ — د غه اور پرې بناسته شهٔ له ګلشنه
چې دا هسې شهادت ور ځخه موي — و بنادے وته به بنهٔ ئې له شوونه[٣]

په باور کښې له جمله اختیاره ووت　　له مرده وسره پروت دے بې کفنه
که صورت ئې د یوسف بوي ئې د مشکو　　او د عشق لوګے ئې ځي له پېښ هنه
کل عالم ئې له دې بویه معطر کړه　　د عطارو زړه ئې وا خیست له ختنه

هر ظاهر ئې له باطنه پرورده کړه
په هر ځځه کښې تماشه کا له سجنه
معرفت له محبته ورپېدا شه
د بزرګۍ خلعت ئې زیب که له قرنه
دا میرزا وینا په خامه ژبه وائي
او معنئ پر عارفانو معینه

دے پتنګ چې د یوه ولیده روښانه　　دې لیدو یې پته مینه کړه عیانه[4]
بینا[5] ئې په روښنا یې بیا ندې شیدا شو　　د خپل ځان خبر ئې بیا موندہ له ځانه
له هوسه وهوس وته روان شه　　د صورت حجاب ئې وا چاوه له میانه
پسو مرګ ئې د وصال دپاره وغوښت　　تر ژوندون شوه جدائي ورباندې ګرانه
له فنا په فنا هسې رنګ څو ښیبن يې[6]　　لکه سخت بندي چې خلاص شي له زندانه
چې رضا یې د آشنا په رضا کښېښنوه　　ترو ګراني تر آساني شوه پرې آسانه
له فنا تر بقا يې پورې را غے　　د کمال وېره ئې نشي له نقصانه
معرفت ئې تر توحیده پورې ورو ست　　د ایمان پر ملک ئې نشته بې امانه

پر خاطر ئې تل ترتله نو بهار شه
د ګلزار اندوه ئې نشي له خزانه
هر زمان ئې د معنیٰ په سترګو ګوري
په هر ځه کښې شته نښان له بې نښانه
۸ دا میرزا ئې د خپل زړه په رڼا پوه که
ته همه یې په همه کښې همه دانه

دنوسک پس وي ولې کړې نادانه — په نادانه پسې ورشې ترزندانه ۹
نتیجه به پښېماني ځني بیا مومې — که په مینه هم نشین شې له بدانه
ترو هاله که کړې ارمان فایده به نه وي — چې د ملک په قوت ورشې ترسندانه
اوس له نفسه سره جنګ درلره بهتر دے — نه چې بخرې دې خوارې شي جاودانه
بې زواله بادشاهي به دې روزي شي — که دا هسې برے یوسې له میدانه
په دا هسې غلیم ځه لره سرفه کړې — چې په ورکه یې دیار مینه شي ودانه
هر زمان په خپل اختیار باندې قادر یې — که و وقت و ته بیدار وسې کاردانه ۱۰
له فاني جهانه تله دې دم تر دمه — د مهلت طمع به څو کړې له ګردانه
د صفات جامه په ذات ده مرتبه — له عدده به بیل نشي عددانه
د خبرې په معنیٰ هغه پوهیږي — چې یې فهم د سپید لے تر نروانه ۱۱

اے میرزا که هر څو دېر لونه وېل شي
کل صفت دے له یو ازې همه دانه

زړه بلوي مې د هجران تېره خاروننه [12]   چې همېشه په خوږ و زړو که پرهارونه [13]

اوس (دا) غم که د حیات يې سرمایه دی   په ده چاپاندې يې روغ کړه بازارونه

که پر ځینو باندې ورشي کله کله   د قیس په زړه پراته دي انبارونه

غم اندوه يې لور د لورې غلبه شو   عجب خولې را لګوي لکه مارونه

په دنیا کښې چې بنیاد د آشنايۍ کا   جدايۍ پرې باندې تل کا ناتارونه

پر بانه مې دې لوی لوی اوښکې ولاړې [14]   لکه دُرّ چې ورېښي په تور تارونه

ما وې زړه به په زړه کوي د صبر روغ کړم   ګرمو اوښکو مې را مات کړه حصارونه

چې جرس مې له فراقه نعرې وکړې   پر د ښیو زړګیو وتړل بارونه

د مهرویو کړې لارې لور په لورې
لکه ګڼ انبوه کښې وشلېږي هارونه
چې خاطر مې په آشنايۍ کوشش کا
لکه مست قطار څکوي په مهارونه
چې دا هسې پرېشاني دربانديږ زور شو
اې مبتلا وسکه دې څه پر کړه ازارونه

نور و سر سره څه شې شینه   لکه علم و هستې دی شنه [15]

سر له نوره پېش انده شي   نور چې سره نه پایینه

مینه نه شي چې دیدنه   دیدن نه ایشي په مینه

عشق په عقل نه ناشسته دی   عقل چې عشقه مه [16] وینه

باطن واړه په ظاهر کښې — هر ظاهر باطن لرینه
معرفت دے تر توحیده — عبادت دے تر یقینه
هرچې واړه یګانه کا — پاس په تخت به وخېژینه
دے مسمٰی د دملائیک شۀ — خلافت پرې دۀ ښایینه
چې په اسم اعظم پوه شۀ — ځان له ځانه پېش نیینه
د خپل زړۀ په تخته کښل کا — بې کراما لکا تبیینه
میرزا مدح د کامل کا
چې یې دا فهم رسینه

د اسلام ګروهه متینه — راپیدا شوه له یمینه ١٧
دیسار لښکر یې مات کۀ — تل د فتح له جبینه
چې ګمان له میانه ووت — ملک دې وساته یقینه
بادشاه حکم په سالم کا — ځاے یې نۀ وي بې آمینه
عقل تله حقیقي ده — ولې چار پکښې تینته ١٨
روح له عقله خلیفه دے — پایه تحت لره به ځینه
له نور چا سره نۀ وسي — چې څوک نۀ وي دے به وینه
رنګ یې چا لیدلے نۀ دے — یو بې دمنګه رنګ لرینه
له نیاز منو بې نیازي کا — د بې نیازو ناز سهینه
د چا قهر یې هنر که — د چا عیب کا خپله مینه

ACKU

ځيني دين په دنيا پيس يې　　څوک دنيا غواړي له دينه
ځيني کړه شي بې وېلو[19]　　څوک که وايي نه به شينه[20]
ميرزا بد پر نبسو نه وايي
نه څوک وژني بې سکينه

نن زما پر خپل اشنا شي ډېره مينه　　واړه ډوک له خپلې مينې راد سينه
ګهې ګهې د زړه[21] ملک کښې بادشاهي کړم　　ګهې غم راته لښکر شي وديسنه
ښه ديدن لکه باران پرې تازه کېږم　　جدا ئي په مثال اور په ما لګينه
پټ پنهان مې د اخراب خاطر ورتېږي[22]　　او که آه کړم ډېر عالم به وسوځينه
محبت خبرې ګرمې تر لمبو دي　　کاتبان به يې په کومو ګوتو کښوينه
چې قلم په دا لمبه کښې لوغړن شي　　ترو باريک کاغذ به يې څښکله سهينه
يکباره به قراري له خلقو پاڅي　　که د زړه شغله ترژبې تيره شينه
د عشق اور مې پوپه يو تر عالم پرېوت　　په محفل به يې[23] څوک څه حصار وينه

هغه راز چې په خلوت کښې پوښيده و
په بازار عالم د غه خبرې کړينه[24]
او قسمت يې د هر چا جدا جدا که
لاس وښېنې پخپل مقصود پسې وهينه
دا ميرزا په برهان پور کښې نندارې کا
له اصلي وطنه راغې بيا به ځينه

پوونده و مزارع ته وکړه ساتنه [25]
د زړه ذکر دې پټې شه پولا پاتنه [26]
د حضور زمان له ذوقه آګاه نه شوې
تل دکانده په غم کښلې یې انجانه
د حرص طمع دې څو ډېرې اوږده ده
چې په زمکه کښې ورسته کړې غته دانه
که حریص د زېړو زرو په تخت کښېنې
د قانع تر فهمه کټ ښه دے بې بانه
د غه بخت د بختور په حساب نه دے
زناردار که ورته ډېر وائي کلیانه
ښه د دهقان عجب خواب په صواب ورکه
[27] چې پخته کلام دې وواېه سجانه
د معنې په حقیقت ئې نظر وکړه [28]
ور غښتلې و ښامه کړه ښه یې وانه
حق باطل ئې په تحقیق وجُلا بېل کړه
[29] د دې عقل په غلبیل کښې یې وچانه
په پرېشان خاطر به څه دنګ فراغت کړې
(چې) شه روح دې په بادګیر باندې پلانه
تفاوت د نژدې لرې اندېښنو [30] دے
کل په باد پوړې تکیه دې څه ئې کانه

څو د جهل په تیارو کښې محکم یې
د میرزا وینا به څه اروې پتانه

ډېر منت لرم له هسې ښه ښو نګنه [31]
[32] چې مې بیا موندہ د طریقت جونګنه
په ادب مې د توحید پوښتنه وکړه
په رموز ئې نښان راکړله پټنه
تېره لور د لا اله [33] ئې را پېلاس کړ
چې په دا تنه غیر الله له زړه وسکنه
څو له خاره له خاشاکه خالي نه شي
په پټې ګلونه نه کړي مالنه
د رنګ رېز هنر به هاله ورڅرګند شي
چې کوره جامه ئې [34] پرېو ئنګې [35] دوبنه
د ذاکر خاطر له غیره پاکیزه شه
چې په هر نفس ئې ذوق دے له سجنه
الاالله پاکیزه تخم د وحدت دے
یکاله کا د باور په اوبو پسنه
د مشتاق ژوندون په وصل د آشنا دے
د حیات حیاتي نه شي بې جیونه

نیک وبد وبله نږدې ځېله جدا دي
د مېوې سره اغزي لري کس کښنه
د غه لوئ نوم ئې د هر نامه مصدر که
چې هیڅ نوم ئې بیرون نه دے له انګنه
اے میرزا که ئې د خوي بهتري نه وي
د سیّد تفاوت څه دے له با مبنه ٣٦

که را ووځې د ناسوت له توره بنه
په ساده جامه به بیا موږې مالنه ٣٧
ملکوت ئې د پاکانو کښېلے هار که
جبروت ئې د روحانو سها ګنه
او لاهوت ئې معرفت د عارفانو
چې هیڅوک ئې خبر نه دي له پرینه
تل په ذات شها یوه ده بې شریکه
په هر لوري د صفات ئې نو هي ګنه
یو عجیب بنائسته منے یې پیلے
چې هزار ویک ئې لړ اته کرینه ٣٨
همیشه تر دا څلور څادر د لاندې
عجب ذوق و تماشه کا له سجنه
بادشاهان ئې تر ابد حلقه بګوش دي
درویشان که زړونه کړي د عشق کهنه ٣٩
پر سپین مخ ئې تورې زلفې جاروتلې
د ښامارو سر یکاروي له چند ښه ٤٠
چې له هسې محبوبې اشنائي شوه
د د ښنو ور سره صلح بې بشدنه
دیوانه له خپله عقله بیګانه شه ٤١
په دریاب باندې قدم بدي بې پتنه

د فقیر میرزا په کسي قدم کښین ده
دا شنا د معنوي ستر ګو انجنه

و

یو یوازې ذات اول ؤ — ذات په ذات له ذاته مل ؤ [1]
صفات تل د ذات جامه ده — کوم صفات له ذاته بېل ؤ
د ګیاه ژوندون اوبهٔ دي — اور په کا نې کښې قبل ؤ
د صورت حیات ئې روح شهٔ — درست صورت د روح محل ؤ
روح خوښي کهٔ په صورت کا — ښهٔ صورت د روح افضل ؤ
روح چې ورغې تر تخته — د زړهٔ تخت اول اول ؤ
چې ئې دا چراغ روښان شهٔ — هر مشکل پرې باندې حل ؤ
زړهٔ توتي په مېوه کړې — ددې تن تاریک ځنګل ؤ
شیطان جنګ په مکارې کا — په غفلت کښې ئې مورچل ؤ
ددهٔ قصد مدام پر بد شهٔ — نادان نفس ورسره مل ؤ
نفس شاید ځکه غلیم شهٔ — شیطان پټ په لار کښې غل ؤ
خناس یون په باریکۍ کا — درست تمام مکر و جعل ؤ
چې چا وپېژاند په دور شه — دے په نغوته تر اجل ؤ [2]
دوا ړه ګو ښې بادشاهي کړه — پر ملک ځکه لوے خلل ؤ
پر هر ملک چې میراث د پرشو — تل ئې دا جنګ و جدل ؤ
حق باطل ئې وبله بېل کړه — عقل لوے کامل مشعل ؤ
د نامې فرق به پسو کړې [3] — سړے درست ځره عمل ؤ
حب محبوب دے په هر چا کښې — عمل درست په مینه تل ؤ

ACKU

چې یې مینه په کوم تمام شي — خوي ئې هم پسې بدل وُ
اختیار هر چرې و بشلے — ځائے ځائے سود چرې زلل وُ [٤]
خوند په اَصل پسې ستون شهٔ — په هر لورد روبو چل وُ
لذت زهر شه په مخ [٥] کښې — هم په غلوځه کښې عسل وُ
کهٔ خوږ خوند له نېبه شکر — ښهٔ شیرین آواز د نل وُ
د انسان دا نائي گوره — چې موند لے یې پټ پل وُ
کامل وار په جمع بیاموند — درست جهان چې مفصل وُ
هر چې دا علم ئې نهٔ زده — په جاهلو کښې اجهل وُ
چې د زړهٔ سترگې بینا شوې — مفصل پرده مجمل وُ
چې بې علمه زاهدي کا — کښېښو تلے په وحل وُ
بزرگي علم لدون دے — څهٔ حاجت په مطوّل وُ
کښت ئې هیڅ برکت نهٔ وُ [٦] — غافل سخت پتے شړل وُ
پر هیڅ لور ئې اونې نشي — بدگمان ئې لوئے دلدل وُ
دا سفر د اقدام نهٔ دے — ښې بې سو که زړهٔ ئې شل وُ
د پر دا نا په هتیاتي ځي — هر گوره سخت باریک منزل وُ
د دو بین نظر پرېشان شهٔ — چې پرېشان بېده احول وُ
چې پرېشان جمع بیاموند — ښهٔ گفتار ئې ول په ول وُ
د طالبانو زړگي پاک شو — د کامل تلقین صیقل وُ
د طالب سترگې بینا شوې — چې د زړهٔ چراغ ئې بل وُ
په هر څهٔ ئې نظر پرېوت — که اعلا دے که اسفل وُ
له دوو کونو یې لاس وکښې — ذات و ذات وُ موکل وُ

ACKU

حال ئې بيا مونده په حال کېښې　　کوم ماضي کوم مستقبل وُ
په ادب بچې څوک طلب کا　　نېک بخت کړے په ازل وُ
يک تنها جريده والوت　　مرګ حېران پرځلئ معطل وُ
وحدت ځائے د قرارۍ دے　　لوے قرار کامل اکمل وُ
روح قرار په سکونت شهٔ　　سکونت د روح برجل وُ

اميرزا يو يو ازې ياد کړوا
خدائے باقي او لم يزل وُ

حق په ذات يو ازې يو وُ　　يو بې مثله پاک برتو وُ[٨]
يک تنها او بې شريکه　　مخلوقات په نيستۍ کړو وُ
چې د کُن امر ئې وکړ　　کل صفات همه[٩] په شو وُ
په زمان وبله وځغاښت　　په څو پټه سا تلے څوَ وُ
له وحدته په کثرت شهٔ　　لور په لورې دوا دو وُ
دے لاهوت پرمخ نيو[١٠]لے　　د ناسوت خوشرنګ پلو وُ
احديت شو په عدد کېښې　　په صفات کېښې د ذات رو وُ
هر څو دېر دي کيا هونه　　لوئے حيات د واړو نو وُ
که بهار کله خزان شي　　کله کښت شي کله لو وُ
کله نون په دوه الف کېښې　　که د ه دورانډې واو وُ

ACKU

اے مېرزا مقصود دې بيا مونږ
چې سم کـړے دې داکو وُ

چې زما په زړهٔ قرار متابعت[11] و   يگانه روح مې په مهر و محبت و[12]
دا عنقا چې د وصال په هوا والوت   دا زما ارواح د دهٔ د زړهٔ خلوت و
په آسمان کښې معلم د ملکوت وم   او د زمکي مخ ئې درمند د طاعت و
چې تښتن زما په لار کښې لومه کښېښوه   چې دانه ئې د دغه آدم خلقت و
د آدم صورت له خاورو زهٔ له اوره   دا د حلم نور د خاورو لا ئېمت و
د خاوند په نزد يکا نو کښې مې وکوت   چې په لوح ئې دا نوم کښلے د لعنت و
دا زما د زړهٔ گمان پرې هسې وشه[13]   چې له ځانه بالکليه مې فراغت و[14]
دا نسته ئې زما نوم په بدي وکښس   پر خاکي آدم ئې ځکهٔ لره تهمت و
نور دې څوک وپه طاعت غرگي نهٔ کا   د غه کبر د شېطان په ځان غېرت[15] و
د تمام عمر بندگي ئې حبطه کړه   د پښدار گناه ئې درونده تر مشقت و
د جاهلو غوږ سورے د ے پورې ورې   دا گفتار مې و دا نا ته نصيحت و

چې په خوف او په رجا کښې کا استوگه
په تحقيق ئې په بندگه کښې معرفت و
د مېرزا عقل تر کومه ځايه رسي
دا کلام مې له استاده اشارت و

ه

څوڅوڼون دې دے په سهه[1] مقصود وغواړه ابلهه[2]
تر ښهرک وتا نژدې دي ته غلط دروې له رهه
دغه تګ د ذره په ښبنودے د اخلاص لار ده کوتهه
څو دې سترګې روښې نهٔ شي نه به نمر وينې نهٔ مهه
د حرص په خوب ښځي يي تش پندار پرې بانډې پهه
فقير خپله فقيري کا سود او زيان يې له بادشاهه
زنبور شهد خزانه کا که ورپاتو شي له زهه
چې لوييي په دنيا غواړي بيا يې وېره ده له څهه[3]
چې رضا يې خپلهٔ وي تخت هلک لره لوسهه[4]
له يوهٔ چې دويم غواړي دوه به وربښي تردهه
د پروڼ وعده دې نن وه نن دې پاتو شه ترګهه
پس له مرګه په پښېمان شي سود به نهٔ وي له وهه

ستا د سود خبره دا ده
چې مبتر زاکړه مواجهه

ACKU

هر چې وويني يکتا محبوب خودرايه
بنهٔ آرام ذرهٔ به ئې ونخوځي له ځايه
سر تا پايه ځړه مهر و محبت شوه
بيا و ځان ته د مهرويو رهنمايه
د جمال جلوه يې زياته ده[٥] له نمره[٦]
په ښايست ئې نهٔ ده دا او بې همتايه
مخ په مخ ئې واړه رنګ له رنګه ويوست
په سايهٔ[٧] ئې دولت راپيښ د[٨] له همايه
پخپل ناز د نياز له اهله مستغني ده
دا چې نيازه د نيازمنو[٩] دلربايه
په غفلت له غافلانو په پرده شوه
په خلوت د خلوتيانو راز افشايه
له فقير سره د فقر په جامه کښې
بيا يې حکم تر اعلىٰ تحت الثرايه
تورې زلفې ئې انفاس د مسيحا کړې
په ښهٔ بوي ئې عطار ستون کړو له خطايه
عاقلان له خپله عقله بيګانه شو
دانشمند و دين دنيا کړه باندې بايه
دا خود رنګه شاه په کومه ژبه ستايم
د صفت لائق ئې نهٔ وينم بې خدايه

اے میرزا له عامه خاصه آشنائي کړه
و هر[10] یار ته د خپل یار خبرې وایه

دا څه وقت شو دهولیه — هندوان تهول شولو لویه[11]
زه و تاسو وته وایم — اے د برهمن تهولیه
عقل کل ورځخه والوت — چې ایام شه دهولیه
نا رینه چې دیوانه شو — هسې بنځې یې دي بهولیه[12]
ستا سې اصل دے له کومه — ځان په کوم نامه بولیه
خوله تېو یک ژبه ماشه ده — بد گفتار پکښې گولیه
نا مشروع یې آرگجه کړه — پر دستار او پر چولیه
بد خویان لکه اغزي دي — بد کاران لکه څوبیه
نادان یو له بل څکوینه — بې صرفي لکه پولیه
سر یې خوی دي که باور کړې — دا صورت تشه دولیه
و خپل یار وته عشوه کا — خپسر ساز کا تنبولیه[13]

میرزا حال وائي له غیبه[14]
که په زړه یې وتولیه

ACKU

ي

د هجران له دوکه تاؤ هسې په زړهٔ ځي
چې د باد له مخه اور په اوچ وابنهٔ ځي
د فراق د لمبو هسې رنګ تاثیر دے
چې له مخه یې سوړ آه کښې اوبهٔ ځي
له دې هسې رنځ علاج به څوک په څهٔ کا
چې د زړهٔ وینې رواڼې تر لیمهٔ ځي
دواړه کسې یې په وینو کښې ډوبې يې
سپینې او ښې لویې لویې ړبانهٔ ځي [١]
په دا هسې حال به صبر څوک په څو کا
چې دا هسې شیرین عمر په کاټهٔ ځي [٢]
یو عجب فراق په سترګو باندې پیښ شهٔ
اوس د اوښیو څهٔ ارمان کا چې لیدهٔ ځي
له قسمته لاچاري ده علاج نشته
په ناکام لکه تنها بې ښنا ووړهٔ ځي
د دې خپلې مینې پښه پرې باندې پرېوت
کهٔ صورت یې روانېږي زړهٔ یې نهٔ ځي [٣]
مړې ایرې له اور د درده شوې فارغې
تل د تاؤ د لوګي بحث په سکارهٔ ځي [٤]

اوس ئې پس د محبت په دیوه وسه
بې وزره مرغه څو درومي په څه ځي
بې دیداره راحت نه غواړي ریښتیني
عاشقان به و بهښت وته ساړه ځي[6]
چې د دین او دنیا بار له سره واخلي
مخلصان به سکونت لره هاله ځي[7]

څو وصال ئې د خپل اهل روزي نشي
د میرزا ترستوني کل خواږه تراخه ځي

د دې مستې شهازلفې تار په تار دي
غوړېدلي لکه سپوږي په رخسار دي

هر و پېښته یې کوښې کوښې کمند روغ کړ
خوږې شوې د زخمي زړونو په ښکار دي

پر هغو زړونو به څه رنګ قراري وي
چې څکولي یې د مینې په مهار دي

چې له هسې خپله ځایه شي بې ځایه
د استوګې ملک ئې کوم دې چې قرار دي

چې د دې محبوب په مینه دیوانه شو
اوس وتلي له تسبیحه له زنار دي

واړه چارې ئې خپله مینه شوه د وړاندې
او بې مینې له جمله کاره بېکار دي

په خلوت په میخانه کښې یې ځلې نشته
نه په مینه د مسلم نه د کفار دي

له دې هسې خویه څه رنګ هتیاتي کړم
چې کاته یې د وېشتو وته تیار دي

ښائسته صورت ئې او نه د چندنې کړه
د اګېسو یې تړې پرېوتې لکه مار دي

چې دا هسې رنګ ديدن وته هوس کړه — د جهان غمونه واړه پرې انبار دي
همېشه د عاشق زړهٔ باندې ورتېږي — د محبوب کاته لمبې سترګې انګار دي
نن يې بيا د خپل جمال ډيوه کړه بله — عاشقان لکه پتنګ ترځارو ځار دي
عندليب د عاشقيه نامه يوړه — په ثنايې خبر زړونه موسيقار دي
دغه کسي تېز شراب سترګې پيالې دي — په نظر سره يې مست صاحب اختيار دي [٨]

دواړه ورو ځي يې ليندې باڼهٔ يې غشي
و آشنا ته يې نيولې په ګوزار دي
مخلصان په دواړه کونه ازادي کا
د محبوب و نښهٔ ديدن وته حصار دي
تر دغه خوښۍ به زياته خوښي څهٔ وي
چې هر دم يې و نظر ته انتظار دي
دا کثرت يې پر وحدت باندې ارهټ کهٔ
او راتلهٔ ورتلهٔ د هر چا پخپل وار دي
و هرچا وته يې خپله پوهه کښېښوه
د هرچا ليدهٔ د فهم په مقدار دي
اې مېرزا تهٔ دا ملالې سترګې وينه
چې مدام د يار له مينې په خمار دي

ACKU

نن زما پخپل آشنا محبت ډېر شي
واړه دوک د خپلې مینې وابرسېر شي
بې له یاره بل هوس پر ما حرام دے
او پسو به مې بل غم و زړهٔ ته تېر شي
کهٔ د یار زما ډېره دے په لیمه کښې
تور بانه یې پهره دار لکه سپنګېر شي
د غنه ذکو یې چراغ په خاطر بل شي [9]
د یقین لکه فانوس تر دل چاپېر شي [10]
مخلصان چې د باطن پر علم پوه شو
په ظاهر یې څهٔ حاجت د زور و زېر شي
په هر لوری چې د باور په سترګو ګورم
د کلي اشیاء زما د یار په څېر شي
بې له یاره مې نور هېڅ په خاطر نشته
هر زمان چې آشنا یاد کړم ځان مې هېر شي
نابینا به یې د سر په سترګو ګوري
د معنی دیدن باریک دے پر بل پېر شي
یو ځمښتن له شش جهته منزه دے
بېګانه دلې خپلېږي دشمن مېر شي [12]
عارفان د دواړو کونو ننداره کا
هر ځواب یې د لید لې ملک د لېر شي

ACKU

د مېرزا خبرې سرې تر روبهٔ دي
او تېرې په ظالمانو تر شمشېر شي

کهٔ په رحم دې پر ما باندې نظر شي
توره شپه به مې بدله په سحر شي [13]
په دا زړهٔ مې عجائب دا غوندې ښيي
کهٔ دا يار په هسې حال له ما خبر شي
په دا زخم ملهم مهٔ ږده همنشينه
کشکې لا را باندې زيات دغه اثر شي
دغه داغ چې مې خونړيو پرې تازه يم
ډېر هاد په رغېدهٔ مې حال بتر شي
کهٔ په غم پسې دې زغلم له ما تښتي
چې يې قصد د کمولو کړم بېخس [14] شي
يو زمان کهٔ د زړهٔ حال په ژبه راوړم
هر يو حرف به يې د هر ديوان دفتر شي
په طالب باندې مې سخ [15] دے تل ترسله
چې هردم يې په مقصود پسې سفر شي
خراب دل مې بې ديد نه صبر نهٔ کا
په طلب يې شش جهت راته کمر شي

نهٔ مکان نهٔ يې جهت شته نهٔ يې مثل ۱٦
دغه هسې ديد به څشکل ميسّر شي ۱۷
کل اشياء د حقيقت په ژبه وائي
يو صفت ديوهٔ حرف دے مکرر شي
کهٔ هر څوک د خپل هوش په مينه تلے ۱۸
دا ميسّر زا سې له ديداره بهرور شي

کهٔ قرار دې په زړهٔ ذکر د مذکور شي
تا پوهې به دې بدله په شعور شي
په دا سر به دې د سر ديوه شي بله
خلقه به درڅرکنده په دا نور شي
چې نهٔ رنګ نهٔ يې مکان شته نهٔ يې لورے
هسې مخ به تا کښې تا وته حضور شي ۱۹
دغه زړهٔ چې د ګمان په تيارهٔ ډک دے
يکباره به د ايمان په رڼا پور شي
يو په يو به دلې واړه درڅرګند کا
هغه کړه چې په آخر د دورسور شي ۲۰
د لاهوت د يګانګيه سبوري نشته
کهٔ ناسوت مې د کثرت په پانوکور شي

لکه ذات په هر صفات کښې تجلي کا
له عارفه به په کوم حجاب مستور شي
هغه زړهٔ چې د دیدار په خوښۍ مست شهٔ
څهٔ پرواه به یې د حورو د قصور شي
کهٔ مجاز د حقیقت له مخه واخلي
بې گمان[۲۱] به سره لمبه د کوهِ طور شي
کهٔ رموز د معرفت له حاله وکړم
هغه تېر گناه به مد حه د منصور شي
د غفلت په اندېښنو کښې به نهٔ وسي
چې میرزا غوندې په هسې حال مسرور شي

د اشنایۍ جفا ترکوم وفا به کل شي
کهٔ دا هسې تلخي تل وي خوا ږهٔ بلل شي[۲۲]
د عاقلانو فکر تمام تر مقام ورځې
چې په لوئے امید هوس کا د غم کرل شي[۲۳]
د یار دیادو غشي چې مشله څوک وینې
په نفس مې نوے نوے ترزړهٔ تل شي[۲۴]
محبت مې په مثال عین تازه سکروټه شهٔ
دغه سوزان سکروټه څهٔ رنگ په زړهٔ سهل شي[۲۵]

اودخامو قوت له کوم طاقت ئې څهٔ لري
دغه هسې ګرمې په سوې زړګي زغمل شي ٢٦

د سوي له درده چا ته چې حال ئې څهٔ دے
په ساړهٔ آه ئې لمبه په نور زړونه وېشل شي

د چندنې د اوښې د يوې صفت تر کومه کړم
د هتر په ګناه پر کنده پر کنده ورژل شي ٢٧

کهٔ طلب د ښادۍ څوک کا غم به تل وړي
دا ئې خوي دے وفا په ډېره جفا موندل شي ٢٨

بلا ئې درسته د محبانو په برخه کښېښوه
قسمت په قسمت په واړو باندې نازل شي ٢٩

چې ګوښې ګوښې څېله رضا کا ارام نهٔ مومي
په کوم حکمت به د محيط لار له خاشاک تړل شي ٣٠

چې کمينې کا په تن اختياره لوېي به بيا مومي
تل د روح ازادي د تن په بندګۍ ګټل شي ٣١

له هسې حاله خبر ګرانه معنیٰ څوک وائي
اساني چرې چې د ميرزا په خوله وئيل شي ٣٢

د کامل تر قلم ووري — د همای د دولت سيوري
هغه ذرهٔ له غمه خلاص شهٔ — چې پرې کښېناستهٔ دا توري

دا سیاهي مثال عینک شهٔ ... کل معني ورپوري ګوري
عجب تور حرفونه ګوره ... رهبري کا لکه ستوري
ستوري کل پریوه مخ څي ... کهٔ پرېشان دي لور د لوري
به غلط نهٔ شي له امره ... چې له نهي څېس ژغوري
دېوهٔ آواز له شوقه ... عام و خاص پر بله ښوري
د هر چا عمل ګواهي لي ... څوک ثنا کا څېني زوري
که جهان په نعمت پوردے ... په خوارۍ کښې دي اوچ موري
بخت هیچا نه دے پېروے ... نهٔ یې څوک په بها پلوري

میرزا تن په قلم راوړ
د ازل د قسمت غوري

هر سالک به د سلوک په لار کښې سم مري
چې د حقیقت دمېنې پر صنم مري
د غه عقل چې پر عشق باندې شېدا شي
د عرب په مینه ګوره چې عجم مري
۳۳ حیاتي به تر ابده افزونه کا
عاشقان چې له محبوب سره محرم مري
تر دغه ښادۍ به زیاته ښادي څهٔ وي
چې په هسې محبت کښې دم په دم مري

معرفت ئې د عارف[٣٤] د زړهٔ چراغ کهٔ
د توحید دیوه چې بله شي تور تم مري

بد ګمان د نابیناؤ د نخوري دهٔ
چې صحت ورله ورشي الم مري

ذوق او شوق ئې د اندوه په غولي پرېشت
چې ښادي یې[٣٥] په کمال شوه اوس ئې غم مري

عنایت د مسیحا ورسره مل شهٔ
په افسون ئې ګهې مارګهې لړم مري

واړه چارې یې په امر پوره کیږي
بد خواهان یې له د ښنو سره درهم مري

خدایي خوي د مخلصانو حیاتي دهٔ
لکه کب چې یو زمان بېرون له یم مري

د الف د یکانګۍ بزرګي ګوره
چې دویي (ېي) له عالمه په رقم مري

مشرکان دځان په سپوري فراغت کا
چې دایو یوازې وویني دووم مري

ذات صفات ئې همېشه په یوهٔ حال دي
د فقیر مېرزا خو یو نه زیات و کم مري

د کمان په قوت هرڅو پورته ځینې
عاقبت به بیا د شکو په دور ریږي
د شیرین عمر بنیاد ئې په باد ییښي
٣٦ که هرڅو هسې ونه کلک وځیله لویږي
یو عجب حکمت دلي وته لیدهٔ شي
چې اصلي قوت کمیږي غوښه کښیږي
لوئ ورے د امانت ور باندې یښي
٣٧ کهٔ قدم له ځایه نهٔ اخلي غولیږي
د دانا په نغوته ولې جمع نهٔ شو
٣٨ په ناپوهه پسې غزیږي لکه ویږي
مگر بخل دې په حلم باندې زور شهٔ
٣٩ و جحیم وته تیار شوې لکه ایږي
د سړیو له صحبته ئې بلد شوه
٤٠ و ملخوته ور دروې پر له لبنږي
په بزرگانو باندې ولې اهانت کړې
٤١ مکړه لار به دې شي بنده وبه پیږي
چرې نه چې مخ سمن به آلوده کړي
چې وباد وته توکي د لوړ ته میږي
په افسوس دې تللے عمر نهٔ راگرځي
٤٢ کهٔ دې اوښکې د باران په دود روږي

ومیرزا وته اوس څهٔ وایې نادانه
چې په ځان څهٔ عمل کړې هغه به کیږي[۴۳]

دا بلبل چې ډېر وېرېږي — زړهٔ یې موج کا نهٔ سهیږي[۴۴]
ګل د حسن بازار جوړ کهٔ — په تعجیل تر دهٔ تېرېږي
نهٔ قدرت لري نهٔ صبر — عجب کښېښوت نهٔ خلاصېږي[۴۵]
محبت بې مثله جال شهٔ — لا علاج پکښې تښېږي
د ازل قسمت وګوره — نهٔ به زیات شهٔ نهٔ کمېږي
ازماېښت یې په ځان تېر کهٔ — چې وصل شي نهٔ بېلېږي
چې له ځانه امید واخلي — نور پر څهٔ باندې وېرېږي
د مقصود دیدن یې وشهٔ — عارفان یې[۴۶] ډېر وېرېږي

میرزا خوښ دے خوښ به وسي
هر چې شوي هغه به کیږي

زړهٔ مې یار پسې خوږېږي — په بار بار آشنا یادېږي[۴۷]
کهٔ هر څو کړم مینه ډېره — دست و پاے مې نهٔ رسېږي
کم دلیلو ځینې څهٔ زده — چې پر خوږ خاطر تېرېږي
محبت بې مثله اور شهٔ — د عاشق په زړهٔ بلېږي

د هجران غمازې او بنسې | چې پر مخ باندې بهيږي
دا د راز ډيوه شوه بله | په محفل کښې نه پټيږي
د عشق درد څه هسې نه دے | چې حکيم پرې وپوهيږي
نه علاج نه يې درمان شته | په دارو به نه رغيږي
طبيبان شوه بې مجاله | څوکوشيش کاندي تبريږي ٤٨
دا بيلتون د زهرو کوټ شي | د رنځور تر حلق تيريږي
په تقدير مې دا ساعت دے | چې نجل يار له مابيليږي ٤٩
هره برخه ازلي ده | پر قسمت به ورسيږي

نن ميرزا تياري وکړه
د وطن ته روانيږي ٥٠

چې د عامو حال مې وليده پر ولي
غافلان لکه ړوندي په مړو شمېرلي
دغه مرګ مې د صورت او د معنی[١] دے
د مړوو هديرې د خلقو کلي
د ځو به روح په روح خواري زياتيږي
چې خناس پخپله نغوته کښې وژلي
د گمان په دريابونو لاهو کيږي
د ګرداب په منځکښې ګرځي لکه خلي

له مجازه يې بساط دے غوړولے
ناسوتي باندې تيار دي سوارهٔ پلي
اماره او لوامه پکښې شطرنج کا
دا لښکر مې په فرمان وبله ځغلي
نوکران ئې په شدت وجنګ ته ساز کړهٔ
بيا وسلې يې خپل خويونه پرې وېشلي
بدګمان لکه ليندهٔ غېرت ئې ژېيه
کم دليل ئې هر زمان وبله وولي
نامشروع وېنا د دوي په مثال غشي
پر قبضه باندې يې کښېښود جوړ وولي[51]
د غه قهر ئې قوت ليندهٔ ځکوينه
اروېدهٔ يې ګذارونه دي ختلي[52]
بد آواز په زړهٔ پر هار وکا بې مشله
پر اندوه دي د سړي شېطان خندلي
وبدي د وته يې څهٔ رنګه تلوار دهٔ
له ښېګړې فرارې کړي لکه ځُلي
او دا زړهٔ د هر چا ځاۓ دے د دارو
د دارو په ځاۓ يې زهر دي کړلي
د نوسک عالم ئې زور په زړګي وکا
او د روح پر ملک ئې ګوښې شېطان ملي

که قامونه په جهان کښې تار په تار دي
فقیرانو په خپل ځان کښې دي پېښ[۵۳] لي
د مسکین سره د هیچا سیالي نهٔ شي
چې یې کړهٔ تر تلې وراندې دي تللي

اے میرزا وخپل صورت وته نظر کړه
امرونهي پر هر چا باندې راغلي[۵۴]

که یو ځل د محبت عجب باران شي
د غه پټ بشاشت به رنګ په رنګ عیان شي[۵۵]
باد په بوي د دغه زرهٔ وړي لونه لونه[۵۶]
هغه زوړ عالم به سر له سره ځوان شي
ارغوان به عقیق جام و سمن ورکه
چې نرګس و شقائق ته نګران شي
بنفشه به تفرج کا په خاطر کښې
او د بوي په عمل مینه دریحان شي
دا لاله به د زرهٔ داغ په پانهٔ[۵۷] راوړي
او ناکاه به له حسرته ځان په ځان شي

هر بلبل چې د هجران غمونه تېر شي
په دېدن به د ګلونو په فغان شي
دا چې زه په ګل وصل کړم د پېره مينه
سرله سره انديښنه مې له خزان شي
په شعبان کښې ته پياله له لاسه مه ږده
بيا وعده به يې تر عيده د رمضان شي
د دې نن روځې امېد په ګانده مه کړه
بيا د تېر ساعت [۵۸] څوک څه لره ضمان شي
هر يو ګل چې پر دا لار راغے و باغ ته
دغه هسې به پر بله لار روان شي
نن ساعت چې دے په لاس دے ښه ئې ګوره
بېهوده به دې پر تېر ساعت ارمان شي
د پتنګ رخت دغه دے چې يې وکه [۵۹]
په طلب کښې به دې ډېر هسې قربان شي

دا مېرزا په جهان ستا په رضا راغے
په رخصت به دې له دې سرايه روان شي

اوس مې بيا په دا خراب خاطر شو نوي
د آشنا د لرغونيو دا غونو سکوي [٦٠]
دغه تور زړګۀ به مې هسې ښائسته کا
په اول بهار چې وټوکيږي سوي
درې عشق له تاوه هسې ښائي ده [٦١]
په ظاهر د باطن چار کا دغه لوي
لکه مخ له خال و خطه سره زيب کا
هسې سترګې ښائسته په خپل بڼۀ وي [٦٢]
درې اصل سياهي ور څخه پاڅي
رڼا روح به پر هغو سترګو تيارۀ وي
بې مثلي د وارو مثلو حياتي ده
او بې ذاته د صفات استوګه نۀ وي [٦٣]
د کثرت د وحدت څۀ شکل تفاوت دے
لکه يخ چې رنګ او نوم ئې په ساړۀ وي
زۀ همېش د خپل آشنا په ديدن پايم
د ماهي حيات وي هومره څو اوبۀ وي
د خپل يار جدائي هسې پر ما ګرانه
لکه روح چې له صورته پرواتۀ وي
د خود بين له وېرې حال وئيلے نشم
دا د زړۀ خبرې نۀ دي زړۀ مې چوي

که د خپل اشنا قربان شم باک مې نشته

دا شيرين اشنا دې تل ترتله ژوي [64]

د دې رنځ په اخر هسې رنګ پوهېږم

چې بې نياز اشنا به وي مېړزا به نه وي

د اشنا په اشنايۍ مې دې سوګند وي

که ناحق مې زړه په بده چار خورسند وي

هر چې سمه لار پرېږدي پر کږه درومي

تر ګردن ځې پرېوتلے دا کمند وي

د شيرين ديدن قيمت به هغه مومي

چې ليدلے يې د جدايۍ پيوند وي [65]

ظالم زړه چې له ازاره ويره نه کا

همېشه دې د هجران په اور سپند وي

چې دا هسې د ګمان په نغوته کښېوت [66]

د حاسد به نور په کوم هنر [67] انند وي

چې د نام و ننګ بنسوه په بې رهي کا

کم دليل عالم د لاندې تر الوند وي [68]

جاهلان دې په مثال د سترې زړکې

چې يې سر په وانښه پټ لم يې څرګند وي [69]

ACKU

خود پرست به له عذابه نهٔ خلاصیږي
کهٔ ظاهر صورت یې خلاص روح به یې بند وي

هر ناپوه چې ناحق شرم پر ځان ولېښي
د اوزګارو خوشامند به یې ریشخند وي

کم دلیل د ناپوهیه په عذاب وي
د دانایه د دانا خبره پسند وي

اے میرزا د کاملانو وینا نغوږه
چې یو یو کلام یې بهره ترسل سمند وي

ې

تهٔ چې سترګې غړوې په جهان لواتې ۱
(عاقبت به یې) د ځان په لور کړې تاتې ۲

دواړه سترګې غړوه په هر لور ګوره
د مرګي په لار دي یون دے په حیاتې

. . . . له دې منځه خبر شه
. . . . حلقې کړې بسراتې

په څهٔ خیال په څهٔ هوس یې رغولے
چې دې لوړې ماڼۍ پیاتې شوې میراتې

ACKU

د هجران سیلئ را والوته عظیمه
د چندن شیرینئ ځانګړې کړې ماتې
ر په قسمت دي) میرزا صبر کړه صبور شه
د ازل بخرې به نهٔ شي کم و زیاتې

مقیمې وطن دې کوم دے چې پرلار ځې
یا به سم له خپله عمره ناقرار ځې
ناتمام عقل دې هسې رهبري کا
چې خزان وته په مینه د بهار ځې
تفاوت د عین او غین کوله نهٔ شې
په نقطه باندې چو پس لکه پرکار ځې
د یقین چراغ دې نه راوړ د ورانده
د دین قوت دې کوم دے ناهموار ځې
په دنیا کښې آخرت وته غریب یې
بیا له لارې یو سر بل سر لکه مار ځې
آئینه ښنې دې په فکرت بدلې نهٔ کړې
لکه روښن په خود رایئ کښې بې مهار ځې
لوئے ورے د امانت درباندې ا ښنے
و جنت وته به لنبلے په دا بار ځې

د وحدت په بې حدۍ يې خبر نهٔ شوې
د کثرت بېګانګۍ کښې تار په تار ځې [٥]
و مقصود وته به ورسېږې نهٔ شې
څو د خپل خاطر په مينه کښې حصار ځې
له اخلاصه و نفاق وته مايل يې
د يمين له لورې څکه پر يسار ځې
د مېښتر زا خبره نهٔ نغوږې کم بخته
په دا وقت د توبې ولې ګنهګار ځې

بڅې دا هسې رنګ په ناز په کرشمه ځې
تهٔ د چا په قوت ځې له چا سره ځې
د صفات استوګه نه کېږې چې ذاته
بې خبر تهٔ د غفلت په توره شپه ځې
له حېوانه سره څهٔ رنګ فراغت يې
له انسانه په وحشت لکه غرڅه ځې
د رحمت اثر دې نهٔ وينم په زړهٔ کښې
بېهوده دې وبله تېولې کړې وره ځې [٦]
د ګمان په ساړهٔ کلک يې لکه کاڼے
د يقين له مخه تېښتې بڅې بڅې

یا نادان په نادانۍ له اصله ګوښي
یا کم بخت له خپله بخته په کینه ځي
په مقصود پسې به ورسیږي نهٔ شي
چې دا هسې د خناس په وسوسه ځي
عجب نمر د معرفت په جهان بریښي
د پند او دستر کوڅهٔ فایده له روځي
دا صراط تر تېغ تېرهٔ تر شپې تاریک دے
په دا سخته لار به څوک په منډه ځي
پر دغه مقام به صبر وکړي نهٔ شي
کهٔ قدم په وړاندې واخلي وبه سوځي
د میرزا دو ښنا قدر به بیا موې
کهٔ درنه خرقه دې واچوې څېره ځي

کهٔ د عشق په میو مست له ځایه پاڅي
نو به هېڅ کله خلاص نهٔ شي له دې بناڅي
چې سېلاب د محبت پرې برابر شي
ذرهٔ تمام کوڅې کوڅې شي داڅي راڅي
دغه هسې رنګ سینې زنبور خانې دي
معرفت لکه عسل دې زړونه پیاڅي

کهٔ په حال تر اهلو دلو پوري ورشي
په خندا خندا به سوزي هم به شا شي
د دنیا دا تله دي څهٔ رنګ په شتاب وو
خوشي ګود له په فریاد او په غوغا شي
د قضا شاه به ستا څانګو نه مات کا
کهٔ ته هر څو پورته پورته په هوا شي
کهٔ یو ځل په محبت ور ته وګوري
عاقبت به له دي هسي فاني پاشي
اي میرزا کهٔ دي دغه خو بني روزي شي
د لوګي په دود به پاس په طبه نا شي

په پښتو ژبه عجیب دي دا خبري
په صفت د یګانه محبوب حاضري
د کثرت بازار یې جوړ کهٔ لونه لونه
په هر څهٔ کښي تماشه د بازیګري
د صفات نوم یې په هر چا باندي کښېښو
او د ذات الله یګانګي یې زور وري
په ازل یې قسمت بیا موند څو بني ګو بني
اوس لیده شي چري ویر چري سندري

د عاشق خاطر يې پل که د ښاد ېيه
بيا کښې کړې ځينه د غم پېښ يې
جدايي مې په مثال زهر قاتل شوه
د ديدن شيريني زياته تر شکر ې
د هجران ناوکي هسې رنګ تېره وي
چې علاج يې په سپر شي نه په زغرې
په مهجور به عمر څه د رنګه تېرېږي
چې نزدې ليدلې يار شي ځنې لرې
هوسناک يې له هوسه تماشه که
د خزان د اوښي اورځي تر هتر ې
د فراق په سرخه زېب دستر ګورګوره
بيا په توربانه چې زانګي مرغلرې

اے مېرزا د صبر اجر دې ديدار شه
چې دا هسې د هجران غمونه نغرې

که يو ځل دا يګانه محبوب وګورې
په يقين به قلم راځکوې پر نوډې[۹]
دغه ګرې ودې وروځې يې ليندې دي
روس يې تاوته تو بري دي سترګي تورې[۱۰]

ACKU

بیا اوبهٔ له محبته ورکوینه
دغه تور را نجه ئې زهر کړه پرې پودې[11]
بنائسته بانه[12] ئې غشي د خدنګ دي
تر دا سختو زړو به ووځي پورې ورې
دا نازک نظر به څهٔ رنګ ترې تیرېږي
چې چاپېر بانه ئې ستنې دي سمسورې
تر و به تهٔ له هسې خوبه و خبردار شې
چې ارام دې نه په نمر شي نه په سپورې
یکباره به قراري ذر څخه پیا ځي
د دې درد ناري به کړې پربل به بنورې
د بې نیازو پر خاطر به اثر نهٔ کا
د دې او بنیو پر ځائے دروګوهر اورې
عجب زړهٔ ئې له تا یو وړ په ځائے پربښوې
اوس ئې ډېر ډېر غمخوارې وکړه غمخورې[13]
په ناکام به فراغت در له درشي
تر وچې هیڅ درڅخه نهٔ وي څهٔ به ژغورې
په[14] دا نسبت به دې پرده له مخه واخلي
د مجاز غوږ به کانهٔ کړې سترګې کوړې
چې هاله دې لور په لورې غرولې
یکباره به ئې و خپل ځان ته کړې نسکورې

ACKU

میرزا قدر به هاله در څرګند شي
که اشنا ته د اشنا په نظر ګوري

---

15 په ربښتیا که په مقصود پسې منزل کړي
او یوازې یو اخلاص ورسره مل کړي
کهٔ ته اوس له بدو چارو وچاروځې
هغه کړے بد به هم په ښهٔ بدل کړي
دغه زړهٔ دې په مثال د آئینې دے
16 کهٔ له غبرو اندېښنو یې په صیقل کړي
حقیقت به د اشیاء و تا څرګند شي
کهٔ چراغ د معرفت پرې باندې بل کړي
نیک و بد به د خپل ځان پخپله وینې
17 دانسته به هره چار پخپل محل کړي
په باطن به له باطنو سره وسې
18 او ظاهر به له ظاهرو سره مل کړي
عارفان به خپل مقصود په تاکښې وینې
په اشنا به ځان شیرین تر دا عسل کړي
دا دوستي به و دوستانو ته واورې
19 او دښمني به له دښمنو سره اورل کړي

ACKU

په دا هسې حکمت څه رنګ پوهېدلې
چې مصري له نېشکر و ناې له نل کړي
۲۰ مرغه ګوره چې په ها ژوندې په دم شي
بیا یې وینې له صورته به وتل کړي
هر سړی دې په اختیار باندې قادر کړ
هر چې لاپې د قدرت کا لاس ئې شل کړي
له روله دا جهان د غه ئې چارې
چې له چا سره نیکي د چا زلل کړي
معرفت ئې د مېرزا په برخه کښېښو
د آبد چارې څه واړه په ازل کړي

---

۲۱ د دې نن روځې امید چې په فردا وړې
همېشه به د غه دروند ورے په شا وړې
کل اختیار د نېکو بد و دې په لاس دے
۲۲ هر چې اوس در سره وړې هغه به بیا وړې
په دا هسې عاقلی کښې بې غمي کړې
چې مرده روح دې په وخت د مسیحا وړې
په غفلت دې د غفلت زخمونه ډېر دي
حقیقي طبیب را غلے که دوا وړې

ACKU

کهٔ تر هسې کاملانو پوره ورشي
دین دنیا به د نېکانو له دعا ورځي
پیر کامل به وتا هسې تلقین درکړي
چې په هر نفس به د دوو کونو بها وړې
چې دا هسې حاصل بیا موې په کور کښې
بېهوده منت[٢٣] به ولې د نور چا وړې
د گمان له تاریکیه به دې خلاص کا
و باور وته که مینه په رښتیا وړې
دا نفي به د فنا و عالم درکړي
د اثبات قدم به عینې په بقا وړې
کهٔ یو ځلې تخلقوا باخلاقي شې
د جهان چارې به واړه په رضا وړې
د میرزا په څېر به حقه گواهي ولې
د توحید چراغ روښان دے کهٔ ضیا وړې

په اخلاص کهٔ د کامل خبره پند کړې
په نفي به د اثبات[٢٤] قدر څرگند کړې
کهٔ دا فکر دې د ذکر پېهره دار وي
دغه نفس به دې پټ اثبات کمند کړې

ACKU

امنیت به دې حاله په زړهٔ قرار شي
کهٔ خاطر دې له جمله پرواز و بند کړې
ستا به غیر ې اند یښنې له د له پا ځي
کهٔ دا یاد تهٔ له دیدن سره پیوند کړې
په هر لور به یو بې مثله دریاب وینې
د حیات او بهٔ دې دا دي کهٔ یې خوند کړې
یو ژوندون به جاودان درلره در شي
همیشه به دخپل زړهٔ په حال اشند کړې
پردا سر به دې د سر دیوه شي بله
عاشقان به پر د غه آتش پسند کړې
محبت به دې د عقل[٢٥] پسر وي کړه
کهٔ دا عقل دې د عشق په رضابند کړې
دا قوت به دې هردم پسې زیاتیږي
چې علاج یې په دا ههې شان ګلقند کړې
هر صورت[٢٦] به د سیرت په نظر وینې
چې مقصود له واړه یو له یوهٔ چند کړې
اے میرزا ظاهر باطن به درڅرګند شي
کهٔ سنګین ګمان تر پښو، یقین بلند کړې

چې هر دم و هرې چارې ته هوس کړي
د مقصود چارې به وار په تروخت پس کړي
شیرین عمر دم په دم در څخه درومي
که د زړه د غوږ و فهم به جرس کړي
ددې عمر حلاوت به در څخه گند شي
ننداره که د ژوندون په هر نفس کړي
بده طمعه دې په ځان پسې څکوینه
بیهوده نغوته به ولې دوسوس کړي [27]
استعداد د هرې چارې در څخه دے
د سیمرغ په تابیا زیرمه د مگس کړي [28]
کل مقصود به د معنٰی و تا څرگند شي [29]
که له غږو پاکینه د زړه جرس کړي
دایم یاد به دې هاله په زړه قرار شي
که یقین ته بهره دار لکه عسس کړي
تش گمان دې د مجاز په مخ کښې بند شه
د باور په زور به مات د غه قفس کړي
په هر لور به د حیات اوبه ووینې
هر زمان به په زمزم د زړه اودس کړي
خزانه د قناعت به دې په لاس شي! [30]
دا شړه به ته بدله په اطلس کړي

اے میرزا کهٔ دې د روح ازادي بویه
دا صورت به د کامل د اشنګړ خس کړې

په هوس و دېر ناکام وته وُخېږې[31]
چې له فهمه و اوهام وَته وُخېږې
مګر علم د یقین در څخه[32] نشته
چې د خاص په تابیا[33] عام وته وُخېږې
له کشفه د لطیف پر مخ حجاب شه[34]
چې له دیه صبح و شام وته وُخېږې
د کامل په لوري وګرځه داکعه
کهٔ د معرفت و بام وته وُخېږې
ملامت د خلایق پر خدائے قبول دې
په دا کفر[35] به اسلام وته وُخېږې
له عبادته به خبر په عبدیت[36] شې
له مقامه به مقام وته وُخېږې
تل ښادي به پر تازه باندې تازه کړې
له وقتي به و دوام وته وُخېږې
له نفاقه به اخلاص وته روان شې
دم په دم به و مرام وته وُخېږې

ACKU

د خلیل کعبه به وویني په کور کښې
که په زړهٔ د جَم وَ جام وَته وخېژي
اے میرزا اول آخر به درشرګند شي
له تشویشه به آرام وَته وُخېژي

د کمال په حقیقت به ورسېږې
کهٔ د عشق په درسته پوهه وپوهېږې
کهٔ نظر دې د محبوب پر جمال پرېملي
په دیدن به ځیني ګوښې نه پاتېږې
په هجران به ووصال وته روان شي
[37] په وصلت به په هستۍ کښې نه سهېږې
هر نفس به له وجوده قدم اخلي
له دې هسې نبهٔ ړوند ونه به ترهېږې
و پتنګ وته به دا عمل پېښود کړې
[38] چې جدا له یاره څه شکله توانېږې
خپل صورت درباندې څهٔ رنګه عزیز دے
[39] چې د عشق په اور کښې ولې نه ویلېږې
ښائسته طبه به پاس پر تندې و اخلي
[40] ترو په میان به د خپل اهل و درېږې

که خندا ژړا دې دواړه یګانه کړې
په دا هسې رنګ مقام باندې به خبرې [٤١]
هر زمان به دې له سره سر پرې کیږي
بیا به نوی سر به لا تازه بلېږي
پاکیزه له خپله عقله به مجذوب شي
هر زمان به په ژړا کښې هوسېږي
د میرزا به دود به چرې خاموشي کړي
چې د حال په ژبه هر چرې وییږي

دل آزاره خوي دې ونیوه دیرې
چې په ظلم د مظلومو زړونه کوږې [٤٢]
پسو [٤٣] سخت دې د ستم په منګل راکښي
په کینه ئې هر زمان پر سیله مې
تل تر تله به خلاص نشي له عذابه
چې سینې د مظلومانو ځیني خوږې
چې اوره ئې د مظلوم په وینو واخښه
په هغو شوې جاودانه بنیادې زوږې
ناصبور که بادشاهي د کل جهان کا
حرصناک زړه به ئې خلاص نشي له لوږې

دژوندون په تېرېدو دې نظر نهٔ دے
پسو د پېرې خزانې پرې باندې لرزې
په غفلت دې خاطر څرنګه ځنګل شهٔ
اندېښنې پرې مؤکلې لکه سپې دي
کل مدار دې د غلولو په هنر دے
د سباق[٤٤] په سپورې کړې لکه منږې
اے مېرزا نظر له عيبه پر هنر کړه
بې وفا اندېښنې مهٔ کړه واړه برې

---

[٤٥] کهٔ يو ځل د خدائې عشق همخانه شې
يو په يو به له عالمه بېګانه شې
له هستېيه به نېستېيه لره ورشې
په دا نېست به له کل هسته يګانه شې
د کمال عقل[٤٦] به واړه تا څخه وي
په نظر به د کم فهمو دېوانه شې
د تهمت غشې به واړه پر تا وورې
ترو به تهٔ د عاموخاصو نښانه شې
د زړهٔ حال به د نا اهله خلقو اخلې
همېشه به لکه ګنج په وېرانه شې

دغه خپله ودانۍ به ویرانه کړې
بیا به ته د کل ویرانو ودانه شې
که دې ځان پر دا سوزانه لمبه کښېښو
په دا دود[۴۷] به جانګدازه پروانه شې
یو شراب حقیقي به دې ترخوله شي
تل به مست په دغه مسته مستانه شې
په هیڅ دود به د دوو کونو پروانه کړې
که توانګر د قناعت په خزانه شې
ترو باران به د رحمت په عالم ووري
هم به تخم په جهان دانه دانه شې
در د حال اهل به ستا له حاله وایي
په رښتیا به د رښتینو افسانه شې
په وئيل به د وئيلو جواب ورکړې
ته به زیب د وارو چنګ وترانه شې
که ګویا دې د ګویا په ثنا کښېښو ځې
د میرزا په دود به یاد په زمانه شې

تل قدیم يې تل تر تل ئې　　د عاشق په زړه کرل يې
پر سپین مخ دې راخورې کړې　　تورې زلفې غورځو[۴۸] لې
په کاته کښې دې کړې غوځې　　د عاشق د زړګي ولې

یو زمان مې نهٔ هېرېږي — زړغونه زما په دل ئې
حد پایان دې مونده نشي — تر کلّیات ئې جاروتلې
د کثرت په کېل دې ذرهٔ وُ — نن پر چار عنصر دا غلې
یو لطیف مزے دې روغ که — خلقې دې پرې پېـــلې
دا نن دې تر شپه د ګونو — و هر چا ئې رسېدلې
کم دلیل دې لیدے نشي — په ګمان ځینې پوهېږلي
اه او اوه پر هغه کس دے — چې یې ته نهٔ یې لیدلې ۴۹

واړه ستا د مخ خبرې
دے فقیر میرزا ویلې

چې ته هسې مستغنې په ګلو ملې
د دیدې په وفا ځهٔ رنګ پوهېدلې
محبت دې له هر چا سره اغاز کړهٔ
لور په لور دې تنستې و نبلو لې
د ذړکي پېښې دې څومره مختص دے
تا په سو دا هومره مینې پرې کړلې
سِنهٔ تکیه دې د بې نیاز په عهد وکړه
او په باد دې د ذرهٔ ولې وتر لې

که شیرین اشنا دې کوچ درڅخه وکا
دفراق ناري به کړې پسې به څغلې
چې د هسې لاله زار تماشه نه کړې
د خزان په لمبو وسوزه بلبلې
باریکي به د نظر درلره درشي
چې د یار به نښانه وې پوړې نښلې
دم په دم چې دوصال په هوا آه کړې
د هجران اوښکې به کښېباسې په تلې
د غفلت خوب به ته څوبه بې غمه کړې
چې سحر جرس د تللو ناري وهلې
دا غنچه چې له روله تار په تار شوه
په رموزې د بیلتون ناري ویلې
نن میرزا د محبت پر مینه پر بهشت
په ازل ئې د ابد بخرې وېشلې

نن مې دا شها ليدلې — په يقين مې پېژندلې
دوه ړه زلفې يې کړې لومې — پر سپين مخ يې غوړولې
خال يې لومه کړه عالمه — قافلې يې پرې نيولې
ده جلا د شها مېنه — د هرچا په زړه کړلې
چې د شاه يې اشنائي شوه — زړه يې درست وکښل له ولې
په تهمت دنخوند نږيه — په اخلاص يې ملا تړلې
د مرغۍ اوښې يې رنگ کړې — د خزان اوبو وللې
د زعفرانو رنگ يې واخيست — بيا په وينو يې وهلې
نن يې بيا خمار په سر دے — و مظلوم ته قصر ولې
څوک يې تاب سهلے نه شي — چې يې وينې تويولې
له ازاده نه ويريږي — خلقې يې دي وژلې
پر عاشق شوه برابره — د تقدير توره وکښلې

په هيڅا به منعه نه شي
د ميرزا په قصد راغلې

لرغونۍ يې هم اوسنې — هم تازه يې هم ړېمنې
گه زړه شي گهې ځوانه — بيا ساده يې مکرجنې
په خوابده کښې دي ترخه دي — له ښو بد پر بد مېښنې
عجب لوې نښردې بولې — چې نږدې وي وړخ يې کښې
صورت شهد وڅرگند کړې — خوي دې څرخ شي لکه ستنې

چې نهال شهٔ ستاله لاسه　　　بیا یې ولې ورژړنې
کهٔ څوک زړهٔ وتاته درکا　　　ته یې دا څکوې پرغنې
عالم تاله لاړې ووېست　　　د کنډهېړ ښائسته اوبې
چې هوس له دنیا غواړې　　　تل پرې بړدې د غم ریخنې [50]
بدګمان [51] يې تنسته کهٔ　　　کینه قهرېٔ پرې پېښنې [52]
خپله څهٔ رنګه استادشهٔ [53]　　　روح په روح کاندې وودنې [54]
زوے د پلار سره دښنه کا　　　مېندې لونه سره بنې

روښان مړ د دواړو کونو [55]
د غافل سترګې ښېچنې
مېرزا وائې حال دغه دے
کهٔ څوک زیان کا کهٔ ګټنې

کهٔ جهان د حقیقت په سترګو وینې
سود او زیان دے دهر چا له خپلې مینې
که لاهوت له سادګېږه ښائسته دے
د ناسوت جامې یې روغې کړې [56] رنګینې
دا نایان په هر ظاهر کښې باطن ګورې
د جاهلو زړونه تورشو سترګې سپینې

ACKU

۵۷
یو اصل د اوبو دے یو د زمکې
او مېوې ځنې ترخې دي څوک شرینې
د مشرک اَرسي[۵۸] یوه څخونه دوه شو
د عارف سترګې ئې دوه نهٔ دي دو بینې
حقیقي محبوب به څهٔ رنګه صفت کړم[۵۹]
چې آخرې بخرې یې داورې اولینې
نن ئې ځان له سود وزیانه فراغت کهٔ
وایه اَمر اَمر وینم له مسکینې
یو زمان هستي نیستي نیستي هستي کا
د فرمان چارې یې وایه دي متینې
سامعان ئې د رموز په معنیٰ پوه کړ
د واصلو زیات صفات دي له آمینې
سالکان ئې سکونت لره روان کړهٔ
د اول چارې یې وایه کړې پسینې
د مبرزا څخ ئې و څخ ته آئینه کهٔ
د بینا سترګو لیدهٔ د زړهٔ یقینې[۶۰]

کهٔ د ذرهٔ په حال خبر شې تهٔ مسکینې — د خپل یار سره همدرده همنشینې
د معنیٰ اصل دې هم پسې وغواړه — په صورت یې ترهمه عالم مهینې
بدګمان دې دیقین په کسې کېنبوت — چې دا یو یوازې دوه وینې دوبینې
د بې فهم سړي هسې رنګ سزاده — چې د ذرهٔ تخته یې توره سترګې سپینې
د اشناله سادګیه نا آشنا شه — دکثرت جاموېې واغوستې رنګینې
چې تمام وجود دې عینې کسي نشي — ددې یار مخ به په کومو سترګو وینې
محبت دې دهرچا رهنما ځې کا — دهرچا د ذرهٔ دارو شول خپلې مینې
چې هرڅوک دې په خپل ځان پسې شانهٔ کړه — بیا د کفر په ځان کفر د دین دینې

وهرچا وته دې خپله رضا کېنېښوه
حق په حق د مسلمان هندو آمینې
په زنار تسبیح دې راځکول دوي دواړه
تهٔ هېښ له په داخپله چار مینې
معرفت دې د بند یا نو ازادې ده
د مېرزا د ذرهٔ تکیه، د سر بالینې

کوم سحرګر وکړې په تابانۍ دا تهونې
چې دا هسې یو فساد پر بله مونې

ACKU

کهٔ هر څو يې ټولوې ټوله به نشي
دا دنیا د رڅخه بغرې ته يې چونې
د څلور عنصرو کټ پر بله کښېښوت
دم په دم وځېله خيشۍ ته يې بونې
د هلک څوبونه پر بن ده که دانا يې
د کمال ګواهان دي تېر شو زوي اولونې
یکباره د نفس په نغوته پسې ولاړې
له څر ببنسته [٦٢] د تشدیو په دود پیونې
د خفي ذکر له ذوقه خبر نهٔ شوې
په غفلت کښې د چارپایو په دود سونې
رحماني فکر دې نه وکړ له وخته
اوس خناس د رڅخه وکښېښ دزړهٔ تونې
د غافل خاطر تمام اند ښنو وخوړ
تل په مثل پرې دګیا دي لکه ګونې [٦٣]
په جهان د کم دیلو پېښې دېر دے [٦٤]
چې د زړهٔ په حال هم ګونګ يُ اوهم کونې
په هېڅ دود په یوهٔ عقد نهٔ کښېښوزې
د غه درځ دنیا دوه څویندې دي نهٔ یونې

اے مېرزا ظاهر باطن به ورڅرګند کا
کهٔ کامل يُ په معنیٰ ستر ګې کړې رونې

څهٔ دې زده چې د صفات په اصل څهٔ وې
یا د ذات اصل دې کوم دے چې پرې ژوې
ستا راتلهٔ وو په اول له کومه ځایه
بیا به پس له دې د کوم مکان مرغه وې
که اول آخر په حال باندې رانه ورې
لکه وو روکے په تې پورې پۀ روې
د دانا په دانایۍ باندې ویښ[65] نهٔ شوې
د غفلت د شجر لاندې شوې اوده وې
په خاطر دې د غفلت[66] فکرونه ډېر شو
اندېښنې دې پکښې خوږېږي[67] لکه زوې
د کثرت په ډېر حساب کښې بېګانه شوې
اوس وښتهٔ پر وښتهٔ یو د بله څوې
بې وفا په تش رسمونو پسې ولاړې
نور عالم کهٔ فراغت وي خوار به تهٔ وې
عجب نوم دې د حباب[68] په خپس کښېښو
په هوا باندې څوپېږ څرې[69] اوبهٔ وې
ګه ذره شې د سایې په میان کښې برېښې
ګاه ځلېږې په زور جمع د ساړهٔ وې
په نیمګړي صورت څهٔ لره نازېږې
کهٔ پر سپوږي دې نمر درشي ته به نهٔ وې

پخپل شک دې خپس سخت ګمانه ترکانهي
د یقین په تاو کښې وسوسه لکه خوې
له دې سوز دې یو بې حده عزت بیا موند
ځائے پر ځائے ئې د شائسته سترګو رانجه وې
قدسي جامه دې واغوسته روښانه
د فقیر مېرزا په کسي کښې لیده وې

ی

کوم امید په دا قانې ورانه نړېد — چې فرصت ئې یو څو پهره څوکړېد
دې نیاز په عهد څشکله تکیه شي — چې د زړه مینه په یاد پورې تړېد
سراسر د ایرو څلے د دوې — بېهوده د شګو پړے دے غړېد
په ارزو پسې چې تلې سزا دې داده — مېنې د برې خلقې کړې د نځړېد
اوبه دې طمعې سمه لاړ دربانې بشکړه — لور په لور ئې درته کښېولې اړېد
د عیال زنځیر ئې سخت په غاړه کښېوت — محبت ئې ویله وویستې کړېد
د ځوانۍ بهار ئې څشکله تازه وُ — د پېرېد سهېل ئې وچه کړه جرېد
که اول مې توري بیري ته هوس که — اوس ارمان کوم د څڼیو د څړېد
د قدرت له مخه رنګ پر بله اوړي — پسو تور و ښته شو سپین لکه وړېد

د دانا پوهه مدام په اشارت وي　　د نادان ادب په قهر په چهړ یږ ۲
په اوبو به د زم زم څهٔ سپینه نهٔ شي　　چې په ذات وودلې توره وي شړ يږ

اے میرزا د محبت خبرې وایه ۳
څو کمو یا ربه دې نهٔ وي تتړ يږ

ے

اواز واړه د وهاب دے　　که د رحم یا عتاب دے
په هر لور چې فهم وکړم　　د مولىٰ چنګ و رباب دے
حکم واړه ګوښې ګوښې　　بیا ودهٔ وته مآب دے
تر دا مخلوقات و تلے　　پس و بې مثله طناب دے
درست جهان ئې احاطه کهٔ　　یو عجب لطیف دریاب دے
مخلوقات چې څرګندېږي　　هم د دې دریاب حباب دے
حباب روغ دے له دریابه　　بیا د دې دریاب حجاب دے
ناسوت نهٔ دے بې لاهوته　　نوم ئې یخ شهٔ اصل آب دے
په کثرت کښې تار په تار شهٔ　　اور او باد اوبهٔ تراب دے
ویښ و نه او ویده و نه　　که سرود کښې مضراب دے
په څلور عنصر د پاسه　　کبریا ئې لوے جناب دے ۲
هم پر دا جناب ختلے　　د دې معرفت افتاب دے

ACKU

دا آفتاب په هرچا بر یښي — د دوبین گمان نقاب دے
بې نصیب شهٔ له راحته — دده ځان په ځان عذاب دے
د غبار په تیارهٔ کښېښوت — باران نهٔ لري سحاب دے
خود پرست په خودی بند شهٔ — څهٔ بنده څهٔ ئې حساب دے
کهٔ تهٔ نیست شې هست به مومې — کهٔ سایل ئې دا ځواب دے
هرچې دا ځواب ئې بیا موند — ترو ددې علم ارباب دے
تل باده د محبت خوري — هر څو پیر شي زړهٔ ئې شباب دے

میرزا د پروائې په لږ کښې
د پر په لږ کښې انتخاب دے [3]

پیر کامل د رحم وور دے [4] — ور پسې لور په لور دے [5]
درست جهان ئې ښائسته کهٔ — بیا د گل ښائست [6] انځور دے
معرفت ځینې پیدا شهٔ — عشق د عقل پلار او مور دے [7]
زنګ ئې لرې کړ له دله — فهم نور محبت اور دے
ایرې سکور له یوه اصله — یقین سپین شهٔ گمان تور دے
فقیر بله دیوه وړینه — د فاني اختیار لا نور دے
له هرچا سره یکتا شهٔ — علم و حکم [8] هسې زور دے
یو دریاب دے یوه زمکه — کښې خوب شهٔ زقوم ښور دے
د سرې له یوه پښته — عارف وینې محجوب [9] کور دے

هرچې دا معنې نه وېني
روح ئې مړ صورت ئې ګور دے
هېڅ زړا مدحه د کامل کا
و ناقص وته پېغور دے

(دا) رښتینے عشق د دواړو جهان میر دے
هرچې کل عالم ئې لاندې تر نظیر[10] دے
په هر لور چې دده مخه شي (رڼې شکه)
په هغه زړګي ئې کړے خپل تاثیر دے
(دغه) مینه ئې په هیچا کښې منعه نهٔ ده
تر نظر ئې لکه ځوان وي هسې پیر دے
دا مسته شهر (چې مې نن) ووته په سېل
د صبا نسیم پر مشکو پر عبیر[11] دے
(دا) شها چې هم نشینه شوه له ګُله
پر عاشق او پر بلبل اندوه کثیر[12] دے
هسې شان ئې (رخسارونو) آتش بل که[13]
نن ئې (داغ) پر زړګي ښنے د فقیر دے
دا فقیر به له دې درده خالي نشي
چې پر هر ساعت پرې ساز د غم بهیر دے

ACKU

په دا هسې حال به څهٔ رنګ قراري کا
چې یک لخت ئې د ذرهٔ ملک ځینې تغیر[14] دے

(هېڅم) مکان ئې د استوګې پاتې نهٔ شه
په ناکام ئې و غریب[15] وته تدبیر دے

(په) دا هسې سفر تلهٔ شي له ضروره
عاقبت[16] د هر چا خپل وطن کشمیر دے

بې بها ده د دیدن وُ په بها شه[17]
مشتري[18] یې په دا پټ عیبو نو ځیر دے

(دا) پتنګ چې و بل اور ته هوسې کړي
په هر دم ئې په خندا کښې د ځان ویر دے

(دا) فقیر مېرزا به و مري ستاله دوکه
بیا به وایې له قسمته ئې تقدیر دے

د مخلص بنده همېش پرتېښتن ناز دے
پرتېښتن بانډې مخلص بنده ایاز دے

کهٔ خطا یې د سرې پر بخره کښېښوه
تر قیامته پورې ور د توبې واز دے

زهٔ چې هسې په امېد په ویره وسم
په دا کور کښې راسره بد خواه غماز دے

ACKU

ناخدا[19] به خوب پسو په بې غمۍ کا
یو بې حده لوئے دریاب زبون جهاز دے
د لپاره حساب ئې څوک وټیلے نشي[20]
نه د هیچاپر اوږدو دلیل جواز دے
حد پایان به ئې څوک چرته پسې غواړي
چې یې عقل تمام شوے پر آغاز دے
چې په هرزمان ئې ویره شي له موجه
د امید لاس مې نیولے په آب باز دے[21]
د کامل یوه بې حده لور رنها شوه[22]
د باور لاس ئې په هر لوري دراز دے
و هر چا وته ناره کاندي یې په زوره
د نېک بختو رهنما ئے دغه آواز دے
که تمام د محبت په اور وسوځې
بې گمان له هسې سوزه سره ساز دے
په تحقیق ئې منزل ورے ترمقصوده
چې اول ئې قدم ایښے په مجاز دے
فقیران چې د دوو کونو پرواه نه کا
د صورت په کېنځې کښې ئې اعزاز دے

اے میرزا وصال په رسم مونده نشي
تو گمان واته د خپل صورت گداز دے

د عاشق له حاله څهٔ پوښتي وکړے[23]
دې حد د لارې قياس نهٔ دے چاکړے
په دا هسې حال[24] به ولې مبتلا وم
کهٔ خاطر مې له نظر له نغوتې ژغړے
پر هغو باندې به څهٔ رنګ قرارې وي
هرچې زړهٔ ئې د محبوب کرشمو وړے
محبت ئې د اخراب خاطر ژنځير کړ
د ديدن په زور ئې دا شکاوهٔ داړے
يو عجب د مينې حال پرې برابر شهٔ
بې ديدنه ناقرار په طلب ستړے
بې اختياره د اختيار تلاش کوينه
له دې مرګه د ژوندون هوس کامړے
چې ميوه ئې په کمال[25] له اونې پريوځي
په خوښئ له زمکې سرپورته کړه زړے
دا حباب په اوبو روغ په اوبو مات شي
د سيلاب له مخه تښتي نيږه وړے
کم دليل له خپله بخته مشوش دے
دا هوا ئې تښتوي لکه خسړے
د معنې په معنى يو يو کس پوهيږي
پر څرګه لارې سفر کا څرګه وړے

اے ميرزا و آهينې وته نظر کړه   د فولاد په مخ[26] کښې نشته او سپين خړے

ACKU

چې د هر ذرې کې کراس دے   یونوسک او بل خناس دے
په هر چاکښې یې ځائے ساز کړه   وهر ذرړه ته ئې وسواس دے
په وسواس ئې وسېځینه   من الجنة والناس دے
چې له حقه په وسواس[27] شه   چار ابطال[28] ددۀ لباس دے
تل له غېره مشغولیږي[29]   عبادت ئې د هراس دے
هغه ذره چې اشنا نه[30] وي   عمارت ئې بې اساس دے
د دیا کرل د ببل کا   تمنا یې تېره داس[31] دے
د یاور دانه یې نشته   تش کمان پر بله پاس دے
د مقصود طلب دې بو یه   څو اختیار دې په بل لاس دے
په ناګاه له لاسه واوړي   صورت ړک[32] له وینو طاس دے
سرې[33] درست په هغه لوري   چې یې دا خمسه حواس دے
غافل ځان پخپله وهړ کړه   د یار یاد په هر انفاس دے

د مېرزا حجاب ئې غوڅ کړه
د کامل تلقین الماس دے

ACKU

دے فقیس و ئیلے حال دے　　دا د حقیقت مقال دے[۳۴]

یو صورت څلور عالمه　　ګوښې ګوښې يې احوال دے

هر زمان سره دعوه کا　　په دا کور کښې يې جنجال دے

یو نادان دے یو بدي کا　　یو ناقص او یو کمال دے[۳۵]

کل هجران يې دے له کفره[۳۶]　　په اسلام کښې يې وصال دے

څوک طاعت او څوک ګناه کا　　ګه ثواب ګهې وبال دے

یو کلام یو يې معنا دے　　یو يې خوي شه یو وصال دے

هم په کسي کښې دیدن شه　　بیا له څه سره خال[۳۷] دے

خود بایع او مشتري شه　　بیا متاع او هم دلال دے

تمام شعر د مجلس شه　　بیا سرود کا هم قوال دے

د رنځور زړګي طبیب شه　　د خیره ستر ګو کمال دے

کامل نمس د معرفت شه　　درست جهان پرې مالا مال دے

د توحید د یوه شوه بله
څه تیاره[۳۸] څه يې مجال دے
د میرزا ګمان يې وسه
اور له مړو ایرو محال دے[۳۹]

هر سړے چې د دنیا په چار عاقل دے
چې سړے پرې سړے کیږي عقل بل دے
د هغې وښناؔ[۴۰] معنیٰ د لې سازبیږي
چې سل سل نادان په هیڅ دانا په سل دے
چې رول هلک پیدا شي پئے[۴۱] دوي
او له نوره سوده زیانه لا یعقل دے
په هرچا کښې دي څلور جنسه د عقل
صحیح شوے دا گفتار په دلایل دے
د شیطان دانش زیانکار دے که باورکړي
چې یې نغوږي بدلېوهٔ د تور ځنګل وے
د هر نحوي د پاره یو اشارت بس دے
[۴۲] په گیاهو کښې اغزي شهٔ یا سرمل دے
دا نو سک په نحوئ[۴۳] نادان دے کهٔ پوهیږي
تردواب یې لابتر کښه جاهل دے
کم دلیل سړے له رسمه مقصود غواړي
چې طلب د مقصود نهٔ کا ناقابل دے
داد زړهٔ د اهل مینه په طاعت ده
که امید یې د جنت د ښهٔ منزل دے
په خیرات په حسنات پسې کوشش کا
دے بخیله و خپل ځان ته محاصل دے

ناتمام په دغه هسې خوې باله شي
چې قانع په دغه هومره لږ حاصل دے
د دانا دانائي تله هم چراغ شهٔ
چې کل حق ئې جدا کړے له باطل دے
واړه عقل مسلم شهٔ دلې بانديې
چې د روح په نغوته چارکاندي کامل دے
اوس مدام په ذکر و فکر مشغولين يي
ذوق او شوق ئې له ديداره تل تر تل دے
چې عارف تخلقوا باخلاقي شي
د صورت صفت ئې درست زهر قاتل دے
چې دا هسې د گمان له خويه ووت
رسيده درويش کامل هم مکمل دے
په ميرزا يې د معنیٰ عنايت وکړ
د ناقص عالم نظر په آب وگل دے

چې (دغه) آدم صفي دې نوم دے — په ذات له چا ئې اصل دې کوم دے
څهٔ سرتاپايه څره حکمت ئې — تمام وجود دې علم نجوم دے
که هر څو ته يې باقي به نهٔ يې — که يو ځل نيست شي هست دې معدوم دے
په گمان هست ئې په هستي مست ئې — دانش دې نشته عقل دې اوم دے

ACKU

عقل به څهٔ کړي چې وینې يې نه کړي — وجود دې غوړ دے په ساړهٔ موم دے
لطيف لطيف دے حجاب يې نشته — کثیف حجاب دے په ځان[٤٥] محروم دے
د ځان حجاب يې له ځانه پاڅه — چې هست[٤٦] يې نیست شهٔ هغه معصوم دے
ډوند ون که غواړې په مرگي ومره — د رحيم رحم په دا مرحوم دے
په معنی یو شه دویم به څهٔ کړي[٤٧] — دوییې بلا ده شرکت يې شوم دے
مقصود حضور دے نسیا[٤٨] به څهٔ کړي — مجهول په زیان شهٔ اصل[٤٩] معلوم دے

عارف ذره دے د نمر په مخکښې
میرزا يې رنگ کهٔ روښان يې نوم دے

څوک[٥٠] څهٔ پېژني چې کوم دے
ذات يې ذات او نوم يې منوم دے
دا مېوه ده هم له اوني
پوخ يې پوخ شهٔ اوم يې اوم دے
دے بې مثل شه له مثله
له مجهول سره معلوم دے
دا ذرې دي هم له نمره
بيا اوښه (او بيا) نجوم دے

له سرد ی یې هم خزان شي   له ګرمۍ یې هم سموم دے
په نیستیه کښې هستي ده   په هستیه کښې معدوم دے
مدرس پرې نهٔ پوهیږي   دا د سپین علم رقوم دے
په جاهلو کښې اجهل شهٔ   چې له دې علمه محروم دے
چې به بخل فضولي کړه   زړهٔ ئې تورشهٔ رنګ ئې شوم دے
امانت ئې پر ځان واخیست   دے جاهل پر ځان مظلوم دے
د خپل ځان په سیوري ناست دے   د ګمان په ساړهٔ موم دے
د پندار په نو که یې کوي   شرک عینې د زړهٔ پوم دے
عام وخاص ئې خادمان دي   دے د کل عالم مخدوم دے
روښنائي د کل عالم شهٔ   په هر کس کښې یې مکتوم دے
حیاتي دے د حیاتو   دانائي د هر علوم دے
ارادت ئې دے له واړه   دے حاکم د هر محکوم دے
میرزا خوښ دے خوښ به وي   هرچې شوي هغه معلوم دے

۵۱

د هغو مې چې د عشق په لوري رو دے   هر زمان په زمان تاخت پرې باندې نو دے
په هغو زړونو به څهٔ رنګ قراري وي   چې لیدلے یې د شاه د مخ پرتو دے
کهٔ اول ئې په جلوه خپس څرګند کړ   روس ئې بیا د وړاندې کړې لږ پلو دے
سالکان ئې د هجران په تاو پاخهٔ کړ   روس ئې ګوره استعداد ورته د لو دے

د باڼه یې ګوښې ګوښې ناوکي کړه
او آبرو ئې له څکولي لینده څو دے
اندېښنه د حیاتي یې واسطه ده
چې له مرګه پخوا ومري څه یې هودے
چې له دې شیرینه ځانه[٥٢] یې زړه واخیست
ترو جهان ئې د همت په نظر جو دے
حقیقي محبوب څه نه دے له تا لرې
بېهوده دې خپل ګمان د ورانډې ګودے
د عارف چې د فنا په مقام راغے
کل عالم پردهٔ الف شهٔ پسې دودے
محبت له دواړو کسو زده کړه بویه
چې ظاهر ځبله جدا نظرئې یو دے
د میرزا چې لرې نه ځي له وطنه
و سکه زړهٔ ئې د محبوب په جمال ګرودے

د پرېشان خاطر مې تللې په پره دے
واړه قصد ئې د محبوب په ښهٔ ښره دے
کهٔ هر څو یې تېولوم رانه تېولیږي
د اشنا په محبت ذره ذره دے

جدائي يې له جمله عالمه وکړه — يو يو زړي د يار مهر ورسره دے

چې په هستۍ جمال مينه نه لوينه — مدام غم د دغې ونې ثمره دے

کل اندوه يې تر هوسه پورې وروست — روح تېر شوے د اشراک تر خطره دے

جمعيت يې د اخلاص په مينه وشه — پر کم فهمو دغه کلے کفره دے

هر طالب چې تر توحيده پورې راغے — په توحيد کښې بدي نشته ښوګړه دے

په دا هستي هنر خلق پورې خاندي — د عاشق په نظر خلق مسخره[53] دے

کل عالم پخپله مخره هوسيږي — د هر چا تر فهمه خپل عقل کره دے

په تحقيق دي پر ايمان باندې ويرېږي — چې هر صبح و شام يې رسم روزمره دے

منافق له پټه شرکه وتے نشي — [54] درست اُميد دده په نفس او په تره دے

دا يم عمر په غفلت کښې تېر وينه — د ګناه په نحوي کښې ومري فجره دے

په ژوندون چې له ژوند و نه خبر نه وي
په ژوندون يې دغه ښهر مقبره[55] دے
په هر ګور کښې تر قيامته عذابېږي
چې ګمان يې پر يقين باندې اره دے
او تسبيح يې تېرندۍ ده د تهکامتو
بيا مسواک يې بې وزرو قرقره دے
د مېرزا په وېنا ځکه نه پوهېږي
چې مدام په نا قبول طاعت غرّه دے

متفرّقات

ACKU

شمع او پتنګ *

زه چې ستا شمعې ثنا کړم　　تا عاشق په خپل رښا کړم
سر ښيند مه بې اختيار ه　　چې بر پای د عشق سودا کړم
چې زړه ور و اورته ځمه　　محبت واره له تا کړم
د اشنا له دېرې مينې　　زه کشتن په ځان دوا کړم
چې مقصود مې ځان بازي ده　　آواره فاني هوا کړم
له طلبه نه جاروځم　　څو شيرين صورت فنا کړم

کل مقصود مې يو ديدن شه
دوا ړو کونو پسې ثنا کړم

او له تا مې څه مانه شي　　چې زړه سوے دې په چانه شي
شهيدان دي بې حسابه　　لا به څو فقيران مړه شي
چې حجاب له مخه واخلې　　نور د لوره در خواره شي
محبت ئې په زړه کښېښو ځي　　ښه ځانونه پرې ترخه شي
د باقي ديدن د پاره　　د فنا پر لاره ستله شي

★ په اصل کښې عنوان نشته - د (د ش) په مطبوعه نسخه کښې ددې نظم عنوان "شمع او پتنګ" دے او د (هـ خ) په نسخه کښې ددې عنوان "د شمعې او پتنګ مکالمه" دے

چې پر تا خپسر فاني کړه　　قراري به يې هالهٔ شي
په سوختن يې نوښې ډېره　　لوے اختر دے چې پردهٔ شي

دېې کس وژلي غسل
مګر ستا په اوښيو وهٔ شي[1]

شمعې ووې چې وفا دے　　دا اُميد چې ستا ښخوا دے
دکامل طلب دې ترک کړو[2]　　زړهٔ دې تللې په هوا دے
تهٔ ښخپله خوښه دروې　　غلط کړې دې پېشوا دے
هر چې چې رهبره کوچي　　له مقصوده چې نوا دے
زهٔ چې هسې قيمتي شوم　　دکامل صحبت دوا دے

دشهيد غسل په وينه
بل اودس يې ناروا دے

زهٔ چې هرزمان غربت کړم　　دخپل زړهٔ په محبت کړم
آساني مې په چا نهٔ شي　　ځان بازي په خپل صورت کړم
چې صحبت شي دپاکانو　　ښخپل سوز کښې يې حرمت کړم
پرځاے وسوځم تمامه　　چې اختيار لوے همت کړم
اور زما په سر بلېږي　　زهٔ دوښان تمام خلوت کړم
نهٔ تاوان کړم له چا طمعه　　نهٔ پرچا باندې تهمت کړم

---

[1] د (دش) دمطبوعه نسخې دحاشيې مطابق دکتاب خاني او په نيمګړې نسخه د "اوښيو" په ځاے "ونيو" ليک دے۔

[2] ط ق : ((له مقصوده خبر نه شو))

نام نښان مې پاتې نه شه
ترو اندوه د کوم امت کړم

پتنګ وویل پرو سته — تا پر ځانې وینم پای بسته
شمعې ورته وې چې سر خوښ که — لېونۍ شوې یا که مسته
چې دا هسې لوګې دې ووې — کوم اختیار دې دے له دسته
درسته شپه په تاوان سوځې — صباح پر وته خواره خسته
لکه وخت د بېګاه هون شي — بیا دې اور لره که مرسته
هیڅ اختیار دې په لاس نشته — په ګمان ئې خود پرسته

زه که لاف کړم د رندیه
شیرین ځان سېزم له قسته

شمعې پتنګ ویل په څوله کېنې — ته پتنګ څه یې په څه کېنې
وسکه پوخ نه یې لا اوم ئې —— ډېر غلط وایې په وله کېنې
د باور سترګې دې نشته — څه اختیار غواړې په هره کېنې
عارف محوه شه یکباره — لکه ځاځکې په اوبه کېنې
په رضا ئې چارې کېږي — هر چې بوه شه په بوه کېنې [1]
چې له مرګه مخوا ومري — اوس فرمان کا په هر څه کېنې
د میرزا ګفتار رموز دے
که دلیل لرې په زړه کېنې

---

[1] دش، هخ، م ز ا ((هر چې بوشه په بوه کېنې))

ACKU

مخمس

دا پېغام د پېغمبر دے — لکه شمع منوّر دے
پیدا کړے یې شجر دے — چې فاني ظاهر بشر دے
په فاني دې څهٔ باور دے

له عاشقه بېګانه شوه — له رقیبه بېګانه شوه
په جهان کښې افسانه شوه — دا دنیا کوتر خانه شوه
د انسان مثال کوتر دے

د محبت باران وریږي — شیرین عمر دې تیریږي [1]
یادګارې دې پاتو کیږي — یو کښېني بل ولاړیږي
دغه هسې رهګذر دے

له قیامته نهٔ ویریږي — چې دلې سم وډریږي [2]
په دنیا به عذابیږي — او آخر به ترې تیریږي
څهٔ صفت د سیم وزر دے

---

[1] د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د "تیریږي" په ځائے "کمیږي" لیک دے.

[2] د هـ خ ا ((چې دوه روځې سم دریږي))

د چند نن په دور مېښ شه | او د شهد وپه دود څېښ شه
د الف په دود سم کښېښ شه | د غفلت له خوبه وېښ شه

د ورختلے د عشق نمر دے [1]

د فاني دنيا ده تېره | د فاني [2] اندېښنه هېره
په درياب ئې پل برسېره | يو د عشق نامه يې ډېره

محيط شوے په بحر هر [3] دے

د عالم دے په توبه کښې | لکه باد دے په کښې
ګناه ريږي په توبه کښې | له مسلمه په کعبه کښې

په کنشت کښې له کافر دے

له مشرکه څخه ورا شه | له دې وېرې تبرا شه
په وحدت کښې سر براه شه | يګانګيه لره را شه

په دوييۍ کښې دې خطر دے

يو چندګاه خاورې انسان است | که انسان دے ویران است
د صالح عقل ميزان است | هېرزا مرغ لامکان است

د يادګار ځائے يې خبر دے

---

[1] هـ خ ((کامل ختلے په وره نمر دے))

[2] د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې د «فاني» په ځائے «وفا» ليک دے

[3] د (د ش) د چاپي نسخې په حواله په بودو نسخو کښې د «هر» په ځائے «در بدر» دے

الحاقي غزلونه

یو عجب حال دي د ورځو په پیوندر[1] — بیا په څو دي وعاشق وته څرګندر
په ریښتیا عاشق دي بند کې نه خلاصیږي — توري زلفې دچا پر مخ کمندر
دواړه سترګي دي هیش د زړونو ښار کړه — د نظر غشي دي سکي لکه تندر
په دې هسې تیر کایل شي نه رغیږي — دا یو حال دے طبیبا نو ته څرګندر
د عالم د ملامته نه خلاصیږم — چې عاشق د شاه له خاله ځان قلندر
د غبار لړې به کله نه تولیږي — چې ښیستي څره بربښنا شوه پېزوان تندر
نه مې غشي نه لینده شته — زرغونه طوطیان پربا سمه له مهندر
یو مې خواست بله زاره دي — د سرو نته وتر دا ونې که راڅرګندر

میرزا مدح د کامل کے
په هر دم مې د الله په لور چلندر

---

[1] دا غزل د "ط ق" په قلمي نسخه کښې او د "م ز" په مطبوعه نسخه کښې نشته د "ش" مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله دا په نورو نسخو کښې هم نشته د "ش" په مطبوعه کښې دا غزل د "هـ خ" د مطبوعه نسخې نه رانقل شوے دے د "هـ خ" د مطبوعه نسخې مطابق دا غزل د همیش خلیل وزیر نظر قلمي نسخې په آخره کښې ځان له بیل لیکلے شوے دے.

د فلک له چپ رفتاره[۱] چې تر غوږ مې تېر وي د غم کوکاره
ما په حضور د ډېره ښوه کړه اوس حساب شوم د هندوانو له کتاره
د روښان د کور سرور وې د افغان د سر دستاره
اول مې نه پېژاندې څکه بېل شوم د وحدت له نوبهاره
بقا یت د شهادت دې مبارک شه چې دا هسې سربازي دې کړه اختیاره
تا چې له فاني سرایه کوچ کړ په مادې رڼا و رځ کړه له شب تاره
په عرش کښې حورې کړې په ژړا دې جنتې به سره څه وا ځې شاه سواره
په مغل په ښتانه به هنګامه وي څه شوې شوې د قادر ښائسته پلاره

د مېرزا د زړه ارمان شوه
د احداد غني بادشاه د مخ ننداره

ړون مې وېو ښتنه له دلاله[۲] په زړه مې کشف شو څو مثاله
چې د کل جهان مایه یې له تا مې په خاطر دي څو سواله
چې اول زندګاني د دنیا څه ده ویل یې چې ډېر خوب دے یا خیاله
ما ویل د دنیا بحث په څه دے ویل یې ګرفتاري ده بیهوده له قیل وقاله
ما ویل نفس به په څه رام شي ویل یې منکر د کړې څو ګوشماله
ما ویل مثال د دنیا څه دے ویل یې زړه ده په مخ یې ښې بوڅو خاله

---

۱ دا غزل د "ط ق" په قلمي نسخه کښې نشته د "م ز" او د "هـ خ" په مطبوعه نسخه کښې هم دا غزل نشته ـ

۲ دا غزل د "ط ق" په قلمي نسخه کښې نشته د "هـ خ" او د "م ز" په مطبوعه نسخو کښې هم نشته د "د ش" مطبوعه نسخې دا غزل صف د "کتبخانې" دیوې قلمي نسخې دا هیستے دلے ـ

ما ویل له دغو له حاله وایه — ویل یې غم ئې خوردن دے څو ملاله
ما ویل د ظالمانو اصل څه دے — ویل یې یو لېوه پېه څو اشکاله
ما ویل چې کتخدا ئے شې حال ئې څه وي — ویل یې هوس لړ اندوه څو کاله

راشه اے میرزا ثنا د خدائے کړه
چې باقي به جاودان وي بې زواله

دوه دیواني غزل

چې واقف دخپل وجود په کاینات شوم[1]
د نفي رموز مې ولیده اثبات شوم
په گمان مې خپل سریخ ځانه اوبه وم
د یقین له تاوه وبهېدم ذات شوم
د صورت عالم به څهٔ لره ماتم کا
د دریاب له موجه روغ دریاب وم مات شوم[2]
د قیامت هول و هیبت را باندې تېر شهٔ
د اجل پیاله یې راکړه پرې حیات شوم
هر زمان مې د حساب تله په لاس ده
پر ځائے باندې حسابېږم عرصات شوم

---

[1] دا غزل د واصل روښاني په دیوان کښې هم شامل دے - ما سره چې د میرزاخان د دیوان کومه قلمي نسخه ده په هغې کښې دا غزل نشته - بل د همېش خلیل صاحب په لاس مرتب شوي د میرزا خان په چاپي دیوان کښې هم دا غزل نشته - د(م ز) په چاپي نسخه کښې هم دا غزل نشته -

[2] دا مصرعه د واصل روښاني په دیوان کښې دا سې لیک ده -
د دریاب له موجه روغ په دریاب مات شوم

معرفت مې په لاهوت کښې نهٔ ځایېږي
اوس د عقل مېدان تنګ زهٔ ځینې زیات شوم[۳]
د صفات حساب مې ورغے تر ذاته
دوباره پر موجودات باندې برات شوم
ارادت مې د لاهوت[۴] په تماشا دے
په اخفا کښې حکمدار د کل صفات شوم[۵]
ځائے پر ځائے په محبت سرود وهلے[٦]
کله یار ترما قربان زهٔ یې دعوات شوم
د ظلمت حجاب یې درست راڅخه واخیست[۷]
په رحمت یې آسانې د مشکلات شوم
په جهان یې ګرځوم راسره خوښ دے
سوداګر ترما مېرزا زهٔ یې سوغات شوم

---

۳ د واصل دیوان ((اوس د عقل مېدان تنګ دے ځنې زیات شوم))
۴ د واصل دیوان کښې د ((لاهوت)) په ځائے ناسوت لیک دے۔
۵ د واصل دیوان: ((په خپل حکم عمارت د کل صفات شوم))
٦ د واصل دیوان: ((ځائے پر ځائے په محبت سره وودلے))
۷ د واصل دیوان: ((د ظلمت حجاب مې درست در ځنې واخیست))
د دې نه علاوه د مېرزا خان په غزل کښې دا لاندې شعر چې د واصل
د دیوان په غزل کښې لیک دے نشته

۸ سراسر د عنایت آب حیات یم — په نصیب د مهتر خضر ملاقات شوم

لُغت نامہ

ACKU

آب باز : غواص - غوپه / غوټه وهونکے -

آش : زړ زړ ، اېغ په نېغه زړ مطمئن کېدل

اروړ : وړې وړې غونډۍ - ځنډان - ه ، ار

ارګه / ارګا : يو اړخ ته / جدا ، بېل

اسباط : د يعقوب عليه السلام اولاد

اطلا : د اوچت مقام خاوندان

الفاز : (۱) الفاظ په دې ټکي کښې ظ په ز مقفعن شوې ده -
(۲) د (م ز) په نسخه کښې دې ته "عاجزي" د معنیٰ په توګه ليکلې شوې ده -

انجن : دانجهٔ

اند : خوشحالي ، ښادي (ه ا د)

انطفا : د (اور وغېره) مړهٔ کېدل - خفه کېدل -
(ع ا د)

انند : خوشحالي

اَن ټيکاد : ډېر نزدې

اوجاړ : وران / ويران
ورانه / ويرانه

اهير : ګوجر

اېړ : ميلو (د پچو)

بديع : نوے

بربسته : رسم ، قاعده ، طرز ، روش ، قانون ، انتظام (ف ف)

برده : ګناه

بسوه : د ځمکې د پېمائش يو مقدار چې د بيګهو شلمه برخه وي

بنگه یو ابکې یعنې دوو
جریبو ته وائي۔
(ه ا ر ، ه ا نگ)
بنگاړ : وران
بلوت/بلوان : مضبوط، طاقتور، کلک، مستحکم (C.H)
بوږ : نیمگړے ، ناتوان
بهت : بهت ډېر
بهوری : کثرت ، زیات (بهت)
(ه ا نگ)
بیوړ : کیفیت، نښان ، راز ، (ه ا ر)
بیوډ : مشغولا ، راز
بېوړ : (بېوار، لس زره (ف ف)
بې رانه : اصل کښې "بېس تهه"
ویرتهه" دے ۔ بې کاره ، فضول ،
بې فایدې ، بې معنی ، مهمل ۔
بېړه : چوپل (S.S)
بېړي : د ندا سه
پاپ : گناه
پالېز : د خربوزو او هندوانو باغ
(پ پ)
پتن / پتڼ : گودر

پخښنو : خلاص ، ازاد په آرام
(ز پ)
پراته : پرته ، فضول ، بیکاره ،
ظ ر
پرکښ : پرکانډ / برکانډ د ونې
تنه ، ښاخ یا جرړه ، یو
ښهٔ ځین ۔ خوشحالي ۔
(ه ا ر ، C.H)
پرکټ : ښکاره ، څرگند مشهور ۔
(ه ا ر)
پروړ : بوس ، پلاله
(پ پ)
پړوکي پړوکي : ټوټې ټوټې ،
ذرې ذرې
پریمل : پریشتل ، مښته کیدل
وسېدل ۔ مسېدل ۔
قبضه کول ۔
پرین : د کارسرړشته ۔ (پ ق)
سلا ، مشوره ۔ (ز پ)
پساره/پساره : توسیع ۔ پراخي
پک : پښه ۔ قدم (ه ا ر)

ACKU

پل : (۱) لمحه، ساعت
(۲) پهل ز میوه، تعبیر،
استخاره، نتیجه، نفعه،
حاصل، آخر، انعام

پلاس : یو شړل قسم تباتې

پلان / پلاڼ : د اوبو غټ مشک
چې په قچر یا ټټو بانديې
وړلے کیږي -

پله : داره -

پمهل : یو ټي اوبهٔ کول

پو بنل : پېټوُل

پو بنلې سترګې : پټې سترګې
(پ پ)

پو لا : واښهٔ، خاشاک C Z

پو م / پم : د خارښت مرض

پو نل : د څاروي مستي کول، د
مستۍ نه لتې وهل -
دغوراک په وخت دڅاروي
سونهار کول - (ژ پ)

پهت : بې قیمته، هغه چې څهٔ ارزښت
نهٔ لري او دچا د توجه وړ نهٔ وي -
C.H

پیا څه : دباجړې یاد جوارو ډوډۍ
(ظ د)

پیایل : ټرؤل - څاور ټرؤلو لـه
بوتلل -

پیلک : کوټل - یو هندوستانے مارغهٔ
چې د ښارو فند او تورانګـ ته
لې غټ او دکارغهٔ نه لې
وړوکے وي - دا مارغهٔ په
هندوستان کښې د اموټو په
فصل کښې ډېر زیات پیدا
شي دلته په کوزه پښتونخوا
کښې د اوړي په موسم کله
کله لیدلے شي -
(اد - پ) (C.H)

تاپ : تپ، بخار

تاړ : دیوې اوڼې نوم دے چې
د هغې په پیو کښې نشه
وي او "تاړي" ورته
وئیلے شي -

ظ د

تتېدل : سترګې کم نوره کېدل - خړې
کېدل -

تخ : اصل کښې " تخه " دے -
هیڅ ، بې حقیقته -
(هـ ا ر)
تخویف : خوف
ترقیق : نرے کېدل ، سپک کېدل ،
اوچتوالے (بلندی)
تزویر : دروغ ، مکر ، فریب
تصدیع : مشکل ،
تضیق : تنګېدل ، راغونډېدل
(کمېدل)
تغ : ګرمي ، تاو
تفرج : سېل ، تماشه
توز : (۱) د یوې اونې پوستکے چې
په لینده ترلے شي -
(هـ انګ)
توفیق : زیاتول ، حق المحنت -
تهمتن : (تهم - تن)
تهم : هغه سړے چې قد و قامت
او بهادرۍ کښې ثاني نهٔ لري -
تن ، بدن
تهپ : زخم

جات : نسل ، قبیله - درجه
جُرْعه : ګوټ -
جُعَل : بد صورته سړے ، ضدي
او جګړه مار -
جند : سپاه ، سپاهي
جنډه : اص : جهنډه - عام لرګے
(C.H)
جنود : فوځ ، لښکر
جے جے : اکثر ، (C.H)
ځنډ : تاخیر ، تر آخره
څکول : راکښل ، کشول
چغمت : پښتېره ډوډۍ -
ظ ر
چولي / چولیه : واسکټ ، جاکټ -
(هـ ا ر)
حرق : مښل ، ډکر ، ګرمي
حظ : مزه ، خوند ، خوشحالي -
حنیف : ریښتینے ، نېغ ، په مذهب
کښې مخلص -
حایض : غوړه وهونکے ، مرجوښا -
حذف : ټیکے -

ACKU

خلود : همېشه ، همېشگي .

خناق : د مرئ د پرسوب یوه بیماري

چې مرئ پکښې بنده شي .

خوَره : ققنس . (م ز)

داس : لور . (ف ل)

دام چک : د دې معنی غالباً د «په دام

کښې ، نښتي» وي .

داون : پړونے

د قیف : د ځه ځین په لور په مزه

مزه تلل .

دُکهت : دردمند ، غمګین (ه ار)

دلېر : دل ، دال . اشاره ورکوونکے

(C · H)

دوتا : دوه ګونه ، کږه

دوتا - (۱) د قاصد ، سفیر

(۲) غوړېدل (ه انګ)

دوړ : اصل کښې د «هور» دے معنې

یې دي خاوره ګرد شګه

(ه ار)

دهت : سوخته ، جنون ، بد حالي

(ه ار)

دیجور - توره شپه (C · H)

رایض : چابک سوار ف ف

رائض : فرمان بردار ، مطیع .

(ف ف)

رتّ : غټ غټ کاته

رحیل : کوچ ، سفر

رهت : قیام ، وسېده (C · H)

زلَل : نقصان ، کمے .

زله : جوړ ، بند

زنهار : غم ، افسوس ، حسرت

زور : ځیر ، متوجه (د ب)

زوږ : شور ، غوغا

زه : اولاد ، د سپوږمۍ نه رایستل

انجام .

زېل : باریک آواز

ژمنه : وخت ، نیته ، قول ، لوز ، ژبه

سامان : اقتدار ، امارات د حد

بندې تخښنه (ه انګ)

سان / ساڼ : اشاره ، تصور ، نظریه

رائې ، عقیده -

سباط : دنیا ، نړۍ

سباق : قید، بند - م م

سجان / سجاڼ : هوښیار، پوه

عقل مند - (ه انګ)

سپندخ : چرخه - م ز

سپنګس : د مارپه شکل شېطاني روح

سراینده : نغمه ګر، ه انګ

سرع / سرعه : تلوار - تېزي

سرقت : محبت

سکوي : ګنډلې تکونه

سم : سره يو کېدل (ه انګ)

سم لور / سم لوري -

سَمْ - يو شان - سم په هندي کښې

د سابقې په توګه په هغه نکو

کښې راځي چې د هغه دنو

کښې د دوو يا د دوو نه د

زياتو څيزونو اشتراک

وي لکه د مثال په توګه

د سمبهوګ، چې معنې يې

دي ، مباشرت - د غه

ډول "سمپوګ" دے چې

معنې يې دي ز ملاپ ،

شرکت، اتفاق - د غه شان

دلته د "سم لوري" معنې ز

هرلور، دوه رخه قيا سېدلې

شي -

سو ب : انبار، (ديو شي) کثرت

سور : (۱) ديوتا - راګ سُر، آواز

(ه انګ)

(۲) د واده خوشحالي سُورګل،

سرهٔ شراب (ق ف)

سور : نمر، آفتاب (ه - ار)

سهت : ورسرد، يو ځاے -

(ه ار)

سيس : سرپ، سيکه د اور شعله

سيُس : د آسونو خدمت کوونکے

شاب : ځوان (ک ک)

شط : لرې، بعيد

شلګ : شړله کېره

(ط ر)

شينع : بده

شوون : وقار، عزت د شان جمع

ښا ځېدل : په مال دولت فخر کول ،

ACKU

غوروکول ، لویي کول .
بنوڅکي : فال ایستونکی
طاس : تالی - (ف ی)
طامعه : سرکښه ښځه چې د
خاوند د اجازت نه بغیر د کوره
ووځي او د پردو سړو سره ملاویږي .
عطوف : ډېر زیات مهربان ،
شفیق ، محبت کوونکی .
عقارب : د عقرب جمع - لړمانان .
عوج : د اسرائیلي روایت له مخې
یو اوږد او دلویې جثې سړی
چې د آدمؑ په دورکښې وُ او د
موسیٰؑ تر دوره لا ژوندی
وُ - وائي چې د نوحؑ د طوفان
اوبه د هغهٔ تر ملا رارسیدلې
وې -
غوري : غوري برخه ، قسمت
(ظ - د)
فواص : بیل ، جدا ، لرې -
قبوز / قبز : د یو قسم باجا بېښه
باجا معجم -

قرن : د یو شي د بل شي سره جوړ
یو ځای کول ، د یو بل په حال کښې
شریکېدل .
قطار : د اوښانو قطار
قنات : د کپړې چار دیوالي
قناع : هغه کپړه چې مخ پرې پټ
وي ، د مخ خول ، داغ ، بدنامي .
کاهش : کمېدل ، نقصان قبلول .
کو : کوڅه .
کراس / کرباس : نمړیه / نوړیه
کریاب : معطل ، بې کاره
کلیان / کلیانی : خوشحالي ،
خوش بختي ، اقبالمندي .
(هـ ا)
کند : قند - د یاسمین گل
کننت : طرف ، ارخ
کو : لاره ، رخ
کوب : کوبېدل مغلوب کول ،
سزا ورکول .
کوبزل : د څاروي پوستکي ایستل .
بهرکول - بهر ایستل ورځني باسل
اپنې

ACKU

محنت کول ـ زحمت ایستل ـ حرکت کول ـ
هڅه کول ـ ردکول (دب)

کهکل : ختئه تیارول دلته تړي مراد
زمکه خرڅول دي (ه انګ)

کهڼ : دکور یوه برخه، کمره، حجره
(ه ار)

کېل : (۱) راز، نیاز، مشغولا لوبه
(دب)
(۲) عاشقانه عیش (ار ه)

کټه : ظهور، نمود وضع/حالت
(ه ار)

کی ک : زهر ـ (ه ار)

کی که : لوګی ـ دلوګیو هغه وړې توټې
چې په سینه ونوکښې د بهیر
سره دروځي ـ خلق ئې رانیسي
و چوي یې او بیا ئې دخشاک
په توګه سوزوي ـ

کزېر : علاج، تدبیر، بچ کېدو

کڼاپ : (۱) په سینه یا تاله کښې په
زور سره تېزېدې روانې اوبه ـ

(۲) په هندوستان کښې د یوې
نالې نوم (ه انګ)

ګو : کنده، ډوغل
(ه انګ / ه ار)

ګورنه : قبر، کنده، غار،

ګهر : کهندا، کانده

لامع : برق

لګ لګ : همېشه، روزانه (ه ار)

لګ، لګ : (۱) بېهودګي، هذیان ـ
(۲) لګ : احمق،
بېوقوف، (ف ف)

لفینه : (۱) نغښتې، یو ځای ملفوف
او مخلوط، پېچیده

لواتل : سترګې غړول، سترګې وازې
کول،

لومهم : خوف، یره، (س س)

لوهټ : سره وینه (C-H)

لوے : هغه سورے چې په چهت کښې
دلوګي د ایستلو له پاره وي ـ

لهر لهر : شراب خانه (ف ف)

ACKU

ماحضر : هغه خوراک چې په کور
سمدستي لاس ته راځي

(ف ف)

محاق : د میاشتې آخري شپې چې
سپوږمۍ پکښې نه ښکاري ـ

محبط : بې فایده، بې کاره، ضایع

مخطط : لکیردار، ښکلی

مرزبوم : د یو هېواد اوښ ځای، د ملک حدود،
مملکت، سلطنت ـ

مرعه : المرع ز وابښهٔ د څناورو
د پاره خوراک ـ چاره

مروړ : د یو څیز د بل څیز نه کښې
چاپېره راتاوېدل ـ

(هـ، ار)

مرهون : ګانه څیز

مستوخ : ګنده څیز

(ک، ک)

مستمند : حاجت مند، غمګین

مشعوف : عاشق

مُطَوَّل : اوږد

مظنه : د ګمان ځای او موقع ـ ګمان

شک ـ

معطوف : مایل، وابسته ـ

مغلوف : په غلاف کښې پټ ـ

مقشر : (۱) هغه چې پوستکی یې
غوړزولی یا اېستلی شوی
وي ـ
(۲) "شګافته شده"
چې چاودلی وي (م ز)

مقط : هغه ځای چرته نه چې څه
شی پرېوتی وي ـ

مګ : توقع لرل، انتظار کول ـ

(هـ انګ)

مُلْهَم : هغه سړی چې الهام انکشاف
ورته شوی وي ـ

ملوخ : خراب، فاسد

(م م)

مناص : د ناوې د کښېنولو د پاره
اوچته کرسۍ مجازاً اوچته
درجه ـ

منه : خاپې ـ د قدم نقش،

منهیت : لوټل، لوټول ـ

مُنیف : زیات، اوچت، تما ځلی شوی.
دعزت خاوند.

مواجهه : مخ په مخ کېدل.

مواس : شیطان، چغل خور

موږي : ښخ، جوړ -

(ه ا)

مونل : فخر کول، ویاړل.

(د ب)

مهت : عزت، حرمت، شان.

(ه ا)

مېږل/مېږل : متیازي کول.

ناڅه : رقص، گډا (ه ا)

نچ : خالي، دو (ه ا)

نچاپ : برگ - ابلق

نروان : دَ فنا فی الله مقام

نروب/نروپ : دجسم نه بغېر، غیر مادي.

(ه ا)

نُشُور : (۱) مړ ژوندی کېدل.
(۲) بیا له سره ساه راتلل
(۳) قیامت - (معجم)

نمط : روش، طریقه، وضع قطع

نغبیرا : EYPLANATION
INTERPRETATION
COMMENTRY (C.H)

نمبن : پاکه او چاړا غه کور ...

(۴۴)

نوارا : بېړۍ، کشتۍ

(ه ا)

نهت : په ځای، برقرار

(ه ا)

نیو : اصل د "نی" دی په مغیر
حالت کښي تري "نیو" جوړ
شوی دی.
یقین، دایم (ه انگ)

نهور : باران، سېلاب

(S.S)

وام : یقین - اعتماد، باور، عزت
تسلیمول، منل

وامرول/وامرېدل : جدا کول -
جدا کېدل.

وحل : ختې، بوختې.

وړدل : ړېزه ړېزه کول، ټېمه ټول.
ټوبلول.

ورع : پرهېزګاري

وس : د (م ز) د نسخې په حاشيه
ورته د ,, برسات " معنیٰ
ليکلې شوې ده.

وِلَه : دا اصل کښې وِلَيَهْ " دے.
بربادي، عارضي توب
(ه ا)

هبا : علی القوم ؛ ناڅاپه
ښکاره کېدل (م م)

هستر : شلېدل - جدا کېدل
(ع - ع)

هتب : ضد - اقرار

هراس : دُکھ، رنج، زوال (ه ا)

هولي / هوليه :
د هند وانو يو دسم چې د پهاګن
په آخر کښې وي.
د يوې راګنۍ نوم چې هم په دې ورځو
کښې غږ ولے کېږي - (ه ا)

يوز : د پړانګ په رنګ
يو ځناور.

ACKU

څنډې

ACKU

---

(۱) ط ق ؛ هر فعل چې وینې.

(۲) ط ق ؛ شپږ زره په شمار دي. دلته په متن کښې دا مصرعه د (دش) دمتن مطابق ولیکلې شوه.

(۳) ط ق ؛ دپرش ئې سپارې دي.

(۴) ط ق ؛ دپرش دي حرفونه. دش ؛ دپرش ئې حرفه د هجا دي. ته یې زده کړه نیک خصلته.

(۵) دش ؛ په پښتوبه ئې زهٔ وایم.

(۶) دش : رهبري ئې دتوحید که.

(۷) دش ؛ لکه علم دتوحید دے.

(۸) دش : د روښان له برکته

(۹) دش : دخپل علم امانت دے.

(۱۰) ط ق ؛ قدرت

(۱۱) هخ : مجازي غلاف ئې کړے.

(۱۲) هخ دُوڈُم

(۱۳) غلت

(۱۴) هخ ؛ ((طالب ئې فوفناکه)). دش ((طالب ئې پوہناکړ))

(۱۵) ط ق ؛ صواب

(۱۶) هـ خ : ((میرزا په پښتو کړے))

(۱۷) د همیش خلیل صاحب په مرتب شوي دیوان کښې ددې الفاظو د ب دنوري نه پس ترح توري پورې منځني توري او د هغو تشریح نیشته -

(۱۸) ط ق - د ش ؛ ټي

(۱۹) ط ق : نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ - تلمیح له ؛ وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِیْدِ ه ق
وَ نَحْنُ اَقْرَبُ اِلَیْهِ مِنْکُمْ وَلٰکِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ه الواقعه - ۸۵

(۲۰) ط ق (ا ص) ؛ لدیه

(۲۱) ط ق (ا ص) ؛ ((د ذړه راې د ققنست)) - دلته په متن کښې د ا مصرعه د د ش = مطابق ویکلې شوه -

(۲۲) د ش : ((د خپل معرفت دکسته))

(۲۳) ط ق (ا ص) لدیه -

(۲۴) د ش : ((شاه ترتا وتاته نزدې ده))

(۲۵) د ش ؛ سهیده - نورو نسخو کښې " شهیده " په حواله (د ش) د حاشیې

(۲۶) ط ق (ا ص) کمیس

(۲۷) د ش : ((ددې دوو پناه دي))

(۲۸) ط ق (ا ص) ((د مخلوق ژوندون سیاه دے)) - دلته په متن کښې مصرعه د " د ش " مطابق ویکلې شوه -

(۲۹) ط ق (ا ص) ؛ شاه

(۳۰) ا ص ؛ نور

(۳۱) ا ص : صباح -

۳۲ د ش : میانه

۳۳ د ش : لمر به ورېشی تر سیوري

۳۴ ا ص : نور

۳۵ د ش : ((ادنه ښني مهٔ کړه خمسوري)) دوست شنوارے د ,میرزا خان انصاري دیوان " په حاشیه (مخ ۶۳) باندې لیکي چې په اصل نسخه کښې دا تکے ,سملوري " دے خو معنیٰ ئې څرګنده نهٔ ده اصل کښې ماته دا تکے صحیح ښکاري معنیٰ یې په لغت نامه کښې وګورئ ـ د لته زما سره په اصل نسخه کښې ,سمنور " لیکلے دے ـ

۳۶ هـ خ ـ د ش : ((په کومان کښې دې وېر زیان دے))

۳۷ ط ق (ا ص) منـــزل

۳۸ د ش : ((د زړې تر ځپله ځان دے))

۳۹ ط ق (ا ص) ـ هغه ـ

۴۰ ط ق (ا ص) ـ وکښ ـ

۴۱ د ش : دقیـق ـ

۴۲ د ش : چې هارون وته شفیق کړه ـ د ش په حاشیه کښې د قلمي او د کندهار د نسخو په حواله دا شعر داسې لیکي :

(دا دنیا کړه په زړهٔ پسنده
چې قارون غوندې عتیق کړه)

۴۳ ط ق (ا ص) (د میرزا کلام دې تصدیق کړه)

۴۴ د ش : (چې دا ذکر شو له مذکوره)

۴۵ د ش : (پاک له غېرو له خاشاک دے)

٤٦ ط ق (اص) دش : (په قرآن کښې يې لولاک دے)

٤٧ دش : ښارګونو

٤٨ دش : (چې حضور مولا نه وينې)

٤٩ دش : (د دنځودو ژړو ترياک دے)

٥٠ ط ق (اص) دردخه -

٥١ دش : نقاب

٥٢ ط ق (اص) : (لا ته اوس پر خواب ئې) دلته په متن کښې دا مصرعه د (دش) نه واخېستلې شوه -

٥٣ ط ق (اص) (چې مېرزا وېنانه آورې)

٥٤ دش : (د غفلت له خوبه ويښ شه
نن په مرسته دخپل يار شه)
د دې شعر په نمبر (دش) په حاشيه کښې ليکې چې د کندهار او قلمي نسخه کښې د "ويښ شه" په ځائے "پاڅه" او د "مرسته" په ځائے "مينه" ليکلې شوې ده

٥٥ دش : (ته له اصله يک تنهايې)

٥٦ دش : (اې مېرزا اختيار دې خپل دے)

٥٧ دش : (حالت)

٥٧/١ م ز : بت، دش، پت

٥٨ ط ق (اص) : پېروي - دلته په متن کښې د (دش) مطابق "پس روې" وليکلې شوه

٥٩ ط ق (اص) او (دش) کښې دلته "حال" ليکلے شوے دے د (هخ)

په نسخه کښې (مال) ليکلے شوے دے د لته په متن کښې د (هخ) د نسخې مطابق (مال) و ليکلے شو ـ

۶۰ هخ (گوښې سوے په وروکه) دش : (گوښې نحوي پورې وکه) دلته د (دش) نسخه په حاشیه کښې د قلمي او د کندهار د نسخو په حواله دا مصرعه داسې ليکي : (کښيدې گوټې په وروکړي)

۶۱ هخ : امرونه د (دش) د نسخې په حواله د کندهار او قلمي نسخه کښې دا (پند وته) ليکلے شوے دے ،

۶۲ ط ق (اصل) (که په ....)

۶۳ دش : ضلل

۶۳/۱ ط ق : (او ظلمت ....)

۶۴ ط ق (اصل) : (که يخ پر ———) دلته د (که) په ځائے "بکه" د (دش) مطابق و ليکلے شو ـ

۶۵ ط ق (اصل) : نجس ـ دلته هم په متن کښې "نخښه" د (دش) مطابق و ليکلې شوه ـ

۶۶ ط ق (اصل) : تقرير ـ دلته هم په متن کښې "بيورا" د (دش) مطابق و ليکلې شوه ـ (دش) پخپله حاشیه کښې ليکي چې ز د قلمي د کندهار په نسخو کښې دلته (رموز) ليکلے شوے دے ـ

۶۷ ط ق (اصل) : دوغښ (دش : عذاب

۶۸ دش : (او د زړهٔ پسرو قليل دے)

۶۹ دلته د (هخ) او (دش) په نسخو کښې يو غزل دے او د ط ق (اصل) په نسخه کښې بل غزل دے نحو ما د (هخ) او د (دش) د نسخو غزل غوره

وکنهلو هغه مې په مـتن کښې شامل کړو او د (ط ق) غزل مې په حاشیه کښې وليکلو۔

۷۰ هـ خ : (د پـښدار تابع ئې ډېره) د ش : (د پښدار تابيه ډېره) د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشيه کښې دا مصرعه دا سې ليکلې شوې ده۔ د کـنـدهار نسخه : (د پښدار ها هوئ ډېره) د لته په مـتن کښې ما هم د دغه نسخې مصرعه شامله کړه۔

۷۱ هـ خ / د ش : (د ادم په دود جوان دے) د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشيه کښې د قلمي او دکندهار د نسخو کومه مصرعه يعنې (ظاهر آدم جوان دے) درج ده د لته ما هم دغه مصرعه په متن کښې شامله کړه۔

۷۲ هـ خ / د ش : (خوش وتلے په چوګان دے) د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشيه کښې د قلمي او دکندهار په نسخو کښې د (چوګان) په ځائے (يو آن) درج دے ما د صحيح مفهوم له مخه د لته په مـتن کښې (يو آن) درج کړو۔

۷۳ ط ق (اصل) : تقرير ، د ش : ښکاره هـ خ : بيوره۔ د لته په متن کښې ما د (هـ خ) نسخې مطابق (بيوره) درج کړو۔

۷٤ هـ خ : د قيق

۷۵ ط ق : (دے شنوا په ځل غوږ ونه) د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشيه کښې د قلمي او دکندهار د نسخو په حواله دا مصرعه دا سې نقل ده : (دے شنوا له کل ئې غوږ و) د لته په مـتن کښې ما دا مصرعه د (د ش) د مطبوعه نسخې مطابق و ليکله۔

۷٦ د ش : (په ويـدن کښې ئې لذت دے)

۷۷ ط ق : (مستغني شه له مخلوقه - او وه لونه امانت دے)

د (د ش) د مطبوعه نسخې په حواله د قلمي او کندهار نسخې : (کل ده په ارادت دے)

دلته په متن کښې ما دا مصرعه د (دش) مطبوعه نسخې مطابق وليکله

۷۸ دش : د "هم" په ځائ "تول"

۷۹ دش : يک تنها

۸۰ دش : (هم شهره په هر بازار دے)

۸۱ ط ق : (څۀ مست څۀ هشيار دے)

۸۲ دش : (له قدرته يې پر کار دے)

۸۳ د (دش) د مطبوعه نسخې په حواله د قلمي او د کندهار نسخې : (دے ساقي دور ګردان دے)

۸۴ د (دش) د مطبوعه نسخې په حواله د قلمي او د کندهار نسخې : (د "ملامت" په ځائ "ملاحت"

۸۵ ط ق : شوره -

۸۶ ط ق : استحاق (ن) اسحاق

۸۷ د (دش) د مطبوعه نسخې په حواله د قلمي او د کندهار نسخې : (چې دا ديد يې دوزي نۀ شۀ)

۸۸ ط ق : (ګرفتار شوے په فراق دے)

۸۹ ط ق : اوقات - ن ا فاق - دلته "اطاق" د (دش) د مطبوعه نسخې مطابق درج کړے شو -

۹۰ (د (دش) د مطبوعه نسخې د حاشيې په حواله د قلمي او کندهار نسخې : (د معنا په نورا نور شو)

۹۱ ط ق : (قارون به دې ګدا شي - چې په نجس ديده ور شي)
(حقيقي سفر دې بويه - کۀ پاسبان د ځپل ګوهر شي)

د لته په متن کښې دا دواړه شعرونه ما (دش) مطابق ولیکل.

۹۲ دش: (که گومان کړې له زړهٔ لیرې)

۹۳ دش: (میرزا غونډې فقیر ئې

که فارغ له نیک وشر شې)

۹۴ ط ق: (په هر چا کښې مساکین دے)

دش: (په هر چای کښې مساکین دے) د لته په متن کښې ما دصحیح مفهوم له مخه د (دش) د مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله د قلمي او دکندهار د نسخو مصرعه درج کړه.

۹۵ ط ق: (هر چې دَدَ دیدن وشه)

۹۶ دش: (د گمان که له چاهـه ووت) ط ق: (د گمان له خاه ووت)

۹۷ ط ق: علاییین.

۹۸ ط ق (له بهشته په رضا شې) دش: (بهشت ئې په رضا شي) د (دش) د مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله د قلمي او کندهار نسخې: (دا بهشت ئې په فرمان شو)

۹۹ ط ق. دش: (دا ارواح ......) د لته کښې ما د قلمي او دکندهار د نسخو په حواله دا مصرعه درج کړه.

۱۰۰ ط ق: (برگزیدن اې معلا کړې) د (دش) په حواله د قلمي او دکندهار نسخې: (که مختارته ....) دلته ما د (دش) مطابق دا مصرعه درج کړه.

۱۰۱ دش: تابان (۱۰۲-۱۰۳) د (دش) په نسخه کښې ددې دواړو شعرونو اخري مصرعې د وړومبیو مصرعو سره په اړوته ترتیب لیکلے شوي دي.

۱۰۴ ط ق؛ (که ورښتیا یې بازرګانې ئې)

۱۰۵ ط ق؛ ,,فاق,, پ و؛ آفات

۱۰۶ د ش؛ وعده

۱۰۷ ط ق پ و؛ خصانې

۱۰۸ د ش؛ (او جسمې د ګیاهونو)

۱۰۹ ط ق / پ و؛ (په مېترزا که خپل صفت که
ن تقضا د کل حاجات دے)

۱۱۰ ط ق / پ و؛ جام جم -

۱۱۱ د ش؛ (ورځرګند واړه اشتات دي)

۱۱۲ ط ق (مشکل واړه حال ش — پر کلام په تقریر دے)
پ و؛ (مشکل واړه حل شه — پر کلام په تقریر دے)

۱۱۳ ط ق / پ و: قرآن

۱۱۴ ط ق: (په طریق کښې غفلت ئې) پ و؛ (په طریق د غفلت يې)
د لته په متن کښې دا مصرعه د (د ش) مطابق درج کړې شوه -

۱۱۵ د ش / د کندهار او قلمي نسخه د (د ش) حاشیه؛ (حوا)

۱۱۶ ط ق، (ته پروت په امانت ئې) پ و: (ته پروت امانت ئې)

۱۱۷ د ش: نبوښ

۱۱۸ ط ق / پ ن: غفلت - د لته په متن کښې دا تکے د / د ش) مطابق درج
کړے شو -

۱۱۹ ط ق: ((ی یو شاه شاعت دي)) م ز: ((ی وایې یو شاه شجاع دے))
د (ط ق) په نسخه کښې " دے " ردیف تېول د " دي " په املا او لهجه

سره یکلے شوے دے ۔

۱۲۰ د (م ز) په نسخه کښې د „ په " ځائے „ د " لیک دے

۱۲۱ ط ق : ((چې قریب په اسماع دے))

۱۲۲ د (د ش) د مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله د "قلمي" او د "کندهار" په نسخه کښې دا مصرعه داسې ده ((حقیقي څراغ د ورځې))

۱۲۳ د „ د ش " په نسخه کښې د „ دې " په ځائے „ ئې " لیک دے

ل

---

۱ هـ خ : په ځهٔ - م ز : ځې

۲ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَ اَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ٥
(الاعراف - ایت : ۸۹)

۳ هـ خ ، د ش ، م ز : (چې فاني مې د فناله مُلکه وليږمه) (وليږ)

۴ هـ خ ، د ش ، م ز : (ددهٔ امر په هرځهٔ کښې دو انيږي)

۵ ط ق ، ځاے ، د فقر څښتن ته فقير وائي - فقير هغه وي چې اضافي وجود ئې فنا شوے وي او د حق ذات عين شوے وي حاجتونه او خواهشونه د موجود يا د اضافي وجود سره تړلي وي کله چې اضافي وجود فنا شي د فقير ارادې ، حاجتونه او خواهشونه فنا شي واذا اتم الفقر

فهوالله - (چې فقر ئې تمام شي د حق ذات عين شي) تو کومه چې په فقر د فخر خبره ده - نو دې لړکښې حديث شريف دے چې ز الفقر فخري والفقير مني : (فقر زما فخر دے او فقير زما نه دے)

۶ ط ق ، پ ن : (سنا)

۷ د (ط ق) او د (پ ن) په نسخو دا شعر نشته

۸ هـ خ / د ش : ميدان

۹ هـ خ / د ش : يو تنها

۱۰ هـ خ : ((امانت به په امان ترځايه ورورېي))

د ش : ((امانت به په امان ترځايه وړينه))

۱۱ د ش : ((ذدې "په ځاۓ ((تل " ليک دے - م ز : دلته ډيبر"په ځاۓ ډيبر" ليک دے -

۱۲ د ش : ((د اخلاص ښېښتن به بنه کړي په اخفا)) هـ خ :

((د نفاق داهل برخه ئې ديا کره - د اخلاص ښېښتن بشکړه کا اخفا))

۱۳ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَالِيَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِيْنَ ۝ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَالَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ۝ النمل ۲۷ - ايت ۲۰ - ۲۲ .

((او هغوي (سليمان) د مارغانو حاضري واخيسته نو ووې وئيل چې څه خبره ده چې زه هُد هُد نه وينم - پس په لږ ساعت کښې هغه راغلو او وې ويل چې ما يو داسې خبره معلومه کړې ده چې تا ته معلومه نه ده او ما تاسو له د سبا (د ملک) نه يو تحقيقي خبر راوړے دے -

۱۴ د ش عجبا هـ خ : جبا

۱۵ ط ق : ((له اشترا که ......))

۱۶ هـ خ / دش : ((ددې عارفانو فهم سپین سیا))

۱۷ دش ، هـ خ ((دا معنی په نا اشناو عجبا))

۱۸ هـ خ : ((د لاهوت په قرارې کښې تنهائي ده))

۱۹ اص : انهٔ - قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ -
(طٰهٰ ۲۰ - ایت -۴۶) ((الله تعالیٰ ووې تاسو مه یرېږئ زهٔ تاسو سره یم زهٔ هر څهٔ اورم او وینم))

۲۰ ط ق : ((د خالق په خلائق کهٔ تفاوت دے)) هـ خ ، دش ، م ز : ((د خالق په خلائق کښې تفاوت دے))

۲۱ مَا تَرَىٰ فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِن تَفَاوُتٍ ط فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ۵ الملک ۶۷ ایت ۳

((تهٔ به د (خدائے) رحمٰن په صفت کښې هیڅ فتور ونهٔ وینې پس تهٔ نظر وا چوه او وګوره چې ایا ته چرته خلل په نظر درځي))

۲۲ ط ق : (یو عجب عزت عزو علا)) دا شعر د (هـ خ) او (دش) : د متن مطابق و یکلے شو -

۲۳ (هـ خ) ((چې نا بود د غیر محوشي په لا))

۲۴ (هـ خ : ((چې نا بود د غیر محوشي په لا)) د (ط ق) په قلمي نسخه کښې د "تا شیر" په ځائے "هنر" دے

۲۵ د (دش) په چاپي نسخو کښې د "الاالله" په ځائے "لا اله" لیک دے

۲۶ د (دش) او د (هـ خ) په چاپي نسخو کښې د "طلا" په ځائے "عقلا" لیک دے په قلمي نسخه کښې "طلا" دے -

۲۷ د (دش) او (م ز) په نسخو کښې دا شعر نشته -

۲۸ ط ق: ((ددین دنیا مین فاني کړ)) دا مصرعه دلته د (دش مطابق ویکلې شوه -

۲۹ هـ خ: (تېر شي) په ځاے (سر شهٔ)

۳۰ هـ خ / دش: نغاړي -

۳۱ ط ق: ((په علاج کوشش نکاندي حکما))

۳۲ هـ خ: سلیما - دش: سلما دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته -

۳۳ ط ق: ((دا نسته چارې پسو کاندي روا))

دش: ((دا نسته چاره به سوکا ناروا))

م ز: ((چې سړے له امر ونهي خبر نهٔ وي

دا نسته چاره به څوک که بېښوا))

۳۴ ط ق / هـ خ / پ ن: ((بیا چې لاس او پښې عدل څلور کوا))

دلته په متن کښې دا مصرعه د (دش) مطابق ویکلې شوه

۳۵ ط ق / هـ خ / پ ن: (عوا) دلته په متن کښې (نوا) د (دش) او (م ز) مطابق ویکلې شوه

۳۶ ط ق / هـ خ / پ ن: ((چې هوا ورشخه څي روبه نخوا)) دلته په متن کښې دا مصرعه د (دش) او د (م ز) مطابق ویکلې شوه -

۳۷ هـ خ: (هره چار پخپل قدرت کا)

۳۸ ط ق: ((د مور په نفس کښې يې ساتينه)) دش: ((د مور په نس کښې يې ساتينه)) هـ خ: ((د مور په نس کښې ساتينه))

۳۹ اصل نسخه ((کهٔ)) نهٔ لري -

۴۰ دش : ((چې بالغ یا مراهق شي))

۴۱ هخ / دش ((برګزیده دې مولا کړے))

۴۲ هخ : مستغني

۴۳ دش : رعایت

۴۴ طق : پوهنده

۴۵ هخ : (یا عمل د زراعت کا)

۴۶ هخ : ((ځنې ځنې پوهنده شي - یا عمل د زراعت کا))

۴۷ دش : ((څوک اموخت ....))

۴۸ م ز : ((ځنې بیل له شریعت کا)) د (دش) په حاشیه کښې د کتبخانې د نسخې نه یُ هم دا شعر درج کړے دے -

۴۹ هخ : حجرت په ځائے ((بحرت)) دے

۵۰ هخ : ((نه په عزیزان ورځخه اوسي - نه به محبان دده مدت کا))
دش : ((....... وڅخه وي)) م د : ((....... ورسره اوی))

۵۱ هخ : ((منهبت)) دش م د : هیبت - د (دش) په حاشیه کښې د اصل نسخې په حواله ((منبهت یا مبنهت)) لیکلے شوے دے طق : مهیتهت

۵۲ هخ : ((اول به له توحیده مسالت)) دش ((له توحید یُ مسالت کا))

۵۳ طق هخ : ((چې له توحیده خبر نهٔ وي)) - دا مصرعه د لته د ((دش)) مطابق وَ لیکلې شوه -

۵۴ دش / م ز : ((په عرصات به وشرمیږي))

۵۵ طق / هخ : ((حاصل به یُ ترو نهٔ وي)) د لته دا مصرعه د ((دش)) او د ((م ز)) مطابق ولیکلې شوه

٥٦ دش / م ز : ((بدعنداب به يې شي بوخه)) . نخره

٥٧ دش : ((له کامله دې لار غواړي)) هخ، م ز ((له کامل دې لاره غواړي))

٥٨ دا د (هخ) په چاپ نسخه کښې نشته

٥٩ هخ : ((د بېنتني لار دغه ده)) م ز : ((د د بنتني لار د غه ده))
دش : ((اول آخر ئې هم داده))

٦٠ دش / م ز : ((طريقت خوې د پربښتو دے))

٦١ ط ق : ((دغه په مثال تخت دے))

٦٢ ط ق : منزلت

٦٣ ط ق / هخ : ((عمل په ئې سيرينه))

٦٤ ط ق / هخ / دش : ((خدائے ئې راضيه دے)) م ز : ((د ور په خدائے ئې راضيه دے))
د ((دش)) په حاشيه کښې د نورو نسخو په حواله دا مصرعه راسې ده
((د ور به خوش او راضي وي))

٦٥ ط ق : ((هرچې تن ئې پاکيزه شي))

٦٦ ط ق : تصيحت هخ : تضيقت - دلته دا ټکے د ((دش)) او ((م ز)) مطابق ونيکلے شو -

٦٧ هخ : مشقلت

٦٨ ط ق ، هخ ، پ ن : (چې د ذره ؤپه ديد عزلت کا) دش : (که د ذره ؤپه...)
م ز : (که د ذره ؤ په ديد نظرت کا) په متن کښې هم د دې مطبوعه نسخې مصرعه درج کړے شو -

٦٩ م ز : (چې مثلث اشارت کا)

ACKU

۷۰ دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته - د (دش) مصحح هم لیکي چې په اصل نسخه کښې دا بیت نشته - په (م ز) نسخه کښې دا شعر داسې دے (ورځ حرګند به عارفت کا)

۷۱ ط ق / پ ن :- د "دویت" په ځائے "دوسیت" دے - په (هـ خ) کښې دا "روایت" لیکلے شوے دے -

۷۲ ط ق / پ ن : (ابتدا به ئې نه غواړي - نه دے اټکل د نهایت کا) هـ خ : (ابتدا دے نه غواړي -) م ز : (نه اټکل د نهایت کا) - دلته په متن کښې دا شعر د (دش) مطبوعه نسخې مطابق ولیکلے شو -

۷۳ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا مصرعه د وړاندېنې شعر دویمه مصرعه ده او د وړاندېني شعر دویمه مصرعه یې د وروستني شعر دویمه مصرعه لګولې ده چې صحي نه ده - دش : (او سرود ئې زیادت کا) د (هـ خ) په مطبوعه شعر کښې دا شعر نشته -

۷۴ م ز : (سامعان به په نحو بسیږي - او سرود به زیادت کا)

۷۵ هـ خ : (ټول وجود دې آخرت کا) ط ق : (حساب ئې په کمال شي)

۷۶ دش / م ز : (پرده ئې زړه شهادت کا)

۷۷ دش : (چې له مرګه مخوا ومري - ګردن خلاص له امانت کا)

۷۷، ۷۸ دا شعرونه د (ط ق) (هـ خ) او د (پ ن) په نسخو کښې نشته -

۷۹ ط ق : دلته د جنایت په ځائے "خیانت" دے -

۸۰ دش : (له مشرکه دې ځان ژغوري) م ز : (لغا دې ځان ژغوري)

۸۱ هـ خ : (چې نزول په قرارت کا)

۸۲ دش : (دا عالم همت کامل شي - هر چې خدائے پرې عنایت کا)

ACKU

۸۳ هـ خ : (چې عمل په تنومت کا)

۸۴ هـ خ : (چې خدای یو یو استقامت کا)

۸۵ دا شعر د ط ق) (هـ خ) او د (پ ن) په نسخو کښې نشته۔

۸۶ د ش / هـ خ / م ز : دې نسخو کښې د " مسته شاه" په ځای " محبوبا" لیک ده۔

۸۷ په (ط ق)، او (م ز) کښې د " نیو" په ځای " وینو" لیک دے۔

۸۸ دغه زنگ د (د ش) او د (هـ خ) او د (ط ق) په نسخو کښې د " وجود" په ځای " جمال" لیک دے خو ما د مصرعې د معنوي ربط او فهم تر مخه د (م ز) مطابق دلته " وجود" ولیکلو دلته د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشیه کښې هم لیکلي شوي دي چې نورو نسخو کښې هم د " جمال" په ځای " وجود" دے۔

۸۹ د (د ش) (م ز) او (ط ق) په نسخو کښې " کاکل" لیکلے شوے دے۔ د (هـ خ) په نسخه کښې " کهکل" لیکلے شوے دے چې د معنې له مخه صحیح دے په دې وجه دلته ما په متن کښې د (هـ خ) د نسخې مطابق " کهکل" ولیکلو۔

۹۰ هـ خ، م ز، ط ق : هسان۔ هـ خ : ((درویش مېـرزا ....))

ط ق : ((فقیر مېـرزا ....)) ۔

۹۱ بعضو نسخو کښې د " چې " په ځای " او" لیک دے

۹۲ د ش، م ز : ((چې سجده څوک دنیا ته دخلیل کا ۔ په اخلاص سجده به ذات د جلیل کا))

۹۳ ط ق : هتیاط هتیاط د (هـ خ) په نسخه کښې دا غزل نشته

۹۴ د ش، : ((چې نه ئې حد نه ئې پایان نه ئې لوري))

م ز : ((........ نه ئې طرف شته))

۹۵ ط ق ، «د که آشنا د حق ....»

۹۶ ط ق ، د لته د «مینه» په ځای «تومنه» لیک ده -

۹۷ د ش ، م ز : «په قدرت ئې وبل تم کا» د (د ش) د حاشیې په حواله - لوغونې نسخه : «په قدرت ئې پیل تم کا»

۹۸ ط ق : «ظلم مثال لکه غنم کا» -

۹۹ ط ق : «په حیات دې روس د خپل ایمان ماتم کا»

۱۰۰ م ز : «استعداد ئې د دوزخ دے» د (د ش) په نسخه کښې دا شعر نشته -

۱۰۱ ط ق : «که د خدائے صفت په خپس مسلم کا»

۱۰۲ ط ق : «یوه ورځ به د و عدې حکم محکم کا» د ش ، م ز : «کړے قول به محکم کا»

۱۰۳ ط ق : «لکه ادرې اشتاتاً - وهرچاته به څرگند په خپل رقم که»

۱۰۴ ط ق : «په بنهٔ عمل به نعمت مومي - نه په گناه څوک گی م که»

۱۰۵ ط ق : «وصد رحمت پرهسې عدل - د شاه د گدا ے تپوس سم کا»

۱۰۶ ط ق : «چې په دا صفت موصوف شهٔ - مېرزا په ئې خدمت په هرقدم که»

۱۰۷ د «ط ق» او د «ه خ» په نسخو کښې دا شعر نشته -
د «م ز» په نسخه کښې (څهٔ کوزې) په ځای «څوک رنگ شي» لیک دي

۱۰۸ د ش : «هریو ځین ئې ....»

۱۰۹ م ز : نورانې (۱۱۰) د ش : «او مسکین د ځان بنیادې د پردو غم کا»

۱۱۱ د ش : «آوازئې د معنی آب حیات کهٔ»

۱۱۲ دا قصیده و دوله غزل د (ه خ) په چاپي نسخه کښې نشته -

۱۱۳ ط ق : (چې پنځه غنګې په څه بنا زبون کا)

۱۱۴ د ش / م ز : (او مرکب دې ....)

۱۱۵ د ش / م ز : (په نفي به نفي نفي ، اثبات اثبات شي)

۱۱۶ م ز : (چې د نن چار په پګاه او په پرون کا)

۱۱۷ د ش : (چې په مثل نندارهـ ددې بې چون کا) م ز : (دوې بې مثل ننداره ددې بېچون کا)

۱۱۸ ط ق : (چې اشنا د حق ثنا ....)

۱۱۹ ط ق : اوري

۱۲۰ ط ق : ديوار

۱۲۱ ط ق : دلته د (ممنون) په ځلے (مجنون) دے ۔

۱۲۲ ط ق : ((او د روح په رضا کړ کن فيکون کَ))

۱۲۳ ط ق : دروغ ژبه

۱۲۴ هـ خ : انکاره

۱۲۵ ط ق / پ ن : بې وفا ۔

۱۲۶ ط ق ، هـ خ ، پ ن : (چې امید مې د حباب ....)
م ز : (چې امید دوی د حباب په ننداره کا)

۱۲۷ د ش ، هـ خ ، پ ن ، م ز : کوځي

۱۲۸ ط ق : (د فقير خوشي له ذکره له کتابه) د ش : د فقير خوشي له سوزه ......) م ز : د فقير خوشي له سوزه له ګدازه) دلته ((سازه)) د (هـ خ) د چاپي نسخې مطابق و ليکلے شه ـ

۱۲۹ ط ق : بهتوري - دش : ((په گذار دوي تهودي که)) -
م ز : ((په گذار دوي بهه وري کَ)) .

۱۳۰ هـ خ : دې نسخه کښې د ,, دهبري ,, په ځاے ,, اميري ,, ليک ده -

۱۳۱ ط ق : د ,, رندان ,, په ځاے ,, ديدن ,, ليک دے -

۱۳۲ ط ق، دش، م ز : ,, څڅه دنگ ,,
دلته ما په متن کښې د ,, څڅه دنگ ,, په ځاے د (هـ خ) د نسخې مطابق ,, څشکل ,, وليکلو -

ب

۱ دش، م ز : کلک

۲ ط ق : ((ته دُ بوئ حجاب))

۳ ط ق، ((کل گفتار دې بې حجاب))
دلته دا مصرعه د (دش) (هـ خ) او (م ز) مطابق وليکلې شوه -

۴ ط ق : ((لکه نوے څيز نه ندي که)) دلته په متن کښې دا مصرعه د (دش) او (م ز) د نسخې مطابق وليکلې شوه -

۵ ط ق : ((په تاؤ دې غوښې شي کباب))

۶ دش، هـ خ، م ز : گفتار

۷ دش / هـ خ : (د نسب مدد دے نه نغوت له سببه)

۸ م ز : (د نسب مدد مه نغوبه له منسبه)

ط ق : (په آخر امید شي بې حسب) م ز : (په آخر نه تا امید شي بې حسیب) هـ خ : (په آخر به ئې امید شي بې حسبَ) دلته په متن کښې دا مصرعه د (د ش) مطابق و لیکلې شوه ـ

۹ ط ق : (....... بې مطلبه)

۱۰ د ش ، هـ خ ، م ز : (وَ اودو وته و یل شي بې اَدبه)

۱۱ د ،،ط ق،، په نسخه کښې د ،،شریف،، په ځای د ،،شیرین،، دے ـ

۱۲ د ،، ط ق ،، په نسخه کښې د ،،سوبه،، په ځای ،، صوبه،، او د ،،هـ خ،، په نسخه کښې ،، توبَ ،، لیک دے

۱۳ په (د ش) کښې د ،، نروب ،، په ځای ،، زهوب ،، لیک دے

۱۴ د ،، ط ق ،، په نسخه کښې دا شعر نشته ـ

۱۵ ط ق / پ ن : (........ تر مرکو به)

۱۶ م ز : (چې له هیڅه خبر نهٔ دي عیب ین دے) ـ د (د ش) د مطبوعه نسخې په حاشیه کښې د کنده هار او د قلمي نسخې په حواله دا مصرعه داسې لیکلې شوې ده (چې په هیڅ خبر نهٔ دي عیب یې دا دي)

۱۷ م ز : د ش : (بېکانه وو نجیلو طمع ....))

۱۸ د ش : ((د دنیا په جنجال څرنګ بد نمائې)) م ز : ((د دنیا په جنجال څهٔ بد بد نام ئې))

۱۹ د ش ، هـ خ : ((اے نادانه له دانائې بې نصیبه))
ط ق : ((اے دانا ....))

۲۰ د ش : هـ خ د حیات په ځای ،،حاجت،، لیک دے

۲۱ ط ق ، هـ خ : ((چې خبر شي د دارو له ترتیبه .
دارو

ACKU

۲۲ م ز : ویل

پ

۱ ط ق : (زیات زیات د گمان په خرابه)

۲ ط ق : عین ـ

۳ ط ق / د ش : سنځاپ ـ ه خ : سنجاپ ـ

م ز : نچاپ : د دې نسخې مصحح د دې ټکي معنی « ابلق » لیکلې ده. د لته ما د (م ز) د مطبوعه نسخې نه دا ټکے رانقل کړو.

ت

۱ دا غزل په باقي نورو نسخو کښې نشته ـ د « د ش » حاشیه لیکونکے هم دا د « کتابخانې » دیوې نیمګړې نسخې نه رانقل کړے دے ـ

۲ دا شعر اصل کښې داسې دے : ((نه زمانه یې له پته))

۳ د « ه خ » په نسخه کښې د « اوبه » په ځائے « ادب » لیک دے

۴ ط ق : « چې ګمان د کوه طور په لمبه وسه ـ د ارني ناره ...... »

ه خ : « چې ګمان ئې د طور په لمبه وسه »

م ز : « چې ګمان په ئې د دیے کړي طور ئې وسو ـ لن ترانی نعرې ئې اروم وموسی ته »

۵ م ز : ((پر مسکین د مستحق حکو نه نو ي
دا فقیر مېر زا ته خلاص کړي له ذکاته))

٦ دش : ((انن ښښنې څه کړي پراته))

۷ دش : ((نوی دې بیل شو له فرا ته)) د (د م ز)) په نسخه کښې د
((نوی)) په ځای ((جوی)) لیک دے

۸ ط ق : ((کفر جال د دبا ندې پر پر وت)) - د ((دش)) د حاشیې په
حواله د ((کندهار)) او ((قلمي)) نسخو کښې دا مصرعه داسې ده -
((دگومان د جال شوی لاندی))

۹ ط ق : وخت

۱۰ هخ ، دش : طلب

۱۱ ط ق : سو

۱۲ ط ق : دي

۱۳ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سٰجِدِيْنَ ٥
سوره ص - ایت : ۷۲
(کله چې زه دده (جسم) درست کړم او د خپل روح نه پکښې پوک وهم نو
بیا تاسو ټول ده ته په سجده شئ)

۱۴ دش : ((واړه دا واڼي یک لخته))

۱۵ د ((م ز)) په نسخه کښې د ((لمبه)) په ځائے ((داغ)) لیک دے د ((دش))
د حاشیې په حواله د ((قلمي)) او د ((کندهار)) نسخو کښې هم ((داغ))
لیک دے -

۱٦ د ((م ز)) په نسخه کښې د ((لمبه)) په ځائے ((رمبه)) لیک دے -

۱۷ د «د ش» او د «هـ خ» په نسخو کښې د «څیس» په ځای «ډیر» لیک دی او د «م ز» په نسخه کښې «ثیس» دی. د اخري شعر ورومبۍ مصرعه داسې ده: «پاکیزه دعارفانو د زړه میاشته»

۱۸ د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې «ما وڅه ته» په ځای «په څهت» لیک دی.

۱۹ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د «پهته» په ځای «بې بهته» لیک دی. دې نه علاوه دې شعر په ورومبۍ مصرعه کښې هم د (د ش) د حاشیې په حواله په بعضو نسخو کښې د «معنې» په ځای «ماغزه» لیک دي.

۲۰ د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې د «مهته» په ځای «هت» لیک دی

۲۱ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې د «وصل» په ځای «مینه» لیک ده.

۲۲ د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې د «نهته» په ځای «لهت» لیک دی

۲۳ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د «کهته» په ځای د «قهته» لیک دی.

۲۴ د ش: «نه دا ستا په هیبت تښتم له دهته»

ته

۱ هـ خ: «ستا په څېره ده کتَهٔ وتَهَ»

گ ر: «ستا پر څېر ده کتَهَ وتَهَ»

۲ د ش: «په څنګ سوزي لنده ستهَ» م ز: «په څنګ سوځي لنده ستهَ»

۳ دش : «رجي جي څي دي بې لوېټه»
م ز : «هَ هے څو به یې بې هټ» گ ر : «ړچي چي څو دي بې لوهټه»
د «ط ق» په نسخه کښې دا شعر نشته - په دې متن کښې دا مصرعه
د «هـ خ» د نسخې نه ویکلې شوه -

۴ د «م ز» په نسخه کښې د «نته» په ځائے «سته» لیک دے د «دش»
د حاشیې په حواله ددې مصرعې د «بته» په ځائے په «لوغونې» نسخه
کښې «تهبنست» په «قلمي» او د «کندهار» په نسخو کښې «مته» لیک دے -

۵ د «ط ق» په نسخه کښې د «چخمته» په ځائے «جمغته» او د
«م ز» په نسخه کښې «شنغته» لیک دے د «دش» د حاشیې
په حواله د «قلمي» او د «کندهار» په نسخو کښې «شین غته»
لیک دے -

۶ دش ، م ز : «نه ناپوهـ چې نخیس زیات وینې په خته»
نخیل سر لوټے

۷ دش، هخ، م ز : «دا پینځم اصل دې و غواړه چې څه دے ؟»

۸ د (هخ) او (دش) په چاپي نسخو کښې د «کته» په ځائے «کته» لیک دے

۹ د «دش» او د «م ز» په نسخو کښې «دیار» په ځائے «دتا» لیک دے

۱۰ د «دش» او د «م ز» په نسخو کښې د «پرکته» په ځائے «پر کته»
او د «هخ» په نسخه کښې «برکته» لیک دے -

۱۱ دش، هخ، م ز : «اے میرزا کلام ثابت پر مقامات کړه»

ACKU

ث

۱ د (د ش) د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې د "ایاز" په ځائې "باور" لیک دے ـ

۲ د (د ش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د "عارف" په ځائې "عاشق" لیک دے ـ

۳ د (ه خ) په چاپي نسخه کښې د "اسرار" په ځائې د "اخلاص" لیک دے ـ

ج

۱ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې د "عاشق" په ځائې "عاقل" لیک دے ـ
د (د ش) د نسخې د حاشیې په حواله د "کتابخانې" په بشیره نسخه کښې "عارف" لیک دے د "گلشن روه" په چاپي نسخه کښې "عاشق" لیک دے

۲ د (ه خ) او (د ش) په چاپي نسخو کښې "وتخت" لیک دے

۳ دا شعر د (ط ق) په قلمي نسخه کښې نشته ـ

۴ د (ط ق) په نسخه کښې "پلورې" په ځائې "مپلور" او د (ه خ) په نسخه کښې "مه پروله" لیک دے

۵ م ز : ((د دې خپل وطن دیدن درلره باشه دے))

۶ د «دش» په نسخه کښې «د دنځ به تېر کړي» په ځائې «د دنځ به بد تر کړي» ليک دے او د «م ز» په نسخه کښې «د دنځ به زيات کړه» ليک دے

۷ د «دش» او د «م ز» په نسخه کښې «د په قدر» په ځائې «د څه قدر» ليک دے۔

چ

۱ دش، م ز، ه خ: (تچه)

۲ ط ق: خچه، ه خ، م ز: (کچه)۔ دلته په د (ط ق) په متن کښې که څهٔ هم (خچه) د معنیٰ په لحاظ ټهيک ده خو په قافيه کښې د (خچه) دوه ځلي استعمال د ميرزا خان انصاري غوندې شاعر احتمال نهٔ لري په دې وجه. دلته د (دش) د متن مطابق دا (کچه) ويکلې شوهٔ ځکه چې د خچه او خمچه) دواړو معنیٰ هم کچه کو ته ده۔

ح

۱ اصل ا لدیه
۲ ط ق ، هخ : صلاح
۳ دش - م ز : غشي
۴ ط ق : (د توحید روښنائۍ زیاته ترصبوحه)
۵ ط ق ، پ ن : (د مېرزا څو ندون په اصل د اشتاب دے)

خ

۱ دش، م ز، هخ : چار
۲ دش، م ز : (خُبله)
۳ دش : (په هرزه) هخ : (دم په دم) - م ز : (په آرزو)
۴ دا شعر د (دش) او (م ز) په نسخو کښې نشته
۵ م ز : « لکه ساز څرې پوستۍ سره نغښتے »
۶ د « دش » په مطبوعه نسخه کښې دلته « منسوخه » او د « هخ » په مطبوعه نسخه کښې دلته « مستوخ » او د « م ز » په

مطبوعه نسخه کښې ,,ستوخ" لیک دے۔

۷ د ,,م ز" په مطبوعه نسخه کښې د ,,څوخه" په ځائے ,,چوخه" لیک دے۔

۸ د ,,دش" په مطبوعه نسخه کښې د ,,خیسے" په ځائے ,,خېره" لیک ده۔ د ,,م ز" په مطبوعه نسخه کښې د ا مصرعه داسې لیک ده:
((که د وهم خس کاږ نغوښتـه))

۹ د ,,ه ش" په مطبوعه نسخه کښې د ,,ملوخه" ,,مسلوځ" او د ,,م ز" په مطبوعه نسخه کښې ,,ملوځ" لیک دے۔

د

۱ ط ق / دش : ((دا نش له سر بلنده))

۲ ه خ : (دا نشه له سربند) ۔(دش) پخپله حاشیه کښې د لرغونې نسخې په حواله د ا مصرعه داسې لیکي
(د دانش له سرې بنده) ط ق ؛ نوَر

۳ ه خ : (اصیل بنده په ناپوهېده وه)

۴ ه خ : (اوس وا صل شه چې پیوند ه)(دش) پخپله حاشیه کښې د لرغونې نسخې په حواله د ا مصرعه داسې لیکي، (اوس وا صل شه چې وند ه)

۵ ط ق ؛ (اے د پاک شوي فرزنده) دش ، م ز ؛ (ای د پاک سرې فرزنده) ه خ ؛ (اے د پاک صفي ......) (دش) پخپله حاشیه

کښې د لوغونې نسخې په حواله د « سرې » « شوې » او « صفې » په ځای
د « رسول » کلمه لیکلې ده.

۶ د ش، م ز : (محبوب .

۷ د ش، (سینده)

۸ د (ط ق) او د (ه خ) په نسخو کښې « گنده » په ځای « کنده » او
د (د ش) په چاپي نسخه کښې « گونده » لیک.

۹ ط ق : (ستارضا ....)

۱۰ ط ق : (د وصال حاصل دې تېر نهٔ وُ بېهوده) ه خ : (دا د حال
حاصل دې تېر لیدهٔ بېهوده) دلته د (ه خ په حاشیه د اصلي
نسخې د حاشیې یو حواله هم ورکړې شوې ده چې پکښې د « تېر
لیدهٔ » په ځای « تېر نه وه » لیکلې شوې ده. د ش : (ددې حال...
...... باقي د (ه خ) د نسخې مطابق ده.
م ز : (ددې حال حاصل دې نوکې بېهوده)

۱۱ ط ق : د « جهان » په ځای « جهات » لیکلې شوې دې.

۱۲ ط ق : (چې د وجود حیاتي وینې موجود) د ش، م ز : (د وجود حیاتي
وینه له موجود)

۱۳ ط ق : (سره لمبه پرلوې هک باندې کوکوده)

۱۴ م ز : (مدام نغوته د ښکړو ئي شپوه ده.

۱۵ د (ط ق) په نسخه کښې د « مسعود » په ځای « مردود » لیکلې شوې دې.

ACKU

ډ

۱ د (ط ق) او د (ه خ) په نسخو کښې د "نېور" په ځای "نیوز" دے (د ش) کښې "نیود" دے

۲ د (ه خ) او د (د ش) په نسخو کښې د "تلاو" په ځای "تالاب" لیک دے

۳ د (ط ق) په نسخه کښې د "ځان" په ځای "ذات" لیک دے

ذ

۱ د (ط ق) نه علاوه باقي نسخو کښې د "جان" په "ځان" لیکلے شوے دے۔

ر

۱ ط ق: دلته د "رمزه" په ځای "ثمره" لیکلے شوے دے

۲ د ش: "بیا د تو رو زلفو زیب ئې توره شپه در"

۳ د ش: دلته د "صفت" په ځای "نامه" لیکلے شوے دے

۴ د "ه خ" په مطبوعه نسخه کښې دا غزل نشته

۵ د ش: "د پیرې پیش انگلي بویه له میره"

م ز: "د پیرې پیش اند په کلي یا په میر"

۶ دش، م ز : «رڼې رول مې فکرونه کړشوه تېره»

۷ دش : «د تبریزي آفتاب د راونخوت له منبره»

م ز : «د تبریز آفتاب را ونخوت له بشېره»

د «دش» د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې د «روښان» په ځائې «خفض» لیک دے او د کتابخانې د نسخې د «منبر» په ځائې په نورو کښې «بونبر» لیک دے په متن کښې درج شوے شعر د (ط ق) د نسخې مطابق دے۔

۸ د «دش» «هـ خ» او د «م ز» په نسخو کښې د «مخ» په ځائې «جمال» دے۔

۹ ط ق : «او دا زلفې تره لدې بور»

۱۰ دش، م ز : «سپین مړوند ئې د باور دے کښلې توره»

۱۱ دش، م ز : «دا دورنګ په خوارید خوار په زړهٔ مغروره»

هـ خ : «دا دوتا په لوئے سپېرګال مزدوره

۱۲ دش، م ز : «په نسخه کښې د «بې قصوره» په ځائې «لفصور» لیک دے

۱۳ د «دش» «هـ خ» او د «م ز» په نسخو کښې د «سود» په ځائې «صور» لیک دے۔

۱۴ ط ق، دش «روا صلان به ورته وواېي معذوره»

۱۵ د «ط ق» قلمي نسخه «هـ خ» په قلمي نسخه کښې د «روښان» په ځائې «میا» «میان» لیک دے د «م ز» په نسخه کښې «مولی» دے۔

۱۶ ط ق، هـ خ، دش، «د فناویره پرڅهٔ شي له ضرده» په متن کښې شامله مصرعه د «م ز» د نسخې مطابق ده۔

ACKU

۱۷ د ((دش)) په مطبوعه نسخه کښې د ((مکره)) په ځای ((مقرره)) لیک دي.

۱۸ دش، م ز ا ((څو دا تخم غله نه کړې مقشره)) د ((هخ)) په مطبوعه نسخه کښې د ((څو)) په ځای ((څوک)) لیک دے.

۱۹ ط ق : ((بېهوده نصیحت څو وایم په زوره)) دا غزل د (دش) په نسخه کښې نشته.

۲۰ هخ، م ز ا د ((سیوره)) په ځای ((سپوره)) لیکلے شوے دے.

۲۱ م ز ا د ((سنتي)) په ځای ((دوستي)) لیکلے شوے دے.

۲۲ د (ط ق) په نسخه کښې دا شعر نشته.

۲۳ ا د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

۲۴ د ((دش)) په مطبوعه نسخه کښې د ((توره)) په ځای ((کوره)) لیک دے.

۲۵ د ((دش)) د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې د ((ذاکر)) په ځای ((کامل)) لیک دے.

۲۶ دش، هخ، م ز : ((د بې نیازه شاه له زوره))

۲۷ د ((هخ)) په مطبوعه نسخه کښې د ((بیوره)) په ځای ((بې دوره)) او د ((م ز)) په مطبوعه نسخه کښې ((پښغوره)) او د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې ((لسدیه ورو)) لیک دے.

۲۸ د ((هخ)) مطبوعه نسخه کښې د ((اوره)) په ځای ((هوی دَ)) او د ((م ز)) په مطبوعه نسخه کښې ((بیداه)) لیک دے.

۲۹ د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې د ((نمر)) په ځای ((تَوَر)) د ((دش)) په نسخه کښې ((ملر)) لیک دے.

۳۰ د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې د ((ووینې)) په ځای ((وګورې)) لیک دي

ACKU

۳۱ د «ر ط ق» په قلمي نسخه کښې د «ربنتیا» په ځای «رو ښیان» لیک دی.

۳۲ ط ق: «د خود بین خود رای نقیں»

ل

۱ د «ر ط ق» په قلمي نسخه کښې دا «غزل» نشته

۲ م ز: «حقیقي محبوب به نهٔ مومې اے ویاړه»

د «ر دش» د حاشیې له مخه په نورو نسخو کښې هم «ویار» لیک دی.

۳ ه خ، دش: «یو عجب د بینایۍ شرم څهٔ شو»

۴ دش، ه خ: «د مجاز مسئله تېره کړه وې نظاره»

۵ د «ر دش» په نسخه کښې «ولېنس» «ووېښې» لیک دی.

د «م ز» په نسخه کښې دا مصرعه داسې ده:

«کهٔ دا ځپله رضا کښېنې دے تهٔ په واړه»

٦ دا غزل د «ر دش» «ر ه خ» او د «م ز» په نسخو کښې نشته

۷ ا ص: «زړهٔ یې وکېښس څن لواړ»

۸ ا ص: حمیل

۹ ط ق: (تهٔ نفي فاني لباس کړه)

۱۰ ط ق: (تهٔ یوسف له بنده خلاص کړه)

۱۱ دش، م ز: نفسک.

۱۲ ط ق : (خپل دلیل پسې غواص کړه)

۱۳ م ز : (که ته خاص بندګي غواړې)

ز

۱ د ش : دلته د « نماز » په ځای « نیاز » لیکل شوی دی .

۲ ه خ : « د الفازه » په ځای « انګازه » لیک دی .

۳ ط ق : « کمینې د عاشق شرط دغه دی »

ه خ : « کمینه د عاشقۍ شرط دغه دی »

۴ م ز : « څو اول تو خپل مراده ته بېرته نه شې »

۵ م ز : د « درست کلیات » په ځای « کل اشیاء » لیک دی .

۶ د « ط ق » په قلمي نسخه کښې د « څرګ آزه » په ځای « څرګ رازه » لیک دی .

۷ ط ق : « له ناکامه یو له سبله سره سازه »

۸ د ش ، ه خ ، م ز : « که په چا ې بدګمان دبدو وشې »

۹ د ش ، م ز ، « او لیا په جهان څکه نه ښکارېږي »

۱۰ ط ق : « که باچه آزاد په بازار کښې آموخته وي »

۱۱ د « ط ق » په قلمي نسخه کښې د « ناز » په ځای « باد » لیک دی .

۱۲ ه خ ، د ش ، م ز : برهنه .

۱۳ م ز : « چې د عشق تو ده لمبه وریا نده راشې . تو لا نده زړه به ې تل

ACKU

خیشي ډه‌وزه))

۱۴ د ((د ش)) او د ((م ز)) په مطبوعه نسخو کښې د ((بلوت)) په ځائې ((بلود)) او د ((ط ق)) په قلمي او د ((ه ش)) په مطبوعه نسخو کښې ((بې لود)) او ((بې‌پلود)) لیک دے - ددې ټولو ټکو نه ماته معنیٰ ولاړه نه کړه او ددې په ځائې مې پخپل قیاس چې معنیٰ یې صحیح دا ځې ((بلوت)) ولیکلو -

۱۵ د ((م ز)) په نسخه کښې د ((ترینناک)) په ځائې ((طربناک)) لیک دے -

۱۶ د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې د ((لا بدی)) په ځائې ((لا پیدیں)) او د ((ه خ)) په مطبوعه نسخه کښې ((له آبد)) لیک دے -

۱۷ م ز ا ((د دنیا تو انګر ګدا ئې د دوا ړو کونو
دا خبره کړه ته پند حکمت انده وزه))
د ((د ش)) د مطبوعه نسخې په حواله د ((کندهار)) او د ((قلمي)) په نسخو کښې هم د لته دا شعر لیک دے -

۱۸ د ((م ز)) په نسخه کښې د ((وازه)) په ځائې ((وژګه)) لیک دے

۱۹ د ((ط ق)) په نسخه کښې د ((قوت)) په ځائې ((قدس)) لیک دے -

۲۰ د ((ه خ)) او د ((م ز)) په مطبوعه نسخو کښې ((ځوز)) په ځائې ((جوز)) او د ((ق ط)) په نسخه کښې ((زوز)) لیک دے

۲۱ د ((د ش)) او د ((م ز)) په نسخو کښې د ((عارف)) په ځائې ((هېرزا)) لیک دے -

۲۲ د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې دا شعر نشته -

۲۳ د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې د ((عابد)) په ځائې ((زاهد)) لیک دے

۲۴ م ز ۱ «صراحي لره د بشمن لکه نحو نیزه»

۲۵ د «دش» او «م ز» په نسخو کښې د «کل بېز» په ځای «کل دېزه» لیک دی۔

۲۶ د «دش» او «م ز» په نسخو کښې د «خرین» په ځای «شیرین» لیک دی۔

۲۷ د «دش» «هخ» او د «م ز» په نسخو کښې د «وارۀ» په ځای «ولاړ» لیک دی

۲۸ د «دش» «هخ» او د «م ز» په نسخو کښې د «مونږ» په ځای «وړۀ» لیک دی

۲۹ د «ط ق» په قلمي نسخه کښې دا شعر نشته۔

س

۱ م ز ۱ «ته د نفس و نامرادی ته تړۀ ملا» د (دش) د حاشیې په حواله د کتا بخانې په نسخه هم دا مصرعه د غه رنګ ده۔

۲ م ز ۱ «خوشوقت» د کتا بخانې نسخه کښې د «پخبنو» په ځای «خوشوقت» لیک دی د (ط ق) په نسخه کښې دري په ځای «جفر» لیک دی۔

۳ د (ط ق) په نسخه کښې د «فرصت» په ځای «اختیار» لیک دی د (م ز) په مطبوعه او د کتا بخانې په نسخه کښې دا مصرعه داسې لیک ده: «ته اختیار د پاڅېدو و دۀ ور مۀ کړه»

۴ ط ق، د ش، هـ خ : «غېن د عېن» م ز : «عېن د عېن» د معنی په لحاظ «عېن دغېن» صحیح دے ځکه دلته ما د خپل قیاس په لحاظ په متن کښې «عېن دغېن» و لیکلو۔

۵۔ د ش، م ز، ط ق : «د یقین په دیدن ......»

هـ خ : «د دیدن په یقین ....»

دلته ما په متن کښې د (هـ خ) د نسخې مطابق «د دیدن په یقین ....» و لیکلو

۶ ط ق : کل معنیٰ ئې په رموز .....» باقي ټولو نسخو کښې دا مصرعه هم د غه شان لیک ده ځنګه چې ما په متن کښې و لیکله۔

۷ د ش، م ز، هـ خ : «که ئې په دا حضور له ځانه خبر نهٔ شوې»

۸ ط ق، هـ خ : «قیامت به دې بېشکه په نداره شي»

۹ په «ط ق» او «م ز» کښې د «بې کسه» په ځائے «ا ی کسه» لیک دے۔ د «د ش» په نسخه کښې د «وګوره» په ځائے «وغواړه» لیک دے۔

۱۰ ط ق ـ هـ خ «په دا خوي به بېګانه شي له قفسه» ـ د «م ز» په نسخه کښې د «بېګانه» په ځائے «بیګانه» لیک دے۔

۱۱ ط ق : «په شرې کړو را پېرده له اطلس»۔

د ش : «په شړي به ټوګی و راپېر و دله اطلسه» (هـ خ) په شړې ګړے ورا پیر ودل اطلس م ز : «په شړي به ګړ و یوسي له اطلس»

۱۲ ط ق : کوشیش

۱۳ م ز : کلفي ـ د (د ش) د مطبوعه نسخې مطابق د «قلمي» او د کندهار په نسخو کښې هم د «قلبي» په ځائے «کلفي» لیک دے۔

۱۴ د غه ډنګ د ،، قلمي ،، او ،، کندهار ،، په نسخو کښې د ،، سیس ،، په ځاۍ ،، میس ،، لیک دی ، او هم په دې مصرعه کښې د ،، نظس ،، په ځای ،، هس ،، لیک دی ۔

۱۵ ط ق ، د ش ، م ز : قمیص / کمیس ۔ خو د (ه خ) په نسخه کښې ،، تلبیس ،، دی د مصرعې د معنوي مطابقت په وجه ما هم ،، تلبیس ،، صحیح وګڼلو ۔

۱۶ ط ق ، ه خ : ،، تل تر تله مې ذاتي دې مبارک شه ،،

ش

۱ ط ق ، د ش ، م ز : (هم)

۲ ط ق : لاش ۔ م ز : نش ۔ د (د ش) د مطبوعه نسخې د حاشیې له رویه د لته ،، خشه ،، لیک دی ۔

۳ د (ط ق) په نسخه کښې دا شعر نشته ۔

۴ د (د ش) د حاشیې له مخه د کتابخانې په نسخه کښې د لته د ،، سید ،، په ځای ،، د سیده ،، لیک دی ۔ د (ط ق) په نسخه کښې دا شعر و نه نشته ۔

(۵، ۶، ۷ ـ ۸) د (ط ق) په نسخه کښې دا شعرونه نشته ۔

۹ ه خ : د لته د نښان ،، په ځای ،، انسان ،، لیک دی ۔ دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته ۔

۱۰ د (د ش) په مطبوعه نسخه کښې د ،، راحته ،، په ځای ،، عالمه ،، لیک دی ۔

د (هـ خ) په نسخه کښې د "اے میرزا" په ځائے "په یقین" لیک دے۔
د (هـ خ) په نسخه د مقطعې د شعر په ځائے دا شعر لیک دے چې نورو نسخو کښې نشته ہے

اے میرزا که د پاکانو هوا غواړې
لکه ذر د محبت په اور کښې بیشه

۱۱ د ش : د "ترم ترم" په ځائے دلته "ترے ترے" لیک دے۔ م ز : دلته نرم نرم لیک دے
۱۲ هـ خ : دلته د "سرو" په ځائے "سرو" لیک دے۔
۱۳ هـ خ : دلته د "ځان" په ځائے "خاص" لیک دے۔
۱۴ د (ط ق) په نسخه کښې د "نسل" په ځائے "اصل" لیک دے
۱۵ هـ خ، د ش، د "رونده" په ځائے "رونده" لیک دے۔
۱۶ هـ خ، د ش، دلته د "فهمه" په ځائے "غمه" لیک دے۔
۱۷ هـ خ، د ش : دلته د "په کمال د عقل" په ځائے "په کمال ئې امر" لیک دے۔
۱۸ ط ق : مزوبان۔
۱۹ د ش، م ز، ویل کړل
۲۰ ط ق : د "تحسس" په ځائے "تحسّین" لیک دے۔ د (د ش) په نسخه کښې دې شعر پسې چې کوم شعر لیک دے دا جعلي ښکاري د کاتب یا د چا مرتب اضافه ده ځکه چې روښاني شاعران په یو غزل کښې د دوو قافیو دا وستلو اهتمام بالکل نه کوي لکه څنګه چې دلته پر له پسې د خطیب دوه قافیې راغلي دي بل د دې شعر مضمون او خیال د میرزا خان د خیال او مزاج نه دے۔ دا

شعر د لته ما په متن کښې ځکه درج نه کړو ـ ددې نه علاوه دا په نورو نسخو کښې نشته لکه څنګه چې د (دش) د مرتب دعوی ده هغه شعر دا دے:

دغه زمکه چې په آتش وسوه
په اوازې په حقیں کوره خطیب شهٔ

۲۱ ط ق : ((کل چې جهان ونيو د ورانئ))

۲۲ ط ق : ,,ظلمات"

۲۳ د (ط ق) په نسخه کښې دا شعر ونه نشته

۲۴ هـ خ : (چې په دا لارې د زړهٔ په ښښې خبر شه)

۲۵ هـ خ : ((په ربتيا ئې د ربتينو ښې وې کړه ـ
اوس مې ځکه په ربتينو کښې سرور شهٔ))

۲۶ ط ق : (دصورت دعالم فهم ته به سر شه)

۲۷ د هـ خ، او (ط ق) په نسخو کښې د ,, بخته" په ځائے ,, بخره" او ,, بخرې" ليک ده د (دش) د حاشيې تر مخه په نورو نسخو ددې په ځائے ,, عقل" ليک دے ـ

۲۸ د (دش) (م ز) په نسخو کښې د ,, ماحَضر" په ځائے ,, مخطر" ليک دے ـ

۲۹ دش : ((چې بې رنګ ئې د باور په سترګو کورې))

۳۰ ط ق : ((خدائے چې دے هسې په تل وې))
م ز : ((پاک الله لکه چې دے ....))
د (دش) د حاشيې تر مخه د کندهار او په قلمي نسخه کښې د ,, روښان" په ځائے ,, الله" دے ـ

۳۱ د ,,ط ق" ,,دش" او د ,,هـ خ" په نسخو کښې د ,, پيک" په ځائے

«بیک» لیک دی د «د ش» د حاشیې په حواله په نورو کښې «پیک» لیک دی د «م ز» په نسخه کښې هم «پیک» دی د پیک د معنې او د تکې د صحت له رویه ما «پیک» ولیکلو ـ

ښ

۱ د ش، ه خ، م ز: کړځې

۲ د ش، م ز: «خپله چارې همګې ناتمام پر ښنه»

ه خ: «هوی خپل چاری ناتمامه پر ښنې»

۳ د «ط ق» په نسخه کښې د «تیار» په ځائې «زرغون» لیک دی

۴ د ش، ه خ،: «لکه یو په غاښ کابل ښښه» ته ښښی

م ز: «لکه یو چې په غاښو خوري بل په لښی»

۵ ط ق، د ش، م ز: «غښ غښ محبت زهر قاتل دی» په متن کښې ګړه مصرعه د «ه خ» مطابق ولیکلې شوه ـ

۶ م ز: «ای میرزا د زړه نحس و بنه وینه ښس»

ص

۱ ط ق : « څوک به چا وچا ته څه ګوري مخلص »

ه خ : « ته به چا وچا ته څه ګورے مخلص »

۲ ط ق : « تل ښادي پر تازه باندې تازه که »

۳ ط ق : « چې ظاهر عالم به وګوري مخلص »

د ش : « چې ظاهر عالم به لیله ګوري مخلص » د (ه خ) په نسخه کښې د «نور» په ځائے «دین» لیکلے دے د (د ش) په نسخه کښې د «نه ګوري» په ځائے «لیده ګوري» لیک دے د (د ش) د حاشیې په حواله په لرغونې او دکتابخانې په نسخو کښې د لته «لیمه ګوري» لیک دے دلته ما د صحیح معنې له مخه د (ه خ) مطبوعه د نسخې مطابق «نه ګوري» درج کړو۔

۴ د ش : م ز : « چې ئې درست عقل او ره ګوري مخلص » ه خ : « څه دا درست عقل او ده ګوري مخلص »

۵ د ش : م ز : « له میرزا سره به پته و قافیې کا » ۔

ه خ : د میرزا په څېر به قطع وقافیې کړې۔

بیا چې ځان دکړ ونے که ګوري مخلص .

۶ دا غزل د (د ش) په مطبوعه نسخه کښې نشته

۷ د (ه خ) (م ز) په نسخو کښې د «قواص» په ځائے «غواص» لیک دے

۸ هخ : ((مخلصان به د نفاق خویونه وژني ـ
چې ژوندون ئې باقي نهٔ وي له اخلاصه))
م ز : ((مخلصان به د نفاق له خویه ووځي
چې ژوندون ئې باقي نهٔ وي چې اخلاصه))
۹ ط ق : ((بنهٔ بنادي به ځې د غم پرغولي یلے))
م ز : ((...... .... پرزي))
۱۰ ط ق : هخ : ((تر و قسرار به له قـرار ه سره تلهٔ شي))

ض

۱ هخ : ((هر طالب چې فیض بیا مومي له فیاضه
له نور چا ئې خپس پر ې کا بې مقراضه))
۲ هخ : ((پیر کامل مې ودهٔ هسې تلقین ورکـــه
چې شهٔ خلاص له غفلتو له امراضـه))
۳ هخ : ((د اندوه په ځاے کهٔ صبر مقیم پریملي
هر مؤمن به اَمن مومي له اعراضـــه))
۳ ط ق : منظلم ـ د ش ، م ز : ((په زغمل کهٔ امن مومي له اعراضه))

ط

۱ دش، هخ : «کم دلیل له خوایزه عمره ....»

۲ طق، هخ : «وځغونوئ پیغ ورکه لونه لونه» (خوږه)

۳ دش، م ز : «دا دلې کرده ....»

ظ

۱ دش، م ز ا دلته د "عزلت" په ځای "عزت" لیک دی

۲ دش، م ز : دلته د "تن" په ځای "نن" لیک دی

۳ طق : «په روح به د میرزا په هرصورت وي»

دش : « روح به دې میرزا د هرصورت دی»

هخ : « روح میرزا د هرصورت دی»

م ز : « او د ارواح به ئې میرزا دکل بدن شي»

د (دش) د مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې دا مصرعه

داسې ده «به روح به د مرزا د هرصورت وي» او د کندهار د نسخې

حواله داسې ورکوي «او دا روح به ئې میرزا دکل بدن شي»

۵،۴ دا شعرونه د (طق) په نسخه کښې نشته

۶ د ش، م ز : ((بل به ښک و بد ښکاره کاندي په وعظ))

۷ د (ه خ) په نسخو کښې د ,, دلې ،، په ځای ,, ولې ،، لیک دے۔

ع

۱ د ش، م ز، ((د کثرت محبت یو جز د وحدت دے))

۲ ه خ ، ط ق : ((په تحقیق ہي اصل ذات . . . . .))

۳ دا ,, غزل ،، د (ط ق) په نسخه کښې نشته

۴ د (د ش) د مطبوعه نسخې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې د ,, جایعه ،، په ځای ,, جامعه ،، دے

۵ د لته د دې معنیٰ ده ,, سرکش ،، او هغه ښځه چې د خاوند د اجازت نه بغیر د کوره ووځي او پردو سرو سره ملاویږي ،،

۶ د ش : خپس م ز : خپل سر،

۷ ط ق، ه خ ، م ز : ((په دا نوي سرځي لا تازه اننده دے لکه شمع))
د (م ز) په نسخه کښې د ,, سر ،، په ځای ,, سر ،، لیک دے

۸ ط ق : ((دا پوره و بنا ثنا اند دے لکه شمع))
ه خ : ((دا پوره و عده د اشنائی اند دے لکه شمع))
د ش : ((دا پوره وفاد اشنا اند دے لکه شمع)) - دلته په متن کښې دا مصرعه ما د (م ز) د نسخې نه واخیسته۔

۹ ط ق، د ش : ((په نقصان تر کمال پورې بند دے لکه شمع)) د (م ز) په

نسخه‌کښې د «تر» په ځای «په» لیک دے او د (ه خ) په نسخه کښې د «بند» په ځای «بلند» لیک دے

۱۰ ط ق، ه خ: «چې تمام بدن ئې سرو تېغ ته جند دے لکه شمعٔ» د (د ش) او (م ز) په نسخو کښې د «جند» په ځای «چند» لیک دے۔

۱۱ ط ق، د ش، ه خ، م ز: «چې څکلے ئې د مرګ د پیالې خوند دے لکه شمعٔ»

۱۲ ط ق، د ش، ه خ، م ز: «چې دا هسې تجلي مخ ئې کمند دے لکه شمعٔ»

۱۳ دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته۔ د ش، م ز: «چې دیدن ئې د نظر لیند د کمند دے لکه شمعٔ» ه خ: «چې دیدن ئې د نظر د کند دے لکه شمعٔ»

۱۴ ط ق، «که دا نش ئې تر کل عالم سربلند دې لکه شمع»

غ

۱ د (ط ق) په نسخه کښې دا غزل نشته

۲ ه خ: «د بلبل په زړهٔ ئې بل کړهٔ څو چراغه»

۳ ه خ: «د محبوب عنایت ګوري په ژوے۔
و محبت ته مخ په مخ شو بې قناغه»

۴ ه خ: «په د ښادئ نور څهٔ نشته بې بلاغه»

ف

۱ هخ : دلته د « ازل » په ځای « میثاق » لیک دی

۲ د (دش) د حاشیې په حواله په « لوغوني نسخه » کښې د « معشوق » په ځای « مکشوف » لیک دی

۳ ط ق : « له یوهٔ الفه وینم ځی الوف »

۴ ط ق ، هخ : « د علم عمل » په ځای په نسخو کښې « د علم علم » لیک دی

۵ دش ، م ز « ای میرزا د مؤمنانو ښنا کوی شهٔ
مؤمنان دي په خدائي صفت موصوف »

۶ ط ق : « عجب پو ګمان بانې هس اره کښېښوه

۷ د (ط ق) په نسخه کښې د « صور » په « صورت » لیک دی

۸ هخ : « هر عارف باندې هسې دنیا زور شوه »

۹ د (دش) او د (م ز) په نسخو کښې د « اصناف » په ځای « اوصاف » لیک دی۔

۱۰ هخ : « هرچې مغز ئې د اخلاص ورسره نهٔ وي
د زر دوز د ځان بلا شوه خپله لافـــ »

۱۱ ط ق : دلته د « لرې کړه » په ځای « ورکه کړه » لیک دی

۱۲ هخ : « چې تیر پر اختیار دې والوځي له کفـ »

۱۳ هخ : دلته د « احد » په ځای « واحد » لیک دی

۱۴ هخ : « په خپل کړهٔ به شي هر یو له خپله صفـ »

۱۵ م ز : دلته د «ثنا» په ځای «آواز» لیک دے

۱۶ هـ خ : دلته د فیف په ځای «ریف» لیک دے۔

د (د ش) په چاپي نسخه کښې «ردیف» لیک دے

۱۷ ط ق : دلته د کثیف په ځای «کشف» لیک دے

۱۸ هـ خ، ط ق : دلته د «تپس» په ځای «تل» لیک دے۔

۱۹ م ز : «په خاطر به ئې درحم اثر تل وي»

۲۰ هـ خ، ط ق : دلته «خیف» لیک دے

۲۱ د ش، م ز : «د گمان په رنگ ئې واخست له ضغیفه»

۲۲ د ش، م ز : سرکار۔ هـ خ : سوي کار

ق

۱ د ش، هـ خ، م ز : «فاني سرا ئې ئې د بقاے مزرعه دے»

۲ م ز : فرقان

۳ ط ق : مناق

۴ م ز : «کم دلیل د خپل گمان په سهو دي دروې۔

اوس د علم نرې مهٔ غواړه له قاقه»

۵ ط ق : حاق

۶ هـ خ : «د دیوه کافر بچه په بها نه وسو»

ط ق : «د دیو کافر به بچې یه پښاوس و»

۷ احراق

۸ ط ق : کوروئی

۹ د ش ، م ز : «تر و پرڅهٔ باندې به ویره کړي له سرقه»

۱۰ م ز : د «قرار» په ځائے د لته «اقرب» لیک دے

۱۱ ط ق : ه خ «اے میرزا ظاهر عالم کهٔ لوئے هلک دے»
م ز : «اے میرزا ظاهر عالم کهٔ تهلکه دے»

۱۲ ه خ ، ط ق : «په هستۍ کښې برابر دے نهٔ بې فوقه»

۱۳ دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته

۱۴ ط ق ، ه خ : دلته د «ترقیق» په ځائے «توفیق» لیک دے .
د (د ش) او د (م ز) په مطبوعه نسخو کښې دلته «ترقیق» لیک دے

۱۵ ط ق : دلته د «شفیق» په ځائے «تفیق» لیک دے

ک

---

۱ د ش ، م ز : «اے مسکینه دل هلاکه»

۲ ط ق ، ه خ ، د ش ، م ز : «ملک به لاندې تر ثناکه»

۳ ط ق ، ه خ ، د ش . «ثنا ختمه شوه دلې ته»
م ز : «ثنا ختمه شوه دلیته»

۴ دا شعر د (ط ق) په نسخه کښې نشته

۵ ط ق ، د ش ، ه خ : ادراک پاس پر عبادت شي/شو/دي

۶ د ش : ((د دې ځان د سود و زیانه فارغت ئې))

هـ خ : ((...... ...... فراغت ئې))

م ز : ((که د ځان د سود و زیان فارغ نهٔ ئې))

۷ د دې شعر نه پس د (ط ق) نسخه باقي شعرونه نهٔ لري۔

۸ هـ خ : ((چې دا لوئ نظر پر واړه عالم وکه))

۹ هـ خ : دلته د "اشتاتاً" په ځائے "اشتاته" لیک دے

يَوْمَئِذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ۵ (الزلزال ـ ایت ۶)

(په دې ورځ به خلق ډلې ډلې شي)

۱۰ د ش ، م ز : ((بیل په بیل به دهر چا صورت د ښهٔ که))

۱۱ د ش ـ م ز : ((د میرزا قوت له کو مه چې به ښهٔ که))

۱۲ د (د ش) په نسخه کښې د "دام چک" په ځائے "رام چک" د (هـ خ) په نسخه کښې "رام جک" لیک دے۔

م ز : ((د نفاق مړ ي رام چک)) د (ط ق) په قلمي نسخے کښې "رام چک" د ے۔

۱۳ د (ط ق) او (هـ ق) په نسخو کښې دا شعر نشته

۱۴ هـ خ : ((د لیده و نه یو مرد مکه))

د ش : ((د لیده ونیو مرد مکه)) م ز : ((د لـدن له مرد مکه))

۱۵ د ش ، م ز : ((د میرزا په مخ قدم بہ دي

پیس رو ښان د حق عینکه))

۱۶ د (هـ خ) په نسخه کښې د "اختیار" په ځائے "اتفاق" لیک دے

۱۷ هـ خ ، د ش : ((یو عجب حکمت دې او کهٔ دلې باندې))

۱۸ د(م ز) او (د ش) حاشیې په حواله په نورو نسخو کښې د „بیور" په ځائے „بولور" لیک دے

۱۹ ط ق : „قسمت ئې د عاشق ..... "

۲۰ ط ق : ه خ ، „او اکش ئې وبله ور وړ عشق ئې نام کۀ."

۲۱ ط ق ، د ش ، ه خ ، م ز : „چې د عشق اور پرې وشهٔ
خوب خندا ئې پرې حرام کۀ"

۲۲ ط ق : „د دوا په ځائے پاتـه نۀ وُ"
د ش : „دوان ځائے ئې پاتـه نۀ و"

۲۳ د ش : „چې ویران زړهٔ ئې مقام کۀ"

۲۴ ه خ : اعلام

۲۵ ط ق : „چې د عشق پر آتش وسو"

۲۶ ط ق ، د ش : „چې تر دا ازمینـه تېر شو"
م ز : „هرا حد چې دے تر دا ازموینت تېر شي"

ک

---

۱ ط ق : „د دوران ولے هرګوره د الګ"
د ش : „د دوران ولی هرګوره دي ټکـلګه"
ه خ : „د دوران وُلے هرګوره دي ټکـلګه"
م ز : د دوران واله هرګوره ده الګه"

د (دش) د حاشیې په حواله په نورو نسخو کښې هم د „ولی" په ځائے د „دو واله" او د „لګلګ" په ځائے د „الګ" اختلاف ثبت کړے شوے دے۔

۲ د (دش، م ز) په چاپي نسخو کښې د „نواړه" په ځائے „مناره" ليک دے۔ دا د (ه خ) په نسخه کښې „نواره" دے

۳ ط ق: „د پېښو نه ويا ستنه ئې سرد فلکه" د (ه خ) په نسخه کښې دا شعر نشته

۴ دش، م ز: „وقدرت وته لاس ته نهٔ سي بې تسکه"

۵ ه خ، دش: „و تورے / توره وته هوس لري له مکه"

م ز: „و تاوان وته هوس لري له سکه

۶ م ز: کم دليل په عقل کم دے لکه مکه"

د (دش) د حاشيې په حواله دا اختلاف نورې نسخې هم لري۔

۷ ط ق: „همېشه به ئې زړهٔ ډک وي له غمـزګه"

ه خ: „همېشه به ئې زړهٔ ډک وي له غم مرګه"

۸ ط ق: „تل عذاب به ئې باقي وي پس له مرګه"

۹ (م ز) په خطي نسخه کښې „بغرګه بغرګه" په ځائے „غرګه غرګه" ليک دے

ل

---

۱ د „ط ق" په قلمي نسخه کښې دا „غزل" نشته

۲ هخ : چې په سر دې د غم تېغه ټر له

۳ هخ : « د قتال و سر پر تا چې پېښ شوے -
لور په لور يوه نعره چې وله و له »

۴ هخ : « خالي ځائے د يوې ستنې پاتې نشي »

۵ د « هخ » په نسخه کښې د « قصد » په ځائے « مقصد » ليک دے

۶ دش ، م ز : « اے ميرزا ځېل اختيار له ځايه پاڅه
دون همت اندېښنه مه کړه مبله مبله »

په متن کښې کوم شعر د « هخ » د نسخې نه اخستے شوے دے -

۷ د (دش) په نسخه کښې « له سره ځغله » په ځائے « تر سره ځغله » ليک دے او د (هخ) په نسخه کښې « په سر زغله » دے او د (م ز) په نسخه کښې « پر سر ته زغله » ليک دے

۸ ط ق : « د هجران سختې يې ډېره يو په سله » د (هخ) په مطبوعه نسخه کښې دا شعر نشته

۹ ط ق ، هخ : « خپل هنر دد واړو ولې ووژله » (دش) د حاشيې په حوالې مطابق دا مصرعه په « لوغوني نسخه » کښې هم داسې ليک ده -

م

۱ هخ : « امانت چې په سر واخيست په ځان ظلم »

۲ م ز : « که چې يو ځله اخلاص و تا ته درم »

۳ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې او « دش » په مطبوعه نسخه کښې دا غزل نشته -

۴ هخ ، م ز : « لکه تمر د معرفت په جهان و نوت »

۵ د « م ز » په نسخه کښې د « يخ » په ځائے « مے » ليک دے

ACKU

۶ هـ خ : « له يوه ځايه راتله وبل ته تله دي »

۷ هـ خ : « د جهان د غه ازوبال دے دا ئې د هرم »

م ز : « دا جهان د غه ئې کار د غه به درم »

۸ ط ق : « هريو د کړو سزا بيا مومي »

هـ خ : « هريو بد ئې د کړو سزا بيا مومي »

۹ هـ خ : « اختيار ئې تن په تن باندې وسلې

۱۰ د « ط ق » په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

۱۱ د « هـ خ » په نسخه کښې د « اوبه » په ځائې « اوره » ليک دے

۱۲ د « هـ خ » په نسخه کښې دا شعر نشته .

۱۳ هـ خ : « ستا له د هرې مينې څه تدبير کړم

څو به په دا هسې غم شپگير کړم »

دا غزل د « ط ق » په نسخه کښې نشته .

۱۴ هـ خ : « ستا زلفو مې را جمع زړه پريشان که »

۱۵ د ش : « د جدائي غم چې پر ما باندې تېرېږي »

م ز : « دا د جدائي غم چې پر ما باندې تېرېږي »

هـ خ : « دا د جدائي غم چې پر ما تېر شه »

۱۶ هـ خ : « بې وفا نامه محال دے څه تحرير کړم »

۱۷ د ش : « دين دنيا به باندې وبازم توپير کړم »

م ز : « بيا به دين و دنيا وبازم توفير کړم »

۱۸ د « ط ق » په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته . $\frac{۱۸}{۱}$ د « هـ خ » په نسخه کښې د « گرام » په ځائې « ديگرام » ليک دے $\frac{۱۸}{۲}$ د « د ش » د مطبوعه نسخې په حواله د « قلمي »

او د "کندهار" په نسخو کښې ،، وګرعام " لیک دے د "د ش" په مطبوعه نسخه کښې د لرغونے " او د "کتابخانې" د قلمي نسخو مطابق ،، کړیوام " لیک دے ـ د "م ز" په نسخه کښې هم ،، وګرعام " لیک دے ـ

۱۸/۳ دا غزل د ((ط ق)) په قلمي نسخه کښې نشته ـ

۱۹ ه خ : دلته د ،، مخ " په ځائے ،، ـخ " دے

۲۰ م ز : دلته د "حباب" په ځائے ،، حیات " دے ـ

۲۱ ه خ : دلته د "سم" په ځائے ،، ضم " لیک دے

۲۲ د ،، د ش ،، د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې د "قلم" په ځائے ،، رقم " لیک دے

۲۳ د ش ، م ز : ((دا فقیر میرزا ماهي مینه یې یم کړم))

۲۴ ط ق : ((زما د حقیقت ژوندون لیده دي))

د (د ش) د مطبوعه نسخې په حواله د لرغونې او د کتابخانې په نسخو کښې هم دا شعر دا رنګه درج دے ـ د (ه خ) نسخه دا شعر نه لري

۲۵ م ز : ((د غافل صحبت تیاره ده پرهیږم))

۲۶ د ش ، م ز : ((دلاله د زړګي داغ چې په زړګي راوړم))

۲۷ د ((ط ق)) په نسخه کښې دا شعر نشته ـ

۲۸ د (ط ق ، ه خ) په نسخو کښې د "هسې" په ځائے ،، کوښې " لیک دے ـ

۲۹ ط ق : ((بې جهت به خپل جمال ورته کمین کړم))
د (ط ق ، ه خ) په نسخو کښې د ،، مبین " په ځائے ،، کمین " لیک دے
او د (د ش) په نسخه کښې ،، دنګین " لیک دے ـ

۳۰ د (ط ق) په نسخه کښې د ،، دو بیناني " په ځائے ،، دوزخیان " لیک دے ـ

۳۱ ط ق، ه خ : ((چي په ما په دوارۀ ....))

۳۲ ط ق، ه خ : ((تار په تار به لبنکس و نه د مجن کړم))

د ش : ((تار په تار به زۀ لبنکس و نه د مجن کړم))

م ز : ((تار په تار به زۀ لبنکس د اسن وجن کړم))

۳۳ ط ق : ه خ : ((خاس چي دیقین له لاسه وړم))

۳۴ د (م ز) په مطبوعه نسخه کښي د ((ډ غږ وي)) په ځائے ((پړ کې)) لیک دے د (د ش) د حاشیې په حواله په نورو نسخو کښي هم ((پړکې)) لیک دے۔

۳۵ اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَ الْفَتْحُ ۝ سوره نصر

۳۶ ط ق : ((کنه زۀ له هر اسم مسمایم))

۳۷ ط ق : ((تر امیده وفادار پخپل میعادیم)) دا شعر د (ط ق) په نسخه کښي کرو وړ شوے دے۔

۳۸ د ش، م ز : ((چي گومانه د گومان آهل بندي شو))

ه خ، ط ق : ((په گ ان د گمان آهل بندي شوی))

ه خ : ((په باور کښي د جمله وُ کاد کشادیم))

۳۹ د (ه خ) په نسخه کښي د ((ان یکاد)) په ځائے ((عن یکاد)) لیک دے

۴۰ د ش - م ز : ((کل عالم مي په ....))

۴۱ د (د س) او د (ه خ) په نسخو کښي د ((گرځم)) په ځائے ((وړزم)) لیک دے

۴۲ ط ق، ه خ، م ز : ((دا نافې د هر یوۀ یم))

۴۳ ط ق، ه خ، م ز : ((بینائی د هر لیمۀ یم))

۴۴ م ز : ((خزان نۀ لرم تازه یم))

٤٥ ط ق : « د طالب بې مشله زړهٔ یم »

د ش : « د روښان بې مشله زړهٔ یم »

ه خ : « یو روښان بې مشله زړهٔ یم » د(م ز) او د (د ش) د حاشیې په حواله د (کندهار) او (قلمي) نسخو کښې دا شعر داسې لیک دے لکه څنګه چې د لته متن کښې درج دے.

٤٦ د ش، م ز : « په هر زړهٔ دې ور بخ مبنتي (مشبة) ده محکمه »

٤٧ د (ه خ) په مطبوعه نسخه کښې د « صحت » په ځائے « صحبت » لیک دے

٤٨ د (ط ق) په نسخه کښې د « خاتم » په ځائے « خادم » لیک دے

٤٩ د (ط ق) په نسخه کښې د « حشم » په ځائے « هاشم » لیک دے.

٥٠ د ش، م ز : « دا نا دروې تو قوامه »

٥١ د ش، : « دا ندوه و عده تمامه »

٥٢ د (د ش) په مطبوعه نسخه کښې د « رهزنې » په ځائے « رهبرې » لیک دے

٥٣ د « د ش » او د « م ز » په مطبوعه نسخو کښې د « بې مشله » په ځائے « بې دنګه » لیک دے.

٥٤ د « ه خ » او « ط ق » په نسخو کښې د « پاشمه » په ځائے « کومه » لیک دے

٥٥ د « د ش » او د « م ز » په مطبوعه نسخو کښې د « په ځهٔ کښې » په ځائے « په غیب کښې » لیک دے

٥٦ د « ط ق » په قلمي نسخه کښې د « دمق » په ځائے « مقام » لیک دے

ACKU

۵۷ د «دش» «هخ» او د «م ز» په نسخو کښې د «تېرشم» په ځای «نېست شوم» لیک دی

۵۸ د «دش» (هخ) او د (م ز): په نسخو کښې د «زمان» په ځای «اثره» لیک دی

۵۹ د (دش) او د (م ز) په نسخو کښې د «دروېي» په ځای «خېږي» لیک دی

۶۰ دش، م ز: «عارفان له وهم فهم لرې راغله»

۶۱ دا غزل د «ط ق» په نسخه کښې نشته

۶۲ د (دش) او د (م ز) په نسخو کښې د «غواړې» په ځای «لرې» دی

۶۳ هخ: «همېشه يې د بنیاد و فاني نشته»

۶۴ هخ: «دخزان تر ګنا غواړې له سموم»

۶۵ هخ: «لکه بينائي په کسي کښې مکتوم»
دش، م ز: «بینائي چې ده په کسي کښې مکتومه»

ن

۱ د «ط ق» په نسخه کښې دا غزل نشته

۲ د «دش» په نسخه کښې د «روزن» په ځای «وزن» لیک دی

۳ د «د ش» او د «هـ خ» په نسخه کښې د «شوون» په ځاے «شیون» لیک دے

۴ د «هـ خ» په نسخه کښې دا غزل نشته

۵ «د ش» جینائي

۶ ط ق : «له غنا په غنا هسې څو بښیږي»

۷ ط ق : گمان

۸ ط ق : «مېـرزا د زړهٔ په شال پوه که»

۹ د «ط ق» په نسخه کښې دا غزل نشته

۱۰ د «د ش» او د «هـ خ» په نسخو کښې د «کاروان» په ځاے «کاروان» لیک دے

۱۱ دا شعر د «هـ خ» په نسخه کښې نشته ـ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د «نروان» په ځاے «نادان» لیک دے ـ

۱۲ ط ق : «خپله وړې ځاد هجران تېرهٔ خارو نه»

د ش : «بله مه وای د هجران تېرهٔ خارونه»

هـ خ : «سبږې مېوې د هجران تېرهٔ خارو نه»

م ز : «بولوې مې د هجران تېرهٔ خارونه»

۱۳ ط ق : «چې پر نخوښدو زړونو کاندې ناتارونه»

۱۴ د ش ، م ز : «پر بانوېې لوې لوې اوښې دروې»

هـ خ : «پر بانه ئې اوښکې لاړې لوېې لوېې»

ط ق : «پر بانه مې لوې لوې اوښې لواړ»

۱۵ د «ط ق» په نسخه کښې دا غزل نشته ـ

۱۶ د ((هخ)) په نسخه کښې د «مه» په ځای «نه» لیک دے

۱۷ د ((طق)) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

۱۸ هخ : ((عقل تل حقیقي دے - ویل چارې پرې نلینَ))

۱۹ دش، م ز : ((ځینې کړشي بې ویلو))

۲۰ م ز : ((څوک نهٔ وائي چې پو بشتنه))

۲۱ دش، هخ ، : ((که ګهې د ذرهٔ په ملک کښې بادشاهي کړم))

۲۲ هخ، دش، م ز : ((په تحمل زما خراب خاطر ودتیږي))

۲۳ د ((دش)) په نسخه کښې د «محفل» په ځای «محل» لیک دے

۲۴ طق : ((روس د بازار عالم د غه خبرې کړینه))

۲۵ طق، هخ : «سانړ» په ځای «کوساڼې» لیک دے

۲۶ طق، دش، هخ ، م ز : د «پولا» په ځای «پوله» لیک دے

۲۷ دش، م ز : د «سُجانه» په ځای «سنجانه» لیک دے - هخ : «سجانه»
طق ، : سن جانه - د «دش» د حاشیې په حواله په «لوغوني
نسخه» کښې «سوجانه» لیک دے

۲۸ طق، هخ : ((پر معنیٰ د حقیقت ئې نظر وکړه))

۲۹ طق : ((د بدیه عقل په کښې وچانه))

۳۰ هخ : ((تفاوت د نېک وبد وکړے نهٔ شي))

۳۱ دش : «بشکنه» م ز : بنکنه

۳۲ م ز : «جګنه» د (دش) د حاشیې په حواله د کندهار په نسخه کښې
«بنکنه» او د کتابخانې په نسخه کښې «شکونې» لیک دے

۳۳ دش، م ز : «الا الله»

ACKU

۳۴ ط ق، هخ : دلته ,, جامه " په ځای ,, خزدے " لیک دے
۳۵ دش، م ز : ,, و پریمنځي "
۳۶ دش، م ز : ,, بانبهه " هخ : بهمبن
۳۷ ,, غزل د ,, ط ق ,, په نسخه کښې نشته
۳۸ د ,, دش ,, د حاشيې په حواله د ,, کړین " په ځای ,, کړین " دے
چې معنی ئې ورته ,, زړور " ليکلې ده د ,, دش ,, د حاشيه ليکونکي په خيال کښے شي چې ,, د ,, کانه " سره ربط لري .
۳۹ هخ : ,, و د درو ښانو زړونه ئې کښې ,,
۴۰ د ,, هخ ,, په نسخه کښې ,, شعر نشته
۴۱ د ,, هخ ,, په نسخه کښې د ,, بېکانه " په ځای ,, یکانه " لیک دے .

و

---

۱ ,, قصيده دوله غزل د ,, دش ,, ، ,, هخ ,, او د ,, م ز ,, په نسخو کښې نشته .

۲ ط ق : «چې چا وپېژاند بند ورش - دیده نعوت رجل و»

۳ ط ق : «د نا مې فرق پې پسوکړ»

۴ ط ق : «ځائ ځائ چرې سود زلل ؤ»

۵ په «اصل» کښې د «مجم» په ځائ «مخ» لیک دے

۶ اصل: ندر

۷ ط ق: (ص) (ذات وذات مؤکل ؤ)

۸ د «ط ق» په نسخه کښې دا غزل نشته

۹ د «هـ خ» او د «دش» په نسخو کښې «همه» په ځائ «ځره» لیک دے.

۱۰ د (هـ خ) او د «دش» د حاشیه په حواله په لرغونې نسخه کښې دا مصرعه داسې ده: «د لاهوت پر مخ غوړېدلے»

۱۱ د «هـ خ» په نسخه کښې د «متابعت» په ځائ[1] «مطابعت» لیک دے

۱۲ دا غزل د «ط ق» په نسخه کښې نشته

۱۳ هـ خ: «دا زما د زړهٔ گمان په هر یوهٔ شه»

۱۴ هـ خ: «او له ځانه رخ قطعي فراغت و»

۱۵ د «دش» «هـ خ» په نسخو کښې د «غیرت» په ځائ «عبرت» لیک دے - د «م ز» په نسخه کښې دلته «منعت» لیک دے د «دش» د حاشیې په حواله په نورو نسخو کښې هم «منعت» لیک دے.

ACKU

ه

۱ هخ : «څو ژوند ون دي دے په څهٔ»

۲ د طق : «ته غلت دروهه له زهه»

۳ د «دش» او د «رمز» په نسخو کښې د «څهه» په ځائے «چهه» لیک دے

۴ د «هخ» او د «دش» په نسخو کښې د «لوهه» په ځائے «منهٔ» لیک دے

۵ د «رمز» په نسخه کښې «لومه» لیک دے ما د «رمز» د نسخې مطابق «لومهه» ویکلو۔

۶ د «هخ» په نسخه کښې دا شعر نشته۔ د «دش» د حاشیې له مخه دې شعر په ورومبی مصرعه کښې د «غمر» په ځائے «روخ» لیک دے۔

۷ د «هخ» په نسخه کښې دا شعر نشته — د «طق» په نسخه کښې د «په سایه» په ځائے «پسات» لیک دے

۸ د «دش» او د «رمز» په نسخه کښې د «راپیرد» په ځائے «دانیو» او «رانو» لیک دے۔

د «دش» د حاشیې په حواله د «کتابخانې» په نسخه کښې «راپیرود» او په لوغوفې نسخه کښې «راپرد» لیک دے – په «لوغوفې» نسخه کښې دا مصرعه داسې لیک ده۔

«بیا په سایه دولت راپر دله همایه»

۹ د «د ش» «ه خ» او د «ط ق» په نسخو کښې د «نیازمحو» په «بې نیازو» لیک ده. دلته د «م ز» په حواله «نیازمنو» ولیکلې شو.

۱۰ د «ط ق» او د «ه خ» په نسخو کښې «وهر» په ځائې «بیا ویارته ....» تکي لیکلي شوي دي.

۱۱ دا شعر د (ط ق) په قلمي او د (ه خ) په چاپي نسخه کښې نشته.

۱۲ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د «بهولې» په ځائې «لولې» لیک دے د (د ش) د حاشیې مطابق په نورو نسخو کښې «بولی» هم لیک دی.

۱۳ د «د ش» او د «م ز» په چاپي نسخو کښې «تن بولی» لیک دی

۱۴ د «ه خ» «د ش» او د «م ز» په چاپي نسخو کښې دا مصرعه داسې ده. «میرزا حال واڼې نه عیب» د «ط ق» په قلمي نسخه کښې دا مصرعه داسې ده «میرزا حال واڼې نه عین»

ي

۱ «د ش» د حاشیې په حواله د «کندهار» او «قلمی» نسخو کښې «لویې لویې» په ځائې «دوښې دوښې» لیک دي.

۲ د «م ز» په نسخه کښې د «کاتهٔ ځي» په ځائې «بېګانهٔ ځي» لیک دے

۳ ط ق: «که صورت روانه دي زړګې نه ځي».

هخ : « که صورت روان وي زړه کې نه ځي »

م ز : « که صورت يې دے روان زړه کې نه ځي » - د لته په متن درج مصرعه د « د ش » مطابق ده -

۴ دا شعر د « ط ق » په نسخه کښې نشته

۵ د « هخ » په نسخه کښې د « ساړه » په ځاے « ځره » ليک دے -

۶ دا شعر د « ط ق » په قلمي نسخه کښې نشته

۷ دا شعر د « ط ق » او د « م ز » په نسخو کښې نشته

۸ ط ق ، هخ : « د غه سترګې يې کنول کښي بورا شو
او کاته لکه هغې صاحب اختيار دي »

۹ ق ط : « د غه ذکرې يو چراغ د حقيقت په خاطر بل شي »

۱۰ اص : چو پېس

۱۱ د ش ، م ز : په دې نسخو کښې د « نابينا » په ځاے « کم دليل » ليک دے -

۱۲ د « د ش » او د « م ز » په نسخو کښې د « مهر » په ځاے « زړه » ليک دے -

۱۳ د (ق ط) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

۱۴ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د « سخره » په ځاے « شجر » او د (هخ) په نسخه کښې « شحر » ليک دے

۱۵ د (هخ) په چاپي نسخه کښې د « سخ » په ځاے « مخ » او د (م ز) په نسخه کښې « سختي » ليک دے -

۱۶ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د « مثل » په ځاے « لودي » ليک دے

۱۷ هـ خ : «چې د، هسې دېدن څشکله میسّر شي»

۱۸ په متن کښې دلته د «دا» په ځائې «او» لیک دے۔

۱۹ د ش : «هسې مخ به په آخر درته حضور شي»

م ز : «هسې مخ به چېل زړهٔ کښې در حضور شي»

۲۰ د ش، م ز : «هغه کړهٔ چې په آخر درته حضور شي»

۲۱ د «ط ق» او «هـ خ» په نسخو کښې د «بې گمان» په ځائے «بې گمان» لیک دے

۲۲ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته۔

۲۳ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د «کړل» په ځائے «کمل» لیک دے۔

۲۴ م ز : «ددې یاره غشي به څوک څکوینه۔

چې نفس په نفس زوے تر زړکي تل شي»

۲۵ م ز : «دا سوزان اور به څرنګه سهل شي»

۲۶ م ز : «چې دا هسې اور په څهٔ زغمل شي»

۲۷ م ز : «دکنه په کنده بوی سره زول/زړل شي»

۲۸ م ز : «دغه نوی دے بخطے با منذل شي»

۲۹ م ز : «هم په قسم قسم تهول پر دوې نازل شي»

۳۰ م ز : «چې د چېل رضا طالب شي غم به مومي

په کوم عقل به بخسو د رو تړل شي»

۳۱ م ز : «که مختار یمنی کهٔ لوټې به شیشه۔

که بندي کړي دا نفسک روح به دې چېل شي»

۳۲ م ز : «دا د حال بیان مشکل اخبار به څوک کا۔ مګر فضل د مولی چې د مینزا په زړه وُسل شي»

۳۳ (د ش) په مطبوعه نسخه کښې "فزونه کا" په ځائے "ازونه کا" لیک دے

۳۴ د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې د "عارف" په ځائے "عاشق" لیک دے

۳۵ د (هـ خ) په چاپي نسخه کښې د "غم" په ځائے "ماتم" لیک دے

۳۶ د (ځبله لویږي) په ځائے د (هـ خ) په نسخه کښې (کنهې پلے ویږ) لیک دے
د (د ش) د حاشیې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې ددې په ځائے "کنهې بې لویږه" لیک دے

۳۷ هـ خ: "که قدم له ځایه وا خلي وُبه غویږ" د (د ش) د حاشیې په حواله د لوغونې او کتابخانې په نسخو کښې د "وُبه غویږ" په ځائے "وبه غولیږ" لیک دے

۳۸ د (د ش) د حاشیې په حواله د قندهار په نسخه کښې (ویږیا) ته "د خربوزې پیس و تمې بوتې" معنیٰ لیکلې شوې ده - د (م ز) د مطبوعه نسخې په حاشیه هم دې ته "درخت خربوزه و پیچک" معنیٰ لیکلې شوې ده -

۳۹ د (هـ خ) په نسخه کښې دا شعر نشته

۴۰ م ز: "د تل و لهو و لعب ته هوسیږ"

۴۱ هـ خ: "چرې لا ربه دې شي بنده ......"

۴۲ هـ خ: "که د وُس په دود ورپر دور ے یوریږ"

۴۳ د (ط ق) په نسخه کښې ددې غزل صرف څلور شعرونه لیک دي -

۴۴ د "د ش" په نسخه کښې دا غزل نشته

۴۵ د «ط ق» په نسخه کښې د «تېپېږي» په ځای «تپېږي» لیک دی.

۴۶ د «ط ق» په نسخه کښې د «عارفان» په ځای «ولي محمد» لیک دی.

۴۷ د ش، م ز، هخ: «زړه مې بخښل یار پسې څو بړېږي.
نن مې په بار بار آشنا یادېږي»
دا غزل د (ط ق) په قلمي نسخه کښې نشته.

۴۸ د (د ش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د «تبېږي» په ځای «تبرکېږي» لیک دی.

۴۹ هخ: «لکه یار له ما بېلېږي»

۵۰ هخ: «و وطن وته ساختېږي»

۵۱ د ش: «پر قبضه باندې کښېښو جوړې ولې»
م ز: «پر قبضه باندې کښې بښو ولې»

۵۲ د ش: «دي ختلی» په ځای «تر ختلی» لیک دی

۵۳ د «د ش» په نسخه کښې د «پرلې» په ځای په نورو نسخو کښې «پېرندلي» لیک دی

۵۴ هخ: «چې دا امر نهي بار پر سرې لبنلي» - د (هخ) حاشیه: «امر نهی په چا باندې راغلی» د (د ش) حاشیه: «امر نهي په هر چا نه دې لبنلي» د لته په متن کښې مصرعه د (د ش) مطابق و لیکلې شوه.

۵۵ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته.

۵۶ هخ: «باد به بوی وړي له کا فورو لونه لونه»

۵۷ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د ,,پانه" په ځای ,,خاطر" لیک دی

۵۸ د (ه خ) په چاپي نسخه کښې د ,,ضمان" په ځای ,,زمان" لیک دی

۵۹ ه خ: ,,د پتنګ اختیار دغه دی چې ئې وینې,,

۶۰ م ز: ,,دا شنا لرغوني داغ نحود به ځکوی,,

۶۱ د ,,ط ق,, د ,,سباوني" په ځای د ,,ه خ" او د (د ش) په نسخو کښې ,,لوئي" او د ,,م ز,, په نسخه کښې ,,ځخبلی" لیک دی.

۶۲ د ,,ط ق,, د ,,خپل" په ځای د ,,د ش,, ,,ه خ,, او د ,,م ز,, په چاپي نسخو کښې ,,تور" لیک دی د (ه خ) په نسخه کښې د ,,بانه" په ځای ,,باتوري" لیک دی

۶۳ ه خ: ,,او په ذات وصفات استوګه څه وي,,

۶۴ د ,,ط ق,, په قلمي نسخه کښې دا شعر نشته.

۶۵ ط ق، ه خ: ,,چې لیدلې یې د حبدا یې ,,پیوند/خوش,, دي

۶۶ ط ق، ه خ: ,,چې دې هسې بدګمان په عیب کښېښوت,,

۶۷ د (ط ق) په نسخه کښې د ,,هنر" په ځای ,,ویې" دی

۶۸ د (ه خ): په نسخه کښې دا شعر نشته

۶۹ ط ق، ه خ: ,,چې ئې سر په وابنه کښې لم ئې څرګند وي,,

۷۰ (ط ق) (ه خ) په نسخو کښې د ,,خوشامند" په ځای ,,خوش آمد" لیک دی.

ې

۱ دا غزل د (ط ق) په قلمي نسخه کښې نشته - د (م ز) چاپي نسخه

هم دا غزل نهٔ لري بلکې د (دش) د حاشیې په حواله نو دې قلمي نسخې هم دا غزل نهٔ لري - دا غزل صرف د (دش) او (هخ) په چاپي نسخو کښې دے (هخ) هغه هم د يوې قلمي نسخې د حاشيې نه را نقل کړے دے -

۳، ۲ دا زياتي اضافې مې د (دش) د چاپي نسخې نه را نقل کړې

۴ دا غزل د روښانې ليک دود مطابق د (ډ) په پښتو کښې ليک دے

۵ دش، م ز: ((د کثرت په دنګا وزګا کښې تار په تارخې))

۶ دش، هخ: (ور بخي) د (دش) د حاشيې په حواله د (کندهار) او په (قلمي) نسخې کښې د "وريخې" په (اوره څي) ليکلے شوے دے

۷ هخ: (مظلمه)

۸ دش: ((بيا کهې کهې پرځي د غم پېرې پيس ي))

هخ: ((بيا کهې کهې پرې ځي د غمله پرې))

م ز: ((بيا کهې کهې پرځي د غم په پيسَ)) "پيس" ته په حاشيه د "کاروان" معنیٰ ليکلې شوې ده -

۹ د (ط ق) په قلمي نسخه او د (م ز) په چاپي نسخه کښې دا غزل نشته -

۱۰ هخ: ((او سيه تاب تو برې ستر ګې دې دا تورې))

۱۱ د (دش) د حاشيې په حواله د کتابخانې په نسخه کښې دا مصرعه داسې ده ((د غه سپين بازوې سينه دے ته ئې کورې))

۱۲ د (هخ) په چاپي نسخه کښې د "با" نه "په ځاے" "ديين" ليک دے

۱۳ هخ: ((د پره د پره دل سوزي وکړه غم خورې))

١٤ دش : ((د خودي پرده کهٔ تهٔ له مخه وا خلې))

١٥ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته ـ

١٦ د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې ،، په ،، په ځائے ،، ته ،، ليک دے ـ

١٧ دش ، م ز : ((ترو هاله به هره پنجیل محل کړي))

١٨ د (ه خ) او د (دش) په چاپي نسخو کښې د ،، مل ،، په ځائے ،، ول ،، او ،، دل ،، ليک دے د (م ز) په نسخه کښې ،، مل ،، دے

١٩ د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د ،، اورل ،، په ځائے ،، مل ،، او ،، فضل ،، ليک دے ـ د (ه خ) په چاپي نسخه کښې ،، اورل ،، دے

٢٠ دش : ((يوه مرغه په هاکښې په دم ژوندۍ شي))

ه خ : ((يو مرغه چې په هاکښې په دم ژوندۍ شي))

٢١ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

٢٢ د (دش)، (ه خ) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د ،، بيا وړې ،، په ځائے ،، راوړې ،، ليک دے ـ خو د (دش) د حاشيې په حواله د کتابخانې او نورو نسخو کښې ،، بيا وړې ،، ليک دے

٢٣ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د ،، منت ،، په ځائے ،، نغوته ،، ليک دے ـ

٢٤ د (دش) د حاشيې له رويه د کتابخانې په نسخه کښې د ،، اثبات ،، په ځائے ،، اسلام ،، ليک دے ـ

٢٥ د (دش) په چاپي نسخه کښې د پسروي په ځائے ،، پېروي ،، ليک دے ـ

٢٦ د (دش) د حاشيې له رويه د ،، قلمي ،، او د ،، کندهار ،، په نسخو کښې دا مصرعه داسې ليک ده : ((هرصورت به تهٔ د سرپه نظر وينې))

٢٧ د (هخ) په چاپي نسخه کښې دا شعر نشته

٢٨ م ز : « اے سیمرغه په ځه زیرمه د مګس کړې »

٢٩ هخ : « مقصود به په معنیٰ د تا څرګند شي »

٣٠ م ز : « دا شړېد به ته شړ ینه تر اطلس کړې »

٣١ هخ : په هوس د وړنا کام وته خیش.

٣٢ ط ق : ذخ

٣٣ ط ق : پښتا به يُ - دش : له ځایه -

٣٤ ط ق : لطیف د کثیف پر مخ حجاب شه - هخ دش : له لطیفه دي کثیف پر مخ حجاب شهٔ

٣٥ ط ق : فکر -

٣٦ هخ - دش : عبادت

٣٧ دش : پوهیږي

٣٨ ط ق : پایښېږي.

٣٩ دش ، هخ : (د ډوي په میان کښې ولې ځائیږي) (دش) پنځله حاشیه کښې د قلمي نسخې په حواله دا مصرعه داسې لیکي :

(که په میان د اهل و عیال نه وډرېږي)

د (ط ق) په نسخه کښې دا شعر نشته - (دلته ما دا شعر د (م ز) د نسخې نه را نقل کړو

٤٠ ط ق : (تر و میان پر میان به د خپل وډرېږي)

٤١ دا مصرعه دلته ما د (م ز) نه را نقل کړه - دش : (په دا هسې زنګ سوختن کښې به وډتېږي) هخ : (په دا هسې زنګ سوختن کښې به ویرېږي)

ACKU

۴۲ د (م ز) په مطبوعه نسخه کښې د ا غزل نشته

۴۳ د (ه خ) په نسخه کښې د ,, پسو ،، په ځو ،، لیک دے

۴۴ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې د ,, سباق ،، په ځائے ,, سیاق ،، لیک دے
د (د ش) د مطبوعه نسخې د حاشیې په حواله په نورو نسخو کښې ,, دیوار ،،
هم لیک دے۔

۴۵ ط ق : ,, رکه یو ځل له عشقه همخانه شې ،،

۴٦ د (ط ق) په نسخه کښې د ,, عقل ،، په ځائے ,, عشق ،، لیک دے

۴۷ د (د ش) او د (م ز) په قلمي نسخو کښې ,, دود ،، په ځائے ,, درد ،، لیک دے

۴۸ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې د ا شعر نشته

۴۹ د (ط ق) او د (ه خ) په نسخو کښې د ا شعر نشته۔

۵۰ ط ق : ,, تن میں زا د محبت پر مینه مست شه ،،
د (ه خ) او د (م ز) په نسخو کښې د ,, پر بهشت ،، په ځائے ,, و بهشت ،،
لیک دے

۵۱/۱ ط ق : ,, تل د غم کوه پرې دېڅړنې ،، ه خ : ,, تل پرې بدې د غم ږیړنې ،،

۵۱ په (د ش) کښې د ,, بدګمان ،، په ,, بدګون ،، لیک دے

۵۲ د ش ، م ز : ,, کینه قهر پرې پینه ،،

۵۳ د ش ، ه خ : په خلبه/خوله څه رنګ استاد شه ،، ط ق : ,, په خپله څرګند
استاد شه ،،

۵۴ د ش ، م ز : ,, ورځ په ورځ کا د ا او هنه ،، ه خ : ,, ورځ په ورځ کاندې اودنې ،،

۵۵ د ش : ,, دوښان غرشو د دوو کونو ،، م ز : ,, کامل نمرشو د دوو کونو ،،
ط ق : ,, رسول نمر د دوارو کونو ،،

٥٦ د «ط ق» په نسخه کښې د «روڼې کړې» په ځای «بوړې کړې» ټکي
ليکلي شوي دي.

٥٧ م ز: «ته ئې کوره يو باران او يوه زمکه» د «دش» د نسخې
د حاشيې په حواله د کتابخانې نسخه: «يوَ اصل د باران يو د زمکې»

٥٨ دش، م ز: دلته د «آرسي» په ځای «آئينه» ليک ده

٥٩ ط ق، «د حقيقي محبوب څرنګه صفت کړم»

٦٠ دش، «د بينا سترګو ليده د زړه په وينې»

م ز: «د بينا سترګو ليده ده په وَ وينې»

٦١ د (ط ق، ه خ) په نسخو کښې دلته «غوړېږي» ليک دے د (م ز)
په نسخه کښې دلته «لفري» ليک دے

٦٢ د (ه خ) په نسخه کښې دا شعر نشته

٦٣ دش، م ز: «دوي دا هسې پورې نښتې لکه کو نهې»

٦٤ دش، م ز: «په جهان د کم د ليلو پښتې دروند دے»

٦٥ د «ط ق» او د «ه خ» په نسخو کښې د «ويښ نه شوې» په
ځای «ويښس نه شوې» ليک دے د غه رنګ په دويمه مصرعه کښې
د «شجر» په ځای «سحر» ليک دے.

٦٦ «ط ق» او «ه خ» په نسخو کښې د «غفلت» په ځای «ګمان»
ليک دے

٦٧ د «دش» په نسخه کښې د «خويښي» په ځای «خويږي»
ليک دے.

٦٨ د «دش» او د «م ز» په نسخو کښې د «حباب» په ځای «حجاب» ليک دے

۶۹ د «ط ق» په نسخه کښې دا شعر نشته - د «ه خ» په نسخه کښې د «ځره» په ځائے «سره» ليک دے -

۷۰ د «ط ق» په نسخه کښې د «روښانه» په ځائے «ځرګند» ليک دے

ی

۱ ط ق : «محبت ئې ترېله ووته کړېد»

ه خ : «محبت ئې ترېله ويستے کړېد» م ز : «رېي حبوئې ترېله ويستې کړېد» په متن کښې شامله مصرعه ما د «د ش» د نسخې مطابق ويکله -

۲ د «ط ق» «ه خ» او د «م ز» په نسخو کښې دلته «چړېد» ليک دے د «د ش» په نسخه کښې «جرېد» دے - دا اصل کښې «چهړی» دے معنا يې چوکه، ونډه يا ترېد او چه لخته ده -

۳ د ش، م ز : «اے مېرزا وينا څرګنده ربنتيا وايه»

ے

۱ ه خ : «ناسوت يو دے له لاهوت»

۲ ط ق، ه خ : «يو دا کبر يا جناب دے»

۳ ط ق، ه خ : «لب په لب کښې انتخاب دے»

۴ د (ط ق) په نسخه کښې دا غزل نشته

۵ هخ : ((پر کاملو رحم وور دے ـ ورپسے پہ هر لور دے))

۶ د ((هخ)) پہ نسخہ کښې د ,, کل ,, پہ ځائے ,, گل ,, لیک دے

۷ هخ : ((عشق و عقل پلا د و مور دے))

۸ د ((دش)) او د ((م ز)) پہ نسخو کښې د ,, حکم ,, پہ ځائے ,, حلم ,, لیک دے

۹ د ((دش)) او د ((م ز)) پہ نسخو کښې د ,, محجوب ,, پہ ځائے ,, غافل ,, لیک دے

۱۰ د (هخ) او د (م ز) پہ چاپي نسخو کښې دا غزل نشتہ

۱۱ د (دش) پہ چاپي نسخہ کښې د ,, عبیر ,, پہ ځائے ,, عبیر ,, لیک دے ـ

۱۲ د (دش) پہ چاپي نسخہ کښې د ,, کشیر ,, پہ ځائے ,, نشکیر ,, لیک دے ـ

۱۳ دش : ((چلیا لہ خپلہ لاسہ آ تنش بل کہ))

۱۴ د (دش) پہ چاپي نسخہ کښې د ,, تغیر ,, پہ ځائے ,, تفسیر ,, لیک دے

۱۵ د (دش) پہ چاپي نسخہ کښې د ,, غریب ,, پہ ځائے ,, غیرت ,, لیک دے ـ

۱۶ د (طق) پہ قلمي نسخہ کښې د عاقبت ,, پہ ځائے ,, رهبنت ,, لیک دے ـ

۱۷ طق : ((ذرۀ چې د دیدن پہ بهانہ شي))

۱۸ د (دش) پہ چاپي نسخہ کښې د مشتري ,, پہ ځائے ,, پہ هر ځائے يي ,, لیک دے

۱۹ د ((طق)) پہ نسخہ کښې د ,, ناخدا ,, پہ ځائے ,, دوغ عالم ,, او د ((م ز)) پہ نسخہ کښې ,, معلم ,, لیک دے ـ

۲۰ د ((هخ)) پہ نسخہ کښې د ,, وښلے نشي ,, پہ ځائے ,, مونږ لے نشي ,, لیک دے ـ

ACKU

۲۱ د «ط ق» په نسخه کښې د «ابیاز» په ځائے «آیاز» د «دش» په نسخو کښې «اوباز» لیک دے۔

۲۲ د «ط ق» په نسخه کښې دا مصرعه داسې لیک ده
«کامل د بېحد ی مهانړې شه»

۲۳ د (هخ) په چاپي نسخه کښې دا غزل نشته

۲۴ د (دش) په چاپي نسخه کښې د «حال» په ځائے «غم» او د (م ز) په نسخه کښې «هم» لیک دے

۲۵ د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د «کمال» په ځائے «کمالیت» لیک دے۔

۲۶ د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د «مخ» په ځائے «میان» لیک دے۔

۲۷ هخ، دش: دلته د «وسواس» په ځائے «غفلت» لیک دے

۲۸ ط ق: «چار سبطال که دې لباس دے»
هخ، دش: «چار شېطان که دے لباس دے»

۲۹ هخ، دش: «تل په غېرو مشغولیږي»

۳۰ ط ق: «هغه زړه چې یې اشنا دے»

۳۱ دا شعر د (ط ق) په قلمي نسخه کښې نشته

۳۲ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې «تاس» لیک دے

۳۳ د (هخ) په چاپي نسخه کښې د «سرے» په ځائے «هغه» لیک دے

۳۴ دش، هخ، م ز: «دا د حقیقت ارسال دے»

۳۵ د «دش» او د «م ز» په نسخو کښې «یو بدي کا» او «یو کمال دے»

په ځای «بل بدي کا» او «بل کمال دی» لیک دی

٣٦ ط ق : « کل هجران گڼه له کفره »

٣٧ د «ط ق» په نسخه کښې د «خال» په ځای «خیال» لیک دی

٣٨ ط ق : « څه او څه ئې مجال دی »

٣٩ ط ق : « خپل خواب کا هم سوال دی »

٤٠ ط ق : « کیفیت ئې د معنې دلی سازیږي »

د (هخ) په نسخه کښې د «وینا» په ځای «دنیا» او د (م ز) په نسخه کښې «جهان» لیک دی.

٤١ د (دش) او د (م ز) په چاپي نسخو کښې د «پې» په ځای «شیدي» او «شدی» لیک دی

٤٢ م ز : « د نېکخوی د پاره یو اشارت بس دی - چې بد خوی لکه اغزي د رسره مل دی »

٤٣ دش، م ز : « چې د نفس په خوي نادان دی که ئې وینې »

٤٤ د (ط ق) او د (هخ) په نسخو کښې د «گمان» په ځای «کمال» لیک دی.

٤٥ د «م ز» په چاپي نسخه کښې د «ځان» په ځای «ذات» لیک دی

٤٦ د (ط ق) په قلمي او د (هخ) په چاپي نسخه کښې د «هست» په ځای «نیست» لیک دی

٤٧ م ز : « په مینه یو شه دویم به څه کړي »

د (دش) په چاپي نسخه کښې «به څه» په ځای «بسو» او د (هخ) په چاپي نسخه کښې «به څو» لیک دی.

۴۸ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د "نسیا" په ځای "نسیان" لیک دے.

۴۹ د (ط ق) (د ش) او د (ه خ) په نسخو کښې د "اصل" په ځای "حاصل" لیک دے.

۵۰ دا غزل د (ه خ) (د ش) او (م ز) په چاپي نسخو کښې نشته.

۵۱ د (ط ق) په قلمي نسخه کښې دا غزل نشته

۵۲ د (ه خ) په چاپي نسخه کښې د "ځانه" په ځای "حاے" لیک دے.

۵۳ د (م ز) په چاپي نسخه کښې د "عقل" په ځای "هنر" لیک دے

۵۴ د (د ش) په چاپي نسخه کښې د "تره" په ځای "اره" د (ه خ) په چاپي نسخه کښې "بښره" او د "م ز" په چاپي نسخه کښې "شره" دے

۵۵ د (ه خ) په چاپي نسخه کښې د "بښهر" په ځای "کلے" لیک دے.

PROPERTY OF ACKU 12526

DA

MIRZA KHAN ANSARI

DIWAN

Collection of the Poems

Editing & Research

Dr. Pervaiz Mahjoor Kheshkay

Pashto Academy, University of Peshawar

ACKU